دیل کارنګي

# د دوستۍ لار

(د انساني اړیکو لارښود)

ژباړن

ډاکټر محمد ابراهیم شینواری

Download from:aghalibrary

۱۳۸۱ل ۲۰۰۲م

دیل کارنګي

# ددوستۍ لار

(دانساني اړیکو لارښود)

ژباړن : ډاکتر محمد ابراهیم شینواری

PROPERTY OF ACKU
PROPERTY OF ACKU

۱۳۸۱ل۲۰۰۲م

AFGHANISTAN CENTRE AT KABUL UNIVERSITY
3 ACKU 00010102 1

Download from:aghalibrary




# دکتاب ځانګړنې


دکتاب نوم : ددوستۍ لار

لیکوال : دیل کارنګي

ژباړن : ډاکټر محمدابراهیم شینواری

خپرندوی : پښتو یون

د خپرونو لړ : (۲۴)

چاپشمېر : (۵۰۰) ټوکه

کمپوز : کاوون کمپیوټر جلال اباد/افغانستان

کمپوزر : توفیق الله (مسلم) او عبدالهادي (شیرین)

چاپکال : ۱۳۸۱ل ـ ۲۰۰۲م


ACKU

Download from:aghalibrary

٥١٤

ډالۍ

خپلو ټولو دوستانو ته!
چې هر يو راته د دوستۍ
لارې په عمل کې راښودلې دي.

ACKU

Download from:aghalibrary

# د خپرندویې ټولنې یادښت

پښتو یون د تل لپاره هڅه کړې چې د پښتوژبې په وده او پرمختیا کې کارنده ونډه واخلي او د خپل پښتني ولس لپاره هر ډول ګټور اثار خپاره کړي، لکه څنګه چې څرګنده ده پښتو یون په مجلو او نورو خپرنیزو ارګانونو کې هم اعلانونه خپاره کړي چې په ټول افغانستان کې د افغاني زده کړیانو لپاره د ساینس او ټکنالوژۍ کتابونه په پښتو خپروي که چېرې څوک د ساینسپوهنې یو هراړخیز وییپښود (قاموس) چې د افغاني شاګردانو لپاره ستره اړتیا ده او نور لیکلي ګټور نښیرونه (اثار) او ژباړې ولري او د چاپېدلو غوښتونکي یې وي نو پښتو یون یې بې له کوم شرطه ورته خپروي.

چې په دې لړ کې دادی د هېواد پیاوړي لیکوال ښاغلي ابراهیم شینواري د خپل فرهنګ د غني کولو او د خپلې ټولنې د اړتیا له مخې دا اثر (ددوستۍ لار) وژباړه چې موږ یې خپروو او دچاپ له امله ورته مبارکي وایو.

په درنښت

پښتو یون

فراکوی، نیویارک، امریکا

Download from:aghalibrary

## سریزه:

### د دوستۍ لار (د انساني اړیکو او پر نورو د اغېزې کولو لارښود):

د دوستۍ لار ستاسو سره ډېره مرسته کولای شي.

دا کتاب د ژوند په اړیکو کې د عملي بېلګو پر اساس لیکل شوی او یو عملي درس دی.

ستاسو سره مرسته کوي چې:

پر نورو مو اغېزه زیاته شي.

دوستان مو ډېر شي.

د نورو سره مو مسئلې په حکمت او هوښیارۍ هوارې شي.

له بېځایه تشویش او سودا ځان وژغورئ.

د کار په پیدا کولو کې بریالي شئ.

که دیوې ادارې مشري مو پر غاړه وي ښه یې وچلوئ. او که تر لاس لاندې دنده مو وي، د خپلو مشرانو باور تر لاسه کړئ.

په کورني ژوند کې بریالي شئ.

په ټولنه کې د یو فعال، مهم او ګټور غړي په توګه خپل ور ځای ونیسئ.

او یو ټولنیز او په معاشرت پوه شخص درڅخه جوړ شي او . . .

د همدغو ټکو په پوهېدلو موږ دا کتاب خپلې ملي ژبې ته را وژباړه، د کتاب ژباړه ټکي په ټکي نه ده شوې، لمړی یو پراګراف یا یوه موضوع لوستل شوې او بیا یې مفهوم په خپله ژبه لیکل شوی دی. همداراز که په ځینو موضوعاتو کې مثالونه ډېر وو، موږ یې ځیني نه دي راوړي او یوازې ډېر مهم او ډېر عملي مثالونه مو ذکر کړي دي.

هیله ده دا کتاب ګرانو لوستونکو ته ګټور تمام شي، موږ په همدې نیت ژباړلی چې ګټور راته ښکاره شوی دی، نو که خپل دغه مرام ته ورسېږو، لویه خوښي به وي.

هیله ده خپل سمونکي نظرونه، لارښوونې او مشورې را باندې ولوروئ.

په مینه او درنښت

ډاکټر محمد ابراهیم شینواري

Download from:aghalibrary

## دا کتاب ولې ولیکل شو؟

۳۵ کاله کیږي چې په امریکا کې د کتاب دچاپ د څومره والي او څرنګوالي په باب له لویو خپرنیو موسسو سره اړیکي لرم. پوهیږم چې په دې موده کې یې تر دوه سوه زرو عنوانو ډېر کتابونه خپاره کړې دي. خو دهغوی له لسونهڼه برخې که دناشر لپاره ګټه کړې وي. لوستونکي ته یې هیڅ ګټه نه ده کړې.

دې څېړنې ماته دا وښوده چې یوازې ښه کتاب دخلکو دپام وړګرځي. او چې دې پایلې ته رسیدلی یم، پوهېږم چې کتاب لیکل ډېر زړور توب او جرات غواړي. اوس درته دا وایم چې څنګه مې دغسې جرأت وکړ او دکتاب لیکلو تکل مې وکړ؟ درته روښانوم چې زه د ۱۹۱۲ (دکتاب لیکلو له نېټې) راپدې خوا هغو داو طلبانو ته ښوونه کوم چې غواړي. دښې وینا کولو او دخبرو دفصاحت لار ه وپېژني. دوی ته زه ښایم چې څنګه روښانه او بې پردې له نورو سره وغږیږي. زما شاګردان دا زده کوي چې په سوادګریزو او ورته خبرو کې خپل مقصد بیان او ښه نتیجه ترې واخلي.

ددغو ښوونو له ډېری مودې مې دا نتیجه واخسته، لکه څنګه چې ټول خلك دوینا ښې طریقې ته اړدي دغسې دانساني اړیکواو معاشرت په باب هم باید پوه شي. ما پخپله پخوادې مسایلو زده کړې ته اړتیا درلوده. ددغې زده کړې په جریان کې پردې وپوهېدم چې په دې باب وړ کتاب نشته او همدا ددې سبب شول چې خپلې تجربې په مرحله اې ټول راټولې او ولیکم.

تاسې چې دهرې طبقې یاست، سوداګر، ښوونکې، انجیر، ډاکتر، پلورونکی او یا حتیٰ دکور میرمن، دې ته اړیاست وپوهیږئ چې دوستانو سره څه ډول راشه درشه باید وکړئ؟

ددې ویل به تاسو ته په زړه پورې وي چې دکارنګي موسسې له خوا دیو انجینرد ٪ ۱۰۰ برې دڅرګندولو لپاره یوې څېړنې دا

Download from:aghalibrary

وښوده چې ددې انجینر د بري لپاره دده پوهه او سواد په سلو کې ۱۵ رول لوبوي او په سلو کې ۸۵ پاتې له نورو سره دده دسلوک او برخورد او راشه درشې رول مهم دی.

تاسو به هم که په علمي ډول نه وي، په تجربه به مو میندلې وي چې هغه څوک په ژوند کې ډېر بریالی وي چې تر نورو ډېر ټولنیز او معاشرتي وي.

ما په خپلو شاګردانوکې ۱۵۰۰، انجینران لرلې دي، ددوی ټولو په وینا هغه څوک چې ډېرې پیسې لاس ته راوړي د ډېرو معلوماتو کسان نه دي. کېدای شي یو انجینر ډېر معلومات ولري خو خجالت او شرم یې مخه نیسي چې له نورو سره سم او معقول معاشرت وکړي او خپله پوهه او هنر وځلوي.

دمشهور میلونر راکفلر د وینا په راوړنې نورې ډېرې خبرې چې مې بایډ په دې سریزه کې راوړی وای، پرېږدم، او دکتاب له مطالبو نه دګټې اخستو لارې درښایم:

**«.... که ښه راشه درشه او سلوک د اخستو او پلورلوشی وای، زه حاضریم چې څو زره ټنه شکره او کاکایو ورکړم او لږ ترې واخلم، ځکه پوهېږم چې ښه معاشرت پر نورو څومره اغیز لري او همدا تیریبونکی اغیز څومره دهغوی په اداره کې اغیزمن دی....»**

بل ځای وایي : **«دښه مدیر کېدو یوه لار داده چې په معاشرت کې بریالي واوسو او پر نورو ښه اغیز پرې باسو...»** لنډه یې وایم: دا چې په امریکا او حتی نړی کې یوه مدرسه او ښوونځی هم دښې وینا او له خلکو سره د ښه سلوک درس نه ور کوي او خلك یې زده کړې ته سخته اړتیا لري، جرات مې وکړ او داسې کتاب مې ولیکه. هیله من یم له دې لارې مې هغو کسانو سره ور مرسته کړې وي، چې اړتیا ورته لري.

# لومړۍ برخه

لومړی څپرکی.

له نورو سره د راشه ورشې او کړنې ښستیز فنونه.
که غواړئ شات ولرئ، کندو یې په لغته مه وهئ!

د ١٩٣١ کال دمی په ٧ دنیو یارک ښار دانسان دښکار د تر ټولو هیجان زېږو نکې صحنې لیدونکی و چې تر دغې نیټې پې بیلگه په دغه لرغوني ښار کې نه وه تیره شوې.

دوه تمانچه ای قاتل نیول شوی و.

له اونیو پلټنو، څارنې او تیښتې وروسته اخر کرولی چې په دوه تمانچه ای قاتل مشهور و د وست اند په کوڅه کې د خپلې معشوقې په کور کې ونیول شو. کرولي د خپلو ورته هم مسلکانو پر خلاف نه سگرت څکل او نه یې شراب پر شونډو ایښې وو. دا یوه استثنأ گڼل کېدای شي دکرولي د پټنځای لاندینی طبقه د ١٥٠ کار پوهو پولیسو په محاصره کې وه. دوی غوښتل چت سوری کړي او د اوښکه بهوونکې گاز په کارولو دا پولیس وژونکی قاتل ونیسي. همدا راز نژدې اپارتمانونو کې دېرې ماشینگنې لگول شوې وې چې دده ځای پې په نښه کاوه. یوه شیبه وروسته ددغه آرام ځای فضاله دزو دکه او پر دغه ارامه سیمه پې ډو وحشت حاکم کړ.

کرولي چې دیوې صندلۍ شاته یې مورچل نیولی و د کوټې پر غولي رغښته او د پولیسو دزوته یې ځواب ور کاوه. تر ١٠ زرو زیات کسان د سیمې په پیاده روکې را ټول شوي وو او په ښار کې دغه بېسارې هیجان زېږېږېښه یې څارله.

دکرولي تر نیولو وروسته نیو یارک د پولیسو مشر روښانه اعتراف وکر چې دا دوه تمانچه اي جنایتکاران نیو یارک په تاریخ

کې یو تر ټولو سخت جنایتکار دی. هغه دومره تېز چنګ او بې رحمه دی چې په یوه‌چه را لویدونکې پاڼه ېز کوي او په هوا کي یې ولي.

خو نوه تمانچه اي کرولي دځان په باب څه نظر درلود او څرنګه يې فکر کاوه؟ زه یو له هغو کسانو یم چې ددې پوښتني په ځواب پوه یم او تاسو ته یې وایم. په هغو شیبو کې چې پولېسو دده پر کور یرغل وکړ دی ناست و او هغو خلکوته یې لیك لیکه چې ده پورې مربوط وو، او د خپل بدن له هغه وینې نه یې په یو څاڅکی لیك سور کړ چې د مردکي له ځای نه څڅیده.

په دې لیك کې یې دداسې کسانو په څېر لیکلی دي چې لطیف انساني او شاعرانه احساس لري:

زما د کمیس د چپې خوالاندې یو ستړی خو مهربان زړه تر اوسه خوزېږی، داسې زړه چې هېڅکله د بل چا د زورولو په نیت نه دی خوځیدلی.

ددې پیښې نه څو ورځې مخکې پیښې ته ګرځو چې کرولي په لانګ اېلند کې خپل موټر په یوه کوڅه کې ودراوه او دخپلې معشوقې سره په مینه او محبت بوخت و، له بده مرغه یو پولیس را پیداشو او دکوڅې په منځ کې ولاړ موټر ته یې پام شو. بد مرغه پلېس د موټر خواته راځي او له چلوونکی غواړي دمهربانی له مخې خپل جواز ورکړي.

کرولي بې له دې چې د چا د ځورولو نیت ولري جیب ته لاس کوي خو دجواز پر ځای تمانچه لاس ته ورځي او د برېښنا په چټکتیا دمزاحم پولیس بدن په سر بې مرد کیو سوری سوری کوي. بیا په ډیره ارامی له موټره کوزېږي، د پولېس خواته ورځي او په سر یې بل مردکی ولي. خپل موټر ته خېژي او دخپلې هغې معشوقې چې مینه یې بشپړه شوی نه وه، ځای پریږدي. دا آرام او متین ښاغلی هماغه دی چې په خپل لیك کې لیکی:

زما د کمیس دچپې خوا لاندې یو داسې زړه درزېږي، چې هېڅکله دچا دځورولو په نیت نه دی درېبدلی.

آیا کرولي ځان غولوي یا انګېري چې خلك دومره ساده دي او دده داخبره مني چې ده دنورو د ځورونې نیت نه درلود؟ هغه نه پوهېده چې ناسمې او ناروا غوښتنې یې کم تر کمه د نورو دغوښتنو په خلاف راتلې؟

کرولي وروسته د برښنا په واسطه په اعدام محکوم شو. فکر وکړئ آیا هغه چې کله دسینګ سینګ په زندان کې دمرګ په کوټه کې ګرځیده دایې ویل «دا دهغه چا سزاده چې خلك وژني»؟

نه! هغه دمړینې پر مهال هم دخپلې کړنې په ناسموالي ګرو همن شوی نه و او ویل یې: «دا دهغه څه په خاطر ده چې غوښتل مې له ځانه دفاع وکړم » تمانچه ای جنایتکارا و چټك پولیس وژونکي ښاغلي کرولي ځان هېڅ ګناهګار نه ګاڼه. ربښتیا! تاسو فکر وکړئ، د برخورد دا لاره په جنایتکا رانو کې استثنایي او غیر عادي ده نه، ربښتیا داده چې دا طریقه په لړ اختلاف ددوی ټولو په منځو کې یو شان ده ددې خبرې دتائید لپاره لاندې پیښې ته پام وکړئ:

«زما دژوند تر ټولو ښه کالونه په دې تیر شول چې خلك دژوند له خوږو او لطیفو خوندونو برخمن کړم. زما هڅه داده چې هغوی خپل وختونه په خوښۍ تیر کې، خو چې ددې بدل کې مې څه په برخه کیږي. کنځلې، لعنت او بدې ردی دې چې اورم یې او بد یې لا دا چې تل تر څارنې لاندې یم.»

دا چې مو ولوستل د امریکا د ټولنې د ترټولو سخت دښمن الګاپن ویناوې دی چې دشیګاګود ګانګسرانو د تر ټولو مشهورو او ویرونکو باندونو دمشر په توګه ووژل شو، او له ځانه یې همشنی کر که پر ځای پریښوه الګاپن هیڅکله ځان پړنه ګاڼه او نه یې محکوماوه، هغه ربښتیا ځان دخلکو خدمتګار ګاڼه، خو داسې خدمتګار چې خلکو یې قدر نه دی پیژندلی.

بلې بیلګې ته پام وکړئ:

شولنز دامریکا یو ډېر لوی بدنام جنایتکار دی چې په هالندي شولتز مشهور دی، دیوې ورځپاڼې سره دمرګې پر مهال کې الګاپن ته بیخې ورته په ښکاره ډول اعلان کړه، «زه د خلکو دخدمتګارانو زړګې یم.» ډېره دپام داده چې ده په خپله وینا پوخ ایمان درلود. دا خبره یې د نیو یارک د ګانګسترانو دمردکي په وسیله تر مړینې څو ورځې مخکې کړې وه.

ما د نیو یارک د مشهور زندان سینګ سینګ له مدیر ښاغلی واردن والاس سره ډېر لیکنې اړیکي درلودل او ډېر جالب لیکونه مویو بل ته لیږلي دي. ښاغلی والاس ګروهمن دی چې « دهغو جنایتکارانو په منځ کې چې دسینګ سینګ زندان یې ډک کړی دی، داسې کسان ډېر لږ دي چې ځانته تباهکار ووایي. دوی ادعا کوي او ډېر دلایل ورته پیدا کوي چې زما او ستا په شان دانساني ارزښتونو او اخلاقي ښیګڼو لرونکي دي. د ښاغلی والاس دیوه لیك یوه برخه:«دوی زیاتره ددې لپاره دلایل جوړوی چې ولې یې یو صندوق مات کړی، یا یې په زوره سره پر ماشه ګوته راښکلې ده دوی نه یوازې په منطقي یا غیر منطقي دلیلونو غواړي ځان نورو ته سپین کړي لا داهم غواړي چې خپل ټولنیز ضد عملونه توجیه هم کړي او کله دومره مخکې ځي چې په ډېره ټینګه په خپله بې ګناهی زور اچوي او وایي ، باید هېڅکله نه وای بندي شوی..؟!»

دوه تمانچه ای کرولي، الګاپن، شولتز او نور چې پیاوړي تباهکاران او په عین وخت کې ټهیلي وو، یا په زندان کې اعدام شول یا دخپلو ملګرو له خواوویشتل شول، خو هیڅکله یې ځانونه پړه نه ګڼل او حتیٰ پر خپله بې رحمی یې هم باور نه و، خو آیا زموږ او ستاسو او نورو خلکو نظر هم چې دغه ډول خلك وینو، ددوی په باب دغسې دی؟ څرګنده ده چې نه! موږ ته دهغوی کړنه مهمه ده موږ کله یا زیاتره حتیٰ د خپلو ځانو په باب هم سم

قضاوت نه شو کولای، ځکه سم قضاوت واقعبيني غواړي. د جان وانا ميکر دا اعتراف ډېر د پام وړدی چې تر مرګ ۱۰ کاله دمخه يې کړی و:

**«ديرش کاله مخکې پوه شوم چې بدې ردې ويل ډېر کم عقله کاردی. زه پر خپلو محدوديتونو د برې لپاره ډېر ځورېږم. نور وخت چې پاتې کيږي چې پرافسوس کولو او ځان ځورولو يې تيروم. ولې خدای دعقل او شعور تحفه د خپلو بنی ادمو مخلوقاتو په منځ کې په يو شان نه ده ويشلې!»**

دا ښاغلی هغه وخت په دی پوه شوه چې ٤٠-٥٠ کاله يې له دی موهبت نه دګټې اخستو لپاره وخت درلود، خو آيا زه هم ددغسې نتيجې دلاس ته راوړلو لپاره ۳۰ يا زيات کلونهولګوم؟ زه هم ايله په ديرش کاله کې دې نتيجې ته ورسېدم. په هر وسلو خطا وو کې چې خلك يې کوي. ډېر لږ به داسې څوک پيداشي چې ځان تر يوې غلطی د ډېرو لپاره ملامت کړي.

دداسې خلکو انتقاد او بدې را ښکاره کول دومره ګټور نه دي ځکه دوی دفاعي حالت او د خپلې غلطی دتوجيه کولو لپاره دلايلو جوړولوته هڅوي. د بلې خوا انتقاد دا خطر لري چې داشخاصو ګرانبيه غرور او ددوی دځان مهم ګڼلو حس تاواني کړي چې نتيجه به يې د کينې او دښمنی داحساس را پارول وي.

نه پوهېږم دالمان په پوځ کې به دا کرنلار تر اوسه وي که نه چې يو سرتيری د رټلو نه وروسته زر دشکايت حق نلري. يو وخت خو داسې کيده، که اوس هم وشي بده به نه وي.

رټل شوی پوځی هغه وخت دشکايت حق لري چې قار يې کينې او غصه يې ارامه شي. که چا به دا طريقه پريښوده او زر به يې شکايت وکړ جزا به يې ليده. زما په ګومان په شخصي ژوند کې دداسې مقرراتو په پام کې نيول ګټور واقع کيدايشي. کېدای شي د

مور او پلار د قار، دښځې د ږونګيدو او د مشرانو د بدورودو ويلو پر مهال مراعات شي.

دملتونو په تاريخ کې دداسې ښکاره انتقادونو بيلګې موندل اسان دي چې بدې پايلې يې لرلې دي.يوې داسې بيلګې ته چې ښايي ځينو ته ياده وي ، پام راواړوئ:

دتتؤ دور روزولت جنجال اوجمهوريت غوښتونکی ګوند له خوا دجمهور رئيس تافت دعوه په دې پای ته ورسېده چې د دواړو په ځای ښاغلی ملن پر تخت کېښناست. جمهور رئيس روزولت دزمريو ښکار پسې افريقاته لاړ (١٩٠٨) تافت د روزولت په غياب کې د هيواد چارې پر مخ بوتلې خو دده محاظه کاری جمهوررئيس روزولت وتو راوه. د افريقا له سفر څخه تر را ګرځېدو وروسته يې پر تافت سخت انتقادونه وکړل او هغه يې وغنده. په دې لړه کې شو چې ددريم ځل لپاره ځان جمهوري رياست ته کانديد کړي. ده د جمهوريت غوښتونکي ګوند په انحلال او د موز ګوند په جوړولو انتخاباتو ته راودانګل. د جمهور رئيس روزولت د انتقاد دا پايله شوه چې جمهوريت غوښتونکې ګوند يوازې په دوه ايالتونو ورمون او يوتا کې وځليد او د امريکا دغه تر ټولو پياوړي ګوند د تاريخ ډيره شرموونکې ماته وخوړه.

روزولت تافت دماتې عامل ګڼه خو آيا تافت دامنله؟ نه ده هيڅکله دا ونه منله چې پړدی او په داسې حال کې چې اوښکی يې په سترګو کې وې ويل يې: «نه پوهيږم، څنګه مې کولای شو، ددې نه بل شان کړنه تر سره کړم.؟»

زه نه غواړم او نه شم کولای قضاوت وکړم چې څوک په حق و، خو دا ويلې شم چې د روزولت انتقادونو ونه شو کولی تافت قانع کړي او نتيجه يې دا شوه چې تافت هڅه وکړه چې د خپلو کړنو د سم ګڼلو لپاره له اوښکو ډکو سترګو سره دا خبره بيا بيا وکړي.

داسې کسان به هم وي چې د دوهم اسکاندال تيپوت دنفتو د

شرکت کیسه به یې یاده وي. په هر حال که هیره یې هم وي، یادول یې بې ګټې نه دي:

دویم اسکاندال تیپوت ددې سبب شو چې هاغه مهال ورځپاڼې په نه ستړې کیدونکې ډول تیزې او تونديې او له قهره ډکې مقالې ولیکې او پیښه په داسې آب وتاب بیان کړي چې ملت وخوروي او وار خطا یې کړي.

تر دغه مهاله هېڅوک نه پوهیدل چې دامریکا د خلکو په ژوند کې کومه پیښه شوې وي. داسکاندل پیښه څرګنده او ښکاره داسې رامنځ ته شوه:

دهار دنیګ د کابینې داخله وزیر آلبرت فال ګما رل شوی و چې په الك بیل او دویم تیپوت کې د نفتو دولتي ذخیرې په اجاره ورکړي. دا ذخیرې په راتلونکي کې دسمندري پو ځو نو لپاره بیلې شوې وې. فال چې داخله وزیر و ، د هغې د بیې د لوړولو لپاره یې هېڅ ونکړل. هغه دغه له ګټې ډک قرار داد له خپل دوست ادوارد دوهنی سره وکړ. دوهني هم د قرض په نوم فال ته یولك ډالر ور کول.فال د سمندري پوځ سر تېرو ترامر وکړ.چې ذخیرو ته ورشي او رقیبان چې د خپلو کوهیو له لارې د الك هیل له ذخیرو نفت را وباسي، وشړي په پای کې کله چې رقیبان دتوپ او تورې په زور له سیمې وشړل شول، پر محکو مو یې یرغل وروړ چې د یوې سل میلیوني ناوړه استفادې نه پرده پورته کړي.

نتیجه یې یوه داسې ناولتیا شوه چې دهار ونګ حکومت یې ولړزاوه او ددغې ناولتیا بوی د ټولو حال واړوه. جمهوریت غوښتونکي ګوند له ګواښ سره مخ شو او البرت فال د زندان د پنجرو شاته ولوید. فال ډېر بد محکوم شو، داسې محکومیت چې بیلګه یې ډېره کمه وه خو آیا هغه له خپل کار نه پښیمان شو؟ نه هېڅکله! کلونه وروسته هر برت هو ور په یوه وینا کې څرګنده کړه چې **«دجمهور رئیس هار دینګ مړینه د یو دوست د خیانت په وجه**

**له را ولاړې شوی سودا او فکری نا ارامی له سببه وه»** کله چې میرمن فال دا خبره واوریده له خپلې چوکی را پاڅیده په زوره زوره یې وژړل او په داسې حال کې چې خپل لاسونه یې په هوا کې خوځول پر خپل سر نوشت یې لعنت وایه او چغې یې وهلې. **«ګڅه اورم، فال هارنینګ سره خیانت کړی دی».**

نه! زما میړه هیڅکله چا سره خیانت نه دی کړی که دا کوټه ټوله له سرو زرو ډکه شي میړه مې لار نه ورکوي. له هغه چا سره چې خیانت شوی دی او دار ته ټیل وهل شوی او مصلوب شوی دی، هغه زما میړه دی.

وینئ؟! – د بشر طبیعت د خپل کار په اړه داسې دی. ورانکاري تر ځان پرته نور ټول پړه ګڼي. موږ ټول دغسې یو و. ځکه موږ او تاسې هر یو که کله غواړو په چا انتقاد وکړو باید الګاپن، کرولي او ښاغلی آلبرت فال په یاد راولو. راځئ دا یوه خبره درته وکړم چې انتقاد دداسې کوتری په شان دی چې د باز کورته ګرځي. هو! تربیه کوترې خو خپل کورته ځي. اجازه راکړئ داټکی یاد کړم چې کله موږ غواړو پر چا انتقاد وکړو هغه هم ممکن د ځان د پاکولو لپاره دلایل ولټوي او په بدل کې موږ محکوم کړي او یا د مهربان تافت په شان ووایي: **« نه پو هیږم څنګه مې کولای شو، له دې بل څه وکړم؟!»**

د ۱۸٦٥ د اپریل په ۱٦ دشنبې په سهار ابراهام لنکلن د یو ارزان بیه هوټل دخوب په کوټه کې چې د فورد تیاتر پکې و، په مردګي ولګید او لوړ اندام یې په هغه کټ راولوید چې له ده نه ډېر لنډ و، د بسترې له پاسه یې د روزا بولوز کم بیه مشهوره تابلو یعنی « په بازار کې اس تابلو پرته وه او دګاز یوې مړې او لړزیدونکې ورانګې کوټه روښانوله.

په هماغه حال کې چې لنکلن ساه ورکوله دده د جنګ وزیر

استانتن لګياو، ويل يې: تر ټولو کامل واکمن چې نړۍ تر اوسه ليدلی دلته پروت دی.

استانتن په دغه حال کې دلنکلن وژنځای ته په لاس اشاره کوله

.

ربښتيا دخلکو سره د سلوک په کار کې دلنکلن خبرې راز څه و؟ ما ۱۰ کاله د ابراهام لنکلن په ژوند کې څېړنه کړې ده او درې کاله وخت مې د «ناپيژندل شوي لنکلن » په نوم دکتاب په ليکلو او سمولو لګيدلي دي. فکر کوم دامکان تر بريده مې دلنکلن دشخصيت او کورني ژوند په جزئياتوکې څېړنې کړې وي. دخلکو سره مې دلنکلن دراشه درشې د ډول او رفتار په باب ځا نګړی څېړني کړي دي.

آيا هغه د خرده ګيرۍ عادت درلود؟ هو، هغه دا کار کاوه.

هغه د ځوانی په ورځو کې د (انديانا) د پيجن تر ټك په دره کې نه يوازې شفاهی انتقاد بلکې ليك، مقاله او شعر هم ليکه او ځينې کسان يې پکې ريشخندول. هغه به ليکوته په داسې کوڅو کې غورځول چې ډاډه به و، د نظر وړ خلك يې پرې تيريږي.

په دغو ليکونو کې يوه يې داسې قهر او غصه را وپار وله چې تر عمره يې لمبې بلې وې.

لنکلن په اسپرينګفلد (الينوی) کې د وکالت له پيل نه وروسته سمدستي د خپلو مخالفانو پر ضد په سر خلاصي ليك کې چې په ورځپانه کې خپريده، انتقاد کاوه. هغه دا کار يو ځل نه بلکې څو ځلې وکړ. په ۱۸٤۲ کې لنکلن د يوه ځان غوښتونکي او جنګيالي ايرلندي سياست وال جمزشيلدز سره ونښت لنکلن په يوه مقاله کې چې په «**داسپرينګيلډرژورنال**» کې ديوه نا پيژندويه شخص په نوم خپره شوه **نوموړ**ی آيرلندی ريشخند کړ. دده مخالف ډېر قارندونکی سړی و، په اس سپور شو، راغی او لنکلن يې **دوي**ل ته**وب**اله. لنکلن د **دو**يل مخالف وو. خو د هغه له شره نه شو خلاصيدای. بايد خپل

حیثیت یې هم ساتلی وای. ده ته اختیار ورکړل شوی و هر بول توره چې غواړي غوره دې یې کړي. داچې ونه یې لوړه وه دسپاره پوځ لنډه توره یې غوره کړه او یوه موده «ویست پوینټ» کې د توره وهلو په زده کړو بوخت شو.

په ټاکل شوې ورځ هغه او شیلډز د مسي سي پي د رود پر غاړه سره مخ شول او تر وروستی سلګی د جګړی لپاره تیار وو. خو په وروستی شیبه کې شاهدانو مداخله وکړه او دعوی د دویل مخه یې ونیوله.

داپیښه د لنکلن دژوندله تر ټولو بدو پیښو څخه وه. ده ته یې دخلکو سره دسلوک او برخورد په باب ګرانبیه درس ورکړ. هغه بیا هیڅکله چاته سپکونکی لیك ونه لیکه.

بیا یې پرچا ریشخندونه کړ او له دغې ورځې وروسته یې پر هیچا د هیڅ شي انتقاد ونه کړ.

د کورنی جګړې پر مهال به لنکلن هر ځل نوي جنرال ټوښاوه او د پوځ په سر کې به یې ټاکه. نوی هر یو لکه مك ګیلان، پوپ، برنساید، هو کرومید ډیري لو یې سهوې وکړې او لنکلن به په داسې حال کې چې په نهیلی کې به ډوب و، په کوټه کې ګرځید؛ د امریکا نیم نفوس دغه نا اهله جنرالان غندل خو لنکلن په دې شعار **«نیکي له ټولو سره او بدي له هیچا سره» به یې خپل ننني سکون ساته. دا خبره به یې داسې نقل کوله «قضاوت مه کوه چې ستا په باب قضاوت ونه شي»**

کله چې میرمن لنکلن او نورو د امریکا دجنوب خلکو په باب په قهر او شور خبرې کولې لنکلن جواب ورکاوه **«پر هغوی انتقاد مه کوئ. که موږ په دغسې شرایطو کې وای، نوی هماغسی دي.»** نو ځکه که کله به یې انتقاد کاوه هغه به یې هم پر ځان کاوه. یوه بیلګه وګورئ: د ۱۸٦٤ د جو لای په لومړیو درې ورځو کې د ګتسبورک جګړه وشوه، په ځلورمې شپې «لی» جنوب لورته شاته تګ پیل کړ. په

داسې حال کې چې وریځو ځمکې د باران په سیلابونو خرب کړي وې، کله چې «لی» په دام کې نښتی و او تښتیدای نه شو، لنکلن په دې خبره پوه شوی و. دا یو طلائي چانس و. د «لی» د ځواکونو د نیولو چانس او جګړې ته چټك پای ورکول. ځکه لنکلن په ډیره هیله مندې «مید» ته امر وکړ د نظامي شورا د دایریدو پرته په «لی» برید وکړي خو خپل پیغام یې تلګرافي ولیږه او خپل ځانګړی پیك یې هم مید ته ولیږه او د بیړنی اقدام غوښتنه یې ترې وکړه.

خو جنرال مید څه وکړل. هغه پوره د لنکلن د فرمان پر خلاف کار وکړ، هغه نظامي شورا را وغوښته او په عملي اقدام کې یې ځنډ وکړ. برید یې نن او سبا ته وغوړ زاوه او په تلګراف کې د بیلا بیلو عذرونو بهانې کولې.

هغه ښکاره د هیڅ ډول دلیل پرته پر «لی» د برید نه ډډه وکړه. تر هغه چې دسیند اوبه کیښناستې او «لی» په خوندي توګه دخپلو ځواکونو سره د پروتوماک نه تیر شو.

لنکلن ته قار راغی او خپل زوی را برت ته یې وویل: ددې څه مانا ده، لویه خدایه ددې مانا څه ده؟ هغوی زموږ په منګولو کې وو او همداښه وه چې لاس ور اوږ ود کړو او راته تسلیم شي خو هره کړنه چې ماکوله او هره خبره چې مې ویله نه یې شو کولای پوځ په خوځون راولي. په داسې شرایطو کې هر جنرال کولای شو، جنرال «لی» ته ماتې ورکړي حتیٰ که زه تللی وای، نو سرا مې ورکولای شوه.

لنکلن چې زړه یې مات او نهیلی و، قلم یې واخست او مید ته یې لیك ولیکه.دا باید روښانه شي چې پردې مهال لنکلن پخپله ډېر ځان ساتی و او د کلیمو په استعمال کې یې ډېر احتیاط کاوه. نو په ۱۸٦۰ کې دده لاندینی لیك دا مانا لري چې ده «لی» ته تر ټولو بدې غندنې لیکلې دي:

**«فکر کوم چې د لی نه تیښتې په وجه د را پیدا شوې بد مرغی**

**په ستر توب پوه شوی یاست، هغه زموږ منګولو کې و، که موږ برید کړی وای وروستني بري به مو بشپړیدل او جګړه پای ته رسیده. اوس چې وضع داسې شوه، جګړه به هم تر نا څرګند مهاله روانه وي. تاسو چې وس نه درلود په ارام زړه او د خطر په نه احساس د دوشنبې په ورځ برید وکړئ. اوس څنګه کولای شئ د سیند په سهیل کې داسې اقدام وکړئ. په داسې حال کې چې ډېر لږ سر تیري (دیخوا په نسبت دریمه برخه) در سره پاتي دي. اوس هیله مندي د هوښیارۍ خبره نه ده او زه هم ددې تمه نلرم چې په داسې مهال دې ستاسو اقدام اغیز من وي. طلائي وخت له لاسه تللی او داچې دغسې طلايي چانس مو له لاسه ورکړي ډېر زیات خفه او متأسف یم.»**

فکر کوئ چې مید د لیك تر لوستو وروسته څه وکړل؟

مید هېڅکله دا لیك ونه لید ځکه لنکلن ورته نه و لیږلی. دا لیك د لنکلن تر مړینې وروسته د هغه په پاتې اسنادو او کاغذو کې وموندل شو.

ګمان کوم ـ او دا د ګمان نه ډېر څه نه دي- چې لنکلن د لیك تر لیکلو وروسته له کړکۍ بهر کتلي ځان ته يې ویلي دي باید لږ صبر وکړم. زه باید له دومره بیړې کار وانه خلم. زما لپاره ډیره اسانه ده چې په یو آرام او بې شوره ځای (سپینه ماڼۍ) کې کینم او مید ته د حملې امر وکړم».

خو که زه تیره اونۍ د هغه پر ځای په ګتسبورګ کې وای او د مید هومره وینې بهیدنې مې لیدلې وای او غوږونه مې د ټپیانو داوازونو له چیغو سره روږدې شوې وای ما به هم د هغه په شان د برید سره لیوالتیا نه وای ښودلې. که زه دمید په شان ځوان وای، شاید هغه کار ما هم کړی وای چې ده وکړ. په هر حال اوس د یو سر ته رسیدلي کار سره مخ یم.

او که دا لیك ولیږم یوازې ددې لپاره ده چې ځان آرام کړم، خو

جنرال مید به راوپاوري چې دخپلې کړنې سموالي ته لارې وګوري. که هغه په دې خاطر محکوم کړم، سخت به وځوریږي او د یو قوماندان په حیث به نور په کار رانشي، ځکه دنده به پریږدي.

لنکلن دغه لیك ونه لیږه، ځکه هغه پوه شوی و چې تر خه انتقادونه زیاتره بی نتیجې وي.

تئودور رو زولت څرګنده کړی ده، کله چې دې جمهور رئیس و، که به له کومې ستونزې سره مخ کیده، ارام به یې پر چوکۍ ډډه لګوله او د لنکلن عکس ته به یې چې د میز په سر ځوړند و کتل او ځانته به یې ویل: **«که لنکلن زما پر ځای وای، څه یې کول او دا مسئاله یې څنګه حلوله.؟»**

نو ځکه پریږ دئ هر کله چې بل ځل دې ته تیار شوئ چاته بده خبره وکړئ، تا سو هم دغسې وکړئ او څوک چې مو د ژوند سر مشق تاکلې وي په یاد را وړئ او ووایئ چې که اوس هغه وای څه به یې کول؟

ایا تاسو څوک پیژنئ چې سمولو او تادیب ته یې لیوال یاست؟ ډېر ښه، دا ډېر لوړ فکر دی. زه هم ستاسو پلوی یم خو له ځانه یې ولې نه پیلوئ؟ د ځان غوښتنې له نظره دا کار دنورو تر سمونې ډېر ګټور دی. هو، ګټور هم دی او ډېر کم خطره هم دی.

براونینګ وایي: **«کله چې جګړه دانسان له دننه پیل شي، هغه د یو قابلیت لرونکی وي»**

ښایي د ځان د اصلاح لپاره له اوس نه تر اختر پورې وخت ولرئ. تر هغه وروسته هم کولای شئ په رخصتیو کې آرام وکړئ او نوي کال کې دنورو تادیب او انتقاد پیل کړئ. خو ښه داده چې لومړی ځان بشپړ کړئ.

کنفوسیوس وایي: **« په داسې حال کې چې د خپل کور غولی دې له چټلۍ او واورو ډک دی باید دګاونډي د بام له واورو شکایت ونه کړې.»**

زه چې ځوان وم او ډېره هڅه مې کوله نور تر خپلې اغیزې او نفوذ لاندې راولم ریچارډ هاردنیګ دیویس ته چې هغه وخت د ادبیاتو په آسمان ډېر ځلاند و، یو لیک ولیږه. زه دغه مهال یوې مجلې ته د لیکوالو په باب د یوې مقالې د لیکلو په تکل کې وم. ما له دیولیس نه په لیکوالۍ کې دهغه د متود او لارې په باب پوښتلي وو. ما څو اونۍ مخکې یو لیک لیدلی و چې په پای کې یې لیکل شوي وو: **«دکته شوې خو لوستل شوی نه دکه دې جملې پر ما ډېر اغېز کړی و داسې مې وانګیرل چې د جملې لیکوال باید ډېر لوړ استعداده سړی وي. زه خو هیڅ مشغول نه وم خو غوښتل مې ریچارډ د یویس تر اغېز لاندې راولم، نو ماهم لیک په دې کلیمو ختم کړ « دکته شوی دی خو لوستل شوی نه دی»**

دیویس هیڅ ځان تکلیف نکړ چې زما لیک ځواب کړي، یوازې زما لیک یې بیرته راولیږه او یوه جمله یې پرې زیاته کړې وه « تردې لویه بې ادبې ستا خپله بې ادبې ده» ریښتیا یې ویل، ما سهوه کړې وه او د همدغو رټلو او دګلو وړوم چې ده کړې وو. خو داچې زه د یو انسان د طبیعت لرونکې یم. ډېر نا ارام شوم. دا تر ټنه راته دومره ګرانه تمامه شوه چې لس کاله وروسته هم چې دیویس ومړ ماته یواځنۍ او لومړنۍ خاطره همدا وه چې را یاده شوه.

که موږ او تاسې وغواړو سبا یو څوک وځوروو، دا ځورونه کېدای شي لسګونه کاله دوام وکړي او تر مرګه له منځه لاړه نشي. همدا بس ده چې تاسو یو نیش لرونکی انتقاد وکړئ -که څه هم تاسو د خپلې خبرې په رېښتیا ډاډه یاست- او هغه ټول عمر له ځانه خفه کړئ.

د خلکو سره د معاشرت پر مهال باید دا یاده کړو چې سرو کار مو له داسې چا سره نه دی چې منطق یې زده دی، بلکې له داسی چا سره مخ یوو چې احساسات لري. داسې موجودات دی چې تعصباب او بې دلیله ګروهې لري او غرور او ځان لیدنه یې محرک دی.

انتقاد یوه خطر ناکه سپرغی ده، چې دغرور د باروتو په منځ کې چاودنه پیداکوي، داسې چاودنه چې کېدای شي د هلاکت سبب هم شي. د بیلګې په توګه جنرال لئو ناردوود تر انتقاد لاندې راغې او ورته اجازه ورنکړل شوه چې له پوځ سره فرانسې ته لاړ شي. دا امر یې پر غرور داسې بد ولګیده چې ددې له اغېزه نا څاپه مړ شو

تر څه انتقادونه ددې باعث شول چې حساس او ژر خفه کیدونی توماس هاردی چې دانګلستان ښه رومان لیکونکی و، د تل لپاره له لیکنې لاس واخلي. انتقاد انګریز توماس چاترتون ځان وژنې ته اړ ایست.بنیامین فرانکلین چې په ځوانی کې بې پروا او تنبل و، وروسته دومره حساس او د خلکو سره په معاشرت کې پیاوړی شو چې د امریکا دلوی سفیر په حیث یې فرانسې ته ولیږه. د هغه د بري راز په څه کې و؟ هغه ویل. **«زه د هیچا بد نه وایم او تل د وګړو ښېګنې بیانوم»**.

هر بیعقل کولای شي په انتقاد او شکایت نور محکوم کړي او زیاتره احمقان داسې کوي.

کارلایل وایي: **«یو لوی سړی، خپل لویوالی د خپل سلوک په واسطه ورو خلکوته ښایي»**.

دخلکو د محکومولو پر ځای راځئ هغوی وپیژنو، پرېږدئ هغوی کشف کړو چې ولې یې رفتار دغسې دي. دا کار تر خرده ګیرۍ ګټور دی. دا کار د تساهل، همدردۍ او مهربانی منشه ده او د ټولو پیژندل د ټولو د ښښلو مانا لري.

هغسې چې داکتر جانسن ویلي دي **«حتی' خدای هم تر هغې قضاوت نه کوي څو پورې چې د انسان عمر پای ته نه دی رسیدلی.»**

نو موږ او تاسو ولې دغسې یو کار ته لاس وروړو؟

# دویم څپرکی

خلکو سره د سلوک دلارو پیژندل یو ستر راز دی

ددې شین آسمان دنیلو فری گنبذې لاندې کارته دخلکو دهڅولو یوازې یوه لاره شته، رښتیا کله مو ددې لارې فکر کړی دی؟ که تاسو فکر نه وي کړی راځئ چې زه یې درته په اسانی ووایم چې دا لار شته. دا لار داسې ده چې مقابل لورې کې د هغه کار دسرته رسولو مینه پیدا کړو. دا مه هیروئ له کار سره دا فرادو دمینه وال کېدو پرته بله لار نه شته. البته تاسې کولای شئ د یو چا په شا دتمانچې د لولې په ایښودو یا بزهغه دې ته اړ کړئ چې د خپل لاس ساعت او د جیب محتویات تاسو ته درکړي. یا یو کار گر د ایستلو په گواښ یا جریمه کولو یا رټلو د خپل امر منلوته اړباسئ یا په قمچینه یو ماشوم د خپل امر منلو ته تیار کړئ خو پام کوئ چې دا کار بد عکس العمل لري.

د خوښې وړ کار ته د چا د اړ ایستلو یوازنی لار داده چې څه تاسو غواړئ باید درکړل شي.

تاسو څه غواړئ؟ زیگموند فروید مشهور اتریشي ارواه پوه چې تر اوسه لا په ارواپوهنه کې یوه پیښه شمیرل کیږي پر هغې مفکورې چې څرگندوي یې په پوره ایمان داسې وایي:

هغه کارونه چې موږ او تاسو سرته رسوو. دوه محرکه لري:

۱- جنسي غوښتنه ۲- دستر توب هیله.

پروفیسور جان دیوی د امریکا د واقع بینو او ژور لیدو فیلسوفانو څخه دی دا مفهوم په بل بول بیانوي. جان دیوی وایي:

دانسان په جوړښت کې تر ټوله ستره انگیزه د مهم والي غوښتنه ده.

ددی دوو د نظر خاوندانو داخبره مه هیروئ: دمهم والې غوښتنه.

په بله وینا موږ ټول غواړو چې نور مومهم وګڼي او د سرونو په منځ کې یو سر وشمارل شوو:دغه ټکي چې ددوه فیلسوفانو له خولې ولیکل شو زما په نظر دمهم والې له نظره مهم دی او تاسو به ددې کتاب ځای پر ځای په دې باب معلومات ولولئ.

ستاسې غوښتنه څه ده؟ باور لرم چې تاسو ډېر څه نه غواړئ خو همدا لږه غوښتنه په ټېنګار غواړئ او دامو خوښه نه ده چې غوښتنه مو رد شي.

په یوه ساده بر رسی کې دا څرګنده شوه چې یو بالغ انسان هغه څه غواړي چې لاندې راوړل شوي دي:

۱– روغتیا، تندرستی او دوجود ساتنه.

۲– غذا.

۳–خوب.

٤– پیسې او هغه څه چې په پیسو اخستل کیږي.

٥– تر مرګ وروسته ژوند (تر مرګ وروسته دژوند دوام په دې مفهوم چې په مرګ ټول شیان پای نه مومي)

٦– دجنسی میل غلي کیدل.

۷–داولاد روغتیا او دهغوی له نیکمرغی ډاډ.

۸– مهم ګڼل کیدل (مهم والی احساس کول).

دانسانانو ټولې غوښتنې او هیلې چې پورته ولیکل شوې دیو پرته ټول دلاس ته راوړو وړ دي خو یوازې دلاس ته راوړو لارې په اشخاصو کې توپیر کوي. خو دا یوه خبره پاتې کېږي چې فروید ورته د لویوالې غوښتنه او جان دېوی ورته دمهم والی احساس وایي. ښایي دا تر خوړلو او خوب اوجنسي هیلو تر پوره کیدني په انسان کې ډېره ژوره غوښتنه وي.

ابراهام لنکلن خپل یولیك په دی جمله پیل کوي: « هر څوك

غواړي چې دستاینې ور وګرځي» ویلیام جمز په دې عقیده دی.

«دانسان په بدن کې تر ټولو ژوره انګیزه دستاینې او قدر ور ګرځیدو مینه ده.»

پام ولرئ چې ویلیام جمز دغوښتنې، هیلې، انتظار او یا تمې د قدر کولو خبره نه کوي، هغه وایي: «د ستاینې او قدر ورګرځیدنې ژوره مینه» دلته دژورې مینې مقصد دداسې انساني او آزار ورکوونکې غوښتنې څخه دي. او همدا استثنا دډیرو لږو خلکو له خوا د پتمنې لارې ارضا کیږي. هغه څوک چې دالیونی مینه دابرومنې او پتمنې لارې راضی کوي داسې شخص ترې جوړیږي چې نور ځان ته راکاږي او حتی دمړینې پر مهال حتی قبر ایستونکي هم پسې ژاړي چې یو مهم، معتبر او پتمن شخص له لاسه تلی دی.

دمهم والي غوښتنه او احساس دشعور لرونکي حیوان په توګه دانسان او نورو حیواناتو تر منځ یو لوی او مهم او بنسټیز فرق دي. البته د لوړتیا غوښتنې احساس په حیواناتو کې هم شته چې زموږ له بحث نه بهر خبره ده. دمهم والي د احساس په اړه د یوه مثال یا دول بد نه دي:

د کوچینوالي په مهال چې په میسوري کې مې په یوه کروندہ کې کار کاوه. پلار مې غوایان، وزې او نور ښکرور حیوانات ساتل. په دی منځ کې یو ډول ښکر ور ایږ (خرس) د خاص پام وړو. موږ خوګان او غوایان د ختیځې امریکا کلیوالي سیمو ته د مسابقې لپاره بیول او زیاتره موګډون کوونکو حیواناتو لومړي جایزه ګټله. پلار مې هغه شیان چې جایزه کې یې اخستل په ټوټه پورې تړل او چې دوستان او اشنایان به کور ته راتلل ما ته به یې ویل چې یوه خوا ورسره ونیسم، خپله یې بله خوا نیوله او په میلمنو یې ویاړ خرڅاوه چې دا جایزه یې ګټلې ده هغوی به هم د جایزې په آبي رنګ میندل چې موږ به وړې وه.

په هغه وخت کې حیوانات ددغې جایزې په قدر هیڅ نه پوهیدل خو پلار مې ددوی د زحمت حاصل ته سخت اهمیت ورکاوه، ځکه دې جایزو په ده کې دمهم والي احساس راپاراوه.

په دې کې هیڅ شك نلرم چې که دمهم والي سوزونکي مینه له هماغه پیله دانسانانو او زموږ د نیکونو په منځ کې نه وای دا حیرانوونکي او لوی تمدن بشر ته نه شو راتلې. په بله وینا دمهم والی داحساس پرته به موږ هم د حیواناتو په شان بې بدلونه ژوند کولای.

همدا دمهم والي احساس ددې سبب شو چې د یو بې سواده بقال فقیر شاگرد د حقوقو څه زاړه کتابونه په ۵۰ سنته واخستل، ویې لوستل او په پای کې دمهم والی داحساس په راضي کولو بریالي شو. دده نوم مو بیا بیا زما په کتابونو کې لوستی دی. نه، نه تیر وزئ، هغه هماغه ابراهام لنکلن دي.

دمهم والي سوزونکي مینه ده چې مشهور انگریز لیکوال یې د بې ساري او همیشنیو رومانو نو لیکلو ته اړ ایست-دمهم والي سوزونکی احساس دی چې بتهوون یې دهغو بې ساریو سمفونۍ گانو او دموسیقي دشاهکارونو را منځ ته کولو ته اړ ایست.

دمهم والي سوزونکي احساس دی چې راکفلر یې دمیلیاردونو ډالرو ساتنې او جمع کوونې ته اړ ایست چې که غوښتي یې وای ټول یې هیڅکله نه شو مصرفولاي.

دمهم والی سوزونکی احساس دی چې ستاسو گاونډی یو لوڅو زره متره تهداو لرونکی کورته له اړتیا پرته افسانوي مانۍ جوړ وی.

دمهم والي سوزونکی احساس دی چې تاسو اړیاسي ښه لباس واغوندئ، وروستنی ماډل موټر واخلئ او دخپلو ماشومانو هوښیاری کیسې نورو ته وکړئ.

بیا هم دا دمهم والي سوزونکی احساس دی چې ځینې ځوا

او هلکان مجبوروي د غلطې لارې ګانګستر انسان وژونکی او مشهور جنایتکار شي.

ای، ب، لرون دنیو یارک د ښاروالی پخوانی رئیس وایي:

**{نن ورځې تباه کوونکی ځوان د ځان پالنې او ځان غوښتنې نه یک وجود لري. ډېر لیدل شوې دي چې کله دغسې ځوانان نیول شوي دي له خپلو کورنیو غواړي چې دوی د خیانت اوبدو منعکسوونکې ورځپاڼې او مجلې ورته راوړي. دوی غواړي هغه پاڼې ولولي چې دوی پکې داتل په شکل راغلي دي. او چې ګورې په داسې ورځپانوکې چې دانشتاین، لیدبرګ روزولت او تو سکانی نې عکسونه او دکارونو شرحې چاپ شوې دي. ددوی عکس هم چاپ شوي دی، د برقي چوکی دمرینې دردناک ناتار هیروي...}**

که ماته ووایئ چې څه شی په تاسو کې دمهم والي احساس راپاروي نو زه به ډېر زر پوه شم چې تاسو څوک یاست او څه شی یاست. دا ستاسو د شخصیت څرګندونکی دی. ځکه چې دا احساس ستاسو دوجود تر ټولو غوره برخه ده. دبیلیګې په ډول راکفلر دخپل مهم والی احساس په پیکنګ کې د یوه روغتون په جوړولو ارضا کړ. داروغتون د ډېرو غریبو خلکو لپاره جوړ شوی دی چې راکفلر پخپل عمر کې هېڅ لیدلي نه دي.

دېلېنګر د خپل مهم والی احساس غلا او سرې وژنې ته په اقدام کولو او دبانکونو په لوټولو او تالان راضي کاوه. کله چې پولیسو دېلېنګر څاره دمینوټا په یوه کرونده کې پټ شوی و او چې پولیس ور ورسیدل راپورته شو او ویې ویل: زه هغه دیلینګر یم چې پسې ګرځئ.

دراکفلر او دیلنګر تر منځ فرق ددوی دمهم والي د احساس تر منځ فرق دی او ددغه احساس دراضي کولو دلارو په باب پکې فرق دی. دوی دواړو دمهم والي له احساس نه بیل تعبیر درلود. تاریخ دمهم والی داحساس دراضي کولو دخوږو او ځلانده شواهدو نه

ډک دی چې لویو اشـخـاصو کړي او په دې لارکې یې هڅې کړې دي.

جورج واشنګټن په دې خوښیدو چې هغه ته «حضرت د امریکا جـمـهور رئیس» ووایي. او دامـریکا کـاشف کرستف کلمب ټینګار کاوه چې امیر البحر او دهند نائب السلطنه ورته وویل شي.

لویې کاترینې به دهغو لیکونو پاکټ هېڅ بیرته کاوه نه چې پر مخ به یې «علیا حضرت امپراتریس» نه و لیکل شوې. میرمن لنکلن په سپینه مانۍ کې دیو پړانګ په شان په میرمن ګرانت ورټوپ کړ او په چغـو یې وویل **«په کـوم جـرأت زمـا په مـخکې له اجـازې پرته کښاستې؟»**

دامریکا بانکوال په دې شرط حاضر شول چې د بیرد لپاره د قطب د خطر ناک او پر مصرفه سفر خرڅ ورکړي چې هغه قول وکړي او د سهیلي قطب کنګلیز غرونه ددوی په نوم و نومول شي.

دفـرانسـې نابغـه لیکوال او د بینوایان، نو دوسـه ، ګـوژ پشت نتردام او نورو اثارو لیکوال غوښتل چې دپاریس ښار له سره نوی او دده په نوم د« وکتور هوګو ښار» ونومول شي.

شکسپیر چې دده دنوم په سټروالي کې بې داثارو دسترتیا درول په باب خبرو ته اړتیا نشته او اثار یې له یاده تلونکي نه دي، هڅه یې کوله چې دکورنیو نښانونو په جوړولو خپلې کورنۍ اصیلولی ته رنګ او ځلا ورکړي.

داسې خلك کم نه دي چې ځان ناروغه کوي چې دخلکو پام ور واړوي او د مهم والي احساس پرې ټکور کړي. میرمن مك نلي یوه دغسې بیلګه ده. دې میرمنې دځان دمهم ګڼلو لپاره ډېر کارونه کول . دې دخپل مهم والي حس په دې ټکوروه چې له خپل میړه جمهور رئیس مك نلی نه یې غوښتل مهم دولتي کارونه پریږدي او ساعتونه دهغې دکټ په بازو ور سره کښېني چې هغـه په خـواږه خـوب ویده شي. ( په دغو شپو کې به یې دا ځان سره ضرور ویلې وې: **«هو**

**دا زه یم چې یو لوی څواک مې پر بستره انتظار وباسي، نو زه پخپله ډیره مهمه یم»** کله چې به ډغاښنو ډاکتر ددې میرمن دغاښونو در ملنه کوله، دې به خپل میړه مجبوراوه چې څنګ ته یې کینې چې تسکین شي او د زړه قوت پیدا کړي. یو ځل یې میړه له چاسره دکتنې وعده لرله او دایې یوازې پریښې وه، داسې غوغا یې جوړه کړه چې دتماشو وه.

میرمن مری را برتس راینهارت را ته د یوې ځوانې، هوښیارې او ښاورې ښځې په باب خبره کوله او د ځان دمهم ګڼلو یو ښه ټکی یې راوښود. هغې وویل:

میرمن... ځوانه، هوښیاره روغه او تندرسته ښځه وه. ډیره موده مې پیژنده. نا څاپه داسې رنځوره شوه چې مور ټول یې اریان کړو دا میرمن چې کله دځوانی او ښکلا ډیرو کلونو تیریدو او د میړه د نشتوالي دتر څه حقیقت په پوهېدو د ځان مهم ګڼلو داحساس په رڼا کې ځیر شوه، ځان یې دنورو د نظر جلبولو لپاره ناروغه کړ. هغې د ځوانی او یوازې والي دورې د تیریدو دردناک حقیقت درک کړی و او مجبوره وه ویې مني. ددې دا ځان رنځور ښودل دومره سخت و چې زړه او ناروغه مور یې اړ شوه دوه کاله ددې پالنه وکړي. خو دا میرمن نه یوازې هیله مندۍ ژو نه ګرځیده بلکې خپله مور یې هم نهیلې کړه. زړې میرمن تر دوه کاله پرستاری وروسته ځان لوې خدای (ج) ته وسپاره. ځوانې میرمن دمور تر مړینې څو ورځې وروسته په ژړا او زاری پیل وکړ او ځان ناروغ ګڼلو ته یې دوام ورکړ، خو چې ویې لیده تردې بله چاره نشته او اړ ده چې حقیقت ومنې. له بسترې پاڅیده او داسې چې فکر کیده هیڅ ناروغې یې نه ده تیره کړې مناسبې جامې یې واغوستې او عادي او له تظاهره خالي ژوند یې پیل کړ.

ځینې اروا پوهان داسې عقیده لري چې ځینې خلك دمهم ګڼلو د احساس لپاره خیالي نړۍ ته پناه وړي او حتی کار یې دومره

خرابېږي چې په پای کې لیونتوب ته ورسيږي.

دوی غواړي هغو حقیقتونو ته چې دواقعیت په زړهٔ عالم کې ورته نه دي رسیدلي دخیال په نړۍ کې وروررسیږي. په امریکا کې دهغو ناروغانو شمیر چې د رواني ناروغیونه ځورېږي له هغو څخه څو برابره زیات دی چې له جسمي ناروغیو کړیږي. که ستاسې عمر تر ۱۵ کلنی لوړ وي او داټول کلونه مو په نیو یارک کې تیر کړې وي، دعملي سر شمېرنو له مخې په سلو کې پنځه دا احتمال شته چې د خپل عمر اوه کاله ددې ایالت په دار المجانینونو کې تیر کړې.

دلیونتوب سبب څه دی؟

هیڅوک نه شي کولای دې پوښتنې ته د ډاکټرۍ له گرانو اصطلاحاتو او توضیحاتو پرته ځواب ورکړي خو هغه څه چې موږ پرې په معمول او رواجي حساب پوهیږو دادی چې ددماغي حجرو تباه کوونکي عوامل دلیونتوب سبب کېږي. چې په هغه کې ځینې ناروغی لکه نا علاجه سفلیس شامل دی. په واقع کې نیمې رواني ناروغی له هغو صدمو څخه زېږېدلي دي چې د میکروبونو د ورننوتو، ذهري موادو او دمغز د ټپونو نه پیدا کیږي نورې نیمايي بېچې دداستان غمجنه برخه جوړوي هغه څوک دی چې ددماغ دحجرو د هیڅ ډول صدمې پرته لیوني شوي دي.

په هغو ازموینو کې چې ددغه شان لیونیانو پر مغز ددوی تر مړینې وروسته شوې دي، څرگنده شوې ده چې ددوی دمغز حجرې زموږ اوستاسو دمغزو په اندازه روغې وی. دا تجربې په ډېرو مدرنو میکروسکوپونو هم شوي دي خو نتیجه یې یوه ده.

دا پوښتنه مې څه موده مخکې دامریکا دیوه مشهور لیونتون له مشر نه وکړه. دې ډاکتر چې غوښتل د بی دلیله جنون علت د ټولو د پوهې سره په سم ډول بیان کړي او په دې برخه کې له خپلو لوړو نشانونو او تجربو خبرې وکړي، ماته یې روښانه وویل چې هغه نه پوهیږي ولې خلك لیوني کېږي. هیڅوک د جنون سبب په غوڅ ډول

نه شي ويلای خو ده داخبره ومنله هر څوک چې ليونی کېږي د ليونتوب په نړۍ کې دمهم والي هغه احساس ته رسېږي چې د ربښتيا و په نړۍ کې نه شو ورسيدای يوه کيسه يې راته داسې وکړه: زه اوس د يو ناروغ در ملنه کوم چې کوژده يې په تراژدی پای ته رسېدلې ده. هغې، مينه، دجنسي شهوت ارضا، او ټولنيز پر ستيژ غوښت خو ژوند يې ټولی هيلې برباد کړې. ميره ته يې گرانه نه وه او لا حاضر نه و چې يوډی ور سره وخوري او دې ته ـ ې اړ ايسته چې غذا د پاسني پوړيوې کوټې ته ورووړي. بچي يې نه وو او په ټولنه کې يې ځای او اعتبار نه درلود. ليونی شوه او دخيال په نړۍ کې يې خپل ميره طلاق کړ. د خپل پيغلتوب نوم يې بيا پر ځان کيښود. اوس په خيال کې انځوروي چې د يو انگريز نجيب سړي سره يې واده کړی او ټينگار کوي چې «ليډی سميت» ورته وويل شي. خو داولاد په باب، هغه فکر کوي هره شپه نوی ماشوم زيږوي او چې هر کله ورشم وايي **«ډاکتره! نن شپه مې يو ماشوم پيدا شوی دی.»**

ژوند يو ځل دهغې د روياگانو کشتۍ د حقيقت له تړو سره جنگولې او ماته کړې ده خو داځل د جنون په خيال زيږونکو لمرنيو جزيرو کې دهغې طلايي کشتۍ گوټې په داسې حال کې رواني دی چې دموسيقي غږ ورپسې ترنم کوي او روغې بندر ته رسېږي.

آيا داخبره دردناکه او تراژيکه ده؟ «که ماکولای شوای لاسونه اوږده کړم او عقل يې بېرته را ته ونيسم دا کار مې نه کاوه، ځکه په همدې حالت کې چې اوس هغه ده، له نيکمرغۍ برخه منه ده. په ټوليز ډول ليوني تر ما او تا نيکمرغه دي. ډېر خلك له ليونتوب نه خوند اخلي، ولی به يې نه اخلي. دوی خپلې ستونزې حل کړې دي. دوی حاضو دي تاسو ته يو ميلون دالري چك وليکي او يا اقا خان ته يو لار ښوونکی ليك وليکي، دوی په خپل خيالي جهان کې چې خپله يې جوړ کړی، د مهم والی احساس (چې ډېر ورته تږي وو،) راضي کړی دي.

کـه ځـینې خلك دمــهم والي احـسـاس تـه دومـره تږي وي چې لیونتوب پرې مني، نو ومنئ چې زموږ او ستـا سو له لاسـه به ځـه معجزې وشي، چې دجنون دې خوا ، دهغو افرادو تشويق او ستاينه وکړو چې ربښتیا دستاینې او قدر وړ دي.

تر هغه چې زه خبر یم دوه کسه په تاریخ کې داسې وو چې کلني حقوق يې يو مليون ډالر وو او دا والتر کر ایسلر او چارلز شواب دي. ولی اندریو کارنګی شواب ته په کال کې یو میلیون او په ورځ کې له ۳۰۰۰ زیات ډالرو ورکول؟. هو ولې؟ آیا په دی خاطر وو چې شـواب نـابغـه و؟ نه! آیا ددې لپاره چې د پولادو صنعت په باب له نورو ډېر پوهېده؟ نه!

پخپله چارلز شواب ماته ویلي دي چې دهغو اشخاصو معلومات چې دده دلاس لاندې کـار کـوي د فـولادو په صنعت کـې ترده ډېر زیات دی.

شـواب وايي: ده ته ددغـسې لويو حقوقو ورکولو سبب دخلکو سره دسلوک استعداد او وړتيا ده. له ده مې وپوښتل دخلکو سره دسلوک په باب کومه لار چلوي؟ هغه راته د خپل بري راز په لاندې کلیمو کې ووایه چې باید حتماً په همېشنیو برنزي لوحو جوړ او په هر ښوونځي او مدرسه او هر دکان او هره اداره کې ځوړند شي چې ما شومان دلاتین ژبې دقواعدو دزده کړې او داورښت داندازې پرزده کړې نوخت د ضایع کیدو پر ځای هغه زده کړي.

که ددې کلمیو د ښوونې سره سم کړنه وکړو په ژوند کې به مو لوی بدلون راشي. شواب وايي: «زه په دی عقیده یم، تر ټولو لویه پانګه چې زه لرم داده چې دقدر دانی او تشویق په وسیله دخلکو په منځ کې شـوق او دکـار مـینه پـیـدا کـولای شم او ددوی بهـتـرین استعدادونه روزم.

دمشرانو د انتقاد او خرده ګیری هومره هیڅ شی د اشخاصو استعداد او همت نه وژني. زه له هیڅا انتقاد نه کوم او عقیده لرم

چې افراد کار او فعالیت ته وهڅول شي. ځکه دافرادو د تشویق پلوي او دخرده گیری نه بیزاریم. که د چا کارمې خوښ شو صمیمانه یې ستایم او په ستاینه کې یې مبالغه کوم.»

دا هغه څه دي چې شواب یې سرته رسوي، خو یو عادي فرد څه کوي؟ منم ددی پر عکس کار.

که کوم کار یې په خوښه سرته ونه رسید، خطاکار رسوا کوي او که کار ښه وشو، غلی پاتې کیږي.

شواب وایي: په هغو برخوردونو کې چې په ژوند کې مې کړي دي او دنړۍ په بیلا بیلو بر خو کې د بیلو اشخاصو او دبی شمیره شخصیتونو سره خبرې کړې دي داسې څوک مې نه دی لیدلی ( که څه هم دخپل مقام او چو کی لپاره ډیر وړ هم وي) چې تشویق او ستاینه پرې اغیزه ونکړي او دتشویق په نتیجه کې خپل کار ښه سرته ونه رسوي او په دغسې وضعه کې دهغه حالت په نسبت ډیر کار کوي چې د خرده گیری په صورت کې یې کاوه.

هغه په څرگنده اعتراف کاوه، داندریو کارنگي دبري یو لوی سبب همدادی. کارنگي دخپلو همکارانو ستاینه هم په مجلس کې او هم وروسته ( په غیاب کې) کوله. کارنگي غوښتل چې حتیٰ تر مړینې وروسته هم دده دهمکارانو ستاینه وشي، ځکه یې امر کړی و چې ترمړینې وروسته یې د قبر پر شناخته داسې ولیکل شي **«په دې ځای کې داسې سړی پروت دی چې پوهیده داسې اشخاص پر ځان راټول کړي چې تر ده هوښیار وو.»**

صمیمانه قدر داني کول دراکفلر دبري یو مهم راز و، په همدغه شان کله چې دهغه یو شریك یعنی ادوارد ت ، بدفورد دهغې بدی معاملې له امله چې جنوبي امریکا کې یې وکړه او شرکت یې یو میلیون ډالره تاوان وکړ. راکفلر کولای شول هغه ورټې خو هغه پوهیده بد فورد کیدونې هڅه کړې ده نو پیښه یې پای ته رسیدلې وگڼله او بدفورد یې لا وستایه او داچې په سلو کې ٦٠ یې خپله

پانګه ساتلې وه هغه ته یې مبارکي وویله. راکفلر وویل **«دا یو ښه کار و، موږ چې په لوړو طبقو کې یوو د یو داسې کار دکولو جوګه نه یوو».**

زیګفیلډ چې د «برادوی» تر ټولو تماشه ای صحنه جوړونکی و، خپل شهرت یې دهغه فوق العاده استعداد نه لاسته راوړي و چې دامریکا یې ښځې په ځلولو کې یې درلود. ده زیاتره هغه بې ټوله ښځې چې چاورته کتل هم نه له کوځې نه صحنې ته راوستې او په ښکلو او غولوونکو ښځو یې بدلولې ځکه دستایلو او پر ځان دباور په اهمیت پوه شوی و، زیګفیلډ یوازې دنازونې او ستاینې له لارې ښځې اړ ایستلې چې ځانونه ښکلې وګڼي. هغه دعمل سړی و. دسندر غاړو نجونو حقوق یې په اونۍ کې له ۳۰ ډالرو نه ۱۷۰ ډالرو ته لوړ کړل. هغه شوالیه هم و. د «فولي» د پرانستلو په ورځ یې دټلګراف له لارې ټولو ته خبر ورکړ او په ګلانو کې یې ډوبې کړې.

ما یو ځل هوس وکړ روژه ونیسم او شپږ شپې او ورځې مې څه ونه خوړل. ګران کار نه و، د شپږمې ورځې په پای کې ددوهمې ورځې تر پای کم وږی وم، تاسو هم پوهیږئ او زه هم چې که څوک د خپلې کورنۍ غړوته شپږ ورځې غذا ور نکړي، خیانتکار ګڼل کیږي، خو همدا خلك خپلې کورنۍ ته دمعنوي غذا په ورکړه کې ٦ ورځې څه چې شپږ هفتې او حتیٰ ٦۰ کاله بې پر وایي کوي.

کله چې الفرد نوت په Reunion in Vienna کې مهم رول لوباوه، وویل **«دعزت النفس لپاره هیڅ شي ته دغذا په اندازه اړ نه یم»**

موږ خپلو زامنو، دوستانو او لاس لاندې خلکو ته مادي غذا ورکوو خو څومره کم پیښیږي چې دهغوی دنفس عزت او دطبع درنښت هم تغذیه کړو. موږ دوی ته پیاز او کچالو ورکوو چې انرژي

پیدا کړي خو د هغونکو خبرو په کولو کې چې ددوی په ذهن کې تر عمره پاتې کیږي او دسهار دستوري د موسیقی په شان انګازې کوي، کمی کوو.

ځیني لوستونکي چې پورتني جملې لولي، وایي به ستا خبرې هماغه پخوانی د برس او پالش او چاپلوسی خبرې دي. دا لارې په درد نه خوري، په ځانګړې ډول د هوښیارو خلکو په باب.

البته چاپلوسي دهغه چا په وړاندې چې دتمیز د ځواک لرونکي دي، ډېره کمه اغېزمنه کېږي ځکه چاپلوسي په منځ کې تشه او ځان غوښتونکي وي، صمیمیت پکې نه وي، نو چاپلوسي باید بې اغېزې وي او زیاتره بې اغېزې وي هم. دا سمه ده چې ځیني افراد دداسې وړو په شان ستاینې ته اړ وي چې له ډېرې ولږې دوښو او چینجیو خوړلو ته هم حاضریږي، هره خبره چې ورته کېږي، په پوره خوښی یې تیروي.

دبیلګې په ډول مدیواني وروڼو چې څو ځل واده کړی و، د کورني ژوند په بازار کې ولې دومره بر یالي وو؟ ولې دا وروڼه چې «پرنس» ورته ویل کیدل بر یالي شول چې د سینما دنړۍ له دوه تنو ډېرو زیاتو ښکلیو ستورو سره ودونه وکړي. او یوه لومړۍ درجه ښځه چې ډېره پانګه یې درلوده او په ټوله نړۍ کې مشهوره وه ولې یې ورسره واده وکړ،؟ هو، ولې؟ دوی څنګه وتوانیدل چې دا کار وکړي.

اولا راجرز سنت جان په لبرتي مجله کې په یوه مقاله کې لیکي:

**«هغه جذبه چې مدیواني وروڼو پر ښځو پرې ایسته، ډېرو خلکو ته د اسرارو څخه و»**

پولانګري چې یوه هوښیاره ښځه او نړۍ یې لیدلې وه او د نارینه و په پیژندنه کې ډېره پوهه او مشهوره هنر منده وه ما ته یې د مدیواني وروڼو ددې زړه وړنې سبب تشریح کړ او ویې ویل:

**«دوی داسې د ستاینې کولو په کار کې استادان دي چې مثال**

**چې ما په ژوند کې نه دی لیدلی. او په دې وچه او واقع بینا نه نړی کې د چاپلوسی هنر یو هېر شوی هنر دی. زه کولاې شم تاسو ته په یقین سره دا ووایم چې ددوې دبري راز همدا دی.»**

حتیٰ ملکه وکتوریا د تملق سره حساسه وه. دیسرایلي اعتراف کړی دی چې د ملکې سره یې د برخورد پر مهال دتملق له معجونه تر ډېره حده کار اخستې دی. دا دهمده خبرې دي. « هغه مې په ښکلې طریقه نازوله» په عین حال کې دیسرائیلی یو له هغو تر ټولو ماهرو او تر ټولو با خبرو اشخاصو و چې په خپل کار کې بریالی و. هغه کړنلار چې دده په باب اغېز من واقع کیده نو چاپلوس به په پای کې زیان لیده. تملق جعل او تقلب دی او دجعلي پیسو په شان چې د ګټې هڅه ترې وکړې، اخر دې په چا نیسي.

د ستاینې او ښې وینا او تملق او چاپلوسی څه توپیر دی؟ ددې دواړو بیلول ډېر آسان دي. په ستاینه کې صمیمیت نغښتی دی، او په تملق کې نه. یو دزړه نه راځي او بل له ژبې نه. یو ځان غوښتونکی نه دی، بل پر ځان غوښتنه ولاړدی. صمیمانه ستاینه او خوږه وینا د هر چا د صفت وړ ده خو تملق هر ځای د کرکې وړ او محکوم دی.

په دې وروستیو کې مې دمکسیکو په ښار کې دیو جنرال مجسمه ولیده چې لاندې ترې دده دا له حکمت نه ډکې خبرې لیکل شوې وې. **«له هغو دښمنانو مه وېرېږه چې پر تا برید کوي، له هغو دوستانو ووېرېږه چې چاپلوسي درته کوي.»**

نه، نه، نه! زه تاسو ته وړاندیز نه کوم چې چاپلوسي وکړئ. غواړم د ژوند نوې لار دروښایم راځئ بیا یې درته تکرار کړم، غواړم دژوند نوې لار در وښایم.

پنځم ژرژ امر کړی و چې شپږ لنډې کلیمې یې په بوکینګهام کې دکار په دفتر کې لیك کړي. ددې لنډو کلیمو یوه داده: **«دا را یاده کړه چې نه دچا بیځایه ستاینه او صفت وکړم او نه بې ارزښته**

**ستاینه واورم.»** چاپلوسي داده: **«بې ارزښته ستاینه»** یو ځل مې د تملق تعریف لوستی و چې دلته دراوړو وړ دی. « تملق د هغو شیانو له بیان نه دی چې مقابل لورې فکر نه کوي په ده کې دغه شته.»

امر سن وایي: « هره ژبه چې غواړئ وکاروئ، تاسو نه شئ کولای ځان تر هغه څه بل شان وښایئ چې یاست.» که په ژوند کې دچاپلوسې پرته بل کار نه وای، ټولو به هم دا کاوه او په انساني اړیکیو کې به ماهر کیدای. معمولاً کله چې په یوه ټاکلې مسئله کې بوخت نه یوو، نور فکرونه مو ټول په سلو کې ۹۵ دځان په باب دي. اوس که لږه شیبه دځان په باب له فکر کولو لیرې شوو او لږ دنورو دمثبتو او ښو خواوو په باب فکر وکړو، دې ته به اړتیا نه وي چې داسې بې ارزښته تملق او دروغو ته اړ شوو چې لا دخولې مو وتلي نه وي او سم دلاسه معلوم شي.

امر سون وایي: **« هر څوک چې را سره مخامخیږي په یو لحاظ رانه بر تري لري، زه هڅه کوم له هماغه څه نه یې چې تر ما بر تري لري، یو څه زده کړم.»** که دا وینا دامرسون لپاره رښتیا وه ایا زما او ستا لپاره زرگونه ځل ضروري نه ده؟ پریږدئ چې دخپلو بریو او اړتیاوو په باب لږ فکر وکړو او دمقابل لورې دښو او وتلو ټکیو فکر وکړو. پریږدئ تملق هېر کړو او صادقانه ستاینه او خوږه وینا زده کړو. که په خوښه او رضا نور په سخاوتمندانه ټول وستایو، خلك هم زموږ خبرو ته ارزښت ورکوي او هغه به دیوې خزانې په شان په خپله حافظه کې وساتي او ټول عمر به یې تکرار کړي او حتیٰ تر ډېرو کلونو چې ستاسې به هېره وي، خو هغه به یې یادوي.

PROPERTY OF ACKU 10102

## دریم څپرکی

**هغه چې دا کار کولای شي؛**

**تو له نړۍ به دځان ملګرې کړي.**

**هغه چې دا کار نشي کولاي؛**

**دیوازې توب د کوڅې لاروی به وي.**

داوړي فصل چې رارسیږي په ډېر شوق دمالي ماین غاړو ته دماهي نیولو لپاره ځم. دا راته یو عادت جوړ شوی دی، ځکه زه له دې سفر نه ډېره روحي ارامتیا ځان سره راوړم. دلته د سفر دښېګڼو دتشریح قصد نلرم، بلکې دیوې مسئلې دطرح کولو قصد لرم چې ددې لپاره ترې نتیجه واخلم.

زه پخپله دکوچنیوالي نه دتوتانو سره ډېره مینه لرم خو حیران یم چې ماهیان ولې چنجیانو ته پر دې خوږو شیانو تر جیح ورکوي؟ کله چې ماهي نیونې ته ځم په بل فکر کې نه یم چې څه ته اړ یم په لومړۍ مر حله کې فکر کوم ماهیان څه ته اړدي. زه پوهېږم ماهیان څه غواړي. زه هیڅکله په خپل چنګ کې توتان نه ځوړندوم، بلکې یو چینجی یا ملخ پکې ځوړندوم او دسیند ماهیانو ته وایم:

**«وفرمایئ دستر خوان تیار دی، داغذا نوش جان کړئ.»**

دانسانانو دښکار لپاره هم ولې ددغې لارې نه چې روغ عقل ورسره هېڅ ضد نه لري، کار وانه خلو؟

لوید جورج چې دا طریقه یې زده وه، کله چې ترې وپوښتل شول دا څنګه وشول چې له نړیوالې جګړې وروسته نور رهبران لکه ویلسون، اور لاند او کلمنسو له کاره لیرې شول او تاسو هماغسې ثابت پر خپل ځای پاتې شوئ؟ ده ځواب ورکړ:

که په دې پست کې زما د پاتې کیدو په علت ځان پوهول غواړئ، احتمالاً به دې نتیجې ته ورسیږئ چې ما دا زده کړې ده چې دښکار په چنګ کې

څنګه د ښکار ورشي دخوښې وړ مړی کېږدم چې دهغه دطبعې سره سمه وي. په بله وینا په تجربه مې موندلې ده، دچنګ په څوکه کې څه شی کېږدم چې غافل ښکارېدونکی یې خوښ کړي.

ولې موږ باید تل له هغه څه خبرې وکړو چې ورته اړ یوو! خو نه دا چې دا عمل یو ځان خوښی او بې ګټې عمل دی؟ البته تاسو له هغه څه سره چې اړتیا ورته لرئ، مینه ښایئ او دا مینه هم همېشنی او بدلون نه منونکې ده. منظور مې ستاسې د غوښتنو ځان خوښي ده. نور هم دهغو شیانو سره مینه لري چې ورته اړ دي.

په دغسې نظر په نورو کې دنفوذ یوازنۍ لار داده دهغه څه په باب باید وغږېږو چې بل لوری ورته اړه لري.

نو دمهربانۍ له مخې سر له سبا له هغه چانه چې غواړئ ستاسو لپاره یو کار وکړي دهغوي دخوښې وړ مسایلو په باب وغږېږئ. مثلاً که نه غواړئ چې زوی مو سګرټ وڅکوي (داستاسې دخوښې وړ موضوع ده) ورته دوعظ او نصیحت او خطابې مجلس مه دایروه او دهغې موضوع په باب چې ویل یې غواړئ راساً او ښکاره څه مه وایه بلکې په داسې شان یې ورته ووایه چې سګرټ څکول هغه دهغه دخوښې وړ مسایلو نه وروسته پاتې کوي.

که تاسو دماشومانو سره سروکار لرئ. ددې ټکي په یاد ساتل ضرور دي چې دهغوي له خوښې باید خبر اوسئ. دانسان په باب یوازې نه، حتی دحیوان په باب هم دخوښې خبره دپام وړده.

یو ساده مثال درته وړاندې کوم: ښاغلي رالف والدو امرسون او زوی یې هڅه کوله یوه خوسی چې لایې دمور شیدې خوړې، دخلاصې سیمې نه غوجلې ته بوزي. ښاغلي امرسون خوسی له مخکې راکښله او زوی یې پسې له شاه ټیله کوله، خوسی هم ورسره هماغه کار کاوه، یعنې پښې یې په ځمکه کلکې کړې وې او د پلار او زوی مقابل لوري ته یې زور کاوه او په سر تمبه ګی سره یې د کروندې دازادې فضا نه دغوجلې زندان ته له تلو سر غړاوه. ددوی زړه ایرلنډی خدمتګاره چې دپلار وزوی دکوښښ او دخوسی دمقاومت سیل یې کاوه، که څه هم سواد یې نه درلود اروا پوهنه یې هم نه وه لوستې،

چندان زور یې هم نه و، رامخې ته شوه او ورته وې ویل: خوسی پرېږدئ. هغې وروسته خپله ګوته دخوسی خولې ته نږدې کړه او پرې یې ښوده چې هغه یې دمور دتي په شان وروي. په همدغه حال کې زړه ښځه یو یوګام مخکې دغوجلې لورته تله او خوسی هم په مینه دبوډۍ لار تعقیبوله.

دزېږیدونه راوروسته چې هر کار ستاسې نه شوی دی، حتماً ددې لپاره شوی دی چې یو څه مو غوښتل، مثلاً که ژړلي مودي، شیدي مو غوښتي، که نا ارامي مو څرګنده کړې، حتماً ناروغ وئ او ښه والي مو غوښت، که په جدیت مو درس لوستي وي حتماً بري او په راتلونکي کې دښه مقام غوښتونکي وئ. رښتیا، په داسې نظریو د اړو کسانو او خیریه موسسو سره خپلې مرستې څنګه ګڼئ؟ که مو څه پیسې کومې خیریه ټولنې ته ورکړې وي، څه مو غوښتل؟

باور ولرئ چې که ځان غوښتنه درته مهمه نه وای، دامو په ځان زحمت نه تیراوه چې په خوارو پیسې وګټئ او بیا یې خیریه ټولنې ته ورکړئ چې هغوی پرې خپلې اړتیاوې لیرې کړي. تاسو په دې باندې خپله اړتیا پوره کړې ده او دا په اصل دځان غوښتنې د رفع کولو تر ټولو ښه لار ده.

پروفیسر هاري. اورا ستریت د **«انساني اړتیاوې»** په کتاب کې لیکي:

«زمونږ کړنې په اصل کې زمونږ داصلي او بنسټیزو غوښتنو ښودونکې او زمونږ له اړتیاوو سر چینه اخلي» هغو کسانو ته چې غواړي په سوداګریزو چارو، یا کور یا مدرسه او یا دسیاست په‌صحنه کې فعال وي. او په نورو کې نفوذ وکړي بهترین نصیحت دادی چې لومړی دې هڅه وکړي په بل لورې کې سخته لیوالتیا پیداکړي. څوک چې ددې کار دکولو وس لري ټوله نړۍ به دځان ملګرې او پلوی کړي او چې دا کار نه شي کولای یو لاروي به وي چې دیوازې والي پر لار روان دی.

اندریو کارنګي دیو سکاتلندی بیوزلي زوی و چې په ساعت کې به دوه سنته یې کار پیل کړ او په هڅه یې ځان داسې ځای ته ورساوه چې دمړینې پر مهال یې له خپلې پانګې ۳٦٥ میلونه دالره خیر په چارو ته بیل کړل. دې بیوزلي سکا تلندی ماشوم دا ښېره زر زده کړه چې په نورو کې دنفوذ لار داده

چې دهغوی سره دهغوی دغوښتنو په باب وغږېږو. هغه یوازې څلور کاله ښوونځی لوستی و خو دخلکو سره په راشه درشه پوهېده او دا یې دبري راز و.

جالبه ده چې داندریو کارنګي د لوی عمر یوه کیسه نقل کړو:

دکارنګي دورور ښځې دوه زامن لرل چې په پوهنتون کې یې زده کړې کولې. مور یې ددې دواړو په باب سخته ځیر وه خو دوی دومره په خپلو کارونو کې بوخت و چې وخت یې نه در لوده د خپلې وار خطا مور لیکونو ته ځواب ولیکي. کارنګي ۱۰۰ څو دالره شرط کېښود چې زامن به مورته لیکونه ولېږي. ده خپلو وریرونو ته لیك ولیږه او ورته ویې لیکل چې هر یوه ته یې پنځه دالره لیږلې دی خو پیسې یې په پاکټ کې کینښودې. یوه اونۍ وروسته د لیك ځواب راغی. هلکانو دخپل تره نه مننه کړی وه او په ضمن کې یې دپاکټ خالي والي ته اشاره کړې وه. په نوره پېښه یې تاسو خپله پوهیږئ.

سبا ممکن وغواړی چې یو چاته دیو کار دکولو ووایئ. ددې مخکې لږ سوچ وکړئ او له ځانه ویوښتئ: څه ډول یې دې اړ باسم چې زما دخوښې ورکار په خپله خوښه کړئ؟ دا پوښتنه بس ده چې یوه شوو چې له احتیاط او تامل پرته باید چا پسې لاړ نه شو او د خپلو غوښتنو په باب ورسره بېځایه خبرې ونه کړو.

دیوفصل په پیل کې نا څاپه خبر راغی چې دپخوا په نسبت دری چنده ډېر مبلغ تحویل کړم. دا خبر داسې مهال را ورسید چې د چاپ ټکټ ویشل شوی و او مربوط اعلانونه هم نشر شوي وو.

طبیعي ده چې زه حاضر نه وم اضافي پېسې تحویل کړم خو دهوټل له مدیر سره په دې موضوع خبرو څه فایده درلوده؟ هغه خو یوازې دهغه څه سره مینه درلوده چې خپله یې غوښتل. څو ورځې وروسته دهوټل دمدیر لیدنې ته لاړم او ورته ومې ویل:

کله چې مې ستاسې لیك لاسته راوړ، لومړی لږ ولړزیدم، خو په هیڅ دلیل تا ملامت نه ګڼم که زه هم ستا پر ځای واي ښایې داسې لیك مې درته لیکلی وای. دا چې دهوټل د مدیر په حیث ستا دا وظیفه ده چې ډېره ګټه وکړې او

که دا کار ونکړي، خارجیږئ. او باید هم خارج شئ. خو که غواړئ زمانه دغه اضافي مبلغ لاس ته راوړئ، راځئ چې یوځل یې درته ګټې او تا وانونه دواړه تشریح کړم. یوه پاڼه کاغذ مې را واخیست یو ستون مې «ګټو» او بل «تاوان» ته ورکړ. دګټو تر ستون لاندې مې دا شیان ولیکل: دګډا سالون به خلاص پاتې شي تاسې کولای شئ هغه بل چاته په کرایه ورکړئ له دې به درته ډېره ګټه ورسیږي. که زه په دې موسم کې ۲۰ شپې ستاسو نه دغه سالون په کرایه وانخلم، ډېر تاوان به در ورسیږی.»

اوس به دتاوانونو په باب خبرې وکړو: لومړی تاوان دادې چې که زه دغومره کرایې ته حاضر نه شم، زما له نشتوالي به هم پوره تاوان در ورسیږی، هو هیڅ به لاس ته رانه وړئ ځکه زه ددې وس نلرم چې دغومره لوړه کرایه ورکړم او مجبور یم خپلې ویناوې بل ځای دایرې کړم.

دا اقدام تاسو ته یو بل تاوان هم لرګزما وینا وې ستاسو هوټل ته با سواد او تحصیل لرونکي خلك راکاږي او دا ستاسې د هوټل لپاره ښه تبلیغ دی. داسې نه ده؟ ربښتیا ده چې که تاسو د (۵۰۰۰) دالرو په بیه اعلانونه په ورځپاڼو کې خپاره کړئ، دومره خلك به مو هوټل ته رانه کاږی، څومره چې زما ویناوې یې درته جذبوي. هماغه وخت چې خبرې مې کولې دده یاد شوې ضررونه مې ولیکل او دهوټل مدیر ته مې ورکړل او ومې ویل **«غواړم ګټې او فایدې په ځیر ولولئ او خپله پرېکړه راته ووایئ».**

بله ورځ یو لیك راغی چې اجازه پکې د ٪۳۰۰ پر ځای یوازې ٪ ۵۰ لوړه شوې وه.

دا یاد ولرئ چې ما دتخفیف په باب دېوې کلیمې پرته د خپل پام وړ تخفیف تر لاسه کړ. په خپلو خبرو کې مې دداسې موضوع په باب خبرې وکړې چې د بل لورې خوښې وی او هغه ته مې وویل څنګه کولای شي خپلو غوښتنو ته ورسیږي.

اوس به دافرض کړو خلك چې معمولاً په داسې پېښو کې کوم کار کوي، ما هم کړی وای او په غصه دمدیر دکار دفتر ته ورغلې او ورته ویلې مې وای: ٪۳۰۰ اجازه دې د څه دپاره لوړه کړې ده؟ هغه هم په داسې وخت کې چې

ما ټکټونه وېشلي او خبر پاڼې مې خورې کړې دي ٪۳۰۰ مسخره ده بې مانا ده، زه به دا اجازه هیڅکله ورنکړم.

فکر کوئ چې څه به پېښ شوی وای؟ بحث او خبرې مو ګرمېدې او جنجال ته خبره رسېده. که دې مې قانع کړې هم وای چې خبره یې ناسمه ده، خو احساسات یې ټپي کیدل او ګرانه به وای چې تسلیم شي.

دانسانی اړیکیو په باب یو مهم لار ښود درته لاندې وړاندې کوم. دا مشهور هانری فورد ویلې دي:

**«که په بری کې کوم راز وي، هغه دمقابل لوري دنظر دمعلوموله کشف او دهغه او خپلې لید زاویې څخه دشیانو لیدل دی.»**

دا لارښوونه دومره ساده او رښتیا ده چې هر څوک یې په لومړی ځل لیدو بې له تعصبه په رښتیا پوهیږي.

خو ٪۹۰ خلك هر ځل ۹۹ ځلې هغه هېروي.

مثال غواړئ؟ هغه لیك چې سبا مو لاس ته درځی، وګورئ. ویه و مینځ زیاتره لیکوال دا عالي قانون چې سلیم عقل یې د منلو امر کوي، هیروي، لکه لاندې لیك چې د یوې راديو یې ادارې د یو مشر دی ، چې څانګې یې په ټوله امرېکا کې خورې دي. دا لیك په ټول هیوادکې درادیو ګانو سیمه ایزو تم ځایونو ته لیږل شوی دی. دهرې کلیمې سره یې چې ما کوم عکس العمل ښودلی دی په قوسونو کې مې بیل کړی دی:

ښاغلی جان بلانك

بلانك ویل

اند یانا

ګران ښاغلی بلانك.

..... شرکت مینه لري د راديو یې تبلیغاتی اژانس په لار ښوونه کې چې کوم دریځ لري، هغه وساتي

(څوک ستا د شرکت غوښتنو ته پام کوي، زه په خپلو غمونو کې بوب یم. بانك مې دکورلپاره پیسو له ور کړی سر پیچې، ځینې مې دکور ګلان له منځه وړي، پرون مې رتبه ټیټه شوه، نن په په ۸.۱۵ اورګادي ته ونه رسېدم.

. دجونز دګډا محفل ته يې نه وم بللی. داکتر وايي دوينې فشار مې لوړ دی. د اعصابو دکمزورۍ او د ويښتانو درژيدو په ناروغی اخته يم. بيا به څه کېږي. وارخطا خپل دفتر ته ننوزم او يو پاکټ ګورم چې د نيو پارک يو له ځانه راضی مدير د خپل شرکت دغوښتنو په باب پکې ليکلي دی. را ګرځم او که هغه پوهيدای چې دې ليك په ماکې څنګه عکس العمل وزېږاوه، نو د تبليغاتو نه يې لاس اخست. او دګيو دوينځلو لپاره به يې دمايع توليد ته لاس اچولی وای.

ملې خپرونې چې اژانس يې خپروي او په لومړي مقام کې ځای لري، داسې پروګرام و چې هر کال مخکي تلو. تاسو لوی او پانګوال ياست او د ټولو په سر کې ولا ياست.، نو څه؟ زه خو تاسو ته يوه ټنګه ارزښت هم نه درکوم، که څه هم د جنرال موتوروز، جنرال الکتريك او دامريکا دټول پوځ هومره لوی شي. که ديو Humming bird هومره شعور دې درلودای په دې به پوهيدای چې زه مينه نلرم وپوهېږم تاسو څومره ستر ياست، بلکې دا مينه لرم وپوهېږم چې زه پخپله څومره لوی او مهم يم. دا ټولې خبرې چې د ځان دلويوالی په باب کوئ ددې سبب کيږي چې خپل سپکوالي احساس کړم).

موږ غواړو تر ټولو ورستي معلومات خپلو اخستونکو ته وړاندې کړو.

( تاسو غواړئ؟ تاسو غواړئ؟ تاسو خو بيخې يوه شوې ياست. زه نه غواړم وپوهېږم چې تاسو څه غواړئ يا مو سولينې څه غواړی . پرېږدئ چې دلومړي او وروستي ځل لپاره درته ووايم چې زه يوازې له يوه شي سره مينه لرم او هغه څه چې زه يې غوښتونکی يم او تاسو ورته پخپل ليك کې حتیٰ يوه اشاره هم نه ده کړي.

نو ځکه دا کيدونې ده چې شرکت ته د اوونيزو معلوماتو په رالیږلو، موږ ته لومړی توب حق راکړئ او ټول اړوند جزئيات چې يو اژانس ته پکار دي په خپل وخت موږ ته راکړئ؟

( لومړی توب درکړو؟ څه سپين سترګی؟ دغه غوړې خبرې چې مو دخپل شرکت په باب کړی، زما حقارت مو را پارولی دی او لا زما نه غواړئ چې

تاسو ته لومړی توب درکړم که چې دا کلمې کاروئ د «هیله لرم» یو ټکې هم نه وایئ.)

ستاسو څرګند ځواب چې په دې برخه کې به ستاسو د وروستینو اقداماتو بیانونکی وي کېدای شي دنوارو خواو په ګټه وي.

(ای کم عقلانو! تاسو داسې بخشش پانه چې هر ځای د منې د پاڼو په شان پرتې دي ماته رالېږلې دي زه چې دخپل کور د قرض، ګلانو او دخپلې وینې دفشار په غم کې یم تاسو رانه په ډېره سپین سترګی غواړئ چې کېنم تاسو ته ځواب ولیکم او هغه هم یو «بېړنی» ځواب ستا مطلب له «بېړنې» نه څه دی؟ نه پوهېږئ چې زه ستاسې په اندازه مشغول یم په داسې حال کې چې له دی بوختیا وو نه دځان خلاصون لټوم، تاسو په کوم حق راپسې شوې یاست؟ تاسو وایئ **«د نوارو خوا وو په ګټه»** به وی. ښه بیا هم دشکر ځای دی زما په فکر کې یاست خو نه مو دي ویلي چې معامله به زما څنګه په ګټه وي؟

ستاسو ارادتمند

جان بلانك درادیو مدیر

**«لطفاً وګورئ ددې سره مل هغه پانه چې دبلانك ویل مجلې نه پرې شوی، بیله بیا چاپ شوی او تاسو ته دروالېږل شوه. کېدای شي مطالب یې ستاسې دپام وړ وګرځي او وغواړئ هغه دخپلی رادیویي سټیشن نه خپره کړئ.»**

(په پای کې اوس پوه شوم چې ایله دې لا یو څه ته اشاره کړې ده چې کېدای شي زما ستونزه حل کړي، ولی مو خپل لېك په دې پیل کاوه نه؟ اوس څه ګټه لري چې پاڼوئ یې. هر څوک چې تبلیغات کوی او داسې سهوې تکراروي په خپل دماغ کې کمي لري. تاسو نو اطلاعاتو ته اړه نلرئ بلکې دتائیراېد په غده کې لږ آیودین ته اړ یاست.)

نن سبا په زرګونو پلورونکي سترې او نهیلي د ډیري لږی تنخوا په بدل کې په پیاده لارو کې سر ګردان ګرځي. دوی یوازې دهغه څه فکر کوي چې دوی یې غواړي. دوی دانشي درکولای چې نه زه او نه ته یو هم نه غواړو څه واخلو. که دامو غوښتلي، بازار ته تلو او اخستل مو. موږ دواړه په دې سوچ

کې يو وچې خپلې ستونزې حل کړو. که پلورونکي وکړای شي موږ ته وښايي چې کالی يې څنګه زموږ ستونزې حلولی شي، دانه وه پکار چې څه شي پر موږ خرڅ کړي. موږ ترې خپله اخستل داخستونکي هم دا خوښه ده چې جنس واخلي نه داچې جنس پرې خرڅ شي.

ځينې خلك چې د مسلکي کارونو لرونکي دي هم داسې سهوې کوي، څوکاله مخکې دغوږ ستونې او پزې يو مشهور متخصص ته لاړم، مخکې له دې چې زما تانسلونه وگوري زما دتنخوا تپوس يې وکړ. دې زما دتانسلونو سره اړه نه درلوده، هغه غوښتل زما د پيسو په باب پوه شي، هغه ته دا په زړه پورې نه وه چې زما درنځ درمل وکړي بلکې دا مهمه وه چې څومره پيسې رانه اخيستلای شي. نتيجه يې داشوه چې هيڅ يې لاس ته ورنغلل ځکه زه يې له کتنځی ووتم.

نړۍ له دې پول پيسه سرو او ځان خوښونه ډکه ده. ځکه هغه لږ شمير خلك چې له ځان خوښې پرته غواړي نورو ته خدمت وکړي، ډيره گټه کوي او بد غوښتونکی يې کم دي.

اوون د. بانگ وايي: **«څوك چې داوس لرۍ ځان د نورو په ځای راولې او وکړای شي دنورو د مغزو دکار لار زده کړي، دخپل راتلونکي هيڅ غم دی نه کوي.»**

که ددې کتاب په لوستو يو شي ته ورسيږئ او د نورو د نظره دمسايلو په باب پوه شئ، هو که دکتاب له لوستنې همدا يوه گټه واخلئ، ډ گرځيدو ټکي مو په ژوند کې پيدا شو او ژوند به مو بدل شي ډير خلك پوهنتون ته ځي چې د ورژيل شعروته ولولي او دعالي ټولنې په راز پو ه شي، خو ديته پام نه کوي چې د خپلو مغزو دکار پول ته وگوري. يو ځل مې د « په اغېز من پول وينا کول» تر عنوان لاندې يوه دوره کورسونه هغو ځوانانو ته چې په پوهنتون کې يې زده کړې کولې او غوښتل يې د نيو جرسي په يوه موسسه کې کار وکړي، داير کړي وو.

يو ځوان غوښتل نور وهڅوي باسکټبال وکړي او د باسکيټبال په باب يې خبرې کولې **«زه غواړم چې تاسو راشئ او باسکټبال وکړئ».**

آیا هغه ستاسې دغوښتنې په باب څه وویل؟ تاسو نه غواړئ د لوبو داسې میدان ته لاړشئ چې نور غواړي ورشئ.

دلته د پروفېسر اوراستريت وينا تکراروم: **«لومړي په بل لوري کې اورنی لېوالتیا پیداکړه، هر څوک چې دا کار وکړي توله نړی به دځان ملګري کړي. او څوک چې یې ونکړی د یوازې لارې لاروی به وي».**

زما یو زده کوونکي به تل دیوماشوم په باب سودا کوله. دماشوم وزن کمیده خواړه یې ښه نه خوړل، مورو پلار ېې معمولاً ناسمه لاره خپله کړې وه پرې قاریدل او ملامتوه به یې، مور دې غواړي دامه خوره، هغه خوره پلار دې غواړي لوی شې آیا ماشوم دې غوښتنو ته پام کاوه؟ دې غوښتنو ته د هغه پام دومره و چې ممکن تاسو یې د سیند دغاړې شګوته وکړئ.

هر څوک چې لږ روغ عقل ولري پوهېږي چې یو درې کلن ماشوم دخپل دېرش کلن پلار پشان مسایلوته نه ګوري او هغسې غبرګون نه ښايي. پلار یې له ماشوم نه همدغسې تمه درلوده، په پای کې پوه شو او ځانته یې وویل:

«دا ماشوم څه غواړي، څنګه کولای شم دده غوښتنه له خپلو هغو سره یو شان کړم. چې په دې باب یې فکر وکړ زر یې ورته دحل لار را وایسته. ماشوم یو درې کاړی درلود چې دکور مخې ته یې پرې لوبې خوښېدې خو لږ وړاندې یو زوروړ ماشوم و چې دې یې ترې په زور کوزاوه او پخپله پرې ګرځیده.

معلومدار چې ماشوم په چغو او سورو کورته راته چې مور ېې ورسره لاړه شي او دده ګاډی بیرته دهغه بل ماشوم نه واخلي. دا پېښه هره ورځ تکراریده. ماشوم څه غوښتل. دده غرور، دده قهر، دده د مهم والي احساس دې تولو پیاوړو غوښتنو هغه پاراوه چې له ورانکاري ماشوم نه بدل واخلي خو کله چې ورته پلار وویل یوه ورځ به دا ددې وس پیدا کړي چې دهغه ورانکاري ماشوم پلار را وغواړي او سمه سزا ورکړي، خو که هغه څه وخوري چې مور یې ورته تیار کړي دي، نوره خبره خلاصه وه تر دې وروسته ېې هر څه خوړل. تردې وروسته ېې پلار د یوې بلې ستونزې حل ته ملا وتړله ماشوم به دشپې بستره لمدوله. ماشوم له نیا سره ویدېده او چې هغې به لمده بستره

ولیده نو ماشوم ته به یې وویل وګوره جانیه بیا دی څه ګلان کرلي دي.

جاني به هم په ځواب کې ویل: نه ما دا کار نه دی کړی تا کړی دی.نه ترټني نه وهلو او نه شرمولو هغه له دې کار نه وانه ړاوه. پلار یې دې ته سوچ کاوه چې ماشوم څنګه له دې کړنې واړوي؟

ماشوم څه غوښتل؟ ده غوښتل دخوب ځانګړی کمیس واغوندي. نیا یې مجبوره شوه ده ته یوه جوړه جامې واخلي خو شرط به یې داوي چې بیا بستره لمده نکړي. ماشوم غوښتل چې ځانله کټ بستره ولري. نیا یې دا کار هم وکړ، مور یې پلورنځي ته بوت، پلورونکې جنۍ ته یې په سترګه اشاره وکړه او ویې ویل: کوچنی ښاغلی غواړي څه واخلي. هغې هم دده دمهم والي احساس ته په پام وویل: ښاغلیه ووایه څه خدمت مو کولای شم. ماشوم د خوښۍ نه دېښو په سر ودرېد، چې لوړ ښکاره شي ویې ویل: غواړم ځانته دخوب جامې واخلم. ددې وروسته یې بیا د شپې ادرار نه کاوه او دیو لوی سړي پشان احساس یې کاوه.

یوه بل ښاغلي هم نه شو کولای په خپله درې کلنه لور څه وخوري. هغې غوښتل د خپلې مور پشان د لویوالي احساس وکړي. یوه ورځ یې پرېښوده چې دکور خواړه هغه پاخه کړي. په دغه ورځ یې ښه پوره خواړه وخوړل.

ویلیام وبستر یوځل ویلي و: **«دځان څرګنول دانسان د بېرو بنیادي اړتیا و څخه ده».**

مور ولی دا جنبه د سوداګریزو معاملو پر مهال په پام کې نه ساتو؟ کله چې یوه ښه مفکوره را سره پیداشي ددې پر ځای چې ویې ښایو دا زموږ فکر دې، ولې یې هغه ته داسې نه ښایو چې دا دهغه مفکوره ده.

که دا کار وکړو دهغه به دا نظر خوښ شي او په خپله خوښه به یې ومني. نو، یاد ولرئ:

لومړی باید په بل لورې کې کلکه لېوالتیا پیدا کړئ. څوک چې دا کار کولای شي، ټوله نړی به دځان ملګرې کړي. څوک چې یې نه شي کولای د یوازیتوب په شاړه لار به یوازې روان وي.

## له دې کتاب نه دور استفادې لپاره نهه وړاندیزه:

١- که غواړئ له دې کتاب نه ښه ګټه واخلئ باید ذاتي استعداد ولرئ چې د هر کار لپاره پکار دي.

که له دې اساسي او بنسټیز شرط نه برخمن نه یاست، په زرګونو قاعدې به مو هم پکار نشي. له بلې خوا که دغه ذاتي موهبت درپکې وي، له مطالعې پرته به ار یانېدونکیو بریو ته ورسیږئ، دا اړین او معجزه ای شرط کوم دي؟ دا د یانولو ژوره مینه او پیاوړې او نه ما تېدونکې اراده ده چې دخلکو سره په راشه درشې او سلوک کې یې دښه والي دراوستلو لپاره لرئ. دا انګېزه څنګه ځان کې تولید ولای شئ؟ ځان ته تل ددې ټکې په یانولو چې دې کتاب کې یاد شوی اصول ماته څومره اهمیت لري. دا حقیقت ځان ته مجسم کړئ چې ددې کتاب داصولو پېروي به تاسو سره څومره مرسته وکړي چې له ښرو تولنیزو او مادي خوندونو نه برخمن شئ. ځان ته بیا بیا دا ووایئ: **«زما شتمني، نیکمرغي او عاید دخلکو سره په اړیکو او برخورد کې زما په مهارت پورې اړه لري.»**

٢- لومړی ددې کتاب هر څپرکې په ښېړه ولولئ چې یو لر لید درته پیداشي. کېدای شي دامو وهڅوي چې بل فصل هم زر ولولئ خو دا کار مکوئ که دکتاب د لوستلو مو منظور یوازې وخت تېرول نه وي او غواړئ په انساني اړیکو کې خپل مهارت زیات کړئ، نو هر فصل له سره په ځیر سره ولولئ. ددې کار نتیجه به داوي چې تاسو وخت ځانته ساتلې وي او ستاسو هڅو ګټه در رسولې ده.

٣- دمطالعې پر مهال بیا بیا غلي شئ او دهغه څه په باب مو چې لوستلي دي سوچ وکړئ. له ځانه وپوښتئ څنګه او څه وخت کولای شئ ددې کتاب وړاندیزونه عملي کړئ. دا یول لوستل به ستاسو سره زیاته مرسته وکړي او په ښېړه زیاته مینه به د کتاب پاتې برخې تعقیب کړئ.

٤- د لوستنې پر مهال تور پنسل یا قلم په لاس کې ولرئ او کومې خبرې چې مهمې په پام در ځي لاندې ترې لیکه وباسئ. که جمله درته ټوله مهم راغله

دتولې جملې لاندې کرښه وباسئ او یا یې په څلورو ستورو سره نښه کړئ. یو کتاب کې نښه کول او خط ایښودل دهغه لوستل اسانوي او بیا کتنه پرې ډېر زر کېږي.

٥- زه یو سړی پېژنم چې ١٥ کاله دبیمې په یوه شرکت کې مدیر دی. دی هره میاشت دخپل شرکت ټول مکتوبونه چې شرکت یې لیږلي وي لولي، هو، هماغه تړونونه هره میاشت او هر کال له سره لولي. ولې؟ ځکه هغه ته زیات شوي ده چې بیا بیا لوستل د یادولو باعث کېږي. ما یو وخت « د وینا کولو لارې» په نوم کتاب په لیکلو دوه کاله وخت ولګاوه، خو دا احساسوم چې بیا بیا باید دهغه کتنه وکړم چې رایاد کړم په کتاب کې مې څه لیکلي دي. هغه چټکتیا چې خبرې پکې هېروو ډېره حیرانوونکې ده ځکه نو که غواړئ له دې کتاب نه رښتنې او همېشنی ګټه واخلئ دا فکر مکوئ چې یو ځل لوستل به یې بس وي، کله چې مو دقیق ولوست، هره میاشت باید څو ساعته دهغه بیا کتنې ته ورکړئ.

دا کتاب هره ورځ خپلې مخې ته دکار پر مېز کېږدئ او چې څومره کولای شئ ویې ګورئ. ځانته دا تلقین کړئ چې دېر مختګ لپاره څومره پټ او دننه لوړ او سر شاره امکانات لرئ. دا زده کړئ چې ددې کتاب دمندرجاتو عملي کول یوازې هغه وخت کېدای شي چې بیا بیا یې وګورو او پېروي ترې وکړو. دې کارته بله لار نشته.

٦- یو ځل بر نارد شاه ویلي و: **«که تاسو چاته څه یاد کړئ، هغه به هیڅ یاد نکړي»** ده رښتیا ویل. یادول یو فعال کار دی. موږ عمل ته په اقدام کولو یو څه یادوو. نو که غواړئ ددې کتاب اصول مو پر ذهن کېني، هڅه وکړئ هر وخت چې مخې ته مو راځي هغه په کار واچوئ. که داسې ونکړئ څه چې مو لوستي دي ډېر زر به مو هېر شي. یوازې هغه پوهه مو په یاد پاتې کېږي چې کارولې مووې. کېدای شي کله ددې کتاب دځینو ټکیو عملي کول ګران وي. زه پوهېږم، زه پخپله هم چې دا کتاب مې لیکلی کله کله نشم کولای ددې کتاب ځینې لارښوونې پلې کړم.کله چې له چا خفه شم او وځورېږم نو له ده نه ګیله او شکایت راته تر دې ډېر آسان دی چې

دهغه سره دخپل نظر دیو شان تکیو په پیداکولو پسې وګرځم رښتیا چې بدویل او انتقاد تر ستاینې ډېر آسان دي. دا ډېره طبیعي ده چې دخپلې خوښې وړ موضوع په باب درته خبرې د بل دخوښې وړ تر خبرو ډېرې خوندورې دي.

کله چې دا کتاب لولئ داسې مه ګڼئ چې نوی معلومات تر لاسه کوئ بلکې وګڼئ چې د ژوند نوې طریقه زده کوئ. دا کار وخت، پا بندي، حوصله تمرین او ورځنی ټینګار غواړي.

ځکه نو تر هغه ځایه چې کولای شئ ددې کتاب پاڼی واړوئ او هغه دانسانی اړیکو په باب دمعلومات لرونکې یو داسې کتاب وګڼئ. هر کله چې له ځانګړې ستونزې سره مخ کیږئ لکه دماشوم اصلاح، یا له ځان سره مو دمیرمنې په یو نظر کول یا د یوه قهرجن اخستونکي رضا کول، دې وخت کې له عادي او معمولي کړنو یعنی دناڅاپي پارونو او طبیعی غبر ګونونو نه ډډه وکړئ. دا طریقه ډېر وخت ناسمه وي. ددې کار پر ځای ددې کتاب پاڼې واړوئ. او هغې برخې چې ترې لاندې مو ښه او خط ایستلی ولولئ او د ښوونو سره سم یې کړنه وکړئ. وبه وینئ چې څه معجزې کوئ.

۷- له میرمن، بچیانو یا اداري همکار سره مو شرط وتړئ چې که هر ځل ددې کتاب ښوونې خطا کوئ هغوی ته ۱۰- ۱۰۰ یا ۱۰۰۰ روپۍ انعام ورکړئ. هغه تمرینونه چې ددې کتاب دعملي کولو لپاره کوئ دیوې خوږې لوبې په شان یې جوړ کړئ.

۸- دیو مهم بانك رئیس وال استریټ یو ځل زما دټولګي شاګردانو ته د یو ډېر اغېز من میتود په باب وینا وکړه چې ده دځان داصلاح لپاره کارولې و. سره له دې چې دده رسمې زده کړې ډېرې کمې وې خو دامریکا د ډېرو مهمو مالي متخصصنو څخه و. هغه اعتراف وکړ په بریو کې یې ډېر دهغو طریقو پوروړی دی چې پخپله یې را ایستلی دي. زه هڅه کوم څومره چې کولای شم دده خبرې در یاد ی کړم:

ډېر کلونه وشول چې د دفترو دورځی ټولې کتنې مې د شپې لیکم. دکورنی

غړی مې د شنبې په شپې ماته هېڅ پروګرام نه جوړوي. ځکه پوهېږي زه دجمعې په شپه وخت دخپلو کارونو دتحلیل او ارزونې لپاره لګوم. د شپې له خپلې کورنی نه بیلږم، دفتر پرانېږم او دهغو مرکو، کتنو او خبرو په باب فکر کوم چې د اوونی په جریان کې مې کړې دي. له ځانه پوښتم چې « په هغه ځانګړي باب مې څه سهوه کړې ده؟ یا کوم ښه کار مې کړی دی؟ او یا مې څنګه کولای شو دغه یا هغه کار ښه کړی وای او له دې تجربې نه به څه درس واخلم.؟

دې ته ځېر شوي یم چې دا اونیزه ارزونه ما ډېر سترې کوي او غالباً هغه سهوې چې کړي مې وي ورته حیرانېږم. البته دکلونو په تېرېدو دا سهوې کمې شوېدي. حتیٰ کله **لا** په دې کلونو کې غواړم دځېنو غونډو په پای کې ځانته آفرین ووایم. دا په خپل قلم او لاس ارزونه او تجزیه چې کلونه یې دوام کړی دی. تر ټولو ډېر زما په بریالتوب کې اغېزمن دي. دې لارې ما سره مرسته کړې ده چې دتصمیم نیولو کې می ځواک زیات کړم او حتیٰ دخلکو سره یې د ډېرو تماسونو په باب راسره مرسته کړې چې لرل مې اولرم یې.

ولې ددې کتاب دعملي کول په وخت ددغسې طریقې نه کار نه اخلئ؟ که دا کار وکړی دوه حاصله به ولري: اول دا چې پوه به شئ یوه ازمونیزه دوره تیروئ چې هم خوږه او بوختونکې ده او هم ډېره ګټوره او باارزښته. دویم دا چې پوهیږئ دکتنو او خلکو سره د سلوک په باب مو قابلیت څومره زیات شوی او دنورو ساحو په شان برجسته شوی دی.

۹- دورځنې باد داشت کتابچه ولرئ او په هغه کې هغه برېاوی ولېکئ چې ددې کتاب داصولو په عملي کولو کې مو لاسته راوړي دي. دهر مورد جزئیات ښه پوره ولیکئ. میاشتې، نیتې او هغه نتایج چې مو لاس ته راوړي دي ولېکئ. ددغسې کتابچې لرل مو نور هم هڅوې چې دغسې کار لا زیات وکړئ. کلونه وروسته به هم کله چې دې لیکنو ته مو پام شي، پوره خوند به ترې واخلئ.

ددې لپاره چې ددې کتاب نه ښه ګټه واخلئ:

١- په ځــان کــې باید دمـردمـداری پراصـولو د تسلط لپــاره اورنی مـینه پیداکړئ.
٢- مخکې له دې چې بل څپرکی ته لاړ شئ، تېر څپرکی بیا ولولئ.
٣- کله چې لولئ له ځانه وپوښتئ څنکه به دا دستور عملي کړم؟
٤- دهر مهم او ځلېدونکي نظر لاندې لیکه وباسئ او یا نښه ورته کېږدئ.
٥- ددې کتاب مطالب هره میاشت تکرار کړئ.
٦- ددې کتاب محتویات هر وخت چې درته ضرور شول، عملي کړئ، کوشش وکړي له دې نه دیو داسې کتاب کار واخلئ چې دانساني اړیکو لارښود وي.
٧- ددې کتاب د ځینو اصولو د نه منلو په صورت کې د څو روپو په ورکولو دزده کړې وخت ځانته په یو بول تفریح بدل کړئ.
٨- هره اونی دخپل پر مختك اندازه وارزوئ. له ځانه وپوښتئ څه سهوې مو کړي. کوم برې مو کټلي او کوم درسونه مو اخستي دي.
٩- په پای کې کوم ځای چې مو ددې کتاب خبرې پلې کړې وي دنېټې او څرنګوالي سره یې ولیکئ.

# دوهمه برخه

## څلورم څپرکی

دهر کلي ور ګرځيدنې لپاره لارښوونه:

ددوستانو موندلو لپاره ولې بايد دې کتاب ته اړ اوسئ؟ ددوستۍ جلبولو مهم فن چې په ټوله نړۍ کې تجربه شوی دی، ولی نه تجربه کوو؟

هغه څوک له کوځې تېرېږي؟

کيدای شي سبا ور سره ونه ګورئ؟

هغه اهلي ځناور چې په پياده لار کې ديو کور مخې ته سر په خاورو ايښی او ويده دی څه نو ميږي؟

مه ويرېږئ، خواته يې ور شئ، څنګ ته يې ودريږئ، په شايې آرام لاس را کاږئ، څه غبرګون به وښايې؟ کله چې يې په شا لاس را کاږئ او دنازولو نيت يې لرئ لکی خوزوی. هغه چې کله پوه شي تاسو يې نازوئ په شوق راځي او ټوپونه وهي. تاسو هم پوهېږئ چې ددې ځناور په دې اعمالو کې دقدر پېژندنې نه بل څه نه دي نغښتي.هغه نه دا غواړي چې ستاسو موټر واخلي او نه هغه ملکيتونو ته اړتيا لري چې ستاسو سره وي. ستاسو مال او شتمنی ته تمه نلري، يوازې غواړي ستاسو محبت ته ځواب ورکړي.

دې ته مو کله فکر کړی دی چې سپي دخپل ژوند لپاره کار ته اړ تيا نلري چرګه که غواړي ژوندی پاتې شي بايد هګی واچوي. که غوا شيدې ور نکړي او غوابی ځمکه قلبه نکړي او قمري اواز ونکړي هيڅ شی نه دي. خو سپی داسې حيوان دی چې دانسان سره دمحبت کولو سره خپل ژوند ته مفهوم ورکوي او ددوام ورکولو وس هې پېدا کوي.

پنځه کلن وم چې پلار مې راته يو ژېړ کوکری په نيم ډالر واخست. دا خوښي زيږونکی کوکری زما د کوچنيوالي ملګری و. هره ورځ پوره څلور بجې او درې دقيقې به يې سترګی زموږ دکور پياده لارې ته نيولې وې، همالته به ناست و او زما د پښو اواز ته به منتظر و. همدا چې زما اواز هې او ريده يا هې ليدلم د داسې غشي په شان به زما لورته را الوت چې دلينديې نه آزاد شوی وي. را منډې به هې وهلې، ساه ايستل به هې ماته را رسيدل او په شوق

به. يې زما هر کلی کاوه. دا مينه ناک سپی بيا دتندر په واسطه مړ شو خو زه ورته وايم: « تا چې پخپل لنډ عمر کې د اروا پوهنې له کوم کتاب نه يوه کرښه هم نه وه لوستې اړتيا دې هم ورته نه وه. غريزې څنګه در ياد کړل چې په ډېر لنډ وخت (۲ مياشتو کې) په مينه کولو داسې دنورو مينه جلب کړې چې بنيادم يې په دوه کالو کې هم نه شي لاس ته راوړی.»

اجازه راکړئ دا موضوع له انساني نظره شرح کړم: تاسو کولای شئ چې افرادو سره د واقعي مينې په اساس ددوه مياشتو نه په کمه موده کې دهغوې داسې مينه ځانته را جلب کړئ، چې په دوه کاله کې به مو نه وي جلب کړې.

پته دې نه وي چې زه او تاسو ډېر افراد پېژنو چې تل دا اشتباه کوي چې يوازې د توجه غوښتونکي په شکل پاتې کېږي. خلك نه زما سره علاقه لري او نه تاسره. هغوي ټوله شپه او ورځ له ځان سره مينه لري. په بله وينا انسان ځان غوښتونکی موجود دی چې دهغه دځان غوښتنې د احساس د راضي کيدو له لارې کولای شو په هغو بريالي شو او ددوی مينه واخلو او دې ته يې اړ کړو چې فدا کاری وښايي.

دنيو يورک دتلفن شرکت دخلکو د تيلفوني خبرو په باب يو دقيقه څېړنه وکړه چې پوه شي خلك په تيلفوني خبرو کې کومه کليمه ډېره کاروي. کولای شئ سوچ يې وکړئ چې دا کليمه کومه وه؟ دا کلمه هماغه د مفرد شخص لومړی ضمير يعنی (زه) ده. زه! زه! زه! په ۵۰۰ تلفوني خبرو اترو کې د **«زه»** کليمه (۳۹۹۰) ځلې کارېدلې ده. کله چې يو ډله ايز عکس ته چې تاسې هم پکې ياست ګورئ تر ټولو مخکې دچا په انځور پسې ګرځئ.

که تصور کوئ خلکو در سره ډېره مينه پيداکړېده، دې پوښتنې ته ځواب ورکړئ.

ولې خلك تاسې سره مينه پيدا کړي، په داسې حال کې چې تاسو نه غواړئ لومړی دغسې شئ. او هغوی سره مينه وښايئ؟ خپل قلم را واخلئ او ځواب يې دلته وليکئ:

که هڅه وکړو خلك تر تاثیر لاندې راولو او اړ یې کړو چې موږ سره مینه پیدا کړي. هېڅکله به صمیمي او حقیقي دوستان ونلرو. واقعي دوستان په دې طریقه نه پیداکېږي. ناپلیون دا طریقه وکاروله او کله چې یې له ژوز فین سره وروستی کتنه وه وویل:

ګرانې ژوز فین! زه په هماغه اندازه چې په دې نړۍ د یو انسان لپاره کېدای شي نېکمرغه واوسي، نېکمرغه وم، خو په دې شېبه کې نه په نړۍ کې یوازنی کسه یې چې باور پرې کولای شم.

مور خین شك لري چې ده حتیٰ په ژوز فین باور نه درلود. پېژندل شوي اتریشي ارواه پوه الفرد ادلر په خپل کتاب «ژوند څه مانا لري؟» کې لیکلي دي:

**«هغه څوک چې خپلو هم نوعانو سره مینه نه پیدا کوي، په ژوند کې له ډېرو سختو ستونزو سره مخ کېږي.او تر نورو ډېر تاوان ځانته رسوي. دهمدې خلکو له منځه دي، چې بیکاره او ماته خوړلي کسان منځ ته راځي».**

کېدای شي په لسګونو د اروا پوهنې پوهنیز کتابونه ولولئ. زما دخبرې بیا تکرار نه خوښېږي خو د ادلر خبره دومره ژوره او له مانا ډکه ده چې غواړم دا ځل یې بیا خو په لویو تورو بیا له سره ولیکم:

**«هغه څوک چې خپلو هم نوعانو سره مینه نه پیدا کوي، په ژوند کې له ډېرو سختو ستونزو سره مخ کېږي. دهمدې خلکو له منځه دي، چې بیکاره او ماته خوړلي کسان منځ ته راځي».**

کله چې مې دنیو یارک په پوهنتون د کیسه لیکنې درس لوست، یوه ورځ د کالیرر دمجلې مدیر راته وینا کوله هره ورځ په لسګونو کیسې ورته رسېږي. هغه یې چې یو څو کرښې ولولي پوهېږي چې لیکوال یې له خلکو سره مینه لري که نه. هغه وویل:

**«که لیکوال ته خلك ګران نه وي، خلك به یې هم کیسې خوښې نکړي».**

دمجلې دې تجربه لرونکې مدیر له دې امله چې لکیا دی دکیسې لیکلو په باب په خپله وینا کې وعظ کوي. ښښنه وغوښته او ووېې ویل:

زه لګیایم هماغه خبرې درته کوم چې واعظ یې درته کوي، خو دا په یاد

ولړئ که غواړئ په داستان لیکنه کې بریالي شئ، لومړی خلك ځانته گران کړئ.

که دا وینا د داستان لیکنې په باب سمه وي. ډاډه اوسئ چې دخلکو سره د برخود او راشه درشې په باب هم تر هغه څو ځلې ریښتیاده.

غواړم ایرادوی ته خپل وروستې تگ را یاد کړم او تاسو ته یې ووایم. هغه ورځ مې د یو مشهور مداري سره چې په خپل کار کې لومړی و، تېره کړه. ده ځلوېښت کاله د ټولې دنیا سیل کړی و او خلك یې پرځان مین کړی وو. تر شپېته میلونو ډېرو کسانو دده دنندارو لپاره داخله کړې وه او هغه په دې کار دوه میلونه ډالره گټلي وو. له ده مې وغوښتل د خپل برې راز راته ووایې. بې له شکه دده بریو کې دده دزده کړو هیڅ برخه نه وه. ځکه دې لا ډېر کوچنی و چې د پلار له کوره وتښتېد او د یو چا سره شاگرد شو او په هغو واگونونو کې چې ځاروي به یې له یوه ښار نه بل ته وړل، ته راته، لوښو په انبار به ویده کېده او وخوره مه مره د گټلو لپاره به یې سوال کاوه. په دغو ټلو راتلو کې به یې هغه اعلانونه چې د سرکونو دواړو خواووته به لیکل شوي و و لوستل او له همدوی یې لوستل زده کړل. آیا ده په مداري توب کې ډېر زیات معلومات درلودل؟ پخپله یې ماته وویل:

دمداري توب په باب په سلگونو کتابونه لیکل شوي دي او په لسگونو کسان په مداري توب کې زما هومره معلومات لري. خو زه دوه شیه لرم چې نور ترې بې برخې دي. لومړی زه ددې قابلیت لرم چې خپل شخصیت په خپلو ننداروکې وځلوم. هغه دننداروو استاد و او دبشر طبعیت یې پېژنده هر کار چې یې کاوه، هر حرکت، هره وینا، د ښو هر ځل پورته کول دا ټول یې مخکې تمرینول. اکتونه او عملونه یې په دقیق ډول منظم شوي وو. دخبرو په جریان کې یې وویل:

«او بله داچې دخلکو سره مینه لرم، ډېر مداریان خلکو ته گوري او زړه کې وایي، دلته یو څه غوایان او خوسیان راټول شوي دي، او زه ټول غولوم. زما لار بیله ده. هر ځل چې صحنې ته ورځم ځان سره وایم: » ډېره مننه کوم چې دا دومره خلك راته راغلي دي. دوی په خپل راتگ ماته دا امکان راکړی

دی چې خپل ژوند په ابرو تېر کړم. زه به هم هڅه وکړم چې په پېر ښه بول دهغوې دتفرېح امکان برابرکړم.هغه چې دبلې ننداري لپاره تیاری نیوه ویې ویل:

**«هرڅل چې نندارہ پېلوم مخکې له ځان سره څو ځلې تکراروم ماته خپل لیدونکي ګران دي، هو راته ګران دي».** رښتیا! هغه مسخره و؟ لوده و؟ تاسو چې هر فکر کوئ خو زه دده دا طریقه دیو سر مشق په حیث ګنم.

مېرمن شومان شانیك نزدې همداسې خبره وکړه. سره له دې چې وړې او په زړه ماته وه سره له دې چې بول بول تراژدیو بې ژوند تور تم کړی و او حتیٰ یوځل یې دځان او ماشومانو وژنې ته اړ اېستې وه، سندرو ویلو ته بې دوام ورکړ تر څو چې دخپل وخت یوه له تر ټولو سترو هنر مندانو او کېدای شي دواګنر دسبك تر ټولو لویه سندر غاړې وه. هغې یوځل اعتراف وکړ چې دبري راز بې دخلکو سره مینه کول دي.

دتئودور روز ولت د حېرانوونکي بري او محبوبیت له رازونو نه هم یو دا و. هغه دومره محبوب و چې نو کرانو ته هم ګران و. دده تور پوستکي نوکر جمز، آرموس ته روزولت دومره ګران و چې دده په باب بې یو کتاب ولیکه چې نوم یې و «روزولت، دخپل نوکر لپاره اتل». په دغه کتاب بې ارموس په لاندې پېښه کې د روز ولت په محبوبیت رڼا اچوي.

«زما ښځې یوه ورځ له روز ولت نه وپوښتل، زرکه څرنګه حیوان دی؟ زما ښځې په ټل عمر کې زرکه نه وه لیدلې، روز ولت ورته دهغه اوصاف بیان کړل. څو ورځې وروسته زموږ دکوډلې زنګ وشرنګېده ښځې مې غوږی واخسته، پخپله روزولت و، زما ښځې ته بې تلفون کړي و چې زموږ دکوډلې مخې ته یوه زرکه ده او که وګورو وبه بې وینو. دغسې وړو شیانو ته پام کول دروزولت له خویونو وو. کله چې به زموږ له کوډلې تېریده که به بې څه کار هم نه و نو یو غږ به بې را باندې کاو ای..و ..و... اوني! ای بې ی جمزه!، دابو دوستانه کلام و زموږ دکور مخې ته دداسې شخص دتېریدلو په وخت به موږ څنګه له هغه سره مینه نه کولای.؟

کله چې جمهور رئیس تافت او مېرمن بې له سپینې مانۍ وتلې وو، روز

ولت سپینې ماڼۍ ته راغلې و. ده دسپینې ماڼۍ خدمتګارانو ته دا احترام ور په برخه کړ چې هر یو به یې پخپل نوم یا داوه. سلام به یې پرې چاوه او حتی داشپزخانې مزدور ته به یې هم ځان رساوه.

ارسېټ بور لیکي: «کله چې روز ولت لیس کلفت ولید، تپوس مې ترې وکړ. اوس هم دګدنو بوډۍ پخوې، هغه وویل: کله کله مزدورانو ته دګدنو بوډۍ پخوم خو څوک چې په لوړو طبقو کې دي نه یې خوري.»

روز ولت وویل: «هغوی نوق او سلیقه نلري. چې جمهور رئیس تافت مې ولید پر دې موضوع ورسره خبرې کوم.

الیس ددغې بوډۍ یوه قطره ورته په قاب کې راوړه او روز ولت په داسې حال کې چې دکار دفتر ته روان ووهغه یې وخوړه او هم یې هغو باغوانانو او کارګرانو ته سلام کاوه چې له څنګه یې تېرېدل. هر چا سره چې مخ کېده په هماغه ژبه یې ورسره خبرې کولې چې دمشرۍ په وخت به یې ور سره کولې. دده نوکر ایك هودر په داسې حال کې چې له سترګو یې اوښکې څڅېدې وویل:

**«هغه وختونه دخوښۍ یک وختونه وو، موږ هیڅ یو دې ته حاضر نه وو چې یوه ورځ په سل دالرو بدله کړو.»**

زه په تجربه پوهېږم چې سړی کولای شي دنورو سره دصمیمي مینې په ښودلو حتی د ډېرو سترو اشخاصو وخت ونیسي او دهغوی همکاري ځانته راکاږي. یو مثال درته وایم:

موږ یو وخت دداستان لیکنې کورس لوست. په هغه وخت کې مو وغوښتل دوخت لوي او مشهور لیکوالان راشي او موږ ته دخپلو بریو درازونو په باب څه ووایي. موږ پوهېدو چې دومره کافي وخت نه لري نو دوی ته مو پوښتنلیك ولېږه چې هر یو یکې دخپل بري راز ولیکي. پوښتنلیك موږ ۱۵۰ تنو لاسلیك کړی و. موږ هڅه کړې وه داسې څه ورته ولیکو چې خوښ یې شي. دلوی خوښ شو څکه ډېر لوی کسان لکه لسلي م، شاد روز ولت دکا بینې دمالیې دوزیر معین، جورج، دیکر دتافت دجمهوری ریاست دوخت دمحکمې رئیس ویلیام جننګر او فرانکلن دلانو روز ولت او نور ډېر پېژندل شوي کسان موږ ار کړل، موږ ته راشي او موږ زده کوونکو ته وینا وکړي.

مور هر یو که قصاب، که نانوايي او که واکوال یوو، خوښېږي مو چې وستایل شو. مثلاً قیصر دوهم ویلهم په پام کې ونیسئ. کېدای شي په نړۍ کې دلومړۍ نړېوالې جګړې وروسته ترټولو بدنام سړی و.هالیند ته د تېښتې پر وخت ور سره حتیٰ خپل ملت مخالف و. له ده څخه کرکه دومره زوره وه چې حتیٰ په میلونو نو خلکو غوښتل هغه پوټې پوټې کړي. او یا یې ژوندی وسوځوي. دقهر او غصې په دغه بل ځنګل یوه کوچني ماشوم دالمان قیصر ته یو لیك ولېږه. دې هلك په خپل لیك کې لیکلي وو: پرېږدئ نور هر بول چې غواړي فکر وکړي، خو هغه به په هر حال کې ویلهلم دالمان دامپراطور په توګه پېژني او په دغه نوم به ورسره مینه کوي. ویلهلم دې لیك دومره تر اغېز لاندې راوست چې ماشوم یې هلند ته وباله. ماشوم دخپلې مور سره هالند ته لاړ او دالمان قیصر د ماشوم له مور سره واده وکړ. ماشوم دې ته هېڅ اړتیا نه درلوده چې په خلکو کې دنفوذ کولو او دوست موندلو په باب کوم کتاب ولولي. هغه دغرېزې له مخې پوهېده چې څه وکړي.

که وغواړو ځانته دوستان پیداکړو باید نوروته خدمت وکړو او هغوی ته داسې کارونه وکړو چې وخت او انرژي پرې لګېږي. باید نورو ته زموږ خدمت له ځان غوښتنې او غرض پرته وشي کله چې دوك ویندسور ولیعهد و، یو پروګرام ورته جوړ شو چې امریکا ته لاړ شي. له دغه سفر نه مخکې ده څو میاشتې داسپانوي ژبې په زده کړه تېرې کړې چې وکړای شي د جنوبي امریکا په خاوره کې دهغې داوسیدونکو په ژبه خبرې وکړي. د همدې عمل له مخې هغه دجنوبي امریکا دخلکو په زړونو کې ډېر ګران شو.

کلونه وشول غواړم ددوستانو دزېږېدو نېټې مې پیدا او بیا یې یادې کړم. وبه پوښتئ ولې دا کار کوئ؟ که څه هم زه په‌طالع لیدو لږه عقیده هم نلرم له دوې پوښتم چې آیا دوی عقیده لري چې دشخص دزېږېدو نېټه دهغه په اخلاقو او درفتار په بول کوم اغېز لري؟ کله چې بل لوري خپل عقیده څرګنده

کړه تري غواړم دخپلې زېږېدا ورځ، میاشت او کال راته ووایي. مثلاً که ووایي دنومبر په ۲٤ زېږېدلی دی زه دا څوځل له ځان سره تکراروم او زده کوم يې. کله چې هغه لاړ ژر يې په خپله کتابچه کې لیکمه کله چې مې ددوست دزېږيدو ورځ را ورسېږي دمبارکۍ کارت یا تلګرام ورلېږم. څه هیجان چې زما کارت يې په شخص کې نه تولیدوي! زیاتره زه په نړۍ کې یوازنی شخص یم چې دده دزېږېدو نېټه مې په یاد ده.

که غواړئ خلك ځانته را وګرځوئ دهغوی سره په شوق او ګر مې برخورد وکړئ. کله چې چا سره په تلفن غږېږئ هم دا لار خپله کړئ. داسې ورته په تلفون کې **«هلو»** ووایئ چې نوموړی فکر وکړي تاسو يې په تلفوني خبرو ډېر خوښېږئ. دنیو یارک دتلفن شرکت یو کورس جوړ کړی و، په هغه کې يې تلفونچیانو ته دښو خبرو زده کړه ورکوله. دغه تلفونچیان اوس دا جمله **«کومه نمره دایرول غواړئ»** په داسې ژبه بیانوي چې تاسو فکر کوئ، ورته وایي **«سهار مو نېکمرغه، خوش یم چې کولای شم ستاسو خدمت وکړم.»**

سبا مو چې چاته په تلفون ځواب ورکاوه، همدغه طریقه وکاروئ.

آیا دا طریقه په سوداګریزو (تجارتي) اړیکوکې هم رول لري؟ زه کولای شم په لسګونو مثالونه راوړم خو دلته (یو) مثال راوړم:

چارلز ر. والترزچې دنیو یارک دیو مشهور بانك کار کوونکی و دیوې ځانګړې موسسې دکار په باب د یو محرمانه ګزارش جوړول ورته وسپارل شول. هغه یوازې یو تن پېژنده چې دده دخوښې وړ معلومات يې ورکولای شول. والتر ددې سړي لیدو ته چې دیو لوی صنعتي شرکت رئیس و، ورغی. کله چې دهغه دفتر ته ورننوت، یوې ځوانې ښځې سر دفتر ته راښکاره کړ او ورته وې ویل: «نن ستاسو لپاره لوی ټکټ (نمبر) نشته هغه ووېل زه يې لرم، زه يې یوازې دخپل دولس کلن زوی لپاره غواړم. والتر دشرکت رئیس ته

دخپل ماموریت په باب وویل خو هغه څه مینه ونه ښوده څان یې اخوا دې خوا کاوه او مرکه یې بې خونده او لنډه خلاصه شوه. والتر دا کیسه کوله چې څه باید وکړي نا څا په ددفتر دمنشي خبره چې دپوستي ټکټ او دده دزوی وه را یاده شوه. زر مې په یاد راغلل چې زموږ دبانګ خارجي برخې ته دنړۍ له هر کنج نه پوستي ټکټونه راځي. د بلې ورځې په مازیګر د شرکت درئیس دفتر ته ورغلم دزوی لپاره مې ورته څه پوستي ټکټونه راوړل. آیا ددې فکر کوئ چې په شوق او مینه یې زما هر کلی وکړ؟

هو! هغه په داسې ګرمۍ زما هر کلی وکړاو زما لاس یې په داسې مینه کېښکود لکه زه چې بیخي یو وکیل او یا دشورا کاندیدیم. په داسې حال کې چې ټول بدن یې په شوق راغلی وو پوستي ټکټونو ته یې په ډېره خوښی کتل او ویې ویل: دابه زما د جورج ډېر خوښ شي. دا وګورئ ، په رښتیا یوه خزانه وه. نیم ساعت یې دهغوي په کتلو او خبرو تېر کړ او پاتې نیم ساعت یې دهغو ټولو معلوماتو په راکولو تېر کړ چې ما ورته اړ تیا لرله او هغه هم یې له دې چې زه ترې غوښتنه وکړم. وروسته یې خپل کار کوونکي را وغوښتل له هغوي یې هم ځینې معلومات واخستل. په دې یې هم بسنه ونکړه په تلفون کې ځینې معلومات واخستل او زه یې په معلوماتو کې ډوب کړم چې حقایق، رقمونه او ګزارشونه پکې وو. په نتیجه کې مې دمطبوعاتو په اصطلاح ډېر اطلاعات راټول کړل.

دې ښاغلو چې دانساني اړیکو په باب دغه نوښتونه کړي دي. نوی شی یې نه دی کشف کړی. دعیسی (ع) له پیدایښت نه سل کاله مخکې دروم پخوانی شاعر ژولیوس سریوس ویلي دي:

«موږ هغه وخت نورو ته لېوا لېږو، چې نور هم دغسې شوي وي.»

نو په دې اساس که غواړئ چې خلکو ته ګران اوسئ. دا لومړنی اصل دی:

– دنورو سره رښتینې مینه ولرئ!

# پنځم څپرکی:

## د دوستۍ د جلب لپاره یوه اسانه لار:

په دې وروستيو کې مې په يوه ميلمستيا کې چې په نيو يارک کې جوړه شوې وه، ګډون وکړ. په ميلمنو کې يوه شتمنه ښځه وه چې ډېرې پيسې ورته په ميراث کې پاتې شوې وې. هغې هڅه کوله د سمور څخه جوړ شوی پټو، الماسونو او مرغلرو په ځلولو دلربا ښې وکړي. خو افسوس چې دخپلې ترخې څېرې، ځان غوښتنې او ځان خوښۍ فکر يې نه وکړی. هغه په دې يوه خبره نه پوهېده چې ټول خلك پرې پوهېږي: دېوې ښځې څېره د هغې له جامونه ډېره زياته مهمه ده **[تاسو هم دا ياد ساتئ چې کله مو مېړه درته دغه شيان اخيستل دغه ټکی ورته ووايئ]**.

چارلز شواب ماته وويل: «زما موسکا يو ميليون ډالره ارزي.» زه فکر کوم هغه ټول حقيقت نه دی ويلی.

ځکه په خپلو دغومره لويو بريو کې دخپل شخصيت او دخلكو سره دجادويي سلوك او دنورو د مينې او محبت دجلبولو دځواك پور وړی دی. دهغه د شخصيت يو مهم عامل دغه موسکا ده.

يوه ورځ دموريس شواليه سره دهغه له رفتار نه نهيلی شوم. هغه غمجن او غلی و. هغسې چې ما فکر کاوه هېڅ وه نه. خو کله چې ېې موسکا وکړه ما فکر وکړ نوريځو له منځه لمر را وخوت. که دده موسکا نه وای، کېدای شو موريس شواليه هم دخپلو ورونو په شان دپارې په کوڅو يو بکس جوړونکی پاتې شوی وای.

کرنې تر کليمو او چتې غږېږی او بل لوری ته يوه موسکا وايي: **«ماته ګران يې، خوښوې مې ستا په ليدلو خوښېږم».**

غير طبيعي موسکا څنګه ده؟ نه، دا يو بې اغېزې موسکا ده او څوك پرې نه غولېږي ځکه دهغې ساختګي والی ورته څرګندېږي او پرې ځورېږي. زه د رښتينې موسکا خبره کوم چې په زړو کې خوښي او تازه ګي پيدا کوي، هغه موسکا چې له دننه سرچينه اخلي، هغه موسکا چې ګرانه خرڅېږي، يادوم.

دنیـو یارک دیو لوی پلورنځي، داسـتـخـدام مـدیر څرگنده کړه. هغـه دا خـوښـوي چې یوه دلږې زده کـړې لرونکې جنی چې ښکلې مـوسکا ولري اسـتـخدام کړي خـو دهغـه چا له اسـتـخـدام نـه ډډه کوي چې تریو وی او په فلسفه کې هې دکتورا اخستې وي.

دلاستیك جوړونې دیوه لوی شرکت مدیر راته وویل چې تجربې ورته داټکې زبات کړی دی چې یو شخص ته دا ډېره گرانه ده په یو کار کې بریالې شی، تر څو هغه کار ورته د تفریح په شان نه شي. هغه وایي په دې پخـوانې پند عقیده نلري چې وایي «گران کار ډوازینی کلې ده چې زموږ دهیلو او غوښتنو دروازه بیرته کوي»

دی وایي: «داسې خلك پېژنم چې په دې دلیل بریالي شول چې دکار کولو وخت ورته دښه وخت تېرولو په شان و. بیا مې داخلك ولیدل چې دیوې وظیفې په ډول یوه کار پسې لاړل. هغوی بیا ستړي او خفه وو او داچې نور یې دهغه له کولو خوند نه اخیست، بری یې لاس ته رانه وړ او دنا کامـی او نامرادی سره مخ شول.

دخلکو دکتنې په وخت کې پر تاسـو هله وخت ښـه تېرېږي، چې پر هغوی هم ښه تېر شي.

مـاله زرگو نو پلورونکو غـوښتلي دي چې یوه اونی هره ورځ د یو سـاعت لپـاره په مـوسکا او خـلاص تندي دخلکو سـره مـخ شي او بیـا زمـا ټولگي ته راشي او له نتیجې مې خبر کړي. دې کار ډېرې لوړې اغېزې درلودې،

اجـازه راکړئ دا مـوضـوع وارزوو، دلتـه د نیـو یارک د صرافـی دکمـیټې دغړي اشتـاین هـاردیولیك را نقلوم. دده کیسـه یوازې دده خـپله نه ده. ده ته پېښ شوې هغه څه دي چې نورو ته هم دغه شان پېښېږي. دی لیکي:

«۲۸ کاله کېږي واده مې کړی دی. او ددې وروستیو ورځو پرته مې ډېر کم خپلې ښـځـې ته موسکا کړې وه. او د پاڅـېدونه کارته تر تلو پورې مـې دڅو کلیمـو پرته هغې سره هېڅ خبرې نه دي کړې. زه یو له ډېرو ترو و خلکو وم چې د (برادوی) له جادې به تېرېدم! دا چې تاسو رانه غوښتي دي، دخلاص وچولي په باب درته یوه تجربه ووایم. له ځان سره مې وویل بده نه ده چې یوه

اونی ستاسو ښودل شوې لارښوونې پلې کړم. کله چې مې په لومړې سهار وېښتـان ږمنځول په ائينه کې مې خپل برووس مخ او تريو تندې وليد له ځان سره مې وويل: ته به نور دغسې تريو او تريخ نه اوسېږې! ته به موسکا کوې او همدا اوس به يې کوې. تر هغه وروسته دسهارنی دخوړلو لپاره لاړم او په موسکا مې خپلې مېرمنې ته وويل، **«ګرانې سهار مو نېکمرغه!»**

تاسو ويلې وه ممکن هغه دداسې عمل په وړاندې حېرانتيا وښايي. خو تاسو دهغې غبرګون کم سنجولی و هغه پريشانه شوه او ولړزېده. ورته ومې ويل نور هر وخت له مانه دغسې انتظار لرلی شې.

او زه له دوه مياشتو راهيسې دغسې کوم.

په ژوند کـې ددې بدلون په وجـه مـو دا دوه مـياشـتې ددوه کـالو نـه زياته نېکمـرغي په برخـه شـوې ده. اوس چې ادارې ته ځم ددر وازې سـاتونکې ته موسکېږم او جوړ پخېر ورسره کوم.

دپېسو ماتولو پر مهال دځمکې لاندې اورګادي صندوق دار ته هم داسې کوم او کله چې په کوټه کې ودرېږم هغو خلکوته هم چې تر اوسه مې نه دي ليدلي، موسکا کوم. هر څوک چې ماته څه شکايت راوړي ورته موسکېږم او همداسې يې ښه راغلی کوم او خبرو ته يې غوږ نيسم. اوس مې پام شو چې دهمدې موسکا په وجه مې ډېر ډالر جيب ته راځي. زه ديو دلال سره کار کوم. دهغه يو کارکوونکې ډېر دخوښې وړ سړی دی. زه چې دخپل دې برې نه په هيجان راغلی وم، هغه مې هم د انساني اړيکو ددې فلسفې نه خبر کړ. هغه هم اعتراف وکړ چې دلومړي ځل لپاره چې يې خپله طريقه بدله کړه ښه نتيجه يې واخسته. هغه وايي کله چې موسکا کوم يو رښتينې انسان ښکارم.

په هغه طريقه کې چې انتخاب کړې مې ده، دانتقاد او خرده ګيرۍ څرک نشته، دانتقاد او محکومولو پر ځای ستاينه او صفت کوم.

زه دخپل ځان په باب له خبرو نه ځـان ساتم او پر ځـای يې غـواړم دبل لوري په نظر پوه شم، دغې کړنلار زمـا په ژوند کـې يو بدلون راوسـتـې دی. اوس پوره بل سړې شـوی يم. نېکمرغـه، څواکمن او د ډېرو دوسـتـانو خـاوند شوی يم. همدا شيان په حقيقت کې دډېر ارزښت وړ دي.

په ياد ولرئ چې دا ليك يو نري ليـدلى سـري ليکلې دى چې د پوړنو اخستلو له لارې خپل ژوند تېروي. هغه په داسې کارونو کې بريالې شوې دى چې په سلو کې ۹۹ خلك پکې نا کامېږي.

آيا موسکا کولو ته ليوال نه ياست؟

که داسـې وي دوه کاره وکړئ. لومړى دا چې پر ځان ومنئ چې موسکا وکړئ او يا له ځان سره يوه ترانه زمزمـه کړئ. بل داسـې کړنه وکړئ چې وښايئ همدا اوس نېکمرغه او خوښ ياست. دا به ددې سبب شي چې ربښتيا خوښ او نېکمرغه ياست پوهاند ويليام جمز دا وينا په لاندى ډول بيانوي:

**«داسې ښکارې چې کړنه داحساساتو ورروستنى مرحله ده خو په واقع کې کړنه او احساسات سره ګډ دي، د کړنو په تنظيمولو چې دارادې تر مستقيم اغېز لاندې دي، کولاى شو احساسات چې دکنترول لاندې نه دي، کنترول او تنظيم کړو.»**

په همدې شان د پراخه وچولي دلاسه ورکولو په صورت کې بايد له ارادې کار واخلو او ځان مجبور کړو په پراخه تنده کېنو او داسې خبرې اوکړنې وکړو چې وښايو دزړه له کومې يې په خوښى کوو.

په نړۍ کې ټول دنېکمرغـى په هڅـه کې دي خـو دهغـې دلاس ته راوړلو لپاره يوه لار شته او هغه د نېکمرغى دفکرونو کنترولول دي. نېکمرغي بهرنيو شرايطو پورې اړه نلري.

هغه څه چې تاسو نېکمرغه يا بد مرغه کوي، دا نه دي چې تاسو څه شى ياست، څه لرئ يا څوک ياست يا څه کوئ،بلکې ستاسو دتفکرډول دى. مثلا دوه تنه به يو ځاى کار کوي، يو شان پيسې لري، يو شان اعتبار لري، خو يو به دنېکمرغى احساس وکړي او بل به يې ونکړي. ولې؟ دا دتفکر دډول په باب ددوى په سليقه پورې اړه لري. ما دچين دبار وړونکو په منځ کې چې دورځې د اوه سنټو لپاره په هاغه ګرمـه هوا کې خولې توېوي، هماغومره خندانه او خوښې څېرې وليدې چې دنيو يارک په کوڅو کې يې وينم.

شکسپير وايي: هيڅ شى ښه يا بد نشته، بلکې زموږ دفکر ډول هغه ښه يا بد ښايي.

یوځل لینکلن وویل: زیاتره خلك هماغومره نېکمرغي احساسوي چې تصمیم یې ورته کړي وي نېکمرغه اوسي. رښتیا یې ویل. په دې وروستیو کې مې ددې لوړ حقیقت یوه بېلګه ولیده. د نیو ایلند داوسېنې پټلي له تم ځایه راختم ۳-٤ ګوډماشومان مې ولیدل چې امسا او د بغل لاندې لرګي ورسره وي او راختل. دوی چې مجبور و په دغو لرګیو لاړ شي، خوښ وو او زه ددوی خندا او خوښۍ ته هك پك شوم. ما هغه سړي ته چې ددوی لار ښوونه یې کوله دا خبره وکړه هغه وویل **«هو، لومړی چې ماشوم پوه شي ټول عمر به ګوډ وی لږ وحشت کوي، خو بیا پر خپل وحشت بریالی کېږي او بیا نو دروغو ماشومانونه هم ډېر خوښ ګرځي».**

زړه مې غوښتل دې ماشومانو ته ددرناوي په دود خپله خولۍ له سره لرې کړم. دوی ماته یو درس راکړي چې هېڅکله به یې هېر نکړم

کله چې مېرې فوکس د دوګلاس فېربانکس نه ځان طلاق اخستلو ته جوړاوه ورغلم. دغه شېبه نړیوالو دا ګڼله چې ډېره پریشاني به پرې حاکمه وي خو ما هغه تر ټولو ارامه او برېالی ښځه ولیده چې په ټول عمر کې مې لیدلې وه. هغې له ځانه نېکمرغې شیندله راز یې څه و؟ هغې دخپل بري راز په یوه کوچني کتاب کې ګاڼه چې ۳۵ مخونه لري. تاسو به ددې کتاب له لوستلو خوند واخلئ عمومي کتابتون لاړ شئ او دمری پیك فورډ په قلم لیکل شوی کتاب Why not try good واخلئ.

فرانکلن بنګر چې دسنت لولې دکار دنیا لانو یو پخوانی کارکوونکی او اوس په امریکا کې دبیمې یو پژندل شوی کار کوونکی دی کلونه مخکې یې راته ویلی و: **«مسکې سړي ته هر چېرته ښه راغلی ویل کېږي».**

څکه مخکې له دې چې دچا دکار دفتر ته ننوزی لږ ودرېږئ او دهغو شیانو په باب چه باید دهغه په خاطر مننه وکړئ فکر وکړئ چې خاطره یې ستاسو په څېره کې یوه رښتېنې موسکا منځ ته راوړي. په داسې حال کې چې همداسې خاندئ کوټې ته ورننوزئ.

هغه عقیده لري دا ساده تخنیك ډېر اغېز من دی او دده دبیمې د پاڼو په خرڅون کې فوق العاده اثر لري البرت د هو بارد لاندی حکیمانه نصیحت

ولولئ، خو په یاد مو وي چې تر څو هغه عملي نکړئ، څه ګټه به در ونه رسوي.

«هر کله چې له کوره وزئ، اوږې راټولې کړئ، سر مو پورته کړئ، ژوره ساه واخلئ او دلړ وړانګې ځانته جذب کړئ او په موسکا له دوستانو او اشنایانو سره وګورئ. کله چې لاس ورکوئ روح يکې وپوکئ. دا چې دسو تفاهم وړ ګرځئ هك پك کېږئ مه او حتی یوه دقیقه هم د خپلو دښمنانو په باب فکر مه کوئ. په ذهن کې مو دا ټکې سره راټول کړئ چې څه غواړئ وکړئ. او بیا بې له دې چې خپله لار کږه کړئ را سسا د خپلې غوښتنې لورته لاړ شئ. خپل پام هغه ځلانډو او سترو کارونو ته راټول کړئ چې غواړئ ويي کړئ. او بیا په نا پوه بول وینئ لکه څنګه چې ورځې تېرېږي تاسو هم دخپل ارمان لور ته نژدې کېږئ. همدا راز یو مرجان له اوبو نه همغومره څه جذبوي چې ورته ضرور وي. په خپل ذهن کې ځان هغه قابل، کټور او ګرم شخص انځور کړئ چې غواړئ بې اوسئ. په نتیجه کې هره شېبه چې تېرېږي، دغسې شخصیت ته ستاسو په اوښتوکې پر مختګ راځي.

فکر تر هر څه لوړ او پر هر څه حاکم دی. هڅه وکړئ دتفکر لار په ځان کې ورورئ. یانې هڅه وکړئ تاسو د زړورتوب، پاکې وینا او تازه کې لورته بوځي. ښه فکر کول دمنځ ته راوړلو په شان دی. هر څه په غوښتلو لاس ته راځي او که دعا دزړه له کومې وشي بې ځوابه نه پاتې کېږي. موږ هماغه شان کېږو چې زموږ دزړه غوښتنې يې امر کوي. اوږې را ټولې کړئ او سر مو لوړ ونېسئ، ځکه موږ په دې نړۍ کې تر ټولو با ارزښته یوو: دخدای خلیفه پر ځمکه!

لر غوني چینایان هوښیار خلك وو. ځکه د ژوند دلارو ښوونه يکې ډېره حکیمانه وه. دوی یو متل لرې چې باید موږ بې پرې کړو او په خپله خولی بې وټومبو، هغه متل دا دی:

هغه سړی چې په شونډو بې موسکا نه وي باید دوکان خلاص نکړي»

اوس چې خبره ددوکان شوه بده نه ده چې دفلچر لاندې وینا چې دکولنېس او شریکانو له خوا بې په یوه اعلان کې راغلې وه، را واخلو:

**داختر په ورځ یوه خندا:**

موسکا څه لګښت نلري، خو ډېر شیان منځ ته راوړي.

موسکا بې له دې چې ورکوونکی نېستمن کړي، اخستونکی شتمنوي.

موسکا له یوې شېبې ډېره نه وي، خو کله کېدای شي یاد بې تر پایه پاتې شي.

هیڅوک دومره شتمن نه شته چې له موسکا پرته ژوند وکړای شي او هرڅوک دومره نېستمن نه دی چې دموسکا له ګټو برخمن نه شي.

موسکا په کورنی کې نېکمرغي زېږوي. په تجارت کې ښه نیت، څکه د دوستی او ملګرتوب نښه ده.

موسکا ستړیا لېری کوي، نهیلې خلك هیله من کوي.

موسکا دستړیو لپاره دلر وړانګه ده او ښنا راحتی د ذهرو طبیعي له منځه وړونکې ده نو څکه موسکا نه خر څېږي، نه په سوال اخستل کېږي او نه په غلا لاس ته راځي، موسکا کوم څمکنی شی نه دی، خوکېدای شي چا ته ورکړل شي. د اخترو نو په وروستیو شېبو کې چې پلورنکې ډېر ستړی وي او تاسو ته موسکا نه شي کولای، دمهربانی له مخې تاسو دا کار وکړئ.

څکه هیڅوک تر هغه چا ډېر موسکا ته اړ نه دی، چې موسکا نه شي کولی.

نو څکه که غواړئ خلکو ته ګران واوسئ دا دویم اصل دی:

موسکا مه هېروئ.

ستاسو بې لګښته موسکا تر ټولو ګران بیه هدیه ده.

# شپږم څپرکی:

«داسې کار مه کوئ چې په ستونزو کې ونښلئ»

په ۱۸۹۸ کې د نیو یارک په داک لند کې یوه غمجنه پېښه وشوه. یو هلك مړ و. ګاونډیان یې دده په جنازه کې دګیون لپاره تیارېدل. جیم فارلي غو جل ته ورغی چې خپل اس ذبن کړي. هوا یخه اوځمکه په واورو پوښلي وه، اس چې څو ورځې کار نه و کړي. توپ یې کړ، دواړه پښې یې په هوا کړې پر فار لي یې ګوذار وکړ او هغه یې مړ کړ. نو په یوه واړه کلي کې په یوه ورځې دوه جنازې خاورو ته وسپارل شوي. له جیم فارلي یوه کونده، درې زامن او څو سوه ډالره بیمه پاتې شول. دهغه مشر زوی لس کلن و. دا شپږی کار یې پېل کړ، کار یې ډېر ګران وو او هېڅ وخت یې پیدا نکړ چې زده کړې وکړې، خو دده اېرلنډي ښه برخورد ددې سبب شو چې خلکو ته ګران شي،ځکه دسیاست نړی ته ورننوت او دوخت په تېرېدو یکې داشخاصو دنومونو دېادولو یو بې ساری استعداد پیدا شو. هغه کله هم د یوې مدرسې شکل او مخ نه ولیدلی، خو عمر یې تر ٤٦ نه و اوښتی چې شپږو پوهنتونو ورته وياړنی شهادتنامې ورکړي په څنګ کې دملي دموکراتیکې کمېټې مشر او دامریکا دپست لوی مشر شو. یو ځل مې جیم فارلي سره مرکه کوله پوښتنه مې ترې وکړه چې د بري راز یې په څه کې دی؟ ویې ویل: « په سخت کار کولو کې» ما ورته وویل « ټوکې کوئ» هغه له ما وپوښتل چې دبري راز یې زه څه ګنم؟ ورته ومې ویل «تاسو ته دلس زرو کسانو نومونه یاد دي.» وېې ویل نه اشتباه مو وکړه ماته د پنځوس زره کسانو نومونه یاد دي.

مه هېروئ همدې استعداد له ښاغلې فارلي سره مرسته وکړه چې فرانکلن دلانوروزولت سپېنی مانۍ ته ولېږي.

کله چې جېم فارلي یوې موسسې ته دګر ځند پلورونکي په حېث کار کاوه او کله چې د استوني پوست ښاروال و د نومونو دزده کړې لار یې زده کړه په لومړۍ سرکې دا کار ډېر اسان و. کله چې به له نوي شخص سره مخامخ شو، بشپړ نوم، دکورنی دغړیو شمیر مسلك او سیاسي عقیدو تپوس به یې

ترې وکړ. دې ټولو ته یې دیو انځور په شان په مغزو کې ځای ورکاوه. بل ځل چې له هماغه شخص سره مخامخ کیده، که کلونه به هم تېر شوي وو. په شا به یې ورته لاس اېښوده او د ښځې او ماشومانو داحوال پوښتنه یې ترې کوله، دکور دباغچې تپوس به یې هم کاوه. دا دحېرانتیا خبره نه ده چې ورځ په ورځ یې دوستان زیاتېدل.

مخکې له دې چې دروز ولت انتخاباتي مبارزه پېل شي. جېم فارلي څو میاشتې به سلګونو لیکونه بیلا بیلو کسانو ته په لویدیځو او شمال لویدېځو ایالتونو کې ولېږل. بیا په اورګاډي کې کیناست او په ۱۹ ورځو کې یې شل ایالته ولیدل او ۱۲۹۰۰ میله وګرځید. په دې وخت کې په ښارونو کې کوز شو او د غرمنی، مازېګرنی یا ماښامنی دخوړلو پر مهال یې د انتخاباتي استازیو خبرې اترې کولې او بل ښار ته ترې تلو. دا چې به ختیز ته را رسېده سم به یې ټولو هغو کسانو ته لیکونه لېږل چې ده به په دغه سفر کې لیدلي وو. له هغوي به یې غوښتل دهغو میلمنو دنومونو لست ورولېږي چې له موږ سره یې کتلي وو. دغسې ورته دزرګونو. زرګونو خلکو نومونه رسیدل. په لست کې موجود هر شخص ته جېم فارلي یو شخصي لیك لېږه. دا لیکونه زیاتره په زما ګرانه.... پیل کیدل او په پای کې به دجیم لاس لیك و.

جیم فارلي له لومړي سر نه زده کړې وه چې خلك دخپل نوم سره تر هر څه ډېره مینه لري. که موږ دچا نوم زده کړي وي او په مهرباني یې ورته یاد کړو. دغه تحفه به هغه د تر ټولو لوړو او ظریفو هر کلیو په شکل ومني. خو که نوم یې هېر کړو یا یې سم تلفظ نکړو، سخت به خفه شي.. مثلا ما یو ځل پاریس کې ویناکولو یو کورس جوړ کړي و. او د پاریس امرېکا یې او سېبونکو ته مې لیکونه لېږلي و... فرانسوي تایپستانو چې په انګلېسي کې یې معلومات لږ وو. نومونه ټېپول او اشتباهات ترې کیدل. یو تن چې په پاریس کې دیو لوی امریکا یې بانګ مشرو، ماته یې یو رټونکې لیك راولېږه، ځکه نوم ی سم نه وټیپ شوی.

داندریو کارنګي دبري راز څه و؟ هغه ته یې د پولادو پادشاه وایه خو پولادو په صنعت کې یې معلومات لږ وو. تر لاس لاندې یې په سلګونو داسې

کسانو کار کاوه. چې تر ده یې معلومات ډېر زیات وو. خو هغه پوهېده دخلکو سره ښنګه سلوک وکړي. او دژوند په لومړیو کې په ساز مان ورکولو او مشرۍ یې نبوغ او استعداد وښود.کله چې یې عمر ۱۰ کاله ته ورسېد، ده هم کشف کړه چې خلك ځومره دخپل نوم سره مینه لري.

ده دخلکو دهمکارۍ د جذبولو لپاره ددې کشف نه کار واخېست مثلاً کله چې یې خپل ماشومتوب په سکاټلند کې تېراوه، یوه سوۍ یې واخسته، لږه موده وروسته دهغې ډېر بچې وشول. ده سره هېڅ غذا نه وه چې دسوۍ بچو ته یې ورکړي. یو نوی فکر یې په سر کې پېدا شو. ګاونډیانوماشومانو ته یې وویل که دوی ځنګل ته لاړ شي او شبدر راوړي نو دهر یوه نوم به یوه سوي کېږدي. نقشه یې برېالۍ شوه او کارنګي دا هېڅکله هېره نکړه.

وروسته یې د همدې رواني اصولو په مراعاتولو په معاملاتو کې مېلونونه ډالرو ګټل. ده غوښتل دپنسلیوانیا داورګاډي پټل باندی اوسپنه خر څه کړي. ددغه پټلی مشر په دغه وخت کې ادګار طامس و. دهمدی لپاره اندریو کارنګي پو لادو یوه لویه کار خانه جوړه کړه او نوم یې کېښود « دادګارطامس دپولادو فابریکه» دلته یوه معماده، فکر یې کولای شئ؟ څه شی ده؟ کله چې دغه پټلی جوړیده، ادګار طامس ریلونه له چا واخستل؟ له سیرز نه، روبك نه؟ نه! بیا فکر وکړئ. کله چې د پټلی دخوب دکوټو دجوړولو په کار کې دکارنګي او جورج پلمان تر منځ لانجه پیدا شوه، کارنګي بیا له هغه درس نه ګټه پورته کړه چې د سوی د بچو له پېښې نه یې زده کړې وه. دکارنګي شرکت دپولمان له شرکت سره مبارزه کوله. هر یوه غوښتل داورګاډي دخوب دکوټو سفارش د یونین پاس[illegible] داورګاډي له قطار نه لاس ته راوړي. نو ځک[illegible]ې هو پر بل برید کاوه او بیه یې را کموله. دواړه نیو یارک ته لاړل چې د شرکت له مدیره هېئت سره وګوري. یوه ورځ دواړه په هوټل کې مخامخ شول.، کارنګي ورته زر وویل: ماښام مو په خیر، ښاغلی پولمان، آیا فکر نه کوې چې موږ دواړو ځانونه خره کړي دي؟ پولمان وپوښتل، مطلب مو څه دی؟ دا وخت نو کارنګي ټول هغه څه وویل چې په زړه کې یې وو. ویې ویل ښه ده چې ددواړو خواو وګټې ګډې شي. هغه ښه په آب وتاب بیان کړه

چې څنګه به دضدیت پر ځـای همکاري وکړي او دواړو ته به ګټه ورسېږي.
پولمان په ځير دده خبرې واورېدې، خو لا ښه پاده نه و، ويې پوښتل «په نوي شرکت به څه نوم کېږدئ؟» کارنګي زر ځواب ورکړ څرګنده ده چې نوم به هې وي **«دپولمان دواګونونو شرکت»** د پولمان څېره وغوړېده ويې وی، **«راځئ زما کوټې ته ځو، په دې باب خبرې کوو.»** دې خبرو اترو په صنعت کې يو انقلاب را منځ ته کړ. داندريو کارنګې دا صفت چې دوستانو نومونه يې پادول دهغه دبري له رازونو و. هغه وپاړ کاوه چې دخپلو کارخانو زياتره کار ګران په نامه پېژ نې او لاپې به يې کولې له هغه وختـه چې خپلې کار خانې راساً پخپله رهبري کوم، اعتصاب يکې نه پېښېږي.

دکلونو په اوږدوکې پادرومسکی پولمان ته دنورو امريکايانو په شان جورج نه وايه بلکې هـغـه ته يې ښاغلې مس وايه او ښاغلي مس هـم ددې لقب نه ډېر خوند اخسته.

اشخـاص د خپل نوم سره دومره مينه لري چې په هر شکل وي غواړي ځانونه هېشني کړي.

بارنوم مشـهور مداري زوی نه درلود چې دده نوم همېشنی کړي، نو خپل لمسي ته يې ٢٥ زره روپۍ په دې شرط ورکړي چې ځـان بارنوم وبولي. دوه سوه کاله مخکې مالدارو خلکو ليکوالو ته پيسې ورکولې چې کتاب يې دهغوي په نوم اهدا کړي.

کراسلير سارمان روزولت ته يو موټر جوړ کړ. جمز لين او يو ميخانيك هغـه سپېنې مانۍ ته تحويل کړ زما سـره د جمـزلين يو ليك دی، پکې دي: **«جمهور رئيس روزولت ته مې زده کړه چې څنګه موټر وکاروي او هغه راته دخلکو سره ګوزاره زده کړه.»** کله چې سپېنې مانۍ ته ورننوتو موږ يې ومنلو په خپل نامه يې راته غږ وکړ او داسې سلوک او رفتار يې راسره وکړ چې په مخکې يې مضطرب او نا آرام نه وو. هغه زموږ دموټر ستاينه وکړه: «رښتيا چې ډېر ښکلی موټر دی. بس چې په بټن يې زور وکړې خپله روانېږي. زما په فکر ډېر پر تمين دی. نه پوهېږم څه باعث کېږي چې دا موټر دومره ښـه کار کوي، زړه مـې غواړي هره پارچه يې ووينم او پوه شـم چې څنګه کـار کوي.» مـاته يې وويل» ښـاغلی جمـز لين هـغـه وخت او انرژي چې مو په دې مـوټر

لګولې ده.

ستاسو مننه کوم. ستر کار مو کړی دی......» یوځل زما سره یو میخانیك ور غلی و، هغه دنوم تپوس ېې هم وکړ او ډېر ېې وستایه. دزړه له کومې ېې وستایه.

روزولت په دې پوه شوی و دنورو دښه ګمان دجذب یوه آسانترینه، مسلم ترینه او تر ټولو مهمه لار دا ده چې دهغوی نومونه زده کړي او داسې کار وکړي چې هغوی خپل مهم والی احساس کړي.» زموږ څو تنه ددې طریقې پېروی کوي؟

زیاتره چې زموږ سره څوک معرفي کوي، ډېرته دټلو په وخت کې ېې په لار زموږ نه نوم هېر وي. یو ډېر مهم درس چې یو سیاست پوه ېې باید زده کړي دادی: درای ورکوونکو دنومونو یادول دتدبیر او سیاست کارول دي او دهغوی دنومونو هېرول دهېرولو دګردلاندې دهغوی پټول دي. دنومونو یادول نه یوازې په سیاست بلکې په تجارت کې هم مهم دی. دریم ناپلیون دفرانسې امپراتور چې دلوی ناپلیون وراره و، ویل به ېې چې دټولو هغو خلکو نومونه ېې په یاد دي چې ورسره کتلي ېې دي. دده طریقه څه وه. که چا به ورته خپل نوم ښه ونه ښود، اړ ایسته به ېې چې نوم ېې بیا ښه روښانه وواېې. که نوم به عجیب او غریب و د املا تپوس به یې هم تری کاوه. دخبرو په منځ کې به ېې دهغه نوم څو ځل تکراروه او کوښښ یې کاوه دنوم او دشخص د څېرې او عادتونو تر منځ رابطه پیدا کړي او نوم په ذهن کې کېښوي. که شخص به مهم سړې و، ناپلیون به بل زحمت هم ځانته ور کاوه کله چې به بل لوری ترې ته، ده زر کاغذ را اخسته او دهغه نوم ېې پرې لیکه بیاېې ورته ځیر کاته چې ذهن کې ېې کېښي، وروسته ېې کاغذ شکوه. په دې طریقه ېې هم دسترګو له لارې او هم دغوږ له لارې نوم زده کاوه.

ددې ټول کارونو کول وخت نیسي او هماغه یول چې امر سون ویلي دي،

«آدب او ښه معاشرت له کوچنیو فدا کاریو نه جوړ شوی دی»

نو که غواړئ خلکو ته ګران واوسئ لاندې اصل ته پام کوئ:

په یاد لرئ په هره ژبه کې هر چاته خپل نوم تر هر څه ډېر خوږ او ډېر مهم دی.

# اووم څپرکی:

## په وینا کولو کې د مهارت میندنې آسانه لار:

په دې وروستیو کې د بریج بوې میلمستیا ته وبلل شوم. زه بریج لوبه نه شم کولای او دا چې دغلته تک ددغې لوبې لپاره و، په دغه محفل کې یوه مېرمن وه. هغې هم دغه لوبه کوله، خو زما لپاره یې یوه ښایسته لوبه په پام کې نیولې وه دګنو ونښتانو لرونکې چې زما خواته ناسته وه، دخپل عقل دحیرانونکې کشف په باب راته کیسه داسې وکړه:

«نیم ساعت په دې فکر کوم چې تاسو مې چېرته لیدلي یاست. او اوس دې نتیجې ته ورسیدم چې تاسو د لاول توماس دموسسې رئیس یاست. او ماسره مو څو ځل اروپا ته سفر کړی دی. تاسو تل زما سره نویناو دمتن په تیارولو کې مرسته کوله. دا چې زما وینا دګرځندويي په باب وه او باید دهغه ځایونو په باب مې معلومات وړاندې کړی وای چې لیدلي مې و، ښاغلی کارنګي اوس غواړم ته راته دهغو جالبو ځایونو کیسه وکړې چې تالیدلي دي.

ددې لپاره چې دنورو دخبرو شور زموږ دخبرو مخه ونه نیسي، زه یې ورو له لاسه ونیولم اویو آرام کونج ته یې بوتلم او یو بل ته نژدې په یوه توشک کښېناستو هغه بې له دې چې زما ځواب ته منتظره شي خپله یې پیل وکړ.

په دې وروستیو کې مې له مېړه سره افریقا ته تللې وم.

ما بې ارادې ووېل افریقا! څومره په زړه پورې ده، تل مې زړه غوښتل افریقا ووینم خو هیڅکله راته دا وخت نه دی پیدا شوی چې هلته لاړ شم. البته چې یوځل چې مو یو ډله ایز سفر درلود، مجبور شو ۲٤ ساعته دافریقا په یوه ښار کې پاتې شوو، خو هغه یو ښار و او زموږ داوسېدو ځای هم یو هوټل. رښتیا مېرمنې آیا ددې قارې لویو ښکار ځایونو ته هم کله تللي یاست؟ که تللي یاست زما په نظر د ډېرو نېکمرغو خلکو له ډلې یاست او زه درسره حسادت کوم! مهرباني وکړئ دافریقا په باب راته ووایئ. دې مېرمن پوره ٤٥ دقیقې افریقا ته دخپل سفر په باب خبرې وکړې او نور یې زما نه ونه پوښتل چېرته وم او څه مې کول. هغې غوښتل یو اورېدونکی ولري او هغه وکړای شي

دخپلې ځان غوښتنې لپاره مناسب خوراک ولري. دا خوراک ددې د سفر کیسوته غوږ نیول و. آیا هغه غېر عادي او استثنایي ده؟ نه! زما سره خلك دغسې دي. مثلاً څو ورځې مخکې له مشهور نبات پېژندونکي سره مخ شوم، داچې مخکې مې ددې مسلك چا سره لیدنه نه وه شوې، ډېر مې خوښ شو، دده خبرو را باندې دومره اثر وکړ چې چوکۍ په څنډه ورته کښناستم او دبیلا بیلو بوټو او باغچو او کچالو په باب مې دده خبروته دومره غوږ ونیو چې ببخې پکې ورک شوم. زه په کور کې یوه باغچه لرم. هغه په پوره مهرباني راته لارې وښودې چې موجودی ستونزې بې حل کړم. موږ میلمانه وو، خو ما معمول آداب هېر کړل ټول بلل شوي مې هېر کړل، یوازې له ده سره کښناستم. کله چې غونډه خلاصه شوه له ټولو مې رخصت واخست. نبات پېژندونکی دکور په مخکې زما ډېر صفت وکړ او سره له دې چې ما ورته یو ټکی هم نه و ویلی، وویل چې « دوی دبهترینوخبرو کوونکو څخه دي» زه؟ زه ولې؟ زه په زړه پورې وینا وال یم؟ ما خو هېڅ خبرې نه دي کړې. ما خبرې کولای شوې خو باید موضوع مې بدله کړې وای. ځکه په نبات پېژندنه کې خو ما ته هېڅ معلومات نه وو. خو ما یو کار وکړ او هغه داو چې په ټولو حواسو مې دده خبرو ته غوږ ونیوه ځکه ربښتیا مې ورسره مینه پیدا شوې وه او هغه هم احساس کړه چې ربښتیا یې خبرو ته مینه وال شوی یم. دا علت و چې خوښ شو. دا ډول غوږ نیول د چا په باب ډېره لویه ور کړه او مهرباني وه. جك ود فورد د « مینې سره پردی» کتاب کې لیکی: په انسانانو کې ډېر کم داسې دي چې د پوره غوږ نیونې د پوښل شوی تملق په وړاندې، د ژورو خبرو پر موقع خپل ارامولی ساتي. زه دهغه دخبرو دمینوال نه پورته لاړم یانې په مینه مې دده خبرې واورېدې. او سخاوت مندانه مې وستایلې. ورته ومې ویل خبرې مو ډېرې ښوونکې او بوختونکې وی (ربښتیا هم داسې وو).

هغه ته مې وویل غواړم په نبات پېژندنه کې هم څه پوهېدای (ربښتیا هم داسې وه) ورته ومې ویل زړه مې غواړې په چمنونو کې در سره وګرځم (ربښتیا هم وه) ورته ومې ویل باید بیا سره وګورو (باید هم ویې ګورم) زما همدغه سلوک ددې سبب شو چې دهغه په وړاندې زه یو بې سارې وینا وال

څرګند شم حال داچې زه یوازې ښه اوریدونکې وم.

دسوداګرۍ دیوې مرکې راز په څه کې دی؟ د ښه خوی خاوند څیړونکي ایلیوټ په وینا هغه راز چې په سوداګریزه مرکه کې مهم دی دهغه سړی خبرو ته ښه غوږ نیول دي چې ستاسو سره خبرې کوي. دا ډېر لوی راز دی. بل لوری ته تردې هېڅ شي ډېر خوندور او خوښي را وړونکي نه وي.

تر ټولو بد عیب لټونکي او خرده ګیر هم دیو منطقي، اوریدونکي سره نرم او آرام برخورد کوي. که اوریدونکې غلې و نو عیب لټونکې دکوبرا مار په شان راټولیږي او خپل زهر بېرته تویوي. څو کاله مخکې دنیو یارک دتلفن شرکت دیو داسې چا سره مخ شو چې ددوی یو تلفون چې ته یې بېرې سپکې سپورې ویلې وې. چغې یې وهلې چې دتلفون دستګاه به له بیخه ونړوي. دې ته حاضر نه شو چې ځینې قوضونه ادا کړي ځکه دا یې خپل حق ګڼه دعمومي خدمتونو ادارې ته یې بې شمیره شکایتونه ولېږل ورځپاڼو ته یې پر له پسې لیکونه ولیکل او دتلفون د شرکت نه یې شکایت وکړ.

په پای کې دتلفون د شرکت یو ډېر ماهر کار کوونکې د قهرله دې توپان سره دمرکې لپاره ولېږل شو. دې سړي چې دده د بې نزاکتی په وړاندې به یې سر ښکته نیوه او دده له کنځلو به یې خوند اخیست ، غوږ غوږ ورته کېناست او دهغه دهرې خبرې سره یې «هو» ویل او دهغه سره یې همدردې وښودله دې دتلفن مامور چې خپله تجربه زما په ټولګي کې بیانوله ، وویل:

هغه همدغه ډول بدو ردو ته دوام ورکړ او ما ورته درې ساعته غوږ ونیو. دهغه سره مې څلور ځلې مرکه وکړه او مخکې له دې چې څلورمه مرکه پای ته ورسیږي. دهغه سازمان غړې شوم چې شاکې غوښتل جوړ یې کړي. هغه ددې سازمان لپاره «د تلفون دګډون کوونکو د حمایت ټولنه» نوم کېښود. زه تر اوسه ددې سازمان غړې یم او غیر له ده نه زه ددې سازمان یوازېنې غړې یم. دتلفون مامور زیاته کړه. «ما چې ورته پوره غوږ ونیو او دده سره مې همدردې وکړه. هغه دتلفون دغسې مامور نه و لیدلې، نو دده سلوک هم زما سره دوستانه شو. خپل منظور مې نه په لومړې نه په دوهمه او نه په دریمه مرکه کې ده ته ووایه په څلورم ځل مې ورته وویل چې زه په څه پسې راغلی

یم. هغه هم له ځنډ پرته ټول قرضونه راکړل او د لومړي ځل لپاره یې له کمیسیون نه خپل شکایت بېرته واخست.

په اصل کې دې ښاغلي ځان یو «قرباني» ګڼلو چې داستثمار په وړاندې دټولو دحقونو نه ننګه کوي خو په باطن کې بې غوښتل خپل مهم والی ثبوت کړي. لومړي یې خپل دمهم والی احساس په خر لغتو او شکایت لاس ته راوړه خو چې دشرکت نماینده دده دمهم والی خبره تائید کړه، د هغه جدلې شکایتونه هم بخار شول او له منځه لاړل.

ډېره په زړه پورې کیسه ده څو کاله مخکې یو هلیندي مهاجر ماشوم چې له مدرسې ایستل شوی و، دنانوایۍ د دکان کړکی وینځلې او ددې کار پر بدل کې به یې په اوونی کې ۵۰ سینټه اخستل. دده دکورنۍ غړي دومره بې وزلې وو. هغه هره ورځ یو ټوکری له ځان سره وړه او د ډبرو د سکرو هغه ټوټې چې د لېږدېدو په وخت کې به له موټرو توېږي شوې وې راټولولې او کورته به یې راوړې. ددې هلك نوم اډوارډ یوک و. هغه ٦ کاله نه ډېر ښوونځی ونه لوست، خو په پای کې دامریکا دژور ناليزم په تاریخ کې یو تر ټولو لوی دمجلې مدیر شو. ده دا کار څنګه وکړ؟ کیسه یې اوږده ده. دده دپرمختك کیسه به لنډه بیان کړو. هغه دهغو اصولو په منلو چې په دې فصل کې شرح شوی دي، دپرمختیا لار ونیوله.

دې ۱۳ کلن و چې مدرسه یې پرېښوده او وسترین یونین کې یې داوونی په شپږنیم دالرو دنده پیل کړه. خو یوه شېبه هم د زده کړې له فکرنه غافل پاتې نه شو. مطالعه یې وکړه او ځان سره یې زده کړه وکړه. هغه به دټلو راتلو کرایه ساتله او کله به یې حتی سهارنی نه خوړه. ده غوښتل پر دغو پېښو دامریکا دمشاهیرو ددایرة المعارف یوه بشپړه سلسله واخلي، وروسته یې یو بې سابقې کار وکړ: دمشهورو خلکو دژوند کیسې یې ولوستې. له هغوی یې وغوښتل دخپل کوچینوالی دژوند ډېر یادونه ده ته ولیکي. هغه ښه او ریدونکې و، مشهور خلك یې هڅول دځان په باب ده ته څه ووایي. هغه جمز ګارفیلد ته لیك ولېږه چې هغه وخت کې یې جمهوري ریاست ته درسېدو هڅې کولې. په لیك کې یې ترې وپوښتل آیا دا رښتیا ده چې په کوچینوالی کې یې

په یوه کانال کې کشتي په ځان پسې کشولې؟ گارد فیلد هم ځواب ورکړ.

وروسته یې جنرال گرانت ته لیك ولېږه، هغه یې وهڅوه ده ته لیك راولېږي. لږه موده نه وه تېره شوې چې هلك د امریکا له ډېرو مشهورو خلکو سره اړیکې پیدا کړي. مثلا مشهورو خلکو لکه امر سون، فیلپس بروکس، اولیو اندل هولمز، لانگ فلو، مېرمن ابراهام لنکلن، جنرال شرمان او جفرسون دیوس ورسره لیکنی اړیکي ټینگ کړل. ده نه یوازې دې خلکو سره لیکونه لېږل رالېږل بلکې دمناسبې موقع پر مهال به یې کوروته دمیلمه په توگه هم ورته. دې تجربې په ده کې پر ځان باور پیدا کړ. دې خلکو په دې کې داسې همت را پیدا کړي. و چې دده ژوند یې بدل کړ. باید ووایم چې دده دېر مختیا یوازنی علت همدا و چې په دې کتاب کې دښودل شوو اصولو مراعات یې کړي و.

اسحاق ف مارکوس سن چې غالباً تر ټولو ماهر او تجربه لرونکی سړی دی چې له لویو اشخاصو سره یې مرکې کړي دي، وایې: «ډېر خلك نه شي کولای دنورو پام ځانته راواړوي، ځکه چې زیاتره خبرو ته غوږ نه ږدي. دوی په همدی فکر کې دي چې ځنگه دمطرح شوې پوښتنې وروسته زر بله پوښتنه وکړي اوغوړونه یې دبل لورې دخبرو اوریدوته تیار نه وي. «ډېرو دغو لویو کسانو ماته ویلي دي. دوی تر خبرو کوونکو نه اوریدونکو ته ډېر اهمیت ورکوي. خو فکر کوم چې دغوږ نیولو استعداد دنورو ټولو استعدادونو پشان ډېر کم دی» نه یوازې لوی اشخاص د ښو اوریدونکو سره دخبرو تږي دي بلکې عادي خلك هم دغسې دي. یو ځل ریدرز داېجسټ لیکلي و: ډېر خلك ډاکتر خپل کټ ته غواړي، په حقیقت کې دوی چې څه ته اړ دي، هغه زړه خوږي اوریدونکې دي. چې دزړه کیسو ته یې غوږ ونیسي.دکورنی جگړي په نورو کلونو کې لینکلن خپل دوست دالی توېز ته لیك ولیکه چې خواته یې راشي ورته لیکلی یې و، ځینې ستونزې لري چې دهغه په کمك باید حل شي. دهغه پخوانی گاونډی سپینې مانۍ ته راغی او لینکلن ورسره په ساعتونو په دې باره کې خبرې وکړي چې هغه ته ښه ښکاري که نه چې دمریانو دخپلواکی اعلامیه صادره شي. هغه ددې کار پر ضد ټول دلایل له سره وکتل

او دورځپانو لیکنې هې چې ځینې دغلامۍ پر ضد او ځینې یې په پلوی وي ولوستلې. لینکلن تردې وروسته چې ډېره موده هې له خپل پخواني ملګرې سره خبرې وکړې، هغه ته یې لاس ورکړ او خدای پا مانې یې ورسره وکړه او بې له دې چې دده نظر وپوښتي بېرته یې ولېږه. لینکلن اصلاً په دې پېښه کې یوازنی خبر لوځ و. دخپل زړه براس هې په وینا را ایستلې او خبرو یې ذهن روښانه کړی و. دې پخوانی ملګري یې وویل:

داسې ښکارېده چې تردې خبرو وروسته لینکلن ځان ډېر آرام احساسوه.

لینکلن نه غوښتل دچا سره مشوره وکړي، هغه اوریدونکې ته اړتیا درلوده چې همدردي ورسره وکړي چې د هغه درون بار نه چې پراوړو یی و، لږ بې غمه شي. دا هغه څه دي چې موږ ټول ورته دستونزو پر وخت اړ یوو. دا هغه څه دي چې زیاتره وختونه ورته یو قهریدلی اخستونکی کارکوونکی او یا داسې دوست چې احساسات یې ټپي شوي دي اړ تیا لري.

که غواړئ پوه شئ څنګه یو څوک له ځانه وشړئ او دې ته هې اړ کړئ چې درپسې وروسته وخاندي او ریشخند مو کړي. دا خبرې ومنئ : خبرو ته هې غوږ مه نیسئ، هر کله ورته خپلې خبرې وکړئ، یوازنی خبرلوځ اوسئ. که کوم نظر مو و، دهغه خبرې پرې کړئ او مه یې پرېږدئ چې خپلې خبرې پای ته ورسوي. داسې ورته وښایي چې تاسو تر هغه هوښیار یاست او ددې وخت نلرئ دهغه ګډو ویوته غوږ ونیسئ. نېغ په خبره ورودانګئ او په منځ کې یې وینا قطع کړئ.

څوک پېژنئ چې داسې عادت لري؟ زه هې پېژنم او ډېر افسوس دی دا ټول په هغو خلکو کې ډېر دی چې له ټولنې سره ډېر سر وکار لري. دا ټول بې عقلان دي. داسې بې عقلان چې دځان پالنې شرابو داسې مست کړي چې ځانونه تر نورو مهم ګڼي. هغه سړی چې یوازې دځان په باب غږېږي، یوازې دځان په فکر کې وي. د دالت نیکلا بالکر (دکولمبیا دپوهنتون رئیس) په وینا «هغه څوک چې تل په خپل فکر کې وي، بې تربیې سړی دی، که څه هم ډېرې زده کړې ولري.

نو ځکه که غواړئ چې ښه وینا وال اوسئ، ځیر او ښه اورېدونکی شئ.

هغه بول چې مېرمن هام يې وايي: « ددې لپاره چې دنورو دپام ور وګرځئ، نورو ته پام واړوئ.» بايد له بل لوري داسې پوښتنې وکړئ چې هغه يې په خوښۍ او شوق ځواب درکړي. بل لورى اړ باسئ دځان په باب خبرې وکړي.»

دا په ياد ولرئ دهغه چا سره چې تاسو خبرې کوئ تر تاسو سل ځلې ډېر دخپل ځان له غوښتنو او ستونزو سره مينه لري. که يو څوک دغاښ درد لري، هغه ته دا دچين تر قحطۍ ډېره مهمه ده چې دميلونو خلکو د له منځه تګ سبب کېږي. که په غاړه کې يې يوه ابسه abscess وي په افريقا کې تر ٤٠ زلزلو ورته ډېره مهمه ده. بل ځل چې په خبرو کې ګيون کوئ، دا خبره له ياده مه باسئ.

نو ځکه کـه غواړئ خلکو ته ګران شئ دا خبـره په ياد ولرئ او عملي يې کړئ:

**«ښه اورېدونکی اوسئ او نور تشويق کړئ، دځان په باب وغږېږئ».**

# اتم څپرکی

دافرادو دهمکارۍ او دوستۍ جلبول

چاچې په «الهتربې» کې تئودور روز ولت لیده، دده دمعلوماتو له پراختیا حیرانیده. گا ما لیل دفورد ورور په دې باب لیکي: **«که په بل لوري یو پوونده، شپون، اسپ سوار سیاستوال یا ډیپلومات و، روزولت پوهېده د هغه سره څه ډول خبرې وکړي.»**

رښتیا! ده څنگه دا کار کولی شو؟

ځــواب ډېر آســان دی! روزولت چې کله دچا د لېـدنې انتظار ایست تېره شپه یې تر ډېره هغه کتابونه لوستل چې پوهېده میلمه ته په زړه پورې مــعلومــات ولري. دلیل یې هــم دادی چې روزولت دنورو پوهو مشرانو په شان پوهېده چې:

**«دخلکو زړونو ته د رسېدو لویه لار داده چې سړی دهغه څه په باب دبل لوری سره وغږېږي چې هغه ته مهم او گران دي.»**

ویلیام لیون فلپس د ادبیاتو استاد دنورو د دوستۍ درس ډېر زر زده کړ هغه «دبشر طبیعت »په نوم یوه مقاله کې ولیکل:

۸ کلن وم، داوونې وروستـۍ ورځ مـې دترور په کور کـې وه. یوه ورځ یو سړی چې د عمر له نظره زوړو زما دترور کور ته راغی او له ترور سره مې له معمولو ستړي مشو وروسته زما سره په خبرو بوخت شو، زما هغه وخت له کشتیو سره مینه وه او راغلی مېلمه په دې باب دومره خوږې خبرې وکړې چې ما تـه ډېرې په زړه پورې وې. کله چې لاړ ما وویل څومره عالي سړی و. دکشتـیو سره یې څومره مینه ده. ترور مې راته وویل هغه د نیو یارک یو قاضي دی د کشتیو سره یې مینه نشته ما وپوښتل:

ترور جانې نو ولې په باب دومره وغږېده؟

بچیه دا ځکه چې هغه یو «ښاغلی» و او چې پوه شو ته له کشتیو سـره مـینه لرې نو تاسره یې په همدغه باب خـبرې وکـړې په دې

طریقه هغه غوښتل ستا په زړه کې ځای ونیسي او درته ګران شي.

ویلایم فلپس خپله مقاله داسې پای ته رسوي:

«ما ټول عمر هغه ټکی هېر نکړ چې ترور مې ورته اشاره وکړه»

اوس چې داخپرکې لیکم ادوارد ل. چایف یو لیك مې مخې ته پروت دی چې دمخکښانو په سازمان کی و،

«یومناسبه ورځ دې ته ځیر شوم چې یو څوک باید زما سره مینه او مهرباني وکړي. ځکه د مخکښانو یوه لویه مسابقه په اروپا کې جوړېدونکې وه. ما غوښتل دامریکا دیو لوی شرکت مشر ددې سفر لګښت ومني.

له نېکه مرغه مخکې له دې چې هغه وګورم خبر شوم چې هغه یو میلوني چك را ایستلی دی او تر باطلیدو وروسته یې قاب کړی و.

دده دفتر ته ورتګ زما لومړنی کار و چې وغواړم دغه چك له نژدې ووینم، دیو میلون روپو چك وزړه مې غوښتل مخکښانو ته ووایم چې دغسې یو چك مې په سترګو لیدلی دی. هغه په خوښی دغه چك ماته وښود. ما یې له ګنډه دهغه ستاینه وکړه او ترې ومې غوښتل دا راته ووایې چې څه شی سبب شول چې هغه داسې چك را وباسي (ښاغلی چالیف اروپا ته دمخکښانودتلو په باب خبره پیل نکړه او دهغه څه په باب یې خبره پیل کړه چې بل لوري ته مهمه وه) هغه په خبرو راغی او نتیجه یې داوه:

څو شیې وروسته مي ورسره مرکه وکړه. زما نه یې وپوښتل. زما له لیدنې مو مقصد څه و؟ ماهم ورته خبره وکړ چې د څه لپاره راغلی یم. په ډېر تعجب مي ولیدل چې زما غوښتنه یې ډېره زر ومنله بلکې دایې هم وویل چې که کومه بله غوښتنه لرئ هم یې راته ووایئ. ما ترې غوښتی و یوازې یو مخکښ اروپا ته ولېږي هغه له ما پرته د پنځو تنو دلېږلو کار په غاړه واخست او یو زر دالري چك یې راکړ او رانه ویې غوښتل چې یوه اونی په اروپا کې پاتې شو.او هم دارنګه یو معرفی لیك یې راکړ چې دده د موسسې نماینده ګانو ته

ېږ ورکړو او مرسته ترې واخلو. بله داچې پخپله يې پاريس کې ښه راغلی و **وا** به او ښار يې را وښود. وروستــه يې زمـور ځـينو مـخکښـانو ته چې مـور وپلار يې نه و، دندې پيدا کړې او اوس هم زمور په ډله کې فعاله برخه لري.

ښاغلی چاليف د اروپا د سفر تر شرحې وروسته داسې نتيجه اخلي:

# نهم څپرکی

**دځان سره دملتیا لپاره دنورو د لېوال کولو لار:**

یوسپارښت لیك می درلود. غوښتل مې پسته خانې ته دهغه دلبرلو لپاره لار شم. کله چې مې مامور ولیده ډېر خپه او له خپل کارنه بېزار و. دده په لیدو مې له ځان سره وویل: «سرِیه! هڅه وکړه هغه هم دځان په شان کړې» خیلرنني غر ته مي ځواب ورکړ «خپله هڅه کوم تکټ پلورونکی باید مینه پیدا کړي همدا اوس لومړی گام اخلم.» ددې لپاره چې لومړی گام واخلم او هغه دځان په شان کړم باید خبرې مې پیل کړې وای. ځان سره مې وویل «هڅه وکړه داسې زړه وړونکې خبره ورته وکړې چې په زړه یې کیني» کومه خبره به ورته په زړه پورې وي؟ دده دکار په باب خبرې چې دده ستاینه پکې وشي! په دې سړي کې په رښتیا کوم شیان شته چې دستایلو وړ وي او زه یې وستایم. دا ډېره گرانه وه، ځکه هغه یوازنی شخص و چې ما ترې دده په باب څه پوهه اخستلای شوه، او هغه هم په ظاهري ډول. په دې وخت کې ده یو حرکت وکړ چې دپام وړ و، کله چې هغه پاکټونه تلل سر یې لږ راجگ کړ، زما پام یې ځانته ور واړوه، دا موضوع دستایلو وه. زما سترگې دده په ښکلو وېښتانو ولگېدې، زړمې ورته وویل: زړه مې غواړي ستاسې په شان وېښتان مې درلودای! هغه راته لومړی په حیرانتیا وکتل او بیا یې په مات زړه یوه نرۍ موسکا وکړه او ویې ویل: اوس مې دسر وېښتان په پخواني ښه حالت کې نه دي. پخوا تر دې ډېر گڼ وو.

ما ورته وویل چې دده وېښتان ډېر ښکلي او جلبوونکي دي او ورته توضیح مې کړه: کېدای شي، ستاسو دسر وېښتانو هغه پخوانی پر تم لږ کم کړی وي. خو ته ډاډه اوسه چې اوس هم دومره ښکلي دي چې ډېر خلك یې ارمانجن دي. یو زه پخپله یم.

سرې په دې خبرو ډېر خوښ شو او بې له دې چې انتظار وباسي په خبرو يې پيل وکړ. دده وروستۍ خبره چې ماته يې کړې وه، داوه: ستاسو خبره سمه ده، داچې ډېر خلك مې دوېښتانو صفت کوي، ښه به وي زه اوس دا شرط ترم، چې په دغه ورځ چې نوموړې کورته تللې وي له خوښۍ به يو بل سرې و، هغه حتماً د خپلې ځواني مېرمن سره په دې باب خبرې کړې دي. بې له شکه ائينې ته يې کتلي دي. دا چې دپام وړ گرځېدلې خوند يې اخستی دی. حتماً يې ائينې ته په کتو له ځان سره ويلي دي: رښتيا دسر ويښتان مې ښکلي دي. دا يو امتياز دی چې نور ترې محروم دي. يوه ورځ مې ددې ځوان په باب په يو مجلس کې کيسه وکړه. يو چا رانه وپوښتل، دې موضوع تا ته څه گټه ورسوله؟ له ځانه مې بې ارادې وپوښتل «څه گټه مې بايد کړې وي. رښتيا له دې درکه مې هم بايد گټه لټولې وای؟ ومې نه غوښتل موضوع هغه سرې ته ډېره وځلوم چې زما دگټې تپوس يې کړی و، خو دا تاسې ته ځکه وايم چې وړ نتيجه ترې واخلئ که ځان پالنه موږ دومره ټيټ او خوار کړي چې ديو چا په زړه کې دبې لگښته خوښي پيدا کولو نه ډډه وکړو نو له نورو څرنگه دلگښت سره يو ځای پاملرنه وغواړو؟ که وکړای شو په لږه ستاينه مقابل لوری خوښ کړو، او دا کار کوم لگښت هم نه غواړي، نو ولې له دې کاره دگټې تمه وکړو او ځان ته څرنگه اجازه ورکړو چې وپوښتو «دې کار تا ته څه گټه ورسوله؟» که په رښتيا داسې قصد تمه او غوښتنه لرو نو زموږ پر حال دې ډېر افسوس وي چې موږ دډېرو سپکو او بې ارزښته اروا‌ولرونکي يوو.

زه ښه پوهېږم چې که له هغه څه سره چې دده دخوښۍ وړوو، ماورسره مينه نه وای ښودلې او له لومړي سر نه مې نه وای تيار کړی او شوق مې پکې نه وای را پارولی دهغه څه يو په لسمه برخه مې هم ترې نه شو ه اخستلای چې ترې وامې خستل او حتی په

دې بريالى شوى واى چې خواته يې ورشم.

ايا داخبرې په سوداګرى کې هم پکارېږي؟، پرېږدئ يو مثال درکړم:

ها نرى دونورى او زامنو يې چې د بوډۍ پخلو يو شرکت لرى هڅه کوله د نيو يارک په يوه لوى هوټل بوډۍ وپلورى. څلور کاله دهوټل مدير پسې لاړ. راغى. هغو غوندو ته به ته چې مدير به پکې ګډون کاوه، او حتى هوټل کې يې يوه کوټه کرايه کړه چې دهوټل له مدير نه يو سپارښت واخلي. خو بيا هم له ماتې سره مخ شو. هغه توضيح کوي:

دانساني اړيکو په باب له څېړنې وروسته پوه شوم چې بايد تکتيك بدل کړم ، تصميم مې ونيو پوه شم چې دهوټل مدير څه خوښوي.چا داراته څرګنده کړه چې هغه دامريکا د هوټل لرونکو دشورا غړى و. نه يوازې غړى بلکې رئيس يې هم و. هر ځاى چې به ددې ټولنې غونډه وه دى به ورته... بله ورځ چې مې وليد ددې ټولنې دغړو په باب مې خبرې پيل کړې نه پوهيږئ چې څومره ګرمي او شوق پکې پيدا شو! په مينه يې په خبرې پيل کړې. څرګنده مې وليده چې دا ټولنه دده اصلي بوختيا ده او خپل ټول ژوند يې ورته وقف کړى دى. مخکى له دې چې دده له دفتر نه ووځم، ددغه انجمن دغړيتوب کارت يې را باندې وپلوره . ښاغلى دونورى وايي: په دې منځ کې ما د بوډۍ د پلورلو هيڅ خبره ونکړه، خو څو ورځې وروسته راته دهوټل منشي تلفون وکړ چې د بوډۍ نمونه او بيه له ځان سره راوړم. منشي راته وويل: نه پوهېږم چې په دې بوډا مو څه کړي دي چې دومره در باندې مين شوى دى.

ښاغلى دونوري نتيجه داسې بيان کړه: ددې فکر وکړئ: څلور کاله په منظم ډول په دې سړي پسې وګرځېدم، هڅه مې کوله بوډۍ پرې وپلورم. خو په دې هڅو کې مات شوم ځکه نه پوهېدم هغه څه شي سره مينه لري او دکومو خبرو له ويلو خوند اخلي.

نو ځکه که غوارئ خلکو ته گران شئ دا هم یو مهم اصل دی:
دهغوی سره د هغه څه په باب وغږیږئ چې هغوی ورسره مینه لري.

او دا مو حق دی چې په ژوند کې نا کام پاتې شوو. او څوک مو مرستې ته راونه دانگي که ما ته اوس څوک ووایي څه گټه دې وکړه، ورته وایم: «ماله هغه ځوان نه یو گران بیه شی غوښته، هغه چې تر لاسه کړ، هغه داو چې احساس یې وکړ هغه مې خوښ کړې دی، ما ددې انتظار نه درلود چې هغه راته خدمت وکړي. تاسو هم پام وکړئ: که همداسې احساس زموږ په ذهن کې یو محوري حالت ونیسي خپلې ځلیدنې ته به دوام ورکړي.

دانساني سلوک په اړیکو کې یو مهم قانون شته چې که موږ یې ومنو، کله به هم نا آرام نه شوو. ددې قانون په منلو به ډېر دوستان پیدا کړو او تل به خوښ و اوسو. خو همدا چې دا قانون پریږدو، په یو لړ جنجالونو به واوړو. هغه قانون دادی:

تل داسې کار کوه چې بل لوری فکر وکړي ډېر مهم دی.

څرنگه چې مخکې مې هم د پوهاند جان دیوی خبره راوړې وه چې په بشر کې دځان مهم گڼلو مینه تر ټولو ژوره او زیاته ده. پوهاند جمز وایي: دبشر په طبیعت کې تر ټولو ژوره انگېزه داده چې د ستاینې وړ وگرځي. دا انگېزه پر حیوان باندې دانسان د لوړوالي نښه ده. همدې انگېزې دتمدن دمنځته راوړنې اسباب جوړ کړي دي.

فیلسوفانو په زرگونو کاله هڅې کولې دانساني اړیکو لپاره قوانین جوړ کړي په دې باب ددوې دتفکراتو محصول همدا یو اصل و، هغه هم نوی نه دی او لرغونوالی یې دتاریخ لرغونوالي ته رسیږي.

زرتشت هغه درې زره کاله مخکې خپلو لارویو ته ښودلی دی کنفوسیوس ۲٤ پیړۍ مخکې چینایانو ته وښوده لاوتسه دهان په

دره کې خپلو شاګردانو ته زده کړ. بوداهم تر لار شوسد ۱۰۰۰ کاله مخکې هندوانو ته هغه ښوونه کړې وه. حضرتي عيسیٰ (ع) هم شل پيړۍ مخکې د ترو په غونډيوکې دا فکر خلکو ته بيان کړ په نړۍ کې همدا تر ټولو مهم قانون دی:

دنورو سره داسې سلوک وکړه چې غواړې نور يې در سره وکړي. يو فارسي متل دی:

چاته يې مه غواړه، چې ځان ته يې نه غواړې.

(خو همدا قانون زموږ ستر پيغمبر خاتم النبين حضرت محمد ﴿ﷺ﴾ په داسې بشپړ کلام کې ويلی چې بل ساری نلري: **«څه چې دځان لپاره غواړې، دبل وررور لپاره يې هم وغواړه»** (ژباړن)

تاسو غواړئ خوا وشا خلك مو وستايي دخوښې وړ کړنه وکړي. او ستاسې رښتينی ارزښت ته درناوي وکړي. تاسو غواړئ په خپله کوچنی نړۍ کې دمهم والی احساس وکړئ. تاسو نه غواړئ له غرض نه ډک بې ارزښته تملق واورئ. بلکې درښتښې او صميمي ستايلو او تشويق غوښتونکې ياست تاسو غواړئ ملګري او دوستان مو ستاسو صميمانه ستاينه وکړي او په دې باب سخي واوسې.

پربړدئ پورتنی طلايی قانون ومنو او له نورو سره هغسې چلند وکړو چې موږ يې دځان په باب غواړو. څه بول؟ څه وخت؟ ځواب يې دادی: هر وخت، هر ځای کې.

مثلاً ما د راديو سيتی (Radio City) داطلاعاتو د برخې له مسئول نه تپوس وکړ، دهاريسون دکار د دفتر نمره څو ده؟ هغه په ډېره ورو ماته ځواب راکړ. هاريسون (ځنډ) اتلسم پوړ (ځنډ) ۱۸۱٦ کوټه زه ترې روان شوم خو زر بېرته را وګرځېدم او ورته ومې ويل «د هغې لارې نه چې تا دپوښتنو دځواب لپاره ټاکلې وه، مبارکي درته وايم. ستاسو لارښودنه ډېره دقيقه او بشپړه وه. تاسو دا کار د يو هنر مند په شان وکړ. دا غير عادي کار دی». دده

څېره له خوښي وغوړېده. ده راته روښانه کړه چې ولې يې په هره خبره کې ځنډ وکړ او ولې يې هره کليمه په خپل ځای وويله. زما دتشويق خبرې ددې سبب شوې چې هغه ټوله ورځ هسکه غړې وګرځي. په هغه ورځ چې زه پوره ته ختم، احساسوله مې چې دټول بشر په نېکمرغۍ کې مې لږ زياتې راوستې دې.

دستايلو او قدر کولو پر فلسفه دعمل لپاره دا حتمي نه ده، چې تاسو دې د فرانسې سفير يا دکومې ادارې مشر ياست. تاسو کولای شئ ددې طريقو په عملي کولو هره ورځ نه منونکې برېاوې وګټئ.

مثلا که اشپز درته دسره کړې کچالو پر ځای چې تاسو ترې غوښتي و، بل ټول پوخ شوی کچالو راوړې تاسو ورته ووايئ: وبښئ لږ زحمت درکوم ما سور کړی کچالو غوښتي و!

څرګنده ده چې هغه به درته ووايي **«نه هيڅ تکليف نه دی،!»**

داچې تاسو دهغه درناوی وکړ. هغه به په خوښي ستاسو امر ومني. لنډې جملې لکه «وبښئ» «مزاحم مو شوم» او **«آيا دمهرباني له مخې ممکنه ده؟» «خوښه موده چې لطفاً»** او «مننه» دداسې غوړو په شان دي چې د ورځني ژوند څرخونه صيقلوي او د تربيې او نجات دليل هم دي. يو بل مثال به راوړوو:

ايا تاسو دمال کين رومانو نه لوستي دي؟ کين د يوه اهنګر زوی و، اته کاله ښوونځی يې لوستی و. خو چې مړ کېده دنړۍ تر ټولو شتمن اديب و. دده پر مختيا داسې پيل شوه: دا چې هغه دشعر سره مينه لرله د دانته ټول شعرونه يې ولوستل. ددانته د شعرونو په ستاينه کې يې يوه وينا وکړه او دانته ته يې ولېږله دانته ډېر خوښ شو، حتماً به يې له ځان سره ويلي وي « يو ځوان چې زما د فکرونو او شعرونو سره دومره مينه او ښه نيت لري حتمي به ښه استعداد لري،» نو ځکه دانته ددې اهنګرهلك نهوغوښتل لندن ته ورشي او دهغه ځانګړی ليکونکی شي. دا کړنه دکين په ژوند کې يو

عاطفي تکی و، ځکه په نوي پست کې هغه دا چانس پیدا کړ چې له مشهورو ادیبانو سره وپېژني. کین دهغوی په مشوره داسې میدان ته وروداننګل چې نوم یې دادبیاتو پر آسمان ځلاند وکښل شو. کور یې په (ایل اف مان) کې دنړۍ دتورپستانو دمه ځای شو. دومره شتمني چې هغه وخت یې دوه نیم میلونه ارزښت درلود، ترې پاتې شوه. رښتیا کـه ده هغه وینا نه کولای، امکان يې نه و چې په نیستی او ورک نو می کې پاتې شي او هېڅ نوم پرې نږدي؟

د زړه له تل څخه دراوتلی صمیمانه تقدیر او ستایلو ستر ځواک دومره دي.

دانته روسیني ته ځان مهم ښکارېده او دا عجیبه نه ده. هر څوک ځان مهم ګڼي، هغه هم ډېر مهم:

انا تول فرانس وایي **«هرڅوک ځان دنړۍ محور ګڼي.»**

ملتونه هم دغسې فکر لري. ایا تاسو فکر کوئ پر یو جاپاني لوړ یاست؟ دا رښتیا ده چې جاپانی بیا ځانونه تر تاسو ډېر لوړ ګڼي، که یو سخت دریځی جاپاني وګوري چې یوه جاپانی جلی له یوه سپین پوستي امریکایي سره ګډېږي، ډېر سخت په غصه کېږي.

ایا تاسو ته ځان تر هندوانو لوړ ښکاري؟ دا خو هغه امتیاز دی چې تاسو خپل ځان ته ورکړی دی خو خپله هندوان، په میلونو هندوان ځانونه تر تاسو دومره لوړ ګڼي چې که حتی ستاسو سیوری يې پرخوړو ولوېږي. هغه خواړه ناولي (نجس) ګڼي او نه يې خوري.

اسکیموګان هم داسې دي. اسکیموګان خپلو هغو کوڅه ډبو او بې کارو ته چې دهیڅ کار نه وي سپین پوستي وایي او دا کلیمه ورته تر ټولو ډېره سپکوونکې ده.

هر ملت ځان پر بل ملت لوړ ګڼي او همدا احساس وطنپالنه زېږوي! او بیا جګړې او جنګونه.بر بنډ حقیقت دادې چې هر انسان چې تاسو ګورئ په یو ډول درنه ځان لوړ ګڼي او دهغه زړه ته لور

ننوتو ډاډ منه لار داده چې دهغه په خپله کوچنی نړۍ کې دهغه اهمیت ومنئ.

خو دا باید ساختګي نه وي، بلکې په رښتیا او دصمیمیت له مخې وي. امر سون ویل **«هرڅوک په یو څه کې تر ما لوړ دی. زه غواړم هماغه ترې زده کړم.»**

ددې کیسې غم زېږی حالت دادی چې زیا تره هماغه خلك چې تر ټولو لږ حق لري، ځان یو څه وګڼي تر ټولو زیات خپله داخلي بیوسي په ادعاګانو اوله شور او چغو ډکه ځان ښودنه (چې ډېره کرکه را وړنکې وي) ښايي.

لکه څنګه چې شکسپیر وايي: «**ای انسانه، ای مغرور انسانه، ته تر آسمان لاندې دلږ قدرت په پېدا کولو داسې څه کوې چې پرښتې ژړوي.»**

زما د ټولګي یو شاګر څه موده مخکې لانګ ایلند ته دخپلې مېرمنې سره لاړ چې خپل خپلوان وګوري. ښځې يې هغه له خپلې زړې ترور کره پرېښود او خپله دنورو خپلوانو کره لاړه.

دا چې دا ښاغلی پوهېده څنګه دستاينې او تقدير اصول وکاروي او په لو یو مجلسونو کې وینا وکړي، ښه يې وګڼه له زړې تر وری يې پېل کړي. کور ته يې خوا وشا وکتل چې ووینې څه شی پکې ښکلی دي چې رښتیا دستایلو وړوي. دتروری نه يې وپوښتل: لکه چې دا کور پر ۱۸۹۰ جوړ شوی دی.هغه وویل: دا کور ماته هغه کور را یادوي چې زه پکې زېږېدلی یم. دا ډېر ښکلی کور دی. ښه جوړ شوی دی، کوټې يې لويې دي. لکه چې پوهېږئ اوس څوک داسې کورونه نه جوړوي.

زړې بوډۍ مـې و ینا ومنله او ويې ویل: رښتیا وايي اوسي ځوانان ښکلو کورونو ته ډېر فکر نه کوي. هغوی څه غواړي؟ یو کوچنی اپارتمان او یو برښنا يې بخچال او بیا په موټر کې ها خوا دې خوا ګرځېدل. هغې چې دتېرو یادونو يادېې اواز لړزه وه، دوام

ورکړ: دا يو خيالي کور دی او ميني جوړ کړی دی. ما او مېرمن مې کلونه ددې خوبونه ليدل، په جوړولو کې يې موله مهندس نه مرسته وا نه خسته، خپله مو طرحه جوړه کړه.

وروسته ورته تروری ټول کورو ښود او ټول هغه شيان چې په سفرونو کې يې اخستي او دځان په شان يې ساتلي وو. يو يو ور وښودل. داشيان عبارت و له کشميري شال ، انګليسي دچای څښلو سامان، چيني لوښي، فرانسوي بسترې او چوکۍ، استراليايي تابلو ګانې او هغه ورېښميني پردې چې يو مهال د فرانسې په لوی کلا کې ځوړندې وې.

دا ښاغلی وايي، کله چې يې دا ټول شيان را وښودل. ګرا ژ ته يې بوتلم يو نوی پاکار موټر يې را وښوده. بوډی غلې وويل: مېرمه مې راته تر مړينې لږ مخکې دا موټر واخيست له هغې ورځې چې هغه مړدی بيا پکې نه يم ناسته. داچې ستاسو ښکلي او په زړه پورې شيان خوښېږي غواړم تاسو ته يې تحفه درکړم. هغه ورته وويل **«تروری! تاسو ما مه خجالت کوئ، زه خو ستاسو سخاوت ستايم، خونه شم کولی تحفه مو ومنم، زه حتی ستاسو خپلوان نه يم او بل دا چې زه يو نوی موټر لرم. تاسو ډېر خپلوان لرئ، کوم يوه ته يې ورکړئ.»** بوډی چغې کړې «خپلوان هو خپلوان مې شته خو منتظر دی زه مړه شم او نوی مې موټر واخلي، خو دوی به يې وانخلي»

ما ورته وويل **«که داسې نه کوئ نو ويې پلورئ»**

چغه يې کړه **«خرڅ يې کړم، څه فکر کوې دا به خرڅ کړم؟ څه فکر کوې ددی زوړ لرم چې پردي پکې سواره وينم؟ دامې دمېره يادګار دی. زه يې د پلورلو خوب هم نه وينم. غواړم تاسو ته يې درکړم ځکه ستا ښکلي شيان ډېر خوښېږي.»**

هغه غوښتل موټر وانخلي خو دښځې احساسات ټې کېدل، نو نه يې شو کولای وايې نخلي.

دا بوډۍ چې یوازې یې په یوه لوی کور کې له کشمیري شالو، فرانسوي انتیکو سامانونو او چیني لوښو سره ژوند کاوه، لږ ناز، ستاینې او توجه ته اړ وه. هغه یو وخت ځوانه او ښکلې وه. ډېرو غوښته ، یو مهال یې د مینې په زور یو کور جوړ کړ او دنړۍ له هر گوټ نه یې ښکلي شیان پکې راټول کړي وو، خو اوس د زړښت پر مهال یو پوټي مینې ته اړ وه. دوستانو او اشنایانو یې ورسره دغه مینه نه وه کړې. خو نا څاپه لکه په ورانه مېره کې چې ورته بهانده چینه پېدا شي، هغه څه چې یې غوښتل بیا یې موندل. او ډېرې حق پېژندنې یې ونه شو کړای له یو موټر پرته بل شی ددې مینې په بدل کې ورکړي.

یوه بله بېلگه وگورئ: دا کیسه زما دکورسونو گیون کوونکی دونالامك ماهون دیوې ودانیزې موسسې مشر کړې ده: «لږ وروسته تر هغې چې د «څرنگه کولای شو یو دوست پیدا کړو او په نورو کې نفوذ وکړو؟» تر عنوان لاندې وینا مې واورېده. دیو مشهور قضايي وکیل دکور دنقشې په جوړولو لگیاشوم. وکیل له کوره را ووت او په دې باب چې کوم ځای باید بوټي او گلان کېښول شي، ماته یې ځینې وړاندیزونه وکړل.

ما ورته وویل **«ښاغلی قاضي صیب، تاسو ډېره ښه مشغولتیا لرئ، ستا سپي مې ډېر خوښ شول ماته چې معلومه شوه ستاسو سپي هرکال دمیسون میدان کې دایرېدونکې سیالي گټي.»**

ددې کوچنی ستاینې اغېزه له حده ډېره وه قاضي وویل «هو، زه ددوی سره تل تفریح کوم، خوښه مو نه ده چې داوسېدو ځای یې دروښیم؟» هغه یو ساعت په دې تېر کړ چې خپل سپي د هغو جایزو سره ماته وښيئ چې وړې یې وې. هغه یې حتیٰ شجره نامه راوړه او دهغه اغېز په باب یې بحث وکړ چې وراثت یې دهغوی پر هوښیارۍ او ښکلا لري.

په پای کې یې راته وویل **«کوم کوچنی زوی لرئ؟»** ماورته وویل:

هو لرم يې ويې ويل: **«دغه نه خوښېږي چې يو سپې ولري؟ ومې ويل «ولې نه ډېر په توپونو به هم راشي او له خوښۍ به يې غمبورې سره شي.»**

قاضي وويل: **«ډېر ښه چې داسې ده نو يو کوکری تاسو ته ښيم»**

وروسته يې په دې پېل وکړ چې څرنګه کوکري ته خواره ورکړم، لږ غلی شو او ويې ويل: زما لار ښوونې به درنه هېرې شي نو ځکه هغه درته په کاغذ ليکم. کورته ننوت. دکوکرې شجره نامه او اړوند لارښوونې يې چې دکوکرې دخوړو او ساتنې په باب يې ټيپ کړې وې، راوړې او رايې کړي.» دغه کوکري ۱۰۰ دالره ارزښت درلود، پردې سر ببره يې خپل يو نيم ساعت وخت دې ته ورکړ چې ما سره وغږېږي. داټول ددې لپاره وو، چې ما هې د صميميت له مخې مشغولتيا ستايلې وه.

دستاينې دا ښه صفات تاسو په کوروونو کې هم کار ولی شئ. ستاسو مېږ من حتماً د ځينو ښو صفاتو لرونکن ده، تاسو چې له هغې سره واده کاوه حتماً مو پکې څه خوښ شوی و، خو اوس مو څو ځل هغه ستايلې ده؟ ربښتيا ووايئ څو ځل ؟؟؟

څوکاله مخکې دماهيانو ښکار پسې تللی وم او دکانادا په دروکې يوازې په يوه خېمه کې اوسېدم دلوستلو لپاره چې يوازنی شی پيدا کېده، سيمه ايزه ورځپاڼه وه، په دې ورځپاڼه کې مې بيلا بېل خبرونه او ددوورتې دېکس يوه مقاله ولوسته. دا مقاله دومره ښه وه چې هغه مې له ورځپاڼې قيچي کړه او ځان سره مې وساتله. ده ليکلی وو: « له هغو نصيحتونو چې ناوو ته کېږي، ستړی دی، يو څوک بايد پيداشي زومانو ته دانصيحت وکړي».

**«اول يې زده کړه، بيا يې کوزده کړه»** تر واده مخکې ديوې ښځې ستايل او صفت کول داسې موضوع ده چې داشخاصو شخصي لېوالتيا پورې اړه لري، خو تر واده وروسته ستايل او

نازول ضروري کار دي او د شخصي ساتنې دلاس ته راوړنې وسیله ده، واده دصفا او خلوص نه ډېر د ډیپلوماسی میدان دی.

«که غواړئ هره ورځ د شاهانو په شان خواړه وخورئ هېڅکله دخپلو مېرمنو دکور کار مه غندئ اویاد دهغې او بل چا د اشپزی زړه تورونکی پر تلنه مه کوئ بلکې بر عکس دهغې ستاینه وکړئ دا ورته ووایئ، دداسې ښځې سره مې واده کړی چې دونوس په شان ښکلې، دمېترا په شان هوښیاره او د میری آن په شان لایقه ده حتیٰ کله چې کباب دخرمن په شان او مانبامنی دسکروټې په شان وي، شکایت مه کوئ. یوازې ورته ووایئ، خواړه د خپل ورځني ستندرد سره برابر نه دي. په دې صورت کې به مو مېرمن ځان دنغري خواته قرباني کړي. هغه عالي حالت ته ځان ورسوي چې تاسو ورته په نظر کې نیولی دی.

دا کار نا ځاپي مه کوئ، ځکه په تاسو بد گمانه کېږي. نن یا سبا شپه ورته یو گل او څو پاکټه شیرېني راوړئ کله ورته لږه موسکا او څو له مهربانی ډکې خبرې هم وکړئ که ښځو او خاوندانو داسې کولای نو دا اوس چې په شپږو کې یو واده په طلاق پای ته رسي، داسې به نه وه.څنګه به دښځو مرسته جلبوئ، راورتي دیکس وایي: هغه د یو داسې سړی سره مرکه وکړه چې د ۲۳ ښځو نه یې دبانکي حساب گډون اخستی و. (دا مرکه یې ورسره په زندان کې کړې وه) ده ترې پوښتلی و، تا څرنګه دغه ښځې جذب کړې؟ هغه ځواب ورکړ:

ډېر آسان دی، هر کله چې غواړئ د یوې ښځې مرسته جلب کړئ، لومړی دهغې په باب خبرې وکړئ دنارینه و په باب هم دا تکتیك بریالی دی.دسیرائیلی یو ډېر لوی سړی و چې دانګرېز پر امپراطوری یې مشري کوله، وایي.له یو سړي سره دهغه په باب خبرې وکړئ هغه به ساعتونه ستاسو خبره واوري.

تاسو ډېره موده دا کتاب ولوست کوشش وکړئ چې دستایلو

دفلسفې اصول پېر دخپلو نژدې اشنایانو په باب وکاروئ، زړ به يې نه باوريدونکې اغېزې ووينئ.

بيا هم که غواړئ خلکو ته گران واوسئ، لاندې لاربښوونه پلې کړئ.

**«داسې کار وکړئ چې بل لوری ځان مهم احساس کړي، دا کار دصميميت له مخې وکړئ» .**

د دوهمې برخې لنډيز دنورو ددوستی جلب لپاره شپږ لارې.

۱- هرچا ته مينه وال شئ

۲- موسکا وکړئ.

۳- دا په ياد ولرئ چې يو سړی ته خپل نوم تل تر ټولو مهم او تر ټولو خوږ غږ دی.

٤- ښه اورېدونکی اوسئ، نورو هڅوئ، دځان په باب وغږېږي.

٥- دهغه څه په باب وغږيږئ چې بل لوری ته مهم وي.

٦- داسې کار وکړئ چې بل لوری ځان مهم وگڼي او دا کار دصميميت له مخې وکړئ.

## دریمه برخه:

له ځان سره دنورو د یو نظري کولو ۱-۲ ګونې لارې:-

## لسم څپرکی:

دا ثمه مه کوئ چې په خبرو اترو (مباحثه) په سلو کې سل بریالي شئ.

له نړیوالې جګړې ډېره موده نه وه تېره شوې چې یوه ورځ مې په لندن کې له ارزښت ډک درس زده کړ. پر هغه مهال زه دسر اسمیت کار کوونکی وم. دغه ښاغلی دجګړې پر مهال په فلسطین کې دا سترالیا یو ډېر تکړه او تر ټولو ماهر پیلوټ و.. دسولې تر اعلان وروسته هغه په دېرش ورځو کې له ټولې نړۍ نه وګرځېد، او په خپل دی کار هې خلك په اریا نتیا کې ډوب کړل. تر ده مخکې دا مهم کار چا نه و سرته رسولی او ځکه دده دې زړور کار ډېر لوی تاثیر وکړ. داسترلیا دولت ددې اقدام په بدل کې پنځوس زره ډالره جایزه ورکړه. دانګلستان پادشاه د «شوالیه» په لقب وویاړه. او څومو ده یې هماغه دریځ ورکړ چې په امریکا کې یې درلود.

یوه ورځ زه هم په هغه میلمستیا کې وم چې ددې زړور پیلوت په ویاړ جوړه شوې وه.

دما ښام ډوډی خوړلو پر مهال یوه ښاغلي چې زما څنګ ته ناست و، راته یوه خندونکې کیسه وکړه چې دا یوه جمله مې له دهغې نه یاد وه:

یو داسې خالق شته چې زموږ سر نوشت لیکي. کارونه زموږ دغوښتنې او مراد پر بنا نه ترسره کېږي، ځکه دهغه مشیت زموږ تر ادراک لوړ دی.

راوي ددې جملې تر ختم وروسته وویل: دا دسپېڅلي کتاب جمله ده؟

ما ورته وویل دغه جمله په لږ تغیر دانګرېز شاعر ویلیام شکسپیر ده. ما چې ورته دا وویل، هغه وویل: دچا؟ دشکسپیر ده، دا هېڅ نه شي کېدای، څه چې مې وویل زه په هغه پوره باور لرم. زما دې بلې (ښی) خواته یو بل سړی ناست و چې کلونه یې دشکسپیر په اثارو کې څېړنې کړې وې او اکثره یې په یادوو. کله چې زما دمخاطب سر زوري تر حده واوښته له ده مې وغوښتل! ښاغلی! تاسو دشکسپیر داثارو په باب ډېره مطالعه لرئ؟

هغه سر دتائید په ډول وخوزاوه، ما دوام ورکړ: دا ښه ده چې قضاوت تاسو ته پرېږدو دې بل لورې هم ومنله او ویې ویل سمه ده دا ډېر دزیاتو معلوماتو خاوند دی.

دښي اړخ دوست مې دمېز لاندې په پښه زما پښه وخوزوله او راته ویې ویل:

ستاسو خبرې مې واورېدې، ددې ښاغلي خبره سمه ده، ته اشتباه کوې، دده دغه وینا په هماغه کتاب کې راغلې ده. دا جمله په مستقیم ډول شکسپیر پورې اړه نلري. زه دهغه پښې دفشار نه پوهېدم چې باید غلی شم.

په لار کې مې خپل ملګري ته وویل: **«ته خو پوهېدې، ولې دې انکار وکړ؟»**

ملګري مې وویل «زه پوهېږم دا جمله دها ملت دننداري د پنځمې پردې په دوهمه صحنه کې ده خو ګرانه دیله! موږ دڅه شي مجلس ته بلل شوي وو، دا پروګرام نه و چې دچا د سهوې د ثبوتولو کار وکړو. ته څه فکر کوې چې که هغه سړي ته دې زباد کړ ی وای چې دغه د شکسپیر ده، نو هغه به درته خوښ شوی وای او مننه به یې کړ ی وای چې تا یې سهوه ثبوت کړې ده؟ څه تاوان یې درلود چې دهغه ابرو وساتم؟ هغه خو دزړه له کومي ستا نظر نه وغوښتی او دې ته یې څه اړتیا هم نه وه، ځله مو ورسره بحث کړی وای؟

زما دې دوست چې څو څو ځلې یې ماته لار ښوولې ده په ډېره

تواضع یې دا وار یې چې معلومات یې د مطالعې له لارې لاس ته راوړي دي،. دغه شیبه یې په داسې نرم اواز چې زما دځورېدنې سبب هم نه شي وویل:

تل له مباحثونه لیرې گرځه، دهیڅا نه خوښېږي، په مباحثه کې نا کام شي.

ملگرې مې وویل: ددې جملې ویونکی مړ دی، خو اثر به یې تلپاتې شي ځکه یو لوړ حقیقت ته یې پام شوی دی.

په ځوانۍ کې مې تل له خپل وروړ سره بحث کاوه. دا هغه وخت و چې لا پوهنتون کې نه وم شامل شوی او دمنطق او مناظرې له فن نه مې هیڅ معلومات نه درلودل. پوهنتون ته تر تللو او د منطق او مناظرې پر اصولو تر پوهېدو وروسته به بیا هم دمباحثو غونډ و ته تللم. د پوهنتون تر پای ته رسولو وروسته مې تر ډېره د مناظر و درس ورکاوه او په ډېر شرم باید ووایم چې غوښتل مې په دې باب یو کتاب هم ولیکم. دا چې تر دغه وخته مې ډېرې مناظرې اورېدلې وې، ډېر انتقادونه مې کړي وو، او دځان په باب مې د زرگونو مناظرو نتیجې درلودې او تحلیل او تجربه کړې مې وې، ددغو مناظرو، اورېدو او لیدو او لوستلو نه مې چې تر ټولو ښه نتیجه اخستې وه داوه چې په مناظره او مباحثه کې دبرې موندنې لار دهغې نه ډډه کول دي او بس.

**«هماغه ډول چې له ناتارونو لکه زلزلو نه ویرېږئ او ترې تښتئ، دغسې دمباحثې او جنجالي بحث نه هم وتښتئ.»**

د پورته نظر په توضیح کې مو پام وي چې په هیڅ ډول نه شو کولی په مباحثه کې برېالی شوو په بله وینا په مباحثه کې برى نشته. که په مباحثه کې نا کام شوئ، څه مو لاس ته نه دی راوړي او که برېالي هم شوئ، بیا هم نا کام شمېرل کېږئ، وبه پوښتئ، ولې؟ نو لاندې ټکیو ته ځیر شئ.

داسې وگڼئ چې دبل لورې سره مو په مباحثه کې له حنجرې نه

لوړې- لوړې دبري چغې را وایستی او هغه مو مات شوی وګڼه، او دامو زباد کړه چې مات شوی یو ناپوه دی.

بیا یې څه؟ تاسو به ډېر خوښ شوي یاست؟ څه نتیجه ورکوي؟ هغه ته مو زباد کړ چې تر تاسو ټيټ دی! په دې خو مو دهغه غرور ټپي کړی او هغه ستاسو پر بري قهرېدلی دی. وروستی پایله به داوي:

دنورو د ګروهې (عقیدې) په بدلولو کې به مو هڅه بې ځایه او چټي وي. **«څکه هغه به ستا دغوښتنې بر خلاف پر خپل نظر نور هم ټینګ شوی وي.»**

د بیمې یو شرکت دخپلو کارکوونکو لپاره لاندې جمله دیوه سر مشق په توګه کاروله:

بحث مه کوئ!

دنورو د پوهولو لار مناظره او بحث نه دی، دنورو قانع کول دې پورې اړه نلري. دانسان فکر په بحث او جدال نه شو بدلولای.

څو کاله مخکې دپاتریك او هر په نوم یو ایرلینډی زما دکورسونو شاګردو. دی به په ډېره مینه ټولګې ته راته. ښاغلي او هر دډېرو معلوماتو سره سره بحث او مناظرې سره یوه لېونی مینه درلوده. دده په خپله وینا هغه یو مهال موټر چلوونکی و، بیایې موټری پلورلې. دا ددې لپاره زما ټولګې ته راغلی و چې داسې څه وروښایم چې هغه په خپل نوي کار کې بریالي شي. زه ډېر پرې پوه شوم چې دبحث ډېر سخت پلوی دی او طبعاً غواړی په بحث کې بریالی هم وي: او حتی غواړي دخپل پېرودونکي سره هم بحث وکړي. ددې فکر تاسو وکړئ، یو بېچاره چې دده نه په اخستی ماشین کې یې څه عیب پیدا کړی وي او ښاغلي او هر ته یې ووایي، نو ښاغلي او هر دواره سور کېږي او غواړي چې پیرودونکي له مرې نه ونېسي.

ښاغلی پاتریك ماته ویل: «البته په دې وروستیو ورځو کې به په

بحثونو کې ډېر ښه بريالي کېدم.

ډېر راته پيښ شـوي دي چې کله به ديو چا ددفـتـر نه راووتم. ځان سره به مې ووی: ددې بې عقل حق مې په لاس کې ورکړ، په موضوع مـې يې سـر خـلاص کـړ، دداډ خبره ده چې پرې بريالی شوم خو ښه! ومې نه شو کولی څه پرې خرڅ کړم.

دښوونکي په توګه زما لومړنی ستونزه دانه وه چې زه ده ته خبرې زده کړم، ما بايد څنګه کړی وای هغه له بحث او جګړې نه راوګرځوم ده ته د ښوونې لار ډېره ګرانه ووهل شوه خو پايله يې ښه وه. ځکه چې ښاغلی پاتريك اوس د نيو يارک د ډوايت موتورز» دشرکت يو ډېر مهم پلورونکی دی.

هغه څرنګه بريالی شو دا دريځ تر لاسه کړي؟ کيسه دده له خپلې خولې او رو:

- اوس چې دا خـسـتـونکي کوم داسـې دفـتـر ته ځم چې راته ووايې، که دا موټر وريا هم راکړې نه يې اخلم- ځکه هو ډمې کړی يو هايوسينټ موټرواخلم، که دغه واخلې هم خپلې پيسې دې ډېځايه له منځه نه دي وړې ځکه هغه يو داعتبار وړ شرکت کې جوړېږي. پلورونکي ېې هم ښه او داطلاعاتو لرونکي خلك دي دښاغلي پاتريك نه مې وپوښتل:

دا مسئله ورسره ولې مطرحوې؟ او دخپلو پر ځای دبل دمالونو ستاينه کوې؟

ده وويل:

ددې لپاره چې هغه غلی کړم او دمباحثې او جدل لپاره ځای پرېږدم.، ځکه هغه خو لومړی ماته وېلی چې د رقيب مال ښه دی او تيار دی له خپل نظر نه دفاع وکړي. خو زه چې دده دخبرې په تائيد مخکې ځم. دمباحثې لپاره ځـای نه پاتې کېږي. زه بيا موضوع بدلوم او په مناسبه موقع کې دخپل شرکت دموټر دښېګنو په باب پېل کوم. پخوا به مې په داسې وختونو کې درقيب دمال په

غیبت او بدویلو کې زیاتی کاوه او خبره به مې جنجال ته رسېده. په ډېر افسوس اوس پوه شوم چې دخپل ژوند څو ډېر ښه کلونه مې په بحث او جنجال تېر کړي دي، خو اخر راته تاسو یاد کړل چې بحث ونکړم او خوله پټه کړم. عجب دا چې دیټې خولې ګټه راته ډېره ده. دمشهور مفکر بنیامین فرانکلین نظر به په دې باب ولولو:

کیدای شي د بحث او جدال په نتیجه کې کله کله بری تر لاسه شي، خو دابری بر سېرن دی ځکه اوس نو دې دوه لاروکې کومه ټاکئ؟

١- بر سېرن (ظاهري) بری.

٢- دنورو دهمکاري جلبول.

دا هم مه هېروئ چې کولای شئ دواړه تر لاسه کړئ او په یوه تیر دوه مرغی وولئ.

یو ځل دبوستون اقتصادي موسسې لاندې قطعه چاپ کړه، اوسنئ نتیجه یې مهمه ده:

**«دا کېدای شي تاسې حق په جانب اوسئ اوپه مباحثه کې بری وګټئ، خو دا چې له دې لارې دنورو نظر نه شئ جلبولای، هېڅ ګټه درته نلري. او دا کار په مناظره کې له ماته خوړلو سره هېڅ توپیر نلري»**

تر ډېر ژوند او سیاسي هلو ځلو وروسته اوس پوه شوم چې د مناظرې له لارې پرناپوهی بری ناشونی دی.

نه یوازې ګران بلکې ناشونې دی چې دمناظرې په وسیله خلك مغلوب کړئ.

دا مه هېروئ چې له پوه نه نیولې تر ناپوه او جاهل هېڅوک به حاضر نه شي ستاسو نظر ته تسلیم شي. کنستانت دناپلیون دخدمتګارانو مشر چې دناپلیون له ښځې ژوزفین سره تر هر چا ډېر نزدې و، **«دناپلیون کورني ژوند»** کتاب کې لیکي:

سره له دې چې دبیلیارد په لوبه کې ډېر ماهر وم، خو تل مې

داسې لوبه کوله چې ژوزفین لوبه وګټي. ځکه زما دې کار هغه ډېره خوشالوله.»

پرېږدئ چې په کورنیو او سوداګریزو او اداري مباحثو کې زموږ مقابل لورى پر موږ بريالي شي.

ديو پوه وينا ده:

«کينه او کرکه هيڅ کله په کينه او کرکه نه وينځل کېږي، بلکې په مينه مينځل کېږي.»

اشتباه هم په بحث او جدال پای نه مومي، بلکې سياست ته اړه لري. سړى بايد دنورو له سترګو مسايلو ته وګوري.

لنکلن يوه ورځ يو ځوان افسر په دې ملامت کړ چې له نورو نظاميانو سره يې بحث کاوه. ورته ويې ويل:

هر څوک چې ډېر مختګ څوکې ته رسېدل غواړي د جنجال لپاره به وخت ونلري. جنجال سړى تند خويه اورنى مزاجه او شډل کوي او ددې ټولو اعمالو نتيجه دده له لاسه داعصابو کنترول خارجوي په داسې حال کې چې تاسو پر حق ياست،، په جنجال کې له خپل حق نه تېر شئ. دا حق نورو ته ورکړئ. دا ښه ده چې لار بدل کړئ او پر خپل غرور په اتکا سره په هغه لار لاړشئ.

چې ځيرونکي سپي مو پښه ونه چيچي.

نو ځکه که غواړئ نور له ځان سره په يو نظر کړئ، لاندې لارښوونه پلې کړئ:

په مباحثاتو کې ددېرې تر ټولو ښه لار داده چې په مباحثاتو کې برخه وانخلو.

# یوولسم څپرکی

## د دښمن جوړولو طریقه

ددښمن جوړولو دلار مخنیوی:

روزولت دامریکاجمهور رئیس یو مهال اعتراف وکړ:

**«که په سلو کې پنځه او یا کارونو کې مې دښېګنې لار وهلې وي باید ځان نېکمرغه وګڼم.»**

که موږ په سلو کې پنځه پنځوس په کارونو کې سم چلېدلي یوو، نو نه یوازې باید پر ځان باور ولرو، بلکې ډېر بریالی خلك یوو که داسې یاست چې ٪ ۵۵ کارونه مو سم دي، نو کولای شئ داسې تجارت وکړئ چې د ورځې یو میلیون ډالر وګټئ او له یوې ښکلې پېغلې سره واده وکړئ.

انسان له خطا وو سره ملګری دی. ښه سړی هغه دی چې دغلطیو سلنه(٪) یې کمه وي.

همدې نظر ته په درناوي آیا خوښه مو ده. ستاسو غلطی درته مخامخ وویلی شي؟ زما خودا هېڅ نه خوښېږي، خو کله ددې اړتیا وي چې سړی ځینې خلکو ته دهغوی اشتباهګانې وروښایي.

دا سې وخت کې باید څه وکړو؟

په اجباري شرایطو کې کله داسې کېدای شي چې په یوکتلو او یا دوینا دطریقې په بدلون د بل لوري اشتباه یا غلطي وروښایې. که چا ته ووایې، په غلطه لار روان دی، ګرانه ده چې درسره ویې مني، ځکه تاسو دېېغور په تېره څوکه دهغه پر معلوماتو، شخصیت، درناوی او غرور یوه ضربه وارده کړې او په مقابل کې هغه هم غواړي دغه خبره جبران کړي. هغه لا تر اوسه دې درجې ته نه دی رسیدلی چې په نا روا کار یا فکر کې یې څه بدلون راشي. تاسو که د افلاطون او ارسطو تول حکمت هم ورته ددلیل په شکل وړاندې

کړئ، بریالی به نه شئ.

د هغه نظریه بدله کړئ.، ځکه دهغه تېپې شوي احساسات چې تاسو يې سبب شوي یاست، دې ته اجازه نه ورکوي. هېڅکله چاته مه وایئ «غوارم دا درته ثابته کړم.» دا جمله پخپله ډېره ورانه او خرابه جمله ده.

که چاته ووايې «غوارم څو ټکي درته ياد کړم چې تاسو خپله نظریه بدله کړئ. نه يوازې مو دهغه مخالفت را پارولی بلکې دهغه سره مو دمبارزې اعلان کړی دی.

په داسې شرایطو کې چې په نرمی او مسالمت سره هم دیو چا دنظر بدلول گران دی نو په دعوه او مرافعه به دا کار څرنگه وکړو. ربتیا ځله په دې کار ځان ته تکلیف پیدا کوو او ځانته سردردي پیدا کوو؟ په داسې وخت کې چې نا چار اوسئ يوه موضوع چاته زبات کړئ. ډېر نرم او بې له دې چې بل لوری يوه شي ستاسې منظور څه دی، ورو ورو خپل کار تر سره کړئ، په بله وینا کار مو باید داسې وي:

**«نورو ته داسې درس ورکړئ چې پوه نه شي له تاسو يې درس زده کړی دی، ځکه چې نادرک شوي شیان داسې دي لکه هېر شوي.»**

لرد چستر فیلد چې دانساني اړیکو په باب يې نظر يې لاربښوونکې دي، خپل زوی ته وايي: «څومره چې کولای شې هڅه وکړه تر نورو هوښیارې کړنې وکړې، خو دخپلو هوښیارو کړنو په باب له هېچا سره خبرې او بحث مه کوه.» هغه ددې عبارت په توضیح کې وايي:

«تن تول هغه شیان چې شل کاله مخکې مې منل، دضرب د جدول پرته نور يو يې هم نه منم حتی کله چې دانشتاین نظر يې لولم هم شك مې له سرنه نه وزي. له ځان سره وایم هسې نه چې يو داسې نظر اعلان کړم چې شل کاله وروسته يې پخپله نه منم.

هو، اوس د پخـوا په شـان په هر څـه یقـین نلرم او باوه نه یم.
سقراط په اتن کې خپلو شاګردانو ته ډېر ویل:

«یوازې په یو شی پوهېږم چې نه پوهېږم.» په ختېځ کې هم ډېر داسې پوهان شـته چې اعتراف یې کړی دی، هر څـومره چې یې معلومات او پوهه پراخېږي، په همـاغـه اندازه دخپلو مـعلومـاتو په کمی پوهېږي. دا دانسـان ځانګړنـې دي چې د نوو مسـایلو د پېداکولو په صورت کې ورته داسې نوي مسایل رامخ ته کېږي، چې پرې نه پوهېږي، کله چې سقراط په دې معترف دی چې نه پوهېږي، نو زه او ته چې تر مـعمولي خلکو لوړ نه یوو،څرنګه دا دعـوه کولی شو چې تر سقراط هوښیاران یوو؟

دهمدې عقیدې له مخې ده چې زه چاته هېڅکله نه وایم، لار دې غلطه ده. دا دپام وړده چې مـا له دې طریقـې څومره ښـې نتیـجې اخستې دي. کله چې څوک اشتباه کوي زه ورسره موضـوع داسې په منځ کې اچوم:

-دمـهربانـی له مـخـې لږ مـاته پام وکړه، مـا بل ډول فکر کـاوه، کېدای شي اشتبـاه کوم، ځکه ډېرې اشتبـاه ګانې رانه شوي دي ددې لپاره چې لیرې شي، نو ښه ده چې حقایق یو ځل بیا له نظره تېر کړو.

تاسو هم له دې طریقـې کا واخلئ، ځکه ډېرې لوړې نتیجې لري. هېڅوک به هـېچیرته په دې کلمو انتقـاد ونکړي البتـه دا طریقه زمـا خپل نوښت نه دی، دا طریقه یوه پوه کارولې او چې اغېز منتوب یې مالیدلی، غواړم زه یې هم وکاروم.

مـا یوځل دمشهور ګرځندوی او نومیـالي پوه استفـانسون سره مرکه کوله. هغه چې ۱۱ کـاله عمر دشمالي قطب په سیمو کې تېر کړي وو، شپږ کاله یې یوازې د اوبو او غوښې په خوراک تېر کړي

وو. ما ترې وپوښتل:

په دې بول خوړو تا دڅه شي تابتول غوښتل. هغه په ډېره ارامی ځواب راکړ:

یو پوه په دی پسې نه گرځي څه زبات کړي، هغه بوازې هڅه کوي رښتیا و ته نږدې شي که په خپله خطا اعتراف وکړئ. هېڅکله به په زحمت نه شئ او په زړه پورې یې لا دا ده چې اعتراف به موله جرو بحث نه هم بچ کړي.

که په دې داېه یاست څوک سهوه کوي او تاسو غواړئ سهوه یې په بې باکی او بر بندېه وروښاېئ، څه به پېښ شي، زه بې درته وایم څه به پېښ شي: یو مثال به درته ووایم: ښاغلی لس یو ځوان وکیل په دې وروستیو کې یوه ډېره مهمه موضوع دنیو یورک په یوه پوهنتون کې وڅېړله. دې موضوع په ډېرو زیاتو پېښو پورې اړه درلوده دمباحثې په جریان کې یو لوړ رتبه قاضي ښاغلي لس ته وویل: دسمندري ځواکونو قانون په دې موضوع کې اختلاس شپږ کاله ټاکلی دی، همداسې نه ده؟

ښاغلی لس دقاضي دخبرو په پای کې هغه ته رټ وویل:

نه ښاغلیه!، دسمندري ځواکونو په قانون کې دې موضوع ته محدودیت نه دی ټاکل شوی.

ددې خبرې وروسته په غونډه یوه مرگونې چوپتیاه خوره شوه، ته به وایې د گرمی درجه تر صفر کمه شوې ده، البته قاضي خو رښتیا اشتباه کوله. خو ښاغلی لس وایې، چې هغه زما څخه مننه وکړه؟ نه! زه اوس هم فکر کوم چې هغه دعوه باید ما گټلې وای، ځکه پوره دلایل مې درلودل خو بریالی نه شوم. ما مخامخ دهغه نظر ردکړ، دهغه بې احترامي مې وکړه، هغه هم داسې وکړل ښکاره خفه شو او زما دنظر په وړاندې بې بې احترامي وکړه دی دخلکو په منځ کې د منطقي په فکر کولو کسان ډېر کم دي .ددې لړکیو په مقابل کې ډېرکي داستثنی پرته غرضیان او اشتباه

کوونکي دي (زه هم ددې اشتباه کوونکو څخه يم خو غواړم لار ورته ومومم) دا ستر اکثريت غرور، حسادت او بدګمانۍ رانده کړي دي. ددوارو په منځ کې په زړه پورې ټکی دادی چې ددوارو نه يو هم دې ته نه حاضرېږي چې له خپل نظر نه تېر شي: آيا تاسو حاضرېږئ خپل مذهب پرېږدئ؟ نه! هيڅوک دا کار نکوي په ډېره ټېټه سطحه غواړئ هغه خواره چې تل درته خوندور و، زما په خوله چې درته وايم دغه ښه نه دي او هغه څه وخوره چې زما خوښېږي، پرېږدئ؟

دنورو نظر بدلول ډېر ګران دي، خو که اوس هم غواړئ دنورو سهوې ورته وښائي نو زه درته مشوره در کوم چې هر سهار چې را پاڅېدئ، دسهار تر چای مخکې پر ځمکه کېنئ او لاندې کرښې چې د پوهاند جمز هاروی روبنسون له کتاب نه مې درته خوښې کړې دي، ولولئ:

کله کله موږ په ډېره اسانۍ اوبې دليله خپل نظرونه بدلوو خو که راته وويل شي نظر موسم نه دی او په کړه لار ځو، ددې تهمت نه سخت ځورېږو. ښېلې ښېلې نظر يې ډېرې زر منو خو که څوک وغواړي موږ له خپل نظر نه تېر شوو، دمرۍ رګونه مو له قهره پړسېږي دلته نو يوازې نظر نه دي چې راته ګران دی بلکې احساسوو چې غرور او ځان غوښتنې مو دله منځه تلو سره مخ شوې دي او سمدستي يې دفاع ته را پاڅېږو. په ربښتيا موږ له خپلې ځان غوښتنې دفاع کوو نه له نظر نه. دانسان په ژوند کې د لومړي شخص مفرد ضمير «زه» چې يوه دوه ټکو کليمه ده، ډېره مهمه برخه سرته رسوي، که ددې دوه ټکيزې کليمې معنیٰ سمه وپېژنو نو دځان پېژندنې لورته مو چې دعقل او پوهې ربښتينې سرېزه ده ګام اخستی دی.

کله چې وايئ: « زما کتاب، «زما» کور، «زما» هيواد، «زما» پلار، «زما» زوی او «زما» خدای (ج)، نو نورو ته داسې ملکيت دلرلو

احساس ورکوئ چې تاسو یې مسئولیت لرئ. که په هغه شي چې «زما» په مسلم شوی ملکیت کې ایراد را منځ ته کوي، نا ارامه او عصبي کیږو، په داسې حال کې چې ډېر شیان کیدای شي تر انتقـاد لاندې راشي خـو چې «زمـا» سـره ارتبـاط نلري، نه مونارامويي. دداسې وینا مفهوم دادی چې هېڅوک نه خوښوي عیب ولري او انتقاد پرې وشـي. موږ ټول لېوال یو چې پر خپلو اعتقادونو او موندنو ټینګ پاتې شوو او پر سموالي یې زور واچوو! په بله وینا ډېره ګرانه ده دنورو ومنو چې نظرونه او عقیدې یې تر موږ ښـې دي. که څوک مو پر نظر شك او انتقاد وکړي سمدستـي ورته یو زرویو دلیله جوړوو چې دده خپل نظر دی، نه زموږ او همدلته جدال را منځ ته کېږي او موږ پر دلایلو دخپل نظر دفا ع کوو!

هغه خلکو ته چې دانسـاني اړیکو په باب غوارړي ښـه معلومات ولري، سپارښت کوو چې دبنیامین فرانکلین کتاب ولولي چې دخپل ژوند په باب یې لیکلی دی.

دی دکتاب په لومړۍ څپرکي کې دا موضوع بیانوي چې څرنګه بریالي شـو له نزا ع او جـدال او بحث نه لاس واخلي او دعـادت په دغه بدلون دسیاست په لویو خلکو کې راشي.

کله چې بنیـامین ډېر ځوان و، یوه ورځ یې یوه دوست ببل کړ او ورته ویې ویل:

«بنیامینه! ته ډېر تند خویه ځوان یې، له هر چا سره چې له نظر سـره دې وران وي بده ګـوزاره کـوې، او تمه دې داوي چې هـغـه وویروې، همـدا خبـره ده چې نظر دې هـېڅـوک نه مني. په دې سـر ډېره دوستان دې هم له نژدیوالي په لرې والي خوښ دي! همدا دلیل دی چې هېڅـوک نه غوارړي سـمـې لارې ته دې برابر کـړي. ځکه د خپل کـار په نا اغېـزمنی سرېـېره دځان دتکلیف اسبـاب هم جوړ کړي.

نو په دې حساب هیڅکله نه شې کولای څه زده کړې.

عجیبه داده چې بنیامین دخپل دوست پردې وینا راویښ شو، دې ته یې پام شو چې د ورکوالی او تیتوالي گودال ته لوېږي. ددې اشتباه په پوهېدو ډېر زر د اشتباه ګانو دسمېدو په لټه کې شو، خپله وایي:

کله چې مې په دقت د خپل دوست خبرې وڅېړلې او سموالی یې را څرګند شو نو په یاد مې وساتل او تر هغه وروسته دبل لوري د خبرو په وړاندې رانه بې صبرانه عمل ونه شو زه دومره مخکې لاړم چې ځان به مې له صریحو او سختو کلیمو منع کاوه مثلا ددې پر ځـــای چې ووایم « په پوره ډاډ» یا « بې له شکه» اوس په ډېره اسانی وایم، **«فکر کوم» یا «تصور کوم چې داسې به وي»** مخکې که به چا یو مطلب واېه ما به ګڼل چې اشتباه کوي او ډېر زر به ورسره نښتم خو د خپل دوست تر نصیحت وروسته که اوس ډېره لویه اشتباه هم ووینم، کولای شم ځان وساتم او موضوع ځان ته داسې توجیه کوم چې بل لوری اشتباه کړې ده حتماً به پرې پوه شي او بل ځل به دغه اشتباه نه کوي. ددې بدلون ګټه ورو ـ ورو څرګنده شوه بیا په خبرو اترو کې بریالی کیدم او خبرې مو نورو اورېدې. دا کار راته لومړی ډېر ګران و خو په پای کې راته دومره آســان شو چې دعملي کولو لپاره یې هیڅ تکلیف نه حس کـوم داسې انګېرم چې په وروستیو پنځوس کالو کې هېچا له ما سخته خبره نه اورېدلې فکر کوم په نورو زما داغېزمنتوب سبب دهمدې طریقې منل دي. په تجربه مې زده کړې ده چې په اسانه کولای شم په نرمی سره خپل زیاتره وړاندیزونه او نظرونه پر نورو ومنم. سره له دې چې ښه وینا وال نه یم ، خو د وینا پر مهال پر کلمو دتسلط او تر پستو خبرو،روسته دلږې چوپتیا په سبب بریالي کېدم نور له ځان سره هم نظر کړم.

دامه هېروئ چې دا لارښوونې نوې او تازه خبرې نه دي، زرګونه کاله مخکې ویل شوي دي.

**«دخپل دښمن سره موافقت وکړئ او وروښایه چې دمثلو قصد یې لري»**

په بله روښانه وینا: د پېرودونکي، مېرمن، او هر چا سره چې مخامخ کېږئ، مباحثه مکوئ ورته مه وایئ اشتباه کوي ځکه ستاسې دا وینا سره له دې چې سمه به وي خو هغوی قهروي او د قهر نتیجه یې داده چې ستاسو نظر او ښه مفکوره ونه منل شي. دنظرونو په ویلو کې لږ تدبیر اوسیاست وکاروئ.

له میلاده نږدې ۴۲۰۰ کاله پخوا دمصر یو پاچا اختویی یوه ورځې پر مازیگر خپل زوی ته دا لارښوونه کړې وه: مدبر اوسه چې په اسانی مقصد ته ورسېږې. دده د وینا په توضیح کې ویلای شوو:

تدبیر کارول او سیاست کول مقصد ته درسېدو لار لنډوي او ډېر خنډونه له منځه وړي.

زما په فکر دغه لرغونې وینا زموږ لپاره دډېر ارزښت وړ ده او ډېر ورته اړ یوو چې اجرایې کړو. کیدای شي اختویې دغه جمله په داسې حال کې کړی وی چې دشرابو پیاله یې په لاس کې وی، او مستانه حال وي. خو که دغومره مهم او غوره او با حکمته نه وای تر موږ نه رارسېده او په تاریخ یې دوه ځلوېښت پېړی دوام نه کاوه!

څه چې تېر شوې دې ته په پام که غواړئ خلك له ځان سره په یو نظر کړئ، دا لارښوونه ومنئ دنورو عقیدو ته درناوی وکړئ او تر وسه وسه هڅه وکړئ تر اشتباه یې تېر شئ او هېڅکله چاته مه وایئ، اشتباه کوئ.

## دولسم څپرکی:

دوران کار دکېدو په صورت کې پخپل وران کار اعتراف وکړئ:

په جغرافیایي لحاظ زما کور دلوی نیو یارک ښار په منځ کې دی. سره له دې چې دنیو یارک پشان یوه لوی ښار کې ژوند کوم خو ځنګل مو له کوره دومره لرې نه دی. تاسو هم حتماً دا تمه نه لرئ چې کوم ځنګل به وي دلته یوه لویه (دره) ده چې په زړو ځنګلي ونو او ښکلو وړوبو تو ډکه ده، په پسرلي کې دوحشي توتانو بوټي غوړېږي او کوچني او ښکلي سنجابونه یې په منځ کې ځالې جوړوي همدا فارست پارک دی. ګمان کوم دا ځای له هغه مازیګره چې کرستف کلمب امریکا ته ننوت او کشف یې کړه، تر اوسه پخپل حال پاتې دی او بدلون پکې نه دی راغلی او په همدې خاطر ما دخپلو ګرځېدو لپاره خوښ کړی دی. زه زیاتره دخپل سپي «رکس» سره یو ځای دغلته ځم. رکس چې بې ازاره دی نو (پوزبند) ورته نه تړم او هغه پر خپلواک ټوپونه وهي را وهي.

یوه ورځ دغلته دیو پولیس سره مخ شوو، سپې مې دپارک په یوه څنډه کې غلی شوی وپولیس له دې خوند اخیست چې خپل قدرت وځلوي او وښایي چې زورور سړی دی، زموږ په لیدو یې ډېر ژر خپل آس زموږ لورې ته را روان کړ او په تر ټونکي لهجه یې وویل:

**«همدا مانا لرې چې سپی دې بزنځیر او پوز بند پرته په پارک کې پرې ایښی دی؟ ته نه پوهېږې چې دا کار دقانون خلاف دی.»**

ما دتل په شان په پسته ژبه ځواب ورکړ: البته چې پوهېږم، دقانون خلاف کار دی!، خو ما فکر نه کاوه په دې غلي ځای کې به ځوک وي چې زما سپی هې دآزار سبب شي.

ساتونکي دا ځل په خفګان او ډېر زور وویل:

فکر مې نه کاوه- فکر مې نه کاوه، بیخي فکر دې نه کاوه، قانون

درته دیو غیران هومره ارزښت نه لري او اعتنا ورته نه کوي! څنګه فکر نه کوې سپې به دې دنورو دځوریدو سبب نه شي، کیدای شي سپی دی کوم سنجاب مړ کړی یا کوم ماشوم وخوري.

ما دخپل سپي په بې ضرري پرتاکئید سره سره دپولیس نه معذرت وغوښت او هغه ددغه عذر په ځواب کې وویل « دا ځل دې له اشتباه در تېرېږم او سهوه دې ښښم خو که بل ځل دې ووینم چې سپې دې بې ځنجیره را وستی وی، باید دکار ځواب دې قاضي ته ورکړي.

په عاجزی او نرمی مې پولیس ته وعده ورکړه چې دا کار به بیا نه کوم. خو اطاعت څو ځل دوام وکړ ځکه د رکس رنځیر او پوز بند نه و خوښ او باید اعتراف وکړم دا هم خوښ نه وم بیچاره حیوان وځوریږي نو ځکه ډېر زر رانه هغه وعده هېره شوه چې پولیس ته مې ورکړې وه په فارست پارک کې زما اورکس ګرځیدنې بیا پیل شوې. تر ډېره څوک زموږ مزاحم نه شول. خو یوه ورځ بد چانس برابر شو، کله چې یوې غونډی ته وروختو، متاسفانه قانون دخپل ټول زور سره راته مخامخ شو. هماغه ساتونکی مې ولید چې دتپې پر سر پراس سپور دی او ته به وایې زموږ انتظار باسي. زه پوهېدم چې دا ځل په لومه کې نښتی یم، نو ځکه دې ته مې صبر ونکړ چې ساتونکی راته خبره پیل کړی، راساً یې خواته ورغلم او ورته ومې ویل:

سر کار صیب! دجرم په حال کې دې په لومه کې ونیولم زه ګنهګاریم او نه ښایې معذرت جوړ کړم څوموده مخکې دې اخطار راکړی و چې که دزنځیر او پوز بند پرته سپی پارک ته راولم، جریمه به شم!

پولیس داځل دپخوا پر خلاف په نرمی وویل:

خیر دی، پوهېږم چې دیو کوچني او بې ازاره سپي ګرځول په داسې ځای کې چې څوک نه ګرځي او احتمال نلري، تېر ایستونکی

نه دي.!

د پولیس له پستې ژبې نه په استفاده مې وویل:

**«ربښتیا هم تاسو وویل، ماکې دغسې هوس پیدا شوی و، خو څه وکړو د قانون خلاف کار دی؟»**

پولیس بیا هم په سړه سینه وویل:

**«زه ډار لرم چې کــوچنی ســپی نه شې کــولای چا ته آزار ورسوي.»**

د پولیس څېرې ته مې وکتل او ومې ویل:

بیخي سمه مو وویله خو کېدای شي، کوم سنجاب مړ کړي.

پولیس ماته چې شبیه په شبېه مې په خپله اشتباه ټینګار کاوه، وویل:

نه داسې هم نه ده، تاسو هم خبره ډېره سخته نېسئ، زه یې درته اوس لار ښایم. همدا اوس مو سپی دتپې هاغه لور ته بوزئ او زما له سترګو یې پناه کړئ. زه یې هم نا دیده نیسم او هر څه به په خیر پای ومومي.

په دې توګه د جریمې له ورکولو نه بچ شوم ځکه هغه ساتونکی هم یو انسان و او د ټولو انسانانو په شان یې غوښتل دمهم والی له احسا نه برخمن شي.

مـا چې دځـان په مـحکومـولو پیل وکړ پولیس ته دخـپلې ځـان غوښتنې د پلي کولو یوازنۍ لار همدا وه چې ځوانمردي خپل کمال ته ورسوي او پر ما رحم وکړي.

خو فکر یې وکړئ که پر خـپله اشتبـاه د اعتراف پر ځـای مې هـڅه کړې وای، ځان په حقه وښایم او د پولیس په وړاندې ودریدلی وای، څه پېښېدل؟ تاسو که په خپل ژوند کې یوځل د پولیس سره مخ شوی یاست پوهېږئ چې زما د سر زوري نتیجه به څه وای؟ ما د پولیس سره د مقابلې پر ځای دهغه ربښتینوالی ومانه او ومې ویل چې هغه پوره پر حقه دی او زه اشتباه کوم. ما دا اعتراف دنا

راحتی دېر لږ احساس پرته او حتیٰ په ښکاره او چټك وکړ، په بدل کې هغه هم وړ عکس العمل وکړ. ما پخپل اعتراف دهغه پلوي کړي و ه هغه هم زما پلوی وکړه او جنجال په سوله حل شو. رښتيا ! اوس چې څرگنده شوه پر خپلو اشتباهاتو داعتراف په صورت کې کولای شو وړ عکس العملونه په نورو کې رامنځته کړو، ښه نده پخپلو خطا وو اعتراف وکړو؟

آیا دوجدان دترټنې اوربدل دخلکو تر ملامتی ښه نه وي؟

آیا دا اسانه نه ده. هغو انتقادونو چې له خپل ځان نه يې کوو، زياته پاملرنه وکړو چې دېته اړ نه شو دنورو ملامتونکې او تر ټونکې خبرې واورو.

آیا خپل انتقادونه او پر اشتباهاتو اعتراف آسان دی که دنورو داعتراض او انتقاد زغمل؟

کله چې مو اشتباه کړې وي، په اسانی کولای شئ دمقابل لوري ټول بد فکرونه او خبرې چې ستاسې په باب بې ممکن وکړي، وسنجوئ او دهغوی په مخکې يې په ژبه بيان کړئ په زياترو مواردو کې دا احتمال شته چې مقابل لوری تاسو سره هغسې کړنه وکړي چې پوليس زما سره کړې وه ځکه دهغه لپاره تر ټولو ښه لار همدا ده چې دځوانمردی په لار لاړ شي او ستاسو اشتباه وړه او عادي وگڼي.

ښاغلی فردنيـاند ا. وارن چې انځور گر دی څه موده زماد کورسونو شاگرد و. ديو قهريدلی اخيستونکې سره يې خپله کيسه داسې وکړه:

«دانځور گری کار خصوصاً چې کله په خپرونو کې د تبليغ لپاره وي، ډېر دقيق او سنجول شوی کاردی. په دې ډول انځورونو کې پر خبري ارزښتونو سر ببره يو بل ډېر لوی هدف وي او هغه دتبليغ دموضوع پر ځانگړنو ټينگار دی. مثلا که وغواړئ يو برښنا يي محصول تبليغ کړئ داسې بايد وي چې دښکلا سره سره

دلیدونکي دجلبولو ډېر شیان ولري. حقیقت کې اغېزه پرې ایستل په تبلیغ کې یو مهم ټکی دی.لومړی باید وکولای شئ د افرادو نظر خپل اثر ته راواړوئ. او وروسته کولای شئ هغه موضوع ورته ووایئ چې غواړی یې.په دې ډول کارونو کې دهنرې مسایلو او فنی ټکیو په پام کې نیولو سر بیره دسفارش ورکوونکو مساله هم ځانله د اهمیت وړ ده. ځکه زیاتره یې یاد تجربې او یا د خپل ځاني ذوق له مخې نظرونه لری چې هنر مند باید دهغوی غوښتنې ومني. او په لومړۍ مرحله کې ېې دکار محصول هغوی ته منونکی وي. (دخپرونو مدیران لومړني خلك دي چې هم دهنری اثر په ارزښت پوهېږي او هم پوره په موقع عمل کوي، غواړي سپارښت دومره دقیق وکړي چې ډېر لنډ وخت کې پوره شي. هغوی دډېر کار په وجه داسې تجربې لاس ته راوړې دي چې کوچنی اشتباه هم ترې له نظره نه لوېږي.)

ما دهمدغسې یو مدیر سره همکاري کوله چې ډېر باریك بین او دقیق سړی و او دنورو په کار کې د چټکې پاملرنې پر اشتباهاتو دانتقاد پرته یې خوند نه ورکاوه. په بله وینا هغه دوړو اشتباګانو په غټولو غوښتل دخپلو معلوماتو او خبر تیا و پراخوالی موږ ته وښایې. ډېر لږ پېښېدل چې زه دهغه له دفتر نه په خوښی راوتی یم. البته دا خفګان دهغه دانتقادنه نه و، بلکې دهغی روېې نه و چې په انتقادې برید کې یې کاروله.

په دې وروستیو کې یې راته دیوه بیړني کار سپارښت کړی و. کله چې مې کار ورحواله کړ، د خپل منشي له لارې یې خبر راکړ، دفتر ته یې ورشم چې دکار کمی راته وښایې. کله چې دفتر ته ورننوتم، په هماغه حالت کې مې ولید چې ما انګیرلی و، او ما له همدې حالت نه کرکه کوله. هغه د تل په شان په دښمنانه کرکه خپل انتقادونه پیل کړل او په ډېر رضایت څو ځل مسکی شو. ده په ډېره نرمی له مانه وغوښتل ورته ووایم چې ولي مې ځنې رنګونه کار ولي

دي، او منظور مې ددې يا هغه خط نه څه دی؟ دی دانتقادو په حال کې و چې ما هود وکړ باید داعتراف داصولو نه کار واخلم او تجربه یې کړم، ورته ومې ویل:

محترم ښاغلیه! څه چې وایي سم دي. ماسهوه کړې ده او هیڅ عذر هم ورته نلرم. ډېره موده وشوه چې تاسو ته کار کوم او دا چې زه ددې کار کوونکی یم، نو په کار ده چې زیات په کار پوه شم خو دا چې دکلونو کار وروسته لا نه یم توانېدلی یو ښه کار درته وړاندې کړم، خجالت احساسوم زما خبره لا خلاصه نه وه چې ده خپل انتقاد پرېښود او په ډېره حېرانتیا یې زما دکار له ارزښت نه دفا ع پیل کړه:

**«البته تاسو سمه خبره کوئ، تاسو کلونه ډېر ښه اثار منځ ته راوړي دي او زه اعتراف کوم چې په ځینو موارد کې ستاسو د نظر دقت تر ما ډېر دی.»** دا هم نه جبرانېدونکې اشتباه نه ده٠ما چې موقع مناسبه موندلې وه وینا مې یې پرې کړه او ومې ویل:

**«اشتباه تل کېدای شي، منځ ته راشي او بدې نتیجې هم ولري خو زما له خوا اشتباه چې ستاسو له نظر سره بلد یم، قهروونکې ده!»**

هغه په داسې خبرو لکه « تاسو یې ډېره جدي گڼئ» « اصلا مهمه خبره نه ده» «هیله کوم ځان مه نارامه کوئ» کله ناکله زما خبرې پرې کولې خو ما وخت نه ورکاوه او د لومړي ځل انتقاد نه مې چې پر ځان ګړکړی و، خوند اخست. په پای کې مې هغه ته چې هڅه یې کوله زه نور دځان نه انتقاد ونکړم وویل:

-باید تردې ډېر کارونو ته ځېر واوسم. تاسو ماته د ډېرو کارونو سپارښت کوئ او که په هر کار کې مو وخت ضایع کړم او نا ارامه مو کړم، د ترټنې او ملامتونې حق لرم. دا چې په خپله بې پامۍ مې ستاسو نظریات په پام کې ونه نیول، غواړم دا تابلو له سره رسم کړم چې وکړای شم ستاسو ګیلې له منځه یوسم او په پای کې

ستاسو نظر چې پر مامو حق دی، پوره کړم.

هغه په اعتراض ووېل:

نه، په هيڅ صورت حاضر نه يم دا کار وکړئ. دا يو ډېر لوی تکليف دی او زه نه غواړم دغسې يو تکليف در واړوم.

ما په ټينګار ووېل: اجازه راکړئ، دجريمی په توګه دا تاسو ته له سره رسم کړم، او ستاسې نظرونه پکې په پام کې ونيسم. خو هغه دلته زما دکار ستاينه پيل کړه ، ډاډ يې راکړ چې دا ډېر لوړ کار دی او يوازې غوښتنه يې داده چې لږ شان بدلون پکې راوستل شي. چې هيڅ کمی پکی پاتې نه شي او په يوه بريالي هنری کار بدل شي. ما چې دې ته اشاره وکړه هسې نه چې دکمپنۍ دشهرت لپاره ښه نه وي.

ويې ويل:

**«هغه اشتباه چې غير ارادي پکې منځته راغلې ده، په واقع کې يې تابلو ته يو ځانګړی ظرافت ورکړې دی. او کولای شم تاسو ته هغه ديوې زروری طريقی په توګه درباده کړم. تاسو بايد نه يوازې دې ورې اشتباه ته سودايي نه شئ بلکې کولای شئ دهغې نه ګټه پورته کړئ. څوک پوهيږي چې زما نظر سم دی، په هنري کار کې هېڅوک نه شي کولای ووايي: زما نظر تر ټولو سم او تر ټولو بشپړ دی.»**

له ځان نه زما دانتقاد شوق هغه بيخي بې وسلی کړ. په دغه ورځ مې نه يوازې کار ومنل شو بلکې ديو عالي کار په حيث وستايل شو او انتقاد کوونکی او جنجالي مدير زه ډوډۍ ته دعوت کړم او تر هغه وروسته تر بيليدو مخکې يې مخکې له مخکې دبل کار لپاره دسپارښت يو چك را کړ، ډېره په زړه پورې وه چې پخوانی سخت ګيري نوره نه وه.

نا پوهه خلك تل دخپلو سهوو او اشتباګانو دفاع ته بډې وهي چې هېڅکله دا کار کولای هم نه شي ځکه اشتباه ددفاع وړ نه ده،

خو څوک چې په خپله خطا اعتراف وکړي په حقیقت کې بې یو دفاعي سپر په خپل سر نیولی دی چې دخپلې اشتباه له اغېزو یې ساتي.

پر اشتباهاتو اعتراف تاسو ته یو ښول دلوړتیا احساس در کوي او داشتباه اغېزې له منځه وړي البرت هو بارد یو داسې لیکوال و چې کولای یې شول په خپلو نیش لرونکو اوله کنایو ډکو لیکنو سره نور را وپاروي. هغه د اغېزې پرې ایستلو ډېر ځواک درلود. دهغه نیش لرونکو لیکنو زیاتره نور بدلول او قهرجن کول خو هغه په خپل کار کې دومره ماهر او دمعاشرت پر آدابو مسلط و چې سخت خپگانونه او قهرونه به یې په اوږدو دوستیو بدلول.

ښو یا بدو خلکو سره دسلوک پر اهمیت پوهېده او له هغه یې پوره گټه اخسته او زیاتره بریالي کیده هم چې خپل دښمنان په دوستانو بدل کړي. مثلاً یو ځلی چې دده داثارو یو قهریدلی لوستونکی ورته په ډېر قهر لیکل چې دفلانی لیکنې او فلانی مقالې سره یې جوړ نه دی او په نتیجه کې یې ورته بدې ردې او کنځلې ورځارولې ده یې په ځواب کې لیکل:

**«ښه ده مقاله یو ځل بیا ولولئ. البته زه هم دهغه څه سره پوره جوړ نه یم چې لیکلې مې دهٔ»**

هغه چې مې پرون لیکلې دي، نن راته په زړه پورې نه دي. خوښ شوم چې هغه چې مو زما دمقالې په باب په زړه کې گرځېدلي دي، راته لیکلي مو دي. خوښ به شم که کله په دې لاره تېرېدئ، زموږ خواته راشئ چې دمقالې ستونزې له نږدې سره وڅېړو او موضوع دتل لپاره حل شي. په هر حال له لیرې مو لاس کښیکاږم او دلیدو لېوال مو یم.»

ستاسو ارادتمند: البرت هوبارد

که د هغه قهریدلیو پر ځای وای داسې سړی ته چې بدې ردې مو ورته ویلې دي، څه ویل؟ لکه څنگه چې زموږ حق دی باید په

نرمی نور دځان سره په یو نظر کړو. که اشتباه مو کړې وي، باید په پټمنه توګه او خلوص خپل اشتباهات ومنو. دا طریقه نه یوازې حیرانوونکې نتیجې منځ ته راوړي، بلکې خوند یې تر دفاع هم زیات دی.

یو پښتانی متل پر خطا اقرار او تېرېدنه په دی ډول مطرحوي:

· له دعوو نه چاته څه مهم شی په لاس نه ورځي، که تېرېدنه ولرئ، تر هغه به ډېر وګټی چې غواړئ یې.

دجنجال ځواب له جنجال پرته بل څه نه وي.

څوک چې لوټې واروي سزا یې تیګه ده.

په جګړه او برید مقصود ته رسېدل ناشونی دی، خو په تېرېدنه او تسلیم کولای شو نا اټکل شوي نتایج تر لاسه کړو.

پورته ټکیو ته په پام، که غواړئ نور له ځان سره په یو نظر کړئ.

داشتباه او غلطی په صورت کې له بهانو پرته پرې اعتراف وکړئ!

# د یارلسم څپرکی:

## دنورو په عقلونو کې داغېز (نفوذ) لار:

دقهر او غصې پر مهال پر نورو د قهرېدلي برید په صورت کې بې له شکه خپل زړه تشوئ او لږه ارامتیا لاس ته راوړئ! دقهرېدلیو احساساتو تشول ستاسو د ارامتیا سبب کېږي!

خو ستاسې دقهرېدلي برید په وړاندې به بل لوری څه کوي؟

هغه به خوښ وي، چې تاسو آرام شوئ؟

آیا بل لوري هم در سره په هغه خوند کې ګډ شو چې تاسو له خپل کار نه واخست؟

آیا په سخته لهجه او سپورو کلیمو کولای شئ نور له ځان سره په یو نظر کړئ او دې ته یې اړ کړئ چې ستاسو په شان پر هغه حریف له بري نه خوند واخلي، چې پخپله و.؟

آیا ستاسو د کینه پارونکي او دښمنانه روش زغمل بل لوری ته آسان دي؟

آیا هیله لرئ چې د سپکاوي په وړاندې ستاسو سره په یو غږ شي او ستاسو نظر ومني؟

«آیا که په ټولو شویو موټو او غونجو وروځو زما لورته راشئ، بې له لږ ځنډه به زما لاسونه هم دغسې موټې شي او وروځې به مې غونجې نه شي؟ خو که ما ته راشې او راتهووایې راځه لږ کینو او سره مشوره وکړو، زه به هم په پوره تېرېدنې او غوړیدلې څېره ستا خواته درشم او نتیجه به یې داوي چې زر به پوه شوو، ډېر اختلاف نلرو او حتی په ډېرو برخو کې به زموږ دنظرونو اختلاف دومره کم وي چې په آسانی کولای شو ترې تېر شوو. د ښه نیت او صبر سره یو ځای برخورد او دوستی او همکاری ته لیوالتیا ددې سبب کېږي، چې یو دبل سره په یو نظر شوو او موافقي ته ورسیږو.

توافق ته درسیدو مهم اصل دتوافق غوښتنه ده.»

بې له شکه ویلای شو چې هیڅا دراکفلر په اندازه د ودرووپلسون دخبرې رښتینوالی ونه پیژانده او په موقع یې تری ګټه وانخسته. اجازه راکړئ دراکفلر کیسه درته وکړم تر د ۱۹۱۵ پورې یو تر ټولو بد نام سړی و کیدای شي تاسو هم ورسره په یو نظر شئ.

راکفلر څکه په ۱۹۹۵ کې دکلوروادو دایالت یو ډېر بد نام سړی و چې دیو لوه کلن اعتصاب مسئول پېژندل کېده. دامریکا دصنایعو په تاریخ کې دغسې اعتصاب نه وشوی. قهرېدلي دکانونو کار کوونکي او نور کارګران چې دکلورادو دسون موادو او اوسپنې په شرکت کې يې کار کاوه د سخت کار په بدل کې دزیات معاش غوښتونکي وو. دغه مهال راکفلر ددغه شرکت رئیس و. کار ګرانو او معدنچیانو د کار خانې لوازم او دکارسامانونه له منځه یو وړل. دشرکت مسئولانو چې دهغوی سره دمقابلې لپاره یې دپوځ نه مرسته وغوښته ډېرې وینې توې شوې. هغه کارګران چې دخپل حق نه نه تېرېدل په مردکیو وویشتل شول او د ډېرو بدنونه سوري سوري شول. په داسې وخت کې چې دکرکې او دښمنۍ بوی هر ځای نیولی و، راکفلر په دې هڅو کې شو، داعتصاب کوونکو نظر جلب کړي یو ترتیب یې جوړکړ چې هغوی ورسره یو غړي شي، په زړه پورې ده.

ایا پوه شوئ چې په دې کار بریالی څنګه شو؟

خو څرنګه؟ کیسه یې داسې وه:

راکفلر داوونیو هڅو وروسته وتوانیده دځینو کار ګرانو مینه را جلب کړي. هغه یوه ورځ دقهرېدلو اعتصاب کوونکو کارګرانو سره داسې خبرې وکړې چې کولای شو یوه بشپړه او بریالی وینا یې وبولو. دا وینا چې باید یو شهکار یې وګڼو، حېرانوونکې پایلې راوړې. دکینې توپانې سمندر یې چې نږدې و، راکفلر ډوب کړي،

غلی کړ. په دې کار راکفلر د ډېرو کسانو له خوا وستایل شو. وینا چې ډېر حقیقتونه پکې وو داسې دوستانه پیل شوه چې اعتصاب کوي بې له دې چې دمزد په باب څه ووایي. خپل کار یې له سره پیل کړ. راځئ ددې په زړه پورې وینا لومړی برخه سره ولولو. په عین حال کې دا مه هېروئ چې راکفلر دداسې کسانو سره غږېدلی دی چې څو ورځې مخکې یې هوډ کړی و. دې دونې له ښوې ځانګې راځوړند کړي او دنابودی کندې ته یې وغورځوي. ددې خطا بې په کتنه پوهېږئ چې که راکفلر دداسې ډاکترانو سره چې خیریه کارونه کوي، غږېدلی وای او داسې دوستانه احساسات یې ښودلی وای، دومره مهم کار نه و، خو هغه دخپلو سر سختو او تاوان لېدلو دښمنانو سره په داسې تسلط خبرې کړې دي چې هغوی ته تر تسلیمېدو پرته بله لار پاتې نه وه.

**«.. ویاړم چې دا نیکمرغي مې په برخه شوه او ومې کولای شو، ستاسې په وړاندې ودرېږم. زه ستاسې کورونو ته تللی یم او ستاسې مېرمنې او ماشومان مې لیدلی دي. او له همدې ویلای شم تاسو سره د یو پردي او نا اشنا په توګه خبرې نه کوم. زه دخپلو صمیمی دوستانو په وړاندې یم او د پردیوالي یوه ذره احساس مې هم نه څورووي. زموږ دوستي دوه ارخیزه ده او ګډې ګټې لري. یوازې ستاسې لطف او مهربانی زه دې ځای ته راوستی یم......»**

راکفلر په پوره پام خپلو خبرو ته داسې دوام ورکړ:

**«.... نن زما په ژوند کې یوه لوړه او ځلېدونکې ورځ ده. لومړی ځل دی چې دطالع او چانس له مخې راته دا لویه تحفه را په برخه شوه چې ددې لوی شرکت دکار ګرانو له نماینده ګانو سره لیدنه وکړم. ماته لوی او واړه کاګران یو شان ارزښت لري او ټول مې دوستان دي. کولای شم یاد درکړم تاسو ته یاد درکړم. چې په داسې غونډه کې له ګډون نه سر لوړي احساسوم او چې ژوندی یم نن ورځې ګډون کوونکي به هېر نکړم. دا چې ټول خپل صمیمي**

دوستان گڼم. که دا غونډه دوه اونۍ مخکې جوړه شوې وای، زه به له دې ځېرو سره اشنا نه وای او له کم شمېر پرته ددورو سره پردی وم. خو له نېکه مرغه په دوه تېرو اونیو کې بریالۍ شوم پخپله ځو ځل د ډېرو سکرو دکان دکار گرانو خېمې له نژدې وگورم او دکار گرانو له نماینده گانو سره وگورم. او ستاسو سره خبرې وکړم. ستاسې کورونو ته درغلم او ومې کړای شو مېرمنې او بچیان مو وگورم اوس نو دلته نه یوازې دا چې موږ یو له بل سره پردي او نا اشنا نه یوو، بلکې پخــوانې اشنا یان او ملگري یوو کله چې دوستي دوه اړ خیزه وي کولای شو با ارزښته یې وگڼو او داچې زه ددغې دوه اړخیزې دوستۍ په ارزښت پوه یم، نېکمرغه یم، ووایم داسې وخت مې لاس ته راورې دی چې دگېو گټو دساتنې دلارو په باب یو له بل سره وغږېږو.
دا غونډه دشرکت دلوړو چارواکیو او دکارگرانو دنماینده گانو له خوا جوړه شوې ده. دې افرادو خپلې غونډې ته زما په رابللو زه ویاړمن او سر لوړي کړي یم. په بله وینا ستــاسي مـهربانی او شفقت زه دلته راوستی یم. ما دا چانس نه درلود چې ددې شرکت لوړ رتبه چارواکی یا کارگرو اوسم خو زموږ او ستاسو په منځو کې چې ښې اړیکې او صمیمانه احساسات منځ ته راغلی دي، زه یې درکوم او ویلای شم چې زه هم دشرکت د بر خوالو او مدیرانو ځخه یم.»

دلتـه غواړم سـتـاسـو نه وپوښـتم چې آیا دا پر دوست ددښـمن بدلونې یوه ښـه او لوړه طریقـه نه ده؟ داسـې وگڼئ چې راکفلر یوه بله لار ټاکلې وای او ددې معدنچیـانو سره په بحث کې نښتلی او ځینې وحشتناک او نه انکارېدونکي حقیقتونه یې د ځېږې په شان ددوی پر مخ حـواله کـولای، داسـې وگڼئ چې دوینا پول یې داسـې وای چې غـواړي دهغوی اشتـبـاهگانې زباد کړي. او داسې وگڼئ چې په پای کـې یې دمنطق په اصــولو ورته ثابتـولای چې دوی په

غلطه تللي دي. او ........ رښتيا په دې صورت کې څه پېښېدل؟ ځواب دادی چې ددوی دقهر لمبې لا بلېدې او کار يې داسې ځای ته رساوه چې ښورښ هر ځای نيولای وای.

کله چې ديو انسان زړه ستاسې په وړاندې ددښمنۍ له احساساتو ډک وي، هېڅکله نه شي کولائ دمنطق له لارې يې دې ته راولئ چې ستاسې سره په يو نظر شي.

هغه مورو پلار چې دترټنې پلوي دي، هغه رئيسان چې غواړي خپل رياست نورو ته وځلوي. هغه مېړونه چې غواړي خپله بر تري او لوړوالی زياد کړي او هغه ښځې چې په بنګېدو او خبرو ګرځولو غواړي په خپل ارزښت زور واچوي بايد پوه شي چې خلك دې ته لېوال نه دي ددوی دپاره خپل فکر بدل کړي. نه شي کولای په زور ځان دنورو ملګرې کړي دنورو په يو نظر کول داسې کار نه دی چې په زور به وشي. خو که په دوستی او مينه دا کار وکړئ، کولای شئ نور دځان سره ملګري کړئ.

ابراهام لنکلن هم ۱۵۰ کاله مخکې په خپله يوه وينا کې ويلي و: يو پخوانی متل وايي: **«دا رښتيا ده چې يو څاڅکي شات تر يو ګېلن زهرو ډېر مچان ځانته راکاږي. انسانان هم داسې دي. که غواړئ څوک خپل پلوی او ملګری کړئ، لومړی پکې دا داډ پيدا کړئ چې دهغه صميمي دوست ياست. همدلته ده چې هماغه يو څاڅکی شات يې زړه وړي او تاسو ته يې دروازې او د صميميت بيا بيا ځرګندول هغه لويه لار ده چې دده عقل ته رسېږي.»**

دا نيل وبستر چې په ښکلا کې دمصر او لرغونی يونان د باد شاهانو په شان و او په وينا کې يې د «يهوه» په شان ځواک ځرګند اوه، دمحکومانو ددفاع يو تر ټولو بريالي وکيل و. هغه له دې سره سره په معمول ډول خپل مباحث په لاندې دوستانه او صميمي جملو پيلول: **«له دې ټولو سره محترم قاضيان دی چې بايد هغه بر رسي کړي او نظر ورکړي.»** «ښاغلو، کېدای شي، دا موضوع

لومره ارزښت ولري چې فکر پرې وکړئ.»« دلته ځينې حقيقتونه شته چې ډاډه يم ستاسو ښاغلو له تېزبينو نظرونو نه نه پاتې کېږي.

**« هغو پراخو معلوماتو پر اساس چې بشر له طبيعت نه يې لرئ، په دې با اهميته حقيقتونو به پوه شئ».**

د ښاغلي وبستر دکار نتيجه دا کېده، چې نه بريد او حمله کېده او نه دچا دوينې فشار لوړېده هغه دهغو طريقو پيروی نه کوله چې نور يې دخپلو عقيدو دتحمېل لپاره کوي. خبرې يې ارامې او دوستانه کولې او دا طريقه يې دمحبوبيت او شهرت باعث کېده.

کېدای شي هېڅکله تاسو ديو اعتصاب غلي کولو يا دقاضيانو په وړاندې دفاع ته ونه بلل شئ، خو ددې امکان شته چې دخپلې اجارې دکمولو او يا شخصي مسايلو په باب درته اړتيا پيدا شي چې نور دځان سره ملګري او قانع کړئ. آيا په داسې ځايونو کې به درته دوستانه بر خورد په ګټه وي که نه؟ اجازه راکړئ دافرضي مسئله په يوه واقعي مثال روښانه کړم: ا.ل. يو ځوان انجينر دی چې دکور دکرايې د تعديل په لانجه کې نا کامي او بري يې موږ ته په ټولګي کې داسې شرح کړل:

«په دی لټه کې وم چې دکور اجاره مې را ټيټه کړم، ځکه دهغې اداکول راته ګران و. خو نه پوهېدم چې اجاره والا ډېر سختګير دی، څه به ورسره کوم! په لومړی ګام کې مې ورته يو ليك وليکه او خبر مې کړ چې دقرار داد په ختمېدو سمد ستي کور پرېږدم.

البته رښتيا يې داوه چې دامې نه غوښتل چې کور تخليه کړم يوازې غوښتل مې داجارې د تعديل لپاره هڅه وکړم. خو نتيجه زما په نظر نهيلې کوونکې وه، دا چې دټولو کورونو اوسېدونکو دغسې هڅې کړې وې او بری لاس ته نه و ورغلی: ټولو ويل ددې اجاره والا سره سر خوږول بې ګټې او په عين حال کې ګران دی. خو ما دځان سره وويل «ته لګيايې دخلکو سره دراشه درشې په باب درس

وايې، راځه ددې کورس اصول پلې کړه او نتيجه يې معلومه کړه!

اجاره والا زما دليك په ليدو دخپل منشي سره زما کورته راغی، دهغه په تش ليدو زر موسکی شوم او هر کلی مې يې وکړ. په ښه نيت او گرمی مې خبرې پيل کړې. داجارې دلوړ والي يوه خبره مې هم ونکړه. ډېر زر مې ورته په ځرگنده وويل چې دده اپارتمان مې ډېر خوښېږي. د خبرو په منځ کې مې په ستاينه او صفت کې مبالغه وکړه او هغه مې دهغه دمدبرانه او هوښيارۍ ادارې په خاطر وستايه او په دوام کې مې يې وويل: زړه مې و يو کال نور هم ستا په کور کې چې په کرايه مو راکړی پاتې شم، خو له وسه مې پوره نه.ده فکر کوم تر دې مخکې ورسره يوه هم داسې خبرې نه وې کړې نو ډېر زر يې د زړه غوټه تشه او دکورونو د اوسېدونکو نه يې گيلې پېل کړې. ده راته وويل چې يوه راته څلور ليکونه ليکلي چې ځينې يې له ډېرو سپکو سپورو ډک دي يوه داسې غوښتنه کړې وه چې اجاره دار دې داسې ترتيب جوړ کړي چې ددوهم منزل نفر په خوب کې خرهار ونکړي ده دخپلو خبرو په پای کې وويل: انسان ستا په شان ديو راضي سړي نه څومره خوشالېږي ورپسې يې وويل:« که ستاسو مشکل داجارې بيه وي، که پاتې کېدل مو خوښ وي، زه حاضر يم هغه کمه کړم» ما هم دموقع سره سم په دوستانه ژبه هغومره رقم چې ورکولای مې شو، ورته ووايه او په ډېره حيرانتيا مې وليدل چې دکور خاوند بې له بحث نه و مانه.

دتلو پر مهال يې مخ را واړوه او ويې ويل « خو ښه موده چې دکور سينگار مو ځرنگه وي؟ بې له مبالغې وايم چې که زه هم دنورو په لار تللی واي ماته مې حتمي وه.

باور لرم چې همدا دوستانه بر خورد او ستاينه او تقدير ددې سبب شو چې مقصد ته ورسېږم.

مېرمن دوروتی خپله کيسه داسې کوي:

په دې وروستيو کې مې ځينې دوستان ميلمستيا ته راوبلل. ددې

دوستانو غونډه ماته ډېره مهمه وه. زړه مې غوښتل میلمستیا ډېره ښه برابره شي. په داسې وختونو کې به امیل دهمدغه هوټل مدیر چې دا مېلمستیاوې به پکې جوړېدې، زما سره مرسته کوله خو په دې ځانګړې میلمستیا کې هغه زما مرستې ته رانغی او دده نښه مې هم ونه لیده. هغه یوازې یو خدمتګار رالېږلی و. دې غریب دښه هر کلي داصولو نه ډېر لږ معلومات هم نه لرل هغه په ډېر ټینګار هڅه کوله زما تر ټولو درون او لوړ مېلمه ته تر ټولو وروسته هر کلی ووایي. حتیٰ ومې لیدل چې د کرفس یوه وړه ټوټه یې ددغه مېلمه مخې ته په یوه لوی قاب کې کېښوده غوښه شخه او کچالو ډېر غوړ وو. خواره وحشت راوړونکی وو. زه ډېره په غصه شوم په ډېر زحمت مې هڅه کوله موسکی شم او ځان کنترول کړم. په دغه حال کې مې هم له ځان سره ویل: پرېږده چې امیل ته ورسېږم. دا کار به یې پوره، پوره ورغبرګ کړم.

اخر هم هغه ورځ تېره شوه. دچهارشنبې هغه ورځ زما لپاره یو لوی عذاب و. په بله شپه دغصې او قار په داسې کلیمو او رټونکو کلیمو پسې ګرځېدم چې دهغوی په واسطه پر امېل خپل زړه تش کړم. دتصادف له مخې دغه شپه رادیو غږېده او دانساني اړیکو په باب یې یو بیان خپراوه څو شېبې مې د ویاند خبرې واورېدې، له ځان سره مې فکر وکړ چې دامیل سره شور به څه ګټه وکړي؟ دا چې دا کار دناراحتی سبب کېده او بیا به یې راسره هیڅ همکاري نه کوله! هڅه مې وکړه دهغه له نظره پېښه وڅېړم. هغه دلومړنیو موادو دتیارولو مسئول نه و. خواړه هم هغه نه و پاخه کړي. هغه په دې دلیل ونه شو کولای زما څه کار سرته ورسوي. ځینو خدمتګارانو یې خبره ښه نه وه منلې او له بل لوري کېدای شي ما زیاته سختګیري کړې وي.!

ددې تحلیل نه وروسته مې هوډ وکړ چې دامیل سره عادی او ډېرې دوستانه خبرې وکړم له ځان سره مې ومنله چې خبرې په

ستاینه او قدر داني پیل کړم. بله ورځ چې مې ولید وروځې یې ښکته وې، په پوره ارامۍ مې ورته وویل:

ګوره امیله! غواړم په دې یوه شي چې زه کله دچا هر کلي کوم نو ډېر اهمیت راته لري چې ته راسره مرسته وکړې! ځکه د نیو یارک په ښارکې ته تر ټولو ښه مېلمه پال یې. البته دا منم چې دغذايي موادو په برابر ولو کې دې دخالت نه و او خواړه تا نه و پاخه کړي. او په همدې خاطر نه شم کولای دهغه څه په خاطر تا ملامت کړم چې دچهار شنبې په ورځ تېر شول ځکه ته اصلا ملامت نه یې. په دې خبرو ډېر زر د کینې وربځې لاړې او امیل په خندا وویل:

محترمې مېرمنې! وضع همداسې وه چې تاسو وفرمایل. په نا خوښه خوړو کې ګناه د اشپزانو ده او زه پکې هېڅ ملامت نه یم.

ما له همدې وخت نه ګټه واخسته او په دوستانه ژبه مې ورته وویل:

تېر وختونه نور تېر دی، خو امیله! زه باید څو مېلمستیاوې نورې هم وکړم چې ستا مرستې ته پکې اړه یم! فکر کوم ښه به وي اشپزانو ته یو بل چانس هم ورکړو.

امیل په غوړ بول وویل: حتماً مېرمنې! ته ډاډه اوسه، دچهارشنبې دورځې بده پېښه به بیا هېڅ تکرار نشي:!

بله اوونۍ مې یوه بله میلمستیا جوړه کړه . ما دامیل سره یو ځای دخوړو ترتیب منظم کړ. دهغه ددې مرستې په بدل کې مې مناسب انعام ورکړ خو تېرې اشتباګانې مې ورته تکرار نکړې.

په دغه ورځ چې کوټې ته ورننوتم، ښکلي ګلان هر لور ته ایښودل شوي وو. امیل ځارنه کوله اوزنګ ته غوږ و، له هغه نه مې ډېره کوچنۍ بې پروایي ونه لیده. باور وکړئ چې که ملکه ماري مې هم رابللی وای د ښه راغلې هیڅ شي کې کمی او عیب نه و. دیوه خدمتګار پر ځای یې څلور درولي وو دمخه ښې پر مهال زما یو

مېلمه ووېل:

تاسو پردې سرې جادو کړی دی؟ ما پخپل ټول ژوند کې دغسې لوړ او بې عيبه سرويس نه وليدلی.

هو! زما دغه مېلمه سمه خبره کوله. ما پخپل دوستانه سلوک هغه جادو کړی و ». کلونه مخکې چې زه لا کوچنی هلك وم او لوڅې پښې له يو کوچنې ځنګل نه تېرېدم چې دسيمې يوازنۍ کليوالي مدرسې ته لاړ شم. يوه ورځ مې دباد او لمر تر منځ دمباحثې او جنجال افسانه واورېده. په دې افسانه کې باد ادعا کوله چې تر لمر زر کولای شي هغه بوډا اړ کړي، خپل څادر لرې کړي چې له دښتې تېرېده. تر دې وروسته لمر دورېځو دیوې ټوټې شاته سيل ته کېني چې د باد هڅې وګوري، باد په را الوتلو پيل کوي. او شيبه په شيبه زياتېږي. خو څومره چې دباد زور زياتېږي، بوډا ډېر کوښښ کوي چې څادر يې پر ځان ښه کلك کړي. دڅه مودې زيار وروسته باد ودرېږي او دلمر وار رارسېږي چې خپل زور واز مايي. لمر د ورېځو له شا آرام راښکاره کېږي او په خوشاله څېره بوډا ته موسکا کوي. دلمر ګرمي ددې سبب کېږي چې دبوډا پر تندي خولې راشي، غواړي د يخېدو په خاطر لږ کېنې او خپل څادر له ځانه ليرې کړي.لمر دخپل کار ۱ توجېې لپاره بادته وايي: دا مه هېروه چې دمهربانۍ او دوستۍ زور تر قهر او غصې ډېر زيات وي تا پخپل قهرجن الوت بوډا اړ نکړ او ما په له مينې ډکه او دوستانه خندا دا کار وکړ.

کله چې ما دا افسانه اورېده، تر موږ ډېر لرې د بوستون په فرهنګي او علمي ښار کې يو سړی اوسېده چې ا، هـ، ب نو مېده او ډاکټر و. دېرش کاله وروسته تقدير داسې و چې زما شاګر شي. ده دا موضوع په عمل کې تجربه کړه.

داکتر ا.ب.ب. خپله کيسه داسې وکړه:

هغه وخت د بوستون ورځپاڼو جعلي خبر تياوې خپرولې. داسې

خبرتیاوې چې خلکو به ادعا کوله چې دکو تاژیا په نارینه و کې دجنسي کمزورۍ دعلاج متخصصان دي. نوی نور څه نه کول، یوازې خلك بې دجنسي قوې له کمي نه وېرول او ددغو ډارېدلو خلکو له منځه یې خپل ښکار ټاکه. ددوي معالجې د وېرولو پرته نور هېڅ نه وې. د اغېز منې دوا او درمل او درملنې نه هېڅ خبر نه وو. هغوی هم چې دکو تاژ دتخصص دعوې کولې د ډېرو ځوانو ښځو دمړینې سبب شوې وو. خو ددې جعلی حکیم باشیانو نه د یو څو تنو پرته نور محاکمه نه شول ځکه هغوی دډېرې کمې جریمې په تحویلولو یا له سیاسي نفوذ نه په استفاده له محکمې معاف شول.

اوضاع ډېره بده وه. د بوستون پټمن خلك آخر را وپارېدل چې ددې سود خورو شیطانانو پر ضد قیام وکړي. وینا والو په ښلا ښلو مراسمو کې ددې تباهکارانو او هغو خپرونو پر ضد وینا وې وکړې، چې ددوی خبرتیاوې یې خپرولې او حتی ددوی دخپرونو د بندېدو لپاره یې دعاګانې وکړې. قضایي، سوادګریزو، دښځو او ځوانانو سازمانونو دغه جعل کاران وغندل خو هیڅ ګټه یې ونکړه ددولت دمتفنه هیئت تر منځ هم سخت جنجال ونښت چې دا کار غیر قانوني اعلان کړي خو دسیاسي نفوذ په واسطه دا کار هم ونه شو.

داکتر ا. ب لیکي:

په دې مهال زه د بوستون دنېکو کارانو مشر وم. زما تر امر لاندې کمیټې ددې خبر تیا و په باب ډېرې ازموینې وکړې خو نتیجه یې ونکړه. داسې ښکارېده چې د ډاکترۍ له ددغو تباهکارانو سره مقابله نه کېږي. یوه شپه مې هوډ وکړ، یوه بله لار را وباسم، دډېر فکر وروسته مې ښه وګڼله د هر الد بوستون ورځپاڼې مدیر ته یو لیك ولیکم:

په دغه ليك کې مې دهر الډ بوستون مدير ته خبر ورکړ چې ددوی ورځپانه مې ډېره خوښېږي. دهر الد بوستون ورځپانې سره مې دمينې دليل دادی چې په ورځپانه کې راغلي خبرونه دحقايقو پر بنسټ دي. او هيجان او ورانی منځ ته نه راوړي. سر مقالې هم ډېرې ښې دي. دا ورځپانه دکورنی ټولو غړو ته ايډ ياله ده. نه يوازې په بوستون بلکې په ټول نيو انگلند کې دغسې درنه ورځپانه نشته دليك په دوام مې مدير ته وليکل: البته ځينې کوچنۍ کمي هم شته، هيله من يم چې ليرې کولو ته يې پام وکړئ مثلاً : زما يو دوست يوه نوې پېغله لور لري. تېره شپه يې له هغې وغوښتل دورځپانې مطالب په لوړ غږ ولولي، جنی چې کله د جنين غورځولو دمتخصصينو خبر تيا وو ته ورسېده له خپل پلار نه يې وپوښتل، دا څه شی وي؟ زما دوست چې ډېر وارخطا شوی و حيران شو چې خپلې ځوانې لورته څه ځواب ورکړي. البته ډېرې توضيح ته اړ تيا نشته، تاسو پخپله زما په هدف پوهېږئ. او په دې مساله خبر ياست چې ستاسې ورځپانه ټولو کورنيو ته ځي او ډېر پلرونه شته چې دغسې لونې لري او دوی ته د ځواب ورکولو وس نلري. ربښتيا که تاسو دغسې لور ولرئ او دغه تپوس درنه وکړي، څه ځواب به ورکړئ.

آيا اجازه مو ورکوله دغسې ورځپانه ولولي، که اجازه مو ورکولای، نو څه توضيح لرئ چې تاواني به نه وي.

ډېر افسوس کوم چې يوه ځلانده ورځپانه لکه ستاسو چې ده او له هر پلوه له کمي او عيب نه خالي ده، تر اوسه يې داسې هڅه نده کړې چې دا جز يي کمی لرې کړي. او پلرونه خپلو لونو ته د ورځپانې له ورکولو نه ونه وېرېږي. ايا دا احتمال نشته چې په زرگونو کسان به همدا زما په شان احساس لري.

پر بله ورځ دورځپاڼې مدير داكتر ته يو ليك ولېږه. ده دا ليك دپيړۍ دريمه برخه موده پټ وساته او اوس چې زما شاګر شو، ښكاره يې كړ:

١٣ اكتوبر ١٩٤٠

داكتر ا. هـ.ب

بوستون. ماساچوست

ګرانه ښاغليه ......... زه ستاسې له هغه ليك نه چې داكتوبر په ١١ مو دمسئول مدير په نوم ليكلى مننه كوم دا ليك سبب شو چې په هغه تصميم كې نور هم كلك شم چې د بوستون هير الد دمسئول مديريت داخستلو له ورځې مې كړى و. ددوشنبې له ورځې وروسته غواړم دنا خوښو او خرابو خبر تيا و او مطالبو له چاپ نه په ورځپاڼه كې مخه ونيسم. د دواړانو دزرق او چنين غورځوني خبرتياوې به ببخي ليږې شي. هغه خبر تياوې به هم تر كلكې څېړنې لاندې نيول كېږي چې له چاپ نه يې چاره نه وي. بيا هم ستاسو له مينې ډک ليك نه مننه كوم چې زه يې دخپل تصميم په سرته رسولو كې كلك كړم.

ستاسو ارادتمند و،ت، ها سكل

دبوستون هرالد مسئول مدير.

ايزوپ يو يوناني مر بي و. ٦٠٠ كاله تر ميلاد دمخه يې د دكراسوس په دربار كې ژوند كاوه او له ځانه يې يوه كيسه په يادګار پريښې ده هغه حقيقتونه چې ده دانساني طبيعت په باب زده كړي دي هماغو مره په ننني وخت كې اهميت لري چې دده په وخت كې يې په اتن كې درلودل.

دلمر او باد جوړه شوې افسانه دهمدې ايزوپ د ذهن محصول دې چې موږ ته وايي:

لر په مهربانۍ او دوستۍ تر قهرجن او عصبي باد نه زر د بوډا له تن نه څادر ليرې کړ.

دايزوپ په واسطه ددې جوړې شوې افسانې مفهوم دادی چې دوستانه بر خورد او ستايو نکې خبرې کولای شي تر قهر او غصې ډېر اغېزمن او ښه او زر ګټه وکړي.

پخوانی متل بايد هم هېر نکړو چې وايي:

**يو څاڅکی شات تر يو ګيلن ذهرو ډېر مچان ځانته را کاږي.**

نو که غواړئ نور له ځان سره په يو نظر کړئ د الاندې خبره په ياد ساتئ:

په پسته ژبه خبرې پيل کړئ.

# څوارلسم څپرکی:

دسقراط راز:

دبحث پر مهال خبرې له هغو ټکيو مه پېلوئ چې له بل لورې سره پرې جوړ نه ياست. دا ټکی ډېر مهم دی چې ددواړو تر منځ دتوافق ټکي ولټول شي او پرې بحث وشي. تر وسه وسه هڅه وکړئ پر بل لوري ومنئ چې په هماغه لار روان ياست چې بل لوري پرې روان دی. يوازې دوړو خندونو په باب مو نظرونه توپير لري او دا نه شي کېدای مهم وي ځکه چې لار يوه ده، ګډ هدف ته به ورسېږئ. ځکه چې ددواړو خواو و لپاره هدف مهم دی نه در سېدو لاره. له هماغه پيله داسې وواېئ چې بل لوري يې په تائيدکې ووايي «هو، سمه ده، هو!» که مو داسې شرايط برابر کړل چې دمقابل لوري سره بحث په (نه) داسې نه ده» ! «نه يې شم منلای» ! پيل شو، ګرانه به وي چې د رښتيا نيو ګډو ټکيو په باب هم موافقې ته ورسېږئ.

پوهاند اوو راستريت پخپل ګتور کتاب « په نورو . د اغېز لارې» کې ليکي:

په ډېره سختۍ کولای شو «نه» ته داسې ځواب بيا مومو چې دبري او توافق معناو لري («نه» داسې خنډ دی چې برى پرې ډېر زيات ګران دی) کله چې «نه» پر ژبه جاري شو دغرور او عزت النفس په شان زورور ساتونکي يې پر پاتې کېدو ټينګار کوي. (کله چې شخص ووېل «نه» حتی دخپلې غلطۍ دپوهېدو سره سره هم پرې ټينګار کوي).

وروسته کېدای شي په دې پوه شي چې دا کار يې سم نه وځو ګرانيه غرور يې بيا هم نه پرېږدي چې شخص پر خپله اشتباه اعتراف وکړي. يوه خبره چې وشوه، کوونکي يې پرې ودرېږي او

ورپورې نښلي. نو کوم کار چې ډېر مهم دی، دادی چې بل لوري مثبت لوري ته گام اخستو ته اړ ایستل شي.

ماهر او په کار پوه ویناوال لومړی هڅه کوي، څو ځل داوریدونکو نه د «هو» تحفه تر لاسه کړي.داسې هوښیار ویناوال داورېدونکیو اروایي لوری پېژني او دغوښتنې او قبول پر لور گالم اخلي. دا کار دومره دقیق دی لکه د بلیارد لوبغاړې چې دبلیارد توپ معین لوری ته ورټېل وهي. که دغه توپ پر خپل مسیرکې له کوم ځنډ سره مخ شي، نو لار به بدله کړي یا به بېرته را وگرځي او اصلي ځایته به ونه رسېږي.

کله چې څوک دزړه له کومې ووایې «نه» او دا کلیمه یې جدي پر ژبه راشي نو ده یوازې د (ن) او (هـ) لرونکې یوه دوه توریزه کلیمه نه ده ویلې. د اروا پوهنې لارښوونو موږ ته زده کړې دي چې ددې شخص ټول بدن د دفع حالت نیولی دی. دځېری حالت، دعضلو راټولېدنې او حتی دمترشحه غدو افرازاتو دمدافعې او لیرې کولو کار پیل کړی دی.

په زیاتره وختوکې چې د ویونکي له خولې د «نه» خبره راوځي دبدن ډېر غړي یې په وړو او لویو تشنجونو د دفاع لارې چارې گوري. او تیارسی حالت نیسي. لنډه دا چې دعصبي او عضلاتي دستگاه مجموعه دې ته تیارېږي چې دغوښتنې دنه منلو او ردولو عمل وکړي. خو ددې پر عکس که شخص د «هو» له کلیمې کار واخلي، هېڅ دفاعي حالت منځ ته نه راځي او عصبي غړي او سلسلې منلو ته تیارېږي. په همدې خاطر هر څومره چې دخبرو په لومړي سر کې دمقابل لوري «هو» جلب شي د بری احتمال ډېر دی.

د «هو» عکس العمل ډېر آسان دی، خو توجه ورته نه کېږي. داسې فکر کېږي. چې خلك دمهم والي احساس له لومړي سره په بد خویی سره کوي. یو رادیکال خپل ځان ساتي ورور سره یوځای

په یوه کنفرانس کې ګډون کوي او د اجندا له پیله غواړي دهغه غصه را وپاروي! ولې داسې ده؟ دا کار ورته څه ګټه لري؟ که دخوند اخستو لپاره دا کار کوي باید ویې ښيي. خو که غواړي له دې لارې ورته څه ګټه ور رسوي د اروا پوهنې له نظره له یوه ناپوه سړي زیات نه دی. ځکه داروا پوهنې له نظره یوازې بې عقل سړی بې ګټې کار یا خبرې کوي.

که یو زده کوونکی، اخستونکی، ماشوم، مېړه یا مېرمن په لومړي سر کې اړباسئ په لومړی سرکې نه ووایي دافلاطون عقل او د پرښتو حوصله پکار ده چې دغه منفي ځواب په یو مثبت ځواب بدل شي. د «هو» دتخنیك دکار اخستنې یو مثال دجمز امر سون نه چې دیو بانك خزانه دار او زموږ دتولګي شاګرد و، اورو:

«څو ورځې یو سړی بانك ته راغی چې ځان ته سپما صندوق جوړ کړي. ما ورته یوه فورمه ورکړه چې ډکه یې کړي. هغه ځینې سوالونه په خوښه ډک کړل خو ځینو ته یې له ځواب ډډه وکړه.

که دا پېښه په دې کورس کې زما تر ګډون دمخه شوی وای نو ورته ویل مې چې معلومات نه ورکوې نو موږ تانه دحساب پرانستونه معذرت غواړو. البته اعتراف کوم چې پخوا مې ډېر داسې کړي دي او دایې لا په زړه پورې چې داولتیما توم له ورکولو نه مې خوښي هم احساسوله ځکه په دې طریقه مې بل لوري ته ښودله چې رئیس څوک دی؟ او دبانك کړنلار مې هم ورته مخې ته کوله! خو د سلوك دې لارې د پېرودونکي دخوښې سببونه نه جوړول.

په دغه ورځ مې وغوښتل له سلیم عقل نه کار واخلم یوازې په هغو معلوماتو بسنه ونه کړم چې بانك غوښتي وو بلکې د پېرودونکي غوښتنو ته هم پام وکړم. او غوښتل مې چې هغه له پیله راته «هو» ووایي او ځکه دهغه سره هم غړی شوم او ورته ومې ویل: هغه معلومات چې نه غواړئ بانك ته یې ورکړئ، دومره بانك ته ضرور

هم نه دي. دا احتمال لري چې ستا لپاره به مهم وي. مثلا ستاسې تر مړینې وروسته که مو وارث معلوم وي ښه نه ده چې پیسې ورته ور کړل شي.؟

سړي په ښکاره ځواب راکړ

البته چې غواړم، زما لومړنی غوښتنه همدا ده

نو ښـه به نه وي چې دخـپل وارث یا داسـې خـپلوان نوم را وښایاست چې ستا تر مړینې وروسته په اسانی او بې له اشتباه پیسې هغه ته ورکړو؟ ده په ډېره بیړه وویل: البته، البته، دا کار به وکړم.

همدومره زر هغه ډېر بدل شو او چې پوه شو دا معلومات دده پخپله گټه دي په پوره خوښی یې موږ ته ټول معلومات راکړل. په دې کار زه پوه شوم چې په لومړی سرکې د «هو» ځواب اخستل ددعوو مخه نیسي او بل لوری په ډېره خوښی وړاندیزونه مني.

سقراط چې یو نابغه و او په یونان کې اوسېده. سره له دې چې په لوڅو پښو گر ځېده خو دومره د لوړ هوښ لرونکی و چې تر ده وروسـتـه ډېر لږ خلك دده په شـان بریالي شـوي دي. د ۲۳ پېړیو وروسته چې له مرگه یې تېرېږي. نړی اوس هم هغه یو له ترټولو هو ښیارو قناعت ورکونکو نه گڼي چې دا دجنجال ډکه نړی یې تر خپل اغېز لاندې راوستې ده.

رښتیا دده طریقه څه وه. آیا خلکو ته یې ویلی چې اشتباه کوي؟

نه، هغه تردې ډېر هوښیـار و چې داسـې څـه ووایي. دده دکـار طریقه چې په سقراطـي طریقه مشـهوره ده د بل لوري نه د «هو» دځواب په اخستلو ولاړه ده. هغه له بل لوري داسې پوښتنې کولې چې ځواب به یې «هو» او مثبت و. سقراط به هغه اړ ایست چې بې له ځنډه یې خبرې تائید کړي. په پای کې به یې چې ډېرې «هو» گانې له رقیب نه اخستې وې، پوښتنو ته به یې داسې ځواب ورکړ. چې مقابل سړی به بې له دې چې پوه شي، دسقراط نظر به یې

مانه او له هغه څه سره به يې موافقه کوله چې څو دقيقې دمخه ورسره وران و.

اجازه راکړئ بيا يو سړی ووينو چې دسقراط له چلند نه ورسره کار واخلو، لکه په مهربانی او خواخوږی ترې ديو څه تپوس وکړو چې په ځواب کې «هو» ووايي.

چينايان يو متل لري چې دختيځ لرغوني حکمت نه ډک دی.

څوک چې ورو ځي، ډېر ليرې ځي.

دې توضيح ته اړه نشته چې دچين تمدن او فرهنګ پنځه زره کاله لرغونتيا لري او د بشر په طبعيت کې يې ډېرې څېړنې کړې دي او له دې لارې يې ډېر حکمت را ټول کړی دی او کله چې داخبره کوي، څوک چې ورو ځي ليرې ځي يوه با ارزښته وينا لري.

نو بيا هم که غواړئ نور له ځان سره په يو نظر کړئ لاندې اصل په پام کې وساتئ:

داسې کار وکړئ چې بل لوري بې له ځنډه درته **«هو»** ووايي.

# پنځلسم څپرکی

دډاډ کړکۍ:

ډېر خلك دي چې کله ځان سره دنورو د هم نظره کولو لپاره کوښښ کوي، ډېرى زياتې خبرې کوي.

دا ټول خلك غواړي پر بل لوري دخپلو نظريو په تپلو هغه دې ته اړ کړي. له ده سره په يو نظر شي. د بل لوري له خوا دنظر څرګندول پکې کرکه زېږوي. دا اشتباه زياتره د پلورونکيو له خوا کېږي او دوى ته پکې ډېر تاوان رسېږي. دنورو سره دچلند پر مهال مو بايد خيال وي چې هغوى تر موږ ډېر په خپلو ستونزو خبر دي او بايد دهغه په باب وغږېږي.

په داسې وختونو کې ښه لار داده چې تاسو ترې داسې پوښتنې وکړئ چې هغوى درته معلومات در کړي. کله چې بل لورې خبرې کوي دا کېداى شي چې تاسوورسره هم نظري نه اوسئ.

خو په دې پوه شئ. چې ستاسې برى دهغه دخبرې پرې کول او دخپلې خبرې په هېرولو کې نه دى، ځکه په دې حال کې خو هغه هم د جبران هڅه کوي.

په داسې وختونو کې چې بل لورى ډېر څه ويلو لپاره لري. نو هيڅکله به حاضر نه شي، له ټولو تېر شي. او يوازې ستا خبرې واوري. نو ځکه دکار چاره صبر او حوصله ده. تاسو بايد په صبر سره دهغه خبرې واورئ او ورته وښايئ چې له خبرو سره يې مينه کوئ. که په داسې وختو کې هغه تشويق کړئ خپل فکرونه او خيالونه درسره شريك کړي نو بحث مو د ډاډ وړوي.

څو کاله مخکې دامريکا دموټر توليدٌلو يوې لويې کمپنى اعلان وکړ.چې دخپلو موټرو د داخلي سيټونو لپاره موادو ته ضرورت لري. درې کار خانې دې ته حاضرې شوې.

تحويل شوې بيلګې په دقت وکتل شوې او په يوه ټاکلې ورځ يې

ددرې واړو کار خانو نماینده ګان د مذاکرې لپاره راوغوښتل ددې جلسې یو ګیون کوونکی ښاغلی ج، ب،ر،و، زموږ په ټولګی کې خپله کیسه داسې وکړه.

«دغونډې دګیون نېټه یې داسې وخت کې راکړه چې زما مری سخت درد کاوه. باید ارام مې کړی وای خو له دومره غټې معاملې نه تېرېدل هم ګران وو. په پوره نهیلی مې ځان وروړساوه. دغونډې تر پیل وروسته هر نماینده دخپل مال ستاینې وکړې خو زه چې دخبرو نه وم، اواز مې نښتی و، په ورو بولۍ وویل: **«خبرې نه شم کولای، ناروغ یم!»** پاڼه لاس په لاس وګرځېده. په پای کې د شرکت مشر ته ورسېده. ده په داسې حال کې چې زما نه یې وغوښتل آرام کښنم او استراحت وکړم، وویل:

**«ددوی پر ځای به زه خبرې وکړم!»**

دا په زړه پورې ده چې درته ووایم ده تر ما ډېر ښه زموږ د بېلګو دځانګړنو په باب معلومات ورکړل یوه عجیبه مذاکره پیل شوه. رئیس چې زما پر ځای خبرې کولې، زما پلوي یې کوله، ما یوازې دا کار کولای شو چې په موسکا او دسر په خوزولو مې دده خبرې تائیدولې. ددې غونډې په پای کې ماته یو بېساری قرار داد تسلیم شو چې پکې دموټرو د داخلي پوښونو لپاره نیم میلون متره تکه چې یومیلیون او شپږ سوه زره ډالره ارزښت یې درلود غوښتل شوې وه. تر دغه مهاله دا ترټولو لوی سپارښت و، چې زموږ کار خانې ته شوی و.

دا ټکی باید هم یاد کړم چې که وس مې وای چې خبرې وکړم او پخپله مې دخپل مال دفاع کړی وای، په دې کار نه بریالی کېدم ځکه درقیبانو زور مې راته څرګند و او پوهېدم د امکاناتو له نظره تر موږ پیاوړي وو. په دې معامله کې پوه شوم چې کله کله څومره ګټوره وی، چې نور زموږ خبرې وکړي.

په دې ورستېو کې دنیو یارک هرالد تریبون ورځپاڼې په

اقتصادي مخ کې یوه لویه خبرتیا چاپ شوې وه چې پکې دیو با استعداده او فوق العاده سړی دهمکارۍ غوښتنه شوې وه.

ښاغلی کوبلیس خبرتیا ته ځواب ورکړ او پوښتنلیك یې ډک کړ او پوستې ته یې واچوه. څو ورځې وروسته یې مر کې ته وباله. د ښاغلی موسسې تر ورتګ دمخه څو ساعته پردې ولګول چې وال ستریت ته لاړ شي او ددغې موسسې د مشر په باب معلومات حاصل کړي. دمرکې په منځ کې یې وویل وبه ویاړم چې دیوې پخوانی موسسې سره همکاري وکړم: دمعلوماتو له مخې ستاسو موسسې ۲۸ کاله مخکې کار پیل کړي او لومړی مو یو دفتر او یو چټك لیکونکی درلودل، همداسې نه ده؟

دموسسې مشر چې دهر بریالي سړي په شان یې خوښېده دده بریالي کارونه وستایل شي، بیا یې داخبرې پیل کړې چې څنګه یې په ٤٥٠ دالرو او یو نوښتیز فکر کار پیل کړ. څرنګه له نهیلیو سره وجنګېده او دهغه چا په وړاندې چې دی یې مسخره کړ، ودرېده او دورځې یې ۱٦ ساعته کار وکړ. بیا یې دې ته اشاره وکړه چې په پای کې هم بریالی شو او اوس د وال ستریت تر ټولو لوی سوداګر ده ته راځي. هغه په دغسې سابقه ویاړ کاوه. او دخپل بري له یادولو یې خوند اخست دخبرو په منځ کې یې له کوبلیس نه دده دکار او تجربې په باب پوښتنې وکړې اخر یې خپل یو مرستیال وغوښت او ورته ویې ویل:

فکر کوم هغه سړی همدا ښاغلی دی چې ورپسې ګرځو.

کوبلیس دخپل زیار نتیجه ولیده. ده بل لوری وهڅوه وغږېږي او پر هغه یې ښه اغېز پرې ایست. حقیقت دادی چې زموږ دوستان هم غواړي دخپلو بریاوو لافې وکړي، نه داچې زموږ د بریاوو کیسې واوري. فرانسوي فیلسوف لار شفوکو وایي:

که ددښمن پیدا کولو په لټه کې یاست، پر خپلو دوستانو د لوړالي په فکر کې شئ، خو که ددوست پیدا کول غواړئ، پرېږدئ

دوستان مو پر تاسې لوړتیا ولري!

دا خبره ولې رښتیا ده!

ځکه چې کله مو دوستانو پر موږ لوړالی پیداکړ دمهم والي له احساس نه برخمن کېږي. او چې موږ پرې خپل لوړوالی وغواړو نو دوی دحقارت احساس کوي او دلته دکینې او حسد خبره منځ ته راځي.

جرمنیان یو متل لري. مانا یې داده:

**«ډېر خونډوَر خوند دا دی چې دحسدکوونکو له بد مرغی راته په برخه کېږي.»**

کېدای شي ځینې دوستان مو تر برېاوو د ستونزو نه ډېر خوند واخلي، راځئ خپلې بریاوې وړې وګڼو، او یادې هې نکړو، په بله وینا:

**«دخپلو بریاوو په باب له حده ډېرې لافې مکوئ او څومره چې کولای شئ، ساده یې وښایئ».**

ایروین کوب چې لیکوال او وکیل و، یو ځل یې دیو قاضي په وړاندې له همدغې طریقې ګټه واخسته.

یو قاضي ترې وپوښتل، زه خبر یم چې تاسو د امریکا د ډېرو پېژندل شوو لیکوالو څخه یاست؟

ده ورته وویل: کېدای شي. زه تر هغه ډېر نیکمرغه یم، چې ارزښت یې ولرم.

څومره چې کېدای شي باید متواضع واوسو، که رښتیا هې وګورو، په موږ کې هیڅوک دومره مهم نه دي چې فوق العاده ارزښت ولري. ټول دژوند په نوم دیوې دورې د تېرولو وروسته خاورو ته ځو او دګلونو په تېرېدو به هېر شوو. ژوند تردې لنډ دی چې نورو ته دخپلو بریاوو په ځلولو یې نور خپه او نا ارام کړو.

دځان ستاینې پر ځای پرېږدئ نور له ځانه وغږېږي، ځکه ځان ستاینه ویاړ منه خبره نه ده. اجازه راکړئ یو خبره یاده کړم چې

دپوهېدلو سره سره يې دومره په فکر کې نه ياست؟ رښتيا پوهېږئ ولې بې عقله او کودن نه ياست؟

ايا پوهېږئ څه شی دکودنی او بې عقلتوب مخه نيسي؟ يوازې يو کوچنۍ شی! د تيروئيد په غده کې لږه اندازه (ايودين) دبې عقلی او کودنی مخه نيسي. که يو جراح مو دغه غده دجراحي عمل په واسطه وباسي. کودني منځ ته راځي.

ايا دومره کوچنی شی دوياړنی ارزښت لري؟

نو که غواړئ نور هغې لارې ته هدايت کړئ چې خوښه مو ده، او غواړئ دوی ستاسې دغوښتنی سره سم کړنه وکړي.

اجازه ورکړئ هغوی ښېرې خبرې وکړي.

# شپاړسم څپرکی.

دنورو دمرستو جلبول:

آیا هغه نظرونه چې پخپله تجربه مو لاس ته راوړي او خپله موکشف کړي دي ډېر خوښوئ که هغه نظرونه چې دنورو وي او په یوه نقره ای پتنوس کې درته وړاندې شي؟

که ځواب مومثبت وي، نو نا مناسبه نه ده چې خپل نظرونه په زوره دخلکو په غاړه کې ځوړند کړئ او دې ته یې اړ کړئ چې ستاسو نظرونه ومني.

آیا دا هوښیاري نه ده چې خپل نظرونه د پیشنهاد په شکل وړاندې کړو او پرېږدو بل لوری پخپله ترې نتیجه واخلي.

ښاغلي سلتز چې زما د کورس ګډون کوونکی دی خپله کیسه داسې وکړه:

**« ما یو وخت غوښتل یو فعال او له شوقه ډک موټر پلورونکي ۱۰۱ پکار وواږ غوښتل مې په دغو پلورونکیو کې یو شوق پیدا کړم...»**

«په فکر کې مې وګرځېده ښه لار داده چې دده دغو پلورونکو سره یوه مستقیمه غونډه وکړم چې شور او شوق ته اړتیا لري. کله چې مې غونډه را وبلله، ګډون کوونکو ته مې وویل چې د شرم داحساس پرته هر څه چې یې په زړونو کې وي، ووایي او هره غوښتنه چې لري، ویې کړي. کله چې دوی خبرې کولې ما یې نظرونه پر تخته لیکل. ددوی خبرې چې پای ته ورسېدې، ما څو خبرې لیکلی وې دهغوې تر کتلو وروسته مې دوی ته وویل:

زه به تاسو ته ټول هغه څه درکړم چې تاسو یې غواړئ، او په دې باید پوه شم چې تاسو وواېئ زه څه حق لرم چې ستاسو نه یې وغواړم؟

ځوابونه په ډېره چټکۍ راکړل شول چې مهم یې داوو:

**«وفاداري، دوستي، نوښت، ښه ایزه همکاري، په اته ساعتو کې**

**کټور کار کول...»**

دا په زړه پورې ده چې ځینو لا وویل حاضر دي د ۸ ساعتو پر ځای ١٤ ساعته صادقانه کار وکړي.

ددې ورځې غونډه په هغه شور، شوق او ګرمۍ پای ته ورسېده چې ماغوښته، لږه موده وروسته نه یوازې اړیکې صمیمانه شوې، بلکې پلورنه هم ډېره زیاته شوې ده.

زما کار کونکو زما سره یو بول اخلاقي معامله وکړه او تر څو چې زه د اصولو او دهغوی دغوښتنې سره سم کړنه وکړم دوی به هم خپلو اخلاقي ژمنو ته پای بند پاتې شي. ددې هیڅ دلیل نه وینم چې تر څو زه په خپله خبره ودرېږم دوی دې له خپلې خبرې وګرځي! دوی چې څه غوښتل دا وو چې زه یې غوښتنو، هیلو او لېوالتیا ته ارزښت ورکړم او خبرې ورسره وکړم.

دهیڅ نه خوښېږي دا احساس شي چې څه شی پرې (په چل کې) خرڅ شوی او یا دیو کار امر ورته شوی دی.

موږ ټول غواړو په خپل اختیار پېرودنه وکړو او دخپلو فکرو او غوښتنو سره سم کړنه وکړو. دا مو خوښه ده چې زموږ سره زموږ دغوښتنو، هیلو، او افکارو په باب مشورې وشي.

روزولت چې کله دنیو یارک حاکم و ځنې فوق العاده کارونه یې وکړل. هغه دهیواد دسیاسي مشرانو سره ددوستۍ له لارې چلند پیل کړ او ددې دوستۍ په پاڼ یې داسې کارونه او سمونې پیل کړې چې دده یو حامي هم ورسره جوړ نه و. خو لیدل به یې چې روزولت هغه څه کوي چې دوی ورته هم ویلي دي. هغې طریقې ته ځیر شئ چې تئودور روزولت کاروله :

کله چې به یوه مهمه دولتي چوکۍ تشېده، روزولت به له دوستانو غوښتل یو څوک وروپېژني طبعاً هغوی به هڅه کوله چې دخپلوانو یا ګوندي ملګرو له ډلې څوک وروپېژني، خو روزولت به دوستانو ته ویل. فکر کوئ چې دخلکو عکس العمل به دداسې سړي په وړاندې

څه وي، چې ښه ګونډي سابقه نلري؟ آيا پخپله ستاسو لپاره دمعرفي کوونکي په حيث ښه ده چې داسې څوک را وپېژنئ؟

د روزولت دوستان به ترديې توضيح وروسته پخپله په دې ليټه کې کېدل يو ښه ور او استعداد لرونکی شخص پيدا کړي او ور معرفي يې کړي. دې کار تر هغه دوام کاوه چې روزولت به ډاډه شو، د چوکۍ لپاره يې مناسب او ور سړی پيدا کړ. نتيجه به يې هم ډېره ښه وه. دا چې د ښاغلي روز ولت دوستان به په دې پوهېدلي و، يو مهم او مناسب سړی يې ديوې چوکۍ لپاره ورپېژندلی دی نو په مرستو او توجه يې غوښتل کارونه دومره ښه پر مخ لاړ شي چې ددوی انتخاب شوی سړی بدنام نه شي او د دوی ټاکنه ناسمه راونه وزي. دا هماغه څه و چې ښاغلي روزولت غوښتل.

ښاغلي روزولت ددغه شخص دټاکنې حق خپلو دوستانو ته ورکاوه او هغوی يې خوښول، هغوی بايد هم داسې تر تيب جوړ کړی وای چې ښاغلی روزولت يې خوښ کړی وای.

کله چې ښاغلی روزولت دهغوی نظر ته په درناوی، هغوی مهم ګڼل، هغوی هم مجبور وو دنه موافقت سره هم دده دکارونو او سمونو ملا تړ وکړي او دکورنيو خدمتونو او مالياتي معافېتونو ددريځو په شان کارونو کې دده ملګری شي.

دا مو په ياد وي چې روزولت دخپلو کار جوړنکو ملګرو مشورې ته ډېر درناوی کاوه. کله چې يې مهم انتصاب کاوه. دچارو مسولينو ته يې اجازه ورکوله چې خپل نومول شوي کسان وروپېژني. او کوم کار چې يې کاوه خپل فکر به يې و.

د ورانګو توليدونکې يوې کمپنی داروايوهنې پر اصولو د پوهېدو له مخې په يوه لوی روغتون کې درادیو ګرافی ماشينونه په دې طريقه وپلورل:

په دې روغتون کې له ډېره وخته د روغتون د درمليزو چارو د پراختيا طرح جوړه شوې وه او نوې ودانی دجوړېدو په حال کې

وي. دا په پام کې وه چې په نوو ودانيو کې د وړانګو تر ټولو ښې بېلګې ولګوي. داکتر «ل» درادیو ګرافی د برخې مشر ددغو سامانونو داخستلو دنده واخسته. هغه له ډېرې مودې راهیسې د وړانګو دجوړونکو کمپنیو د پلورونکو له خوا محاصره شوی و. او د بهترینې دستګاه په ټاکنه کې دوه زړه و، چې یوه ورځ ددغو دستګا وو د یوه ځیرک پلورونکي لیك ورته راغی. پلورونکي چې د بشري ختې د ځانګړنو معلومات لرل، داکتر ل ته لیکلی و.

زموږ کار خانې په دې وروستیو کې درادیو ګرافی ځینې دستګاوې جوړې کړې دي چې لومړنی بیلګې یې موږ ته راورسېدې. دا دهره پلوه بې عیبه دي. خو دا چې غواړو په تر ټولو ښه او بشپړ بڼه یې دروغتیایي خدمتونو په خدمت کې کېږدو. ستاسو نه به ډېر خوښ شوو که لیدلو ته یې تشریف راوړئ. تر کتنې وروسته به مو خپل جوړونکي نظرونه موږ ته ووایئ چې دسمون سبب شي. البته په دې خو پوهېږو چې تاسو پخپلو کارونو کې ډېر بوخت یاست. نو ځکه په ډېره خوښی حاضر یم هر ساعت چې تاسې راتلئ خپل موټر درپسې درولېږم.

داکتر چې زما په ټولګي کې دا کیسه کوله، وویل چې دې بلنې راباندې ډېره اغېزه وکړه، زما نظر ته چې کوم اهمیت ورکړ شوی و، زه یې خوښ کړم. نور هیچا زما نظر او معلوماتو ته اهمیت نه و ورکړی.

په پای کې ټول کارونه وشول، ورغلم، دستګاوې مې وکتلې، خوښې مې شوې، وامې خستې او په روغتون کې ولګېدې

د وېلسون دجمهوري ریاست پر مهال ادواردم هاوس پر جمهور رئیس ډېر اغېزمن و، ولې؟ دده خپلې خبرې واورئ.

دجمهور رئیس ویلسن ‌ سره تر اشنایی وروسته پوهېدم چې دده دوستی ښه لار داده چې بې له دې چې پام یې شي خپل افکار دده مغزته ورننه باسم او داسې ترتیب ورکړم چې خوښ یې شي او

دخپلو افکارو فکر پرې وکړي. لومړی ځل دا کار تصادفي پېښ شو. پېښه داسې وه چې زه يې دليدنې لپاره سپينې ماڼۍ ته ورغلم چې يو فکر ورکړم خو هغه فکر د مخالفت سره واقع شو او بيا زما هم هېر شو. خو څو ورځې وروسته مې وليدل چې جمهور رئيس زما هماغه فکر د خپل فکر په حيث وړاندې کوي.

که موږ او تاسو وای نو ډېر زر به مو ويلي وای **«دا خبره خو درته ما هغه تېره ورځ وکړه، داخو زما نظر دی ولې مو هغه ورځ رد کړه»**

خو هاوس تر دې ډېر هوښيار و. هغه جمهور رئيس ددغسې عالي فکر په لرلو وستايه او په همدې طريقو يې دهغه دومره باور تر لاسه کړ چې دکابينې يو وزير هم نه و لاس ته راوړی.

اجازه راکړئ موږ هم داسې انځور کړو هغه خلك چې سر له سبا زموږ سره مخ کېږي دجمهور رئيس ويلسون په دريځ کې او ځانونه د ښاغلي هاوس په دريځ کې راولو. او په سلوک کې ورسره دښاغلي هاوس له کړنې کار واخلو او نتيجو ته يې وګورو.

نو ددغو ټولو سره اوس که غواړئ نور ستاسې دفکر سره سم فکر وکړي، لاندې اصل ته پاملرنه وکړئ:

اجازه ورکړئ، خلك داسې وګڼي چې راضي کوونکي مفکوره دهغوی خپله ده.

۲۵ پېړۍ د چين لوی حکيم لائوتسه يوه لويه مفکوره بيان کړې ده چې بې له شکه نن هم ددې کتاب لوستونکيو او نورو ته ګټوره ده.

ددې دليل چې سيندونه دريابونه او سمندرونه دغرونو له سرونو د روانو شويو ويالو او لښتيو تکريم او در ناوي جلبوي او ځان ته يې راکاږي، دادی چې په ټيټه سطحه کې پراته دي.

په همدې خاطر دي چې په پای کې دريابوته اوسيندونه دي چې کولای شي پر غرنيو ويالو حکومت وکړي.

هوښيار سړی هم که غواړي پر نورو لوړ تيا ولري . بايد ځان هغوی ته کوچنی او ټيټ وښايي.

هغه چې غواړي تر نورو مخکې او دنورو لار ښوونکی شي، بايد ځان له نورو وروستــه وګڼي، ځکه دنورو نه ستــاســې ددريځ په لوړوالي څوک ستاسو دشخصيت لوړوالی نه احساسوي. او په نتيجه کې دچا د درجې او دريځ لوړوالی دچا احساسات نه ټيپي کوي.

اجازه ورکړئ، بل لوری داسې وګڼي، جوړونکې نظريه دهغه خپله ده.

# اوولسم څپرکی

**یوه معجزه ډوله لارښوونه:**

داسې لار ښوونه چې دهغې په کارولو به حیرانوونکې ښې نتیجې واخلئ!

دنورو سره په برخوردکې دې ټکي ته ځېر اوسئ چې کېدای شي ټول شیان دغوښتنې سره سم او منطقي نه وي. کېدای شي. بل لوری په اشتباه کې وي، په کږه لار روان وي. خو هغه پخپله دانه ګڼي چې په کږه لار روان دی. سم دواره یې مه محکوموئ. دناپوه سړي محکومول دومره آسان کار دی چې تخصص او پوهې ته اړتیا نلري یو ناپوه سړی هم دورانکارۍ سره محکمونکي کړنه کولی شي. خو تاسو دا کوښښ وکړئ چې هغه څوک چې اشتباه کوي، درک کړئ. دبرخورد دا طریقه یوازې پوه او هوښیار خلك کوي.

په رښتینې بول هڅه وکړئ ځان دهغه په دریځ کې راولئ.

په دې شرایطو کې که خپل ځان ته ووایئ «که زه ددې پر ځای وای. څه احساس به مې درلودای او څه عکس العمل به مې کولای؟ خپل وخت مو بېځایه نه دی لګولی، یوازې دومره ده چې لږ بې ځایه غصه شوی یاست.

دا یو تجربي اصل دی چې که علتونه ولټوو بیا ډېر زر نه قارېږو. بله دا چې ددلایلو د پیدا کولو هڅه په انساني اړیکو کې ستاسې مهارت زیاتوي.

کنت ګود پخپل کتاب (How to turn Peopl into gled) کې لیکي:

لږ فکر وکړئ او هغه مینه او توجه چې خپلو کارونو ته کوئ، دهغې مینې او توجه سره پرتله کړئ چې دنورو لپاره یې کوئ ایا خپلو کارونو ته ډېره پاملرنه کوئ که دنورو؟

که ښه پام وکړئ، په دې پوهېږئ چې دانړۍ نړدې ټوله همدا پول فکر کوي. چې په دې خبره پوه شوئ، تاسو هم د لويو اشخاصو په شان کېږئ. چې دبري لپاره بايد دنورو له ستونزو سره مينه وښايئ. او نړۍ دهغوی له سترګو وګورئ په څرګنده توګه به پوه شئ چې دوګړو سره يا سلوک کې برى دهغوی سره د همدردۍ څرګندولو له لارې دهغوی دنظريو په جلبولو پورې اړه لري.

کلونه کېږي چې زه دخپل کور خواته يو پارک ته دتفريح لپاره ځم د ګل دځمکې د پخوانى ماهيانو په شان د څيرى ونه راته د پالنې په کچه ګرانه ده. خو کله چې ګورم ببځايه اور لګېدنې ، واړه بوټي سېزي ، چې دلاً بالي هلکانو د سګرټو نه منځ ته راځي او کله يې لا د شيطنت نتيجه وي. د پارک په يوه څنډه کې يوه لوحه ليکل شوې وه چې هر څوک داور اچونې سبب شي په جبل او جريمه به محکوم شي. خو دا لوحه داسې ځای کې وه چې ډېر لږ پام وراوښت. کله به يو پوليس هم راښکاره شو خو پخپل کار کې ډېر جدي نه و. ښه مې په ياد دي چې يو ځل مې ځان پليس ته ور ساوه او ترې ومې غوښتل چې د لګېدلی اور دوژنې لپاره دې داور وژنې اداره خبره کړي، خو هېڅ تاثير يې ونکړ او ويې ويل دغه سيمه زما دساتنې په پولو کې نه ده.

تر دې وروسته مې دځينو ځايونو ساتنه پخپله کوله. په قهر به دهلکانو خواته ورتلم او تهديدول به مې چې که اور موبل کړ، زندان به يې ځای وي او دداسې مامور په شان به مې پرې امر کاوه چې پوره واک او اختيار لري. ډېر داسې هم کېدل چې هلکانو به په قهر جنه څېره او خفګان اور مړ کړ، خو چې زه به ترې لاړم. بيا به يې بل کړ. زه اوس پوهېږم چې په دغسې حالاتو کې دوی غوښتل ټول پارک وسوزوي دکلونو په تېرېدو او انساني اړيکو کې دمعلوماتو په پيدا کولو پوه شوم چې موضوع دهلکانو له نظره وګورم نو که به

هلکانو دغسې اور واچوه، زه به خواته ورغلم او داسې به مې خبرې ورسره پیل کړې.

سلام، ځوانو ښاغلیو! ښکاره در باندې ښه تېرېږي؟ د خدای (ج) شکر دی. د بندار لپاره څه پخول غواړئ؟ نوش جان مو! زه چې هم ستاسو په عمر وم اور به مې بلوه، خو پوهېږئ چې په پارک کې داور بلول ډېر خطر ناک کار دی. زه په دې پاده یم چې تاسو ځوان هلکان د چا دازار او دعمومي مالونو د ورانېدو اراده نلرئ، خو ځینې ماشومان شته چې دغه کار کوي. دوی چې تاسو ویني، اور مو بل کړی، پخپله یې هم بلوي او بیا یې له دې چې اور مړ کړي، خپلو کورونو ته ځي دا ښه ده چې تاسو ته یې روښانه کړم، بیا څه پېښېږي؟ اور پراخېږي او ډېرې ښکلې ونې د اورد لمبو خوراک کېږي. که دخپلې تفریح لپاره پارک ونلروڅه به کوو.

هو، زه تاسې ته ددې خبرو امر نه کوم او تهدیدول مې غرض نه دی چې خدای (ج) نا خواسته کار به مو د بندي کېدو سبب شي، ددې پر خلاف غواړم ساعت مو ښه تېر شي او غواړم تاسو ته تکلیف پیدا نه شي. اوس نو فکر نه کوئ دا ښه ده چې ددې نغري خو او شا پاتې را ټولې کړو چې نورو ته اور ونه لېږدوي. دتللو پر مهال هم په نغري خاورې واړوئ بل ځل چې پارک ته راتلئ په یوه دغسې خلاص ځای کې به اور بل کړئ. چې هېڅ خطر به نه وي هلکانو ستاسو نه ډېره مننه، خوښ اوسئ!

زما دې کړنې ماشومان هڅول د پارک ساتنې فکر وکړي، زه هم خوښېدم چې ماشومانو سره مې خبره په ښه طریقه حلوله.

سبا مخکې له دې چې هلکانو ته امر وکړئ چې فلاني کار وکړه. یا څوک اړ کړئ چې فلاني خیریه مرکز ته بسپنه ورکړي، لږه شېبه صبر وکړئ او له ځانه وپوښتئ **«دوی ولې زما دغوښتنې له مخې اقدام وکړي؟ که زه ددوی پر ځای وای او چا په زور د بسپنې ورکولو ته اړ ایستلای آیا امر مې یې مانه؟»**

البته دې هدف ته د رسېدو لپاره وخت پکار دی خو په مقابل کې به دوستان ومومئ او ښې نتيجې به لاس ته راوړئ او دنورو سره به د برخورد امکانات کم کړئ.

پوهاند دېن دونهام دهاروارد پوهنتون دسوداګرۍ دڅانګې استاد وايي:

دې ته تر جبهې ورکوم چې د يو چا ددفتر مخې ته دوه ساعته ودرېږم او چرت او فکر وکړم خو نه دا چې بې له دې دفتر ته ورننه وزم چې په دې پوه نه يم چې څه بايد ووايم او څنګه يي بايد ووايم، او څنګه جواب به واورم!

که ددې کتاب د پاڼو تر لوستلو وروسته همدا نتيجه درته پيدا شوې وي چې وکړای شئ ځان دنورو په درېځ کې راولئ او دنورو دسترګو دکړکيونه کارونو ته وګورئ دا ده اوسئ چې داسې ور نتيجه مو تر لاسه کړې ده چې پر مختيا او هدف او هيلو ته مود درسېدو لپاره يو تر ټولو ښه سبب دی.

دا څه چې تېر شول که اوس غواړئ دنورو د قهرد دنه را پارونې او د احساساتو دنه ټپي کونې په صورت کې هغوی اصلاح کړئ او په داسې طريقه لار ور وښايئ چې غواړئ يې نو لاندې لار ښوونه وکاروئ:

صميمانه هڅه وکړئ، ځان دنورو په ځای کې راولئ او دهغوی له دېدګاه نه مسايلو ته وګورئ.

# اتلسم څپرکی

نور څه غواړې؟

هغه چې ټول یې غوښتونکي دي، څه شی دی؟

آیا زه مو غواړي داسې اعجازي ټکی درته زده وای چې دهغه په وسیله مو کولای شو چې دناخوښه خبرو بحث نه پرې مخنیوی وکړئ او نا خوښه احساسات له منځه یوسئ او د بل لوري ښه نیت را وپاروئ او دې ته یې اړ کړئ په دقت مو خبرې ته غوږ ونیسي او په پای کې درسره په یو نظر شي؟

ښکاره خو عاقلانه هیله ده. که دغسې هیله لرئ، زه زیری درکوم چې دغه هیله مو پوره کېدونکې ده . ډېر ښه، ځیر شئ: هغه ټکي چې تاسو یې دزده کړې هیله لرئ او زه غواړم د یو فرمول په شان یې درته زده کړم. داده او تاسو باید دنورو دقهرجنو احساساتو په ځواب کې خپل ځواب داسې پیل کړئ:

زه تاسو ددې احساس په خاطر چې لرئ یې یوه ذره نه ملامتوم او پړ دې نه ګڼم که زه ستاسې پر ځای وای بې له شکه مابه هم دغسې احساس درلودای. ستاسو دا ځواب به ډېر پارېدلي او قهرجن خلك هم غلي او ارام کړي. خو یوه خبره! کله چې دا خبره کوئ باید په سلو کې سل یې دصمیمیت له مخې ادا کړئ! د صمیمیت غوښتنه ستاسې نه بې اړیکې غوښتنه نه ده ځکه که رښتیا هم د بل لوري پر ځای وای ، هماغه شان احساسات به مو درلودل. نو دا اعتراف له صمیمیت نه تش او دروغ نه دی.

اجازه راکړئ دیو مثال په راړولو موضوع روښانه کړو:

الګاپن په پام کې ونیسئ، فکر وکړئ دهماغه خوی او اخلاقو او هغه تر بیتي چاپېریال لرونکي یاست چې هغه و. فرض کړئ

دالګاېن ارثي خـواص مـو په ارث رسـېدلي او دهغـه د ژوند په چاپېريال کې لوې شوي ياست او دهغه په شان تجربو او تر بيتي ذخيـرو لرونکي يې چې هغـه شـو! په دې صـورت کـې بايد دا شك ونکړئ داسې سړی درنه جوړېده لکه ښاغلی الګاېن! ځکه هغه خو ددغو عواملو مجموعي دغسې کړی و.

تاسـو چې دغسـې با ادبه او با تر بيتـه ياست.، پر ځـان مـه نازېږئ او مه هېروئ چې روز نيز شرايط مو دغسې و. کله چې يو سړی دبې ځايه قـهر او بې دليله تعصبـاتو سره ستـاسو خـواته راځي، په ياد مـو وي چې ددې لپـاره دتر ښې ورنه وي. تاسـو بايد دهغه مو هبت شکر ادا کړئ چې پخپله يې لرئ، او پرده مو بايد زړه وسوزي او همدردي ورسره وښاېی. په داسې حال کې تاسې هم دجان په. ګود په شـان ځانته خبرداری ورکړئ چې په کوڅه کې يې ديو لړزېدونکي مست سړي په ليدو؛ ځان ته ورکړي و:

**«دا هماغه حال دی چې که دخدای (ج) رحمت را باندې نه وای، زما به هم وای.»**

دری پر ځلور خلك ستاسو مهرباني او همدردی ته اړه لري. که دغه مهرباني ترې ونه سپموئ، بې حده زياته به ورته ګران شئ.

يوځل مـا د مېرمن الکوت په باب چې د «کوچنی ښځې» کتاب يې ليکلی دی له راديو نه په خپله وينا کې دهغې دزېږېدو ځای ناسم ووايه. بده داوه چې دوه ځل مې دغه ناسمي تکرار کړه. نو ځکه به سبايې بې شميره نېش لرونکي ليکونه او ټېلفونونه راروان شول چې د زهري مچيو په شان يې نه پرېښودم. ځينې ډېر قهر جن شوي و او ځېنو ډېر بدبد تو هين کړی وم. يوې مېرمن راته ليکلی و تاسو چې دغه مېرمن د نوې ګينا د سړی خورو نه ښودلی وای، دومره نه په قارېدم لکه اوس. کله چې مې دهغې ليك ولوست ځان سره مې وويل: دخـدای (ج) شکر دی چې دې ښـځې سـره مې واده نه دی کړی!

يو ځل مې زړه وکړ ليك ورته وليكم او ورته ووايم چې ما د يو چا دزېږېدو په ځـاى كې سـهوه كړې وه.خـو دا تردې لويه غلطي كړې چې دمعاشرت اداب دې تر پښو لاندې كړي. خو دا كار مې ونكړ ځكه دا كار هر څوك كولى شي. يوه ورځ مې ورته تلفون وكړ او په ډېره نرمه لهجه مې ورسره دا خبرې وكړې:

– مېرمن...! څو اوونى مخكې مو ماته يو ليك راولېږه، غواړم دهغه په باب درنه مننه وكړم.

–كېداى شي وفرمايئ د چا سره دخبرو وياړ لرم؟

– كېداى شي مـاونه پېژنئ، زه تاسو ته يو پردى يم، كېداى شي تاسو زما څو اونى مخكې وينا ته چې دمېرمن الكوت په باب مې له راديو نه كړې وه، خيال وې. زه ددې نه ښښل كېدونكې اشتباه مرتكب شوم چې ومې ويل هغې په كنكور نيو همپشاير كې ژوند كـاوه. ډېره لويه سـهوه وه. زه ددې اشـتبـاه په خـاطر مـعذرت غواړم: او ډېره مننه كوم چې تاسـو خپل وخت ولګاوه او زه مو خپلې اشتباه ته ځير كړم.

– ډېره دافسـوس خـبـره ده ښـاغلى كـارنګي، زه په هغـه ورځ ډېره قهرېدلې وم. دهغه ليك له امله ما وبښئ!

– نه مـېرمنې! تاسو بايد عذرونه غواړئ! دا زه يم چې اشـتبـاه مـې كړې ده او بايد معذرت وغواړم.

د ښـوونځـي يو هلك په دې پوهېږي. البتـه د يكشنبـې په ورځ مـې دراديو له لارې مـعذرت وغوښت او اوس هم غواړم سـتـاسـو نه شخصاً معذرت وغواړم.

– زه دمـا سـا چوست په كنكورد كـې زېږېدلى يم. كـورنى مـې دوه پېړې ددې ځـاى ممتازه كورنى وه او په همدې وجه پرې وياړم، ما چې تاسو ته كوم ليك ليكلى په هغه وخت كې په قار شوى وم خو اوس پرې رښتيا خجالت او شرمنده يم.

–مېرمنې! زه ډاډ دركوم چې په ټولې نا راحتى زما په نسمه برخه

هم نه يې زورېدلې. دې اشـتـبـاه مـا سـاچوست ته زيان ونه رساوه، ماته يې زيان راورساوه. ستاسې په شان دزده کړو او دقت لرونکی خلك ډېر کم دي چې وخت پيـدا کـړي دراديو خپرونې واوري او ليکنې ورته وکړي. تردې وروسـتـه هم ډاډه يم چې هر کله مو زما پر خبرو کې اشتباه بيامونده حتما يې راته وليکئ.

– حقيقت دادی چې دانتقاد په منلو کې مې ستاسو لار ډېره خوښه شوه. تاسو ډېر ښه انسان ياست، زړه مې غواړي ستاسو سره زياته اشنا شم.

زه اوس په دې عمل خوښ يم، ما ورسره همدردي وکړه، دهغې همدردي مې هم جلب کړه.

څوک چې دجمهوري رياست مانۍ ته ځي دخلکو سره دسلوك په باب د ډېرو ستونزو سره مخ کېږي جمهور رئيس تافت هم يو له دوی و. هغه په تجربه سره زده کړې وه چې دنورو سره همدردي او غم خواري فوق العاده اغېزه لري هغه پخپل کتاب (ethics in service) کې ليکلي دي، څنگه بريالي شو چې ديوې قهرجنې او نهيلې مور غصه او عصبا نيت تسکين کړي:

«يوه ښځه چې مېړه يې مهم سياسي شخصيت و، شپږ اونۍ يې ماپسې راتله چې زوی يې ددې دخوښې او ستاتو رانوږنه يې سپارښت ليکونه هم راوړل؛ دهغه پست لپاره چې څوک ياکل کېده بايد ځانگړي شرطونه يې درلودای. او زه پوهېدم ددغې ښځې زوی کې نه وو. ما بل شخص وټاکه. څه موده وروسته دې مېرمن يو ليك راولېږه او پکې ليکلي يې و چې ډېر حق نه پېژونکی يم. ځکه سره له دې چې هغه مې نېکمرغه کولای شوه دا کار مې ونکړ. همدا راز خبر شوم چې پخپل ايالت کې يې زما پر خلاف ځېنې اقدامات پيل کړي او زما نوم يې دکانديدانو له لست نه ليرې کړی دی.

ددغې مېرمنې درفتار په مقابل کې ما داسې وکړل (زه چې چاته

په قهرشم یو لیك ورته لیکم خو درې ورځې یې دمېز په جیبه کې
ړدم) دې مېرمنې ته مې هم یو لیك ولیکه، خو ور ومې نه لېږه او د
میزپه جبه کې مې کېښود. څو ورځې وروسته مې وشکوه، خو دهغه
په ځای مې ډېر پوست او ادبي لیك ولیکه او ورته یاده مې کړه چې
حق دهغې دی، خو زما گناه هم نه ده، ځکه داشخاصو په ټاکنه
ټول واک نلرم. شخص کې باید څه شرایط وي. ما باید ددفتر
درئیس په مشوره داسې څوک ټاکلی وای چې پوره فني معلومات
یې لرلای. ستاسو زوی دا معلومات نه لرل په پای کې مې ورته
ولیکل هیله ده زوی هې په اوسنې بست کې دداسې خدمتونو جوگه
شي، چې هغه یې غواړي. دې لیك قهر جنه مور رام کړه او په هغه
یادښت کې چې ماته یې راکړ، لیکل شوي و، دخپل لیك په لیکلو
پښېمانه ده.

ـا ټاکل شوی سړی هم منظور نه شو. دا ځل ددې مېرمنې
ـړه لیك راته لیکلی او غوښتې یې و چې باید اوس دهغه زوی
ونیسم. او مور یې چې له قهره د سرطان په ناروغی اخته شوې
ده، وژغورم.

په ځواب کې مې ورته ولیکل. د ټاکلو واک زه نلرم. خو دمېرمنې
له ناروغی مو متأسف یم. څو ورځې وروسته لومړنی ټاکنه ومنل
شوه او په دې اړه په سپینه ماڼی کې یوه میلمستیا جوړه شوه ،
اتفاقاً لومړي کسان همدغه ښځه مېږه و چې ماته یې مبارکي وویله
(مېږه یې ویل چې ښځه یې په سرطان اخته شوې وه).

سل هوروک بې له شکه دموسیقي یو لوی استاد دی. دې سترو
او پیژندل شویو هنرمندانو ته دموسیقی درس ورکوي او
پروگرامونه یې منظموي. دی وایې لومړی درس چې مې دانساني
اړیکو په باب له دغو بو الهوسو او د مدمې هنر مندانو نه زده کړ
دادی چې دوی تر ها چا زیات همدردی او زړه خوږی ته اړ دي.

داکتر ارترکننس نو میالی ارواپوه پخپل کتاب (Educational Psychology) کې لیکي: بشر دتسلي موندلو لپاره همدردی ته اړ دي. یو هلك چې خوښېږي يې خپل ټپي لاس نورو ته وښايي قصداً خپل لاس ژوبلوي چې ټپ منځ ته راوړي او دنورو همدردي پرې را جلب کړي، کېدای شي ځان په دیوال ووهي او دمورو پلار مینه، همدردي او شفقت جلب کړي. په همدې دلیل معمولي اشخاص هم غواړي خپل ټپونه نورو ته وښايي او خپلې غمجنې کیسې نورو ته ووايي، هغوی ددې نه چې خپل جراحي جزئيات خلکو ته شرح کړي، خوند اخلي. کله کېدای شي دا پېښې خيالي وي.

په هر حال بشر دتسلي موندلو لپاره همدردی ته اړ دی.

نو په دې خاطر که غواړئ نور له ځان سره مله کړئ، لاندې لاربنود عملي کړئ:

دنورو فکرونو او عقیدو سره همدردي وښاېئ.

# نولسم څپرکی.

داسې سند چې ټول ورسره مينه لري:

زه (ډيل کارنګي) د جيسي جمز دکرونډې خواته چې دميسوري نه بهر پرته ده، روزل شوى يم د جيسي جمز مېرمن راته دخپل مېړه ډېرې کيسې کړې دي. هغې راته ويل چې مېړه يې څنګه بانکونه او قطارونه وهل او هغه پيسې چې له دې لارويې ترلاسه کولې خوا شا بزګرانو ته ورکولې چې هغوى پرې خپلې ځمکې له ګروى خلاصې کړي.

دا امکان شته چې جسي جمز ځان پو انديال ګاڼه. هماغه تصور چې هلندي شولتز، دوه تمانچه کرولی او الګاپن درلود. خو رښتيا داده چې هر انسان چې ددوی سره مخ کېږي. حتى هغه انسان چې په ائينه کې مخامخ ځان ويني. ځانته په درناوى قايل دى او دځان په باب په ارزونو کې ځان مهم او دخير سړى ګڼي.

هـ - پير مورګان په هغه بحث کې چې ددننې (زه) تحليل ته يې ښېل کړى دى، ليکي:

زياتره انسانان دهغه کار لپاره چې کوي يې دوه دليله يا پارونکي عوامل لري. لومړنى دليل تل واقعي دليل وي، او دوهم دليل معمولا ارماني دليل وي چې کوونکي ته ښه او منونکى ښکاري.

ټول خلك لومړنى دليل پېژني او اړتيا نشته هغه توضيح شي. خو ددوهم دليل په باره چې موږ ټول تر يوه حده اند پال او ارمان غوښتونکي يوو، خوښېږي مو د هغو محرکاتو په باب فکر وکړو چې عالي او لوړ راته ښکاري. نو په همدې دليل که غواړئ په خلکو کې بدلون راشي، دهغوى له پټمنو محرکاتو سره نږدې شئ.

اجازه راکړئ په رښتين پاله کتنه دې مسئلې ته وګورو:

لرد نورو کلف چې په ورځپاڼه کې دخپل انځور په چاپ خوښ نه

و. يو ځل ورځپاڼې دده د ناروغتيا عکس چاپ کړی و. يو ځل يې وغوښتل ټولې ورځپاڼې ديو سخت ليك په وسيله دده دعکس د چاپولو نه منع کړي، خو بيا يې فکر بدل کړ. له ځان سره يې وويل بايدله يوې داسې لارې يې حل کړم چې تر يوه حده عاطفي وي ډېره ښه لار د مورنی مينې دمسئلی مطرحول دی! نو د ورځپاڼې مدير ته يې وليکل:

**«ميله کوم نور زما عکس چاپ نکړئ، ځکه دمور مې نه خوښېږي.»**

راکفلر چې نه يې غوښتل د زامنو عکسونه يې چاپ شي هم له داسې شريفې محرکې نه کار واخيست دوستانو! پوهېږئ خبره څه ده؟ حتماً ستاسو زياتره اولادونه لرئ او پوهېږئ چې ماشومانو ته ډېر شهرت څومره زيان لري.!

سا يروس کريس يو غريب هلك و، وروسته يې اخبار را وايست. هغه د لويو ليکوالو د مقالو د جلب لپاره بودجه نه لرله. خو هغه د ليکوالو په شريفو خويونو پورې نښته او خپل مقصد يې لاس ته راوړ. مثلاً يو ځل يې الکوت چې د **«ډکوچنی ښځې»** کتاب يې ليکلی و، په دې جذب کړه، ددې پر ځای چې هغې ته سل ډالره ولېږي، هغې خيريه موسسې سره يې ډېره لږه مرسته وکړه چې دالکوت ورسره مينه وه.

زما پخوانی شاگرد جمز توماس وايي:

دموټرو دترميم شپږ تنه مشتريان دخپلو پيسو ورکولو ته نه حاضريدل. سره له دې چې ددوی ټول فرمايشونه عملی شوي و خو دوی سر زوري کوله. شرکت بيلا بېلی هڅې وکړې خو نتيجه يې ورنکړه. د ټولو اقداماتو نتيجه جرو بحث و او زړه خوړل او نا کامي او ددواړو خواو نا رضايتي وه.

د شرکت مشر په پای کې په دې لټه کې شو چې دقضايي ادارو مرسته وغواړي.

هغه ددې کار لپاره مجبور شو دعمومي مدير مشورې ته ورشي، لومړی يې د پېرودونکيو د سوابقو په باب چې حسابونه نه تصفيه کوي، معلومات وغوښتل. ټول داسې کسان و چې پخوا يې داکار نه کاوه. نتيجه يې واخسته چې بايد حتماً څه ستونزه وي. عمومي مدير دکلونو تجربو لرونکی و پوه شو چې اشتباه دغوښتنې په بڼول کې وه، نو ښاغلي توماس د تحصيل مامور او د شرکت نماينده ته يې امر وکړ چې ددې اعتراض کوونکو پېرودونکو نه د قرضو داخستلو اقدام وکړي. ښاغلی توماس خپله کيسه داسې وکړه:

۱- ما د پېرودونکو سره داخبرې کولې چې مودې وشوې دشرکت قرض يې نه دی ورکړی او زه مامور شوی يم چې ددوی نه دغه قرض واخلم. شرکت ستاسو په کار کې شك نلري او هيڅ اشتباه په منځ کې نشته!

خو ما داکار ونکړ، هر يو ته چې ورتلم بې له دې چې دقرض خبره ورسره ياده کړم ورته به مې ويل ددې لپاره چې د شرکت کارونه ارزيابي شي، راغلی يم تاسو راته ووايئ چې څه بايد وشي او څه ونه شي؟

۲- د پېرودونکي خبروته مې غوږ نيوه. تر دغه وخته ما هيڅ نه ويل. په پای کې مې ورته وېل: شرکت دا دعوه نکوي چې خطا نه منونکی دی. انسان سره خطا شته او شرکت هم دانسانانو نه جوړ دی.

۳- ورته ويل مې: ستاسې دموټر سره مې علاقه ده او پوهېږم چې تاسو تر هر چا زيات دهغه په باب معلومات لرئ.

٤- تر هغه وروسته مې دوی ته اجازه ورکوله وغږېږي او ثابت کړي چې تر هر چا ډېر دخپل موټر په څرنګوالي او څومره والي پوهېږي. هغوی دغې مينې ښودنې او داسې چاته اړتيا درلوده چې همدردي ورسره وکړي. کله چې لازميده او دوی غوښتل خبرې مې ورسره کولې.

۵- په پای کې چې به مشتري هوښیارېده دقرض موضوع به مې ورته ویله او خپل ماموریت به مې ورته څرګندوه. له ده به مې غوښتل منصفانه قضاوت وکړي. وروسته له هغه چې پوهېدم به داخستونکي شریفې انګېزې مې راپاراولي دي، ورته ویل مې:

پوهېږم موضوع ډېره ورانه مخکې تللې ده. زموږ نماینده ګان ستاسو مزاحم شوي او تاسو هم قهرېدلي یاست. دا باید نه پېښېدای. زه پر دې خفه یم او معذرت غواړم، که کومې شېبې چې کسانو سره خبرې کوم ستاسو د حوصلې او انصاف تر اغېز لاندې راغلی یم. اوس چې مې ته منصف او حوصله لرونکي موندلی یې. هیله کوم مهرباني وکړئ او دشرکت دحساب په باب یو فکر وکړئ. ځکه هیڅوک ستاسو په اندازه نه شي کولای دهغه په څومره او څرنګه پوه شي. زه پوهېږم چې که ستاسو نه وغواړم دده حساب تعدیل کړئ، همغسې به یې تعدیل کړئ لکه د شرکت رئیس چې یې کوي! په هر حال ددې ستونزې حل تاسو ته پرېږدم، تاسو چې هر څه وفرمایل هماغسې کوم. ایا پوهېږئ چې دوی حسابونه تعدیل کړل؟ هو! ددوی ځینو ډېر کم رقمونه سم کړل، یوازې یوه یې ډېر زیات تعدیل دځان په ګټه وکړ خو نورو پنځه تنو تر لوړ رقم چې موږ غوښت ومانه او وریې کړ. د پاملرنې ټکی دادی چې پردې شپږو پېرودونکیو مو په راتلونکو دوه کلو نو کې نوی موټرې خرڅې کړې.

ښاغلي توماس دخپل کار دتوضیح لپاره وویل: تجربې ماته ښودلې ده. کله چې نه شو کولای له پېرودونکي نه ښه معلومات واخلو، تر ټولو ښه لار یې په صمیمیت، درستکاری، رښتیاویلو دبل لوری دمتصف کولو لار ده او بس. زه هم دلته ددوی شریفو او اصیلو انګېزنو ته ورنژدې شوم.

زه هم په دې عقیده یم. (د ډېرو استثنایي حالاتو پرته) ټول خلك د شریفو انګېزنو په وړاندې ښه عکس العمل ښایي. په بله وینا

هیـڅـوک حـاضـر نه دی ثابت کـړي چې پتـمن، پاک، سـپـېڅلی، درستکار، امانت ساتونکی او ژمن سړی نه وي. هغه هم په داسې حال کې چې تاسو ورته دغسې ځانګړنې ورکړئ.

نو که غواړئ، خلك ستاسو دغوښتنې سره سم کړنه وکړي، تر ټولو ښه لار داده چې دلاندې اصل پېروي وکړئ.

دهغوی په تر ټولو پتمنې انګېر نه پورې ونښلئ.

# شلم څپرکی:

تاسو ولې دمثبتو کارونو پېروي نکوئ!

هغه کار چې په سینما او راډیو کې مثبته نتیجه ورکړي او کولای شئ تر تطبیق وروسته یې په برې سره وکاروئ:

نیمه پېړۍ مخکې «فیلا دلفیا ایونینګ» خپرونه دیوې ډلې تر برید لاندې راغله. البته برید دمنفی تبلیغاتو په شکل و. تبلیغ کوونکو په مستندو تو متونو چې دغه خپرونه پورې یې کول، دهغې پر ضد خطر ناکې انګازې را پورته کړې وې، او دشاته کېدو هم نه وو. دهغې د برید تېره څوکه د فلاد لفیا ایو نینګ دمطالبو پر بې ارزښتې وه. او له بلې خوا یې خبرتیا ورکوونکو ته خبر ورکاوه چې ددوی د خبر تیا لپاره دغه خپرونه ډېره سسته او حتی خطرناکه ده.

دېد غوښتونکو داقدام پر ضد یو بېړنی کار اړین و. ځکه دغو خطر ناکو انګازو د لوستونکیو پر ذهن بده اغېزه پرې ایسته. او دا خپرونې ته ډېر تاواني کار و.

خو بېړنی او اړین اقدام څنګه دکېدو و؟ د خپرونې مدیر باید څه کړي وای؟

دغه مدیر په هغه ورځ چې تر ټولو سخت برید پرې شوی و، یو په زړه پورې اقدام وکړ. هغه ټول خپاره شوي مطلبونه ډله بندي کړل او دیو کتاب په شکل یې خپاره کړل. په زړه پورې وه چې د دغې خپرونې دیوې ګڼې مطلبونه یو ۳۰۸ مخیز کتاب شو. دغسې کتاب په هماغه وخت کې کم تر کمه دوه ډالره ارزښت درلود، په داسې حال کې چې فیلادلفیا ایونینګ خپرونې په یوه ګڼه یوازې دوه سنته اخستل.

ددې کتاب چاپ زباد کړه چې خپرونه دګټورو او مهمو مطالبو

لرونکې ده او څــو دالره ارزښت لري په داســـې حـــال کـــې چې دلوستونکیو نه یې یوازې دوه سنته اخستي دي. د مطالبو ډله بندی زباد کړه چې د خپرونې لیکوالان د واقع بیني او ښکاره ویلو، او امانت ساتنې لرونکي دي.

دخپرونې دمطالبو ارزښت هله ښکاره شـو چې مطالب یې یو دبل په څنګ کې راغلل او واړه ارزښتونه په رښتینو ارزښتونو بدل شول چې د پام وړ وو او دبد غوښتونکو خولې یې بندې کړې.

د کوفمان « په خر څلاووکې تبلیغ» نومی اثر سره له دې چې دلیکلو یې ډېره موده تېرېږي.خو بیا هم په زړه پورې او هیجانی مطالب لري.

مثلا د برښنا یې یخچال دتبلیغ لپاره لیکي:

پلورونکي به دچالان یخچـال څنګ ته ودرېدل او اورلګیت به یې لګاوه، خلکو به لیدل چې داورلګیت لګولو غږ د یخچـال تر غږ لوړ دی.

سایروس روباک بله بېلګه ده ، ده دخپلو خولیو په کتلا کونو د مشهور ستوري «آن سازون» لاسلیك کاوه. کرایسلر فیلان په خپلو موټرو ودرول او خلکو ته به یې دهغوی کلکوالی زباد وه.

جرج ولبو په دې نظر و چې که په ویترینونو کې خو څند اعلانونه ودرېږي ٪۸۰ پلورنه به یې کمه شي.

هوایي شرکتونو به دلویو ښارونو انځورونه له فضا نه اخستل او دهغو په ښودلو به یې توجه جلبوله.

شیریني پلورونکو به د یول یول څراغونو د رڼا په متمرکز کولو دخپلو اجناسو رنګ ښکلی کاوه.

والوین بوس د نیو یارک پوهنتون استاد ۱۵۰۰۰ ځلې د پلورنکو سره مرکه کړې او ددې کار حاصل یې په یو کتاب کې لیکلی چې نوم یې دی « څنګه به په بحثونو کې بریالي کېږو» دوی په خطابو او ویناو کې خپل اصول شرح کړې دي. له دې کتاب نه یو فلم جوړ

شوی او په سلگونو موسسو او شرکتونو کې ښودل شوی دی. دوی په دې توگه پلورونکو ته زده کړه چې دخرڅلاو لار او طریقه کومه ده. په دې اثر کې پلورونکیو ته ښودل شوې ده چې کوم کارونه باید ونکړي او کوم باید وکړي.

نن نړۍ، د تصویر(انځور) او نمایش (ښودنې) نړۍ ده، درښتیا ویادول یوازې بس نه دي باید رښتیا و تهٔ تجسم او عینیت ورکولو فکر وکړو او د بري لپاره بله لار نشته، څو چې ټول شیان په ښکلو او زړه وړنکیو پوښونو کې وړاندې نه شي. که په دې وړاندې کولو دخلکو نظر جلب شو، بري هم ور سره مل دی.

شیانو ته د شکل ورکولو له طریقې رادیو، تلویزیون او سینما کار اخلي، تاسو هم که غواړئ دنورو پام ځانته راواړوئ له دې طریقې کار واخلئ هغه کسان چې د ویترینونو دښکلي کولو په فن کې تخصص لري ددې ټکي په اهمیت پوهېږي چې زه یې اوس وایم:

دمړو وژونکو دارو گانو یو جوړونکي دخرڅلاو هر نمائنده ته دوه ژوندي موږکان ورکړل چې په ویترین کې یې کېږدي. څو چې دا موږکان ژوندي وو او په وېترین کې وو یوخوا بل خوا گرځېدل د خر څلاو اندازه پنځه برابره وه.

جمز. ب بوینتون دسینگار د سامان جوړونکي دیوې کمیتې کار کوونکی وایې: وظیفه راکړ شوه چې د سینگار رد سامان نرخونه معلوم کړم. دا ځکه چې نوروحریفانو نرخونه را کم کړي وو. دا دعوه یې هم کوله چې دسامان کیفیت یې هم لوړ کړی دی. دی وایي:

کله چې دخپل کار لپاره د شرکت د رئیس دفتر ته ورننوتم، هڅه مې وکړه دخپلو څیړنو اهمیت ورته بیان کړم، خو تر ډېر بحث وروسته هم موافق نه شوو. بله ورځ چې دده دفتر ته ورغلم دی په تلفون بوخت و، ما هم ژر (۳۲) دبلي کریم او پودر پرمېز کتار کړل

چې په هره یوه مې دخپلو څېړنو نتیجه لیکلې وه. هغه دا ټول محصولات چې دده دمحصولاتو رقیبان و، پېژندل.

ددې دبلو او ورپورې نښلول شوو کاغذو موجودیت ددې سبب شو چې نور بحث ونه شي، رئیس یو- یو دبلی، را واخست او لیکل یې ولوستل. تر هغه وروسته زموږ دوستانه مجلس پیل شو. هغه زما له تحقیقاتو سره ډېره مینه وښوده او دا هغه وخت و چې هغه مخکې ماته لس دقیقې وخت راکړی و چې دخپلو څېړنو نتیجې ورته ووایم.

لس دقیقې تېرې شوې، شل دقیقې نورې واوښتې، څلوېښت دقیقې، پنځوس. یو ساعت، تر یو ساعت هم ډېر وخت تېر شو چې زموږ مجلس هماغسې روان و، ښاغلی بوینتون په پای کې وایي:

په دوهم ځل کتنه کې مې هغه څه رایاد کړل چې لومړی ځل مې یاد کړي وو، په دوهم ځل کتو کې مې دجسم ورکولو او ښودلو نه استفاده وکړه. خو په دوهم مجلس کې چې مې کومه نتیجه واخسته دلومړي سره د پرتلنې وړنه وه په دوهمه کتنه کې ٪۱۰۰ هغه څه ته ورسېدم چې غوښتل مې.

د پورته توضیحاتو په رڼا کې که غواړئ نور ار کړئ چې ستاسې په خوښه او اراده کار وکړي او هغه څه چې وایئ، ویې کړي، لاندې لارښود عملي کړئ.

خپلو نظرونو او د نظر وړ مطلبونو ته مو په ښکلی او زړه راښکونکي ډول عینیت ورکړئ او هغه تر وسه وسه نورو ته د یو په زړه پورې ننداري په شکل وړاندې کړئ.

# یو ویشتم څپرکی.

وروستنۍ لار.

**کله چې مو له ټولو طریقو نتیجه وانخسته، دا طریقه وکاروئ:**

چارلز شواب د فلزاتو دویلې کولو دشرکت عامل مدیر د کارخانې له مدیر نه، چې کارگران یې کار ته نه شو لـ هڅولی او داسې کار یې نه شو کولای چې دکار خانې تولید زیات شي، دناکامۍ دلیل وپوښت، ددوی خبرو ته ځیر شئ چې له خوند نه خالي نه دي.

چارلز شواب: څه وجه ده چې ستا په شان لایق مدیر نه شي کولای ، خپل پرسونل کارته وهڅوي.

مدیر: باور وکړئ پخپله هم ستړی شوی یم.

شواب: کولای شې ووایې ددوې دهڅونې لپاره دې تر اوسه څه کړي دي؟

مدیر: هر کار چې مې په فکر کې راغلی دی. نازولي مې دي، بدې ردې مې ورته ویلي دي قربان صدقه دې شم مې ورته ویلي، قسمونه مې ورکړي، تهدید کړي مې دي....

شواب: څنگه دی تهدید کړي دي؟

مدیر: په قهر مې ورته ردې بدې ویلې دي او تهدید مې ورته کړی چې د لږ کار په صورت کې به یې وشړم، خو نتیجه نلري، دوی همکارۍ ته نه دي حاضر.

د شواب او مدیر خبرې داسې وخت پای ته ورسیدی چې مازیگر و، دورځې کار گران تلل او د شپې کارگراان کارته راتلل. شواب چې دورځ کار و کار گرانو درخصت منتظر و، مدیر ته یې وویل: لطفاً یوه ټوټه تباشیر راکړئ.

دکار خانې مدیر نه پوهېده شواب څه غواړي، په پوښتونکی

کتنه یې ورته یوه ټوټه تباشیر ور کړ. شواب هغو کارگرانو ته مخ ور واړوه چې دوتو نیت یې درلود او ویې پوښتل:

–نن مو څو ویلي شوي دیگونه ډک او تش کړل؟

کار گرانو چې د شواب منظور نه و درک کړی، وویل: شپږ بار دیگونه ډک او تش شوي دي.

شواب د څه توضیح پرته د «٦» رقم دسالن په تخته ولیکه، دا دومره لوی و، چې دهر چا پام یې جلبوه د شپې کار گران ددغه رقم په لیدو پوه شول چې دا ورځي دکارگرانو دکار اندازه ده. دوی په دې لټه کې شول دورځې پر کارگرانو خپله لوړ تیا وښایي کله چې دوی تلل «٦» یې وران کړ او «٧» یې پر ځای ولیکل دورځې کار گرانو د (٧) عدد په لیدلو ژمنه وکړه د شپې کار گرانو ته داسې درس ورکړي چې دلوړ تیا غوښتنې فکر یې له سرونو ووځي. کله چې دوی مازیگر کورونو ته تلل د (٧) پر ځای یې (١٠) ولیکل چې درقابت ددوام لپاره یې د شپې د کارگرانو پام راواړوه.

وضع همداسې شوه، دکار خانې کار چې ولاړ او شاته روان و نه یوازې زیات شو بلکې ددې کار خانې کار د اوسپنې دویلې کولو د کار خانو په سرکې راغی.

چارلز شواب د تولید دزیاتولو او کار ته دکار گرانو د اړ ایستلو لپاره کومه طریقه وکاروله؟ په ځواب یې پخپله چارلز شواب وایي:

زه تل دمثبتې سیالی پر خوا یم. دا ځل مې هم رقابت د پارولو له طریقې گټه واخسته!

پوښتنه: هر چیرې درقابت سپارښت کوئ؟

ځواب: درقابتو د پارولو هدف یوازې هغه بد او ناسم رقابتونه نه دي چې هدف بې یوازې د پیسو گټل وي، ښه ده چې ووایم زه په وگړو کې دلوړتیا خوښوونې مینه را پاروم داسمه ده، دلوړتیا موندنې مینه، مبارزې ته رابلل، تن په تن جگړې ته رابلل او په سمو لاروکې د مبارزه کولو دحس راپارول د فعالو خلکو د راویښولو ښې

طریقې دي.

ایا روزولت د لوړ تیا داثبات دمبارزې کولو پرته دامریکا دجمهور رئیس په حیث ټاکل کېده؟ بې له شکه نه! کله چې روزولت د نیو یارک والي وټاکل شو، رقیبان یې متوجه شول چې دې دنیو یارک اوسېدونکی نه دی. کله چې دی پوه شو رقیبانو یې څومره حساس ټکی پیدا کړی دی، وویرید او نږدې و چې په شا شي. همدلته توپاس پلاست دده دمېړانې احساس را وپاروه. پلاست هیبتناک غږ چې تر پایه روزولت دهغې پاروونکې انګازه هېره نکړه، وویل:

ګمان نه کوم چې دسان پوان غونډۍ اتل دې دومره وېرندونکی وي؟

همدې پاروونکې جملې هغه بیا دمبارزې ډګر ته راویست او داسې لار یې وښوه چې تاریخ یې په لیکنه مجبو شو. دمبارزې میدان ته دروزولت بلل نه یوازې دده پر ژوند بلکې دټولې امریکا پر تاریخ اغېزه وکړه. چارلز شواب مبارزې ته دبللو په ستر ځواک خبر و.

بواس لات او آل اسمیت هم له دې ځواک نه ناخبره نه وو.

کله چې ال سمیت دنیویارک والي و. دسینګ سینګ مشهور زندان مشر نه درلود او له دغه ځایه هره ورځ بدو خبرو او نه زغمونکو پېښو دنیو یارک والي ځو راوه. هغه خبرونو چې د زندان او بندیانو له بدې و ضعې را رسېدل دی هې اړ ایست یو پر کار پوه او ځواکمن سړی ددغه زندان دادارې لپاره وټاکي ده تر ډېرې څېړنې وروسته لویس لا وس دنیو همشیایر دزندان مشر دې دندې ته وټاکه. دی یې خپل دفتر ته را وغوښت او ورته ویې ویل:

ال اسمیت: ډېره موده وشوه چې دسینګ سینګ زندان مو دسر درد سبب شوی دی.

لویس لاوس: هو! دغه زندان نه یوازې یو سیاسي زندان بلکې

يوه سياسي موضوع ده. او د لږ مهارت او ځواک لرونکی سړي يې نه شي اداره کولای.

ال اسميت: ايا دزندان پالنه په غاړه اخلې! ځکه لکه ښکاره چې دی وويل ددې کار لپاره ښې تجربې او پوره ځواک خاوند ښکار دی.

لاوس ددې پوښتنې په وړاندې حيران شو. هغه پوهېده چې سېنګ سېنګ جنجالي ځای دی او ډېرو لانجه مارو کار اخر همدغلته رسېږي. آيا ډېر وخت به دغلته پاتې شې، آيا دا ارزښت لري چې خپل اوسنی کار دهغه لپاره پرېږدې؟

اسميت دده دچوپتيا په ليدلو چې دده دشك او دوه زړه توب په مانا وه، وويل: ښاغلی لوويس، دا چې وېرېږی دغه دنده واخلئ، نه مو ملاتوم او که ويې نه منئ زما له نظره معذور ياست. خو دا چې ګران کار دی او دمديريت زيات ځواک او ډېرو مسايلو ته اړه لري نو ستا په بدن کې ددغو ځانګړنو په ليدو ما وغوښتل تا هلته وټاکم.

داسميت خبرې دلاوس د لوړتيا غوښتنې حس راوپاروه. هغه چې غوښتل مهمې چارې سرته ورسوي همدلته يې ومنله چې سينګ سينګ ته لاړ شي.

په زړه پورې داده چې هغه يو تر ټولو مهم او پياوړی مديرو چې دغه زندان ته لېږل شوی وو. دهغه دکتاب په زرګونو ټوکه وپلورل شول چې ده د **«دوه سوه زره کاله په سينګ سينګ کې»** په نوم وليکه په کراتو يې دراديو له لارې ددغه زندان په باب مرکې وکړې. له هغو کيسو نه چې دسينګ سينګ دبنديانو په باب يې کولې څو ځلې فلمونه ډک شول.

دده تجربي طريقې نه يوازې ددغه زندان بلکې دټول هيواد دزندانونو دادارې په ښه والي کې اغېزمنې وې اوس دزندانونو دادارې په اصولو کې راځي.

د فايرستون کمپنۍ بنسټ ايښودونکي ښاغلي فايرستون به ويل:

په ډېره سختـۍ مـې زده کړه چې دنیك چارو او نجیبو خلکو دپارولو لپاره یوازې پیسې بس نه دي. په بله وینا د وتلو اشخاصو د یو والی او ساتنې لپاره یوازې په پیسو څه نه کېږي. په لوبه کې دهغوی ګډون مهم دي.

د پورته ټکیو په پام کې نیولو سره بریالي اشخاص چې کوم څه خوښوي، هغه داده:

په لوبه کې ګډون!

په بله وینا د وجـود دڅرګندولو لپاره وخت پیدا کول. دوجـود دښکاره کولو لپاره وخت د رقابت په واسطه منځ ته راځي. درقابت حس ددې سب کېږي چې خلك خپل ذاتي استعدادونه وځلوي.

درقـابت زېږوني لپاره دلوړتیا غوښتنې او مهم والي احساس دراپارولو نه کار واخلئ.

دځان سره دنورو د یو نظر کولو لپاره لاندې لار ښود وکا..

هڅه وکړئ په خپلو پام وړ اشخـا [illegible] بت حس راوپاروئ.

## دوه ویشتم څپرکی:

**که د نورو ملامتول ضرور و لار یې داده:**

د امریکا دجمهوری ریاست په پوست کې د کالوین کولیج دریاست پر مهال دده یو دوست داسې کیسه کوي: کله چې دجمهور رئیس دفتر ته ورننوتم، ومې لیدل چې جمهور رئیس سره هغه پاپه ده چې منشي ټایپ کړې ده. کالوین بې له سریزې منشي ته وویل:

– نن چې دې کومې جامې اغوستې دي، په رښتیا ډېرې ښکلې او زړه وړونکې دي. دا لباس ستاسو راښکون زیاتوي!

منشي دکالوین پر دې ستاینې دومره خوښ شو چې لاس وپښې یې ورکې کړې او له شرمه یې مخ سور شو. دا تر ټولو لوړه ستاینه وه چې یو کم غږیدونکی جمهور رئیس یې له یوه منشي کوي. تر دې وروسته کالوین وویل: ځان مه بایلئ، داخبره مې وکړه چې خوښ دې کړم او یوه شې چې نور تاسو ته پاملرنه کوي، تردې وروسته دټکي ایښودو په باب لږه زیاته پاملرنه کوئ!

دا طریقه به ښایي ده ته یو څه شدله ښکاري خو د ارواپوهنې له نظره سمه او بې عیبه ده.

نا خوښې خبرې په داسې وخت کې چې ترې مخکې خوږې خبرې واورېدل شي، بدې نه لګي.

سلمانیان مخکې له دې چې ویښتان وخریې، لومړی یې په اوبو او صابون پستوي، دا کار د مسیر دسمولو او زمینې جوړولو مانا لري.

مك کینلي چې دجمهوري ریاست انتخاباتو ته ټاکل شوی و، دخپل ګوند یوه غړي سره چې دده لپاره یې دخطابې متن جوړ کړی و، داسې چلند وکړ:

ګرانه دوسته! دا وینا ډېره ښه او لوړه جوړه شوې ده. فکر نه کوم څوک وکړای شي ترديې ښه وینا تیاره کړي. په ډېرو برخو کې هماغسې ده چې باید وای! خو فکر کوئ چې ددې لپاره یو وړ ځای هم پکار دی؟ زما او ستا له نظره دوینا متن عالي دی، شك پکې نلرم، خو دګونديي هدفونو له نظره څنګه؟ را ځه چې دواړه یې وڅېړو چې په ملګرو او ګونديي ګټو څه اغېزه کولای شي؟ زما په نظر هغه ټکی چې درته وایم، کولاۍ شې دهغو په ځای کولو په دې متن کې بدلون راولې او په دې فوق العاده وینا کې دانتقاد او ګوتنیو نې ځای پرې، نږ دې.

لیکوال بې له ځورېدو او خپګان نه دغه کار وکړ او مك کېنلی دخپلې زمانې له تر ټولو ښو وینا والو شو. دلینکلن لومړنی لیك دجمهوري ریاست پر مهال یو لیك دی چې یوې ښځې ته چې پنځه زامن یې په جګړه کې وژل شوي و، لیکل شوی دی. کېدای شي لینکلن دا لیك په پنځه دقیقو کې لیکلی وي خو همدغه لیك په ۱۹۲۵ کال کې په دولس زره ډالره وپلورل شوه او دا هغومره پیسې وې چې جمهور رئیس لینکلن له نیمې پېړۍ کار وروسته ځان ته سپما کړې وې.

دا لیك دجګړې په جریان کې لیکل شوی دی. ۱۸ میاشتې پر له پسې دلینکلن جنرالان له بوې ماتې بلې ته مخ کېدل. دجګړې محصول تر ورانی، انسان وژنې، هرج ومرج او دغه ډول شیانو نور څه نه وو. ملت پوزې ته راغلی و، په زرګونو سرتېرو پوځ پرېښې و، حتی دسنا جمهوري غوښتونکو هم پاڅون کړی و. او غوښتل یې لینکلن د سپینې ماڼۍ پرېښودولو ته اړ کړي.

لنکلن هغوې ته وویل:

**«موږ اوس د نیستی په بند کې لوېدلي یوو، داسې راته ښکاري چې خدای (ج) مو هم کار نه سموي، زه د هیلو یوه کوچنی رڼا هم نه وینم».**

لینکلن دغه لیك په دغسې یو بدغونی او جنجالي وخت کې لیکلی دی. په دې لیك کې ده غوښتی چې خپل یو جنرال خپلې دندې ته متوجه کړي چې کړنې یې دملت په سر نوشت کې مهمې وې. کېدای شي دا لیك دلنکلن تر ټولو توند او سخت لیك وي، خو ده دجنرال هو کرترغندنې مخکې دهغه ستاینه پیل کړې ده. تر ستاینې وروسته داسې لیکي:

**د.... لیکن ځینې شیان شته چې دهغو په خاطر ستاسونه پوره خوښ نه یم....»**

دلیك متن داسې دی:

( ما پدې خاطر تاسو د پرتو ماک د پوځ دمشر په توګه وټاکلئ چې ددې لپاره مې پوره دلیلونه لرل خو اوس ځینې شیان شته چې دهغو په خاطر ستاسو نه پوره خوښ نه یم.)

تاسو ماته زړور او لایق سرتېری ښکارئ. او دا چې داسې ځانګړنې لرئ خوښ یم. همداراز خبر یم چې تاسو خپله دنده په سیاست نه ده لړلې. دا هم ډېره ښه ده. تاسو پر ځان باور لرئ. او دا صفت کم تر کمه با ارزښته او ګرانبیه دی. تاسو ځان غوښتونکی یاست او دا صفت که کله محدود شي خو زیاتره ګټور وي، زه فکر کوم کله چې جنرال برن د پوځ مشر و، تاسو پخپله ځان غوښتنه پسې وګرځېدئ او څومره چې کېدای شول، تاسو ورته دامونه وغورول او په دې کړنه دې وطن ته ډېره زیان واړوه. او په ډېرو لایقو او ډېرو پتمنو افسرانو دې ظلم وکړ.

څنګه چې مې اورېدلی -اوربښتیا هم ده- تاسو ویلې دي چې هم پوځ او هم دولت یو دکتاتورته اړتیا لري چې البته تاسو ما دهغه څه خلاف د پوځ دمشر په توګه ټاکلي یاست چې ما فکر کاوه.

یوازې بریالي جنرالان د دکتاتورۍ لاپې وهلای شي. تر دې وروسته چې درنه څه هیله او انتظار لرم هغه نظامي بری دی. چې په ځان پسې به ددکتاتورۍ خبره رامنځ ته کړې خو مه هېروئ چې

زه دبري لپاره حاضر يم حتیٰ تر دکتاتورۍ پورې خطر ومنم.

دولت چې څومره کولای شي، ستاسو ملاتړ به وکړي. همدا او بس. هماغومره به تاسو سره ملاتړ وشي، څومره چې نورو قوماندانانو سره وي. ويرېږم چې دقوماندانو په انتقاد او له هغه نه دباور په اخستنې به افراد هم پخپل قوماندان بې باوره شي او هغه بده روحيه چې تاسو په پوځ کې منځ ته راوړې ده، پخپله به تاته زيان ورسوي. په هر حال، ددې سره سره زه حاضر يم چې څو کولی شم تا سره مرسته وکړم او وېره اوشك له منځه يوسم.

نه تاسو او نه ناپليون -که ژوندی وای- نه شئ کولای له داسې پوځ نه چې دغه روحيه پرې حاکمه وي څه ګټه واخلئ. نو ښه ده چې بې ځايه زړور توب او بې باکي پرېږدئ او په دو امدار کار مخکې لاړشئ او داسې بريو ته ورسېږئ چې پکار دی...)

ددې لپاره چې دنورو د ځورولو او دهغوی دغصې دراپارلولو پرته، هغوي بدل کړئ او پخپله خوښه لار يې روان کړئ دلاندې لارښود نه ګټه واخلئ.

لومړی په رښتينې ستاينه او قدرداني خبرې پيل کړئ او په پای کې بل لوري اړ کړئ دخپلو ارزښتونو دساتنې لپاره هڅه وکړي.

## درویشتم څپرکی:

### څنګه انتقاد وکړو چې د قهر او غصې وړ ونه ګرځو؟

یوه ورځ چارلرز شواب داوسپنې دویلې کولو دفابریکو د کتنې پر وخت متوجه شو چې کار ګران هغه ځای کې سګرټ لګوي چې دسګرټ دلګولو دممانعت لیکنه پکې شوې ده.

تاسو څه فکر کوئ چې شواب څه وکړل؟ ورغی او ورته ویې ویل (تاسو ټول ښاغلي په لوست پوهېږئ، ولې سګرټ څکوئ، دا لیك نه ګورئ؟)

نه! شواب داخبره ونکړه خو په ډېره آرامۍ یې خپل دسګرټو ډبلی را وایست، ټولو کار ګرانو ته یې ست وکړ او په پای کې یې ورته وویل:

ډېر به مومنون اوسم که دا سګرټ د فابریکې دحویلی دباندې وڅښئ!

کاګران په ځرګنده پوه شول چې دشواب مطلب څه و. شواب هم دهغو داحساساتو د ټپي کولو پرته خپل هدف ته رسیدلی و. ده دسګرټ په وړاندې کولو د کارګرانو دمهم والي حس راپارولی و او د هغوی هم خوښ شوی و، آیا کېدای شي داسې سړی مو خوښ نه شي او ویې څورووئ؟

جان وانا میکر چې دڅوسترو پلورنځیو خاوند و هم له دغې طریقې کار اخیست، مثلا کله چې به یوه پلورنځي ته ورته او لیدل به یې چې پېرودونکي د پلورونکي دنشتوالي له امله په ستونزه کې دي، بې له شور او چغو به زر دمېز شاته ودرېده او له پېرودونکي نه دپیسو تر اخستنې وروسته به یې یو کارګرته امر کاوه چې جنس ورته وتړي. او چې هغوی به لیدل د پلورنځي خاوند هماغه کار کوي چې یوساده کاګر یې کوي دخپل دریځ نه په ویاړ کې کېدل او هڅه

به یې کوله چې له لاسه یې ورنکړي.

کله چې هنري میجر مړ شو. له لیمان اکوټ نه چې یو پېژندل شوی واعظ و، غوښتنه وشوه چې د هغه په تش ځای کې وینا وکړي.

اکوټ دهنري میجر د دریځ له امله سخت غوښتونکی و چې دغسې کار وکړي. هغه دبلن لیك تر لاسه کولو ورسته دخپلې وینا متن تیار کړ چې دیو مهم شخصیت په نشت کې یوه پخه تیګه کېږدي.

اکوټ چې وینا ولیکله، خپلې مېرمنې ته یې وښوودله چې دکمزوریو ټکیو په باب یې نظر ورته ووایي.

اکوټ لیکنه دومره دقیقه برابره کړې وه لکه دګو ستاو فلوبر په شان لیکوال چې یو شخصي لیکنه تیاروي. خو دا چې دا ډول لیکنې دستاینې د مضمون له خوا کمزورې وي. داکوټ کار هم بې نتیجې و. حتی ویلای شو چې د ډېر احتیاط له امله داتر نورو هم کمزورې وه.

که دده مېرمن خامه او بې تجربه وای ویلی به یې وای « دا چټیات څه شی دي چې راټول کړي دې دي؟» یا تر دا دومره کلونو وروسته چې وینا وې کوې او لیکې، باید تر دې دی ښه لیکلای وای! حتی دې مېرمن کولای شو ووایي: ته وخدای (ج) ولې دسړي په شان خبرې نه کوې؟ ولې دې وینا طبیعي نه ده؟ که دا چټیات ولولې ابرو دې تویېږي.! او دا ډول اعتراضونه.

دې مېرمن آرام او په موسکا خپل مېړه ته وویل:

یوې ځلاندې خپرونې لکه امریکن فورت ته یوه لوړه لیکنه. دچاپ لپاره یوه فوق العاده لیکنه، خو کاش چې تر دې بریده دوینا لپاره هم ښکارېدای!

اکوټ تردې خبرو وینا څېرې. څېرې کړه او په غونډه کې یې له یادو خبرې وکړې او دا چې غوښتل یې په اورېدونکیو اغېزه پرې

باسي. فوق العاده وينا يې وکړه.

داکوت مېرمن دده غوږ ته په مؤدبانه ډول ورسوله چې ليکنه يې ديوې وينا لپاره په درد نه خوري.

ښاغلي اکوت هم چې غرور يې نه وي زيانمن شوی دوينا په کولو کې پوره توجه وکړه او بريالی هم شو.

که غواړئ دنورو داحساساتو د ټپي کولو پرته، دوی دنظر بدلون ته اړ باسئ. لاندې لارښونه وکاروئ:

دنورو خطاګانې په نامستقيم ډول غوږ ته وروړسوئ او هڅه وکړئ د ويار بارولو او لوړتيا غوښتلو احساس مو په خبرو کې نه وي.

# څلیرویشتم څپرکی.

دخپلو اشتباګانو په ویلو یې پیل کړئ:

څو کاله مخکې مې ورېره ژوزفین کارنګي له کانزاس نه نیو یارک ته راغله چې زما ځانګړې منشي شي هغه ۱۹ کلنه وه، نوی له ښوونځي وتلې وه او په اداري چارو کې یې هیڅ تجربه نه درلوده خو نن هغه دسویس په لویدیځ کې یوه تر ټولو لوړه، په کار پوه او تجربه لرونکې منشي ده. او دا ځکه چې هغې د یادولو او پر مخ‌تیا استعداد درلود.

په لومړي سر کې چې هغه بې تجربې اوله کار سره نابلده وه، غوښتل مې انتقاد پرې وکړم خو ډېر زر په سد راغلم او ځان سره مې وویل:

«دیل کارنګي یوه دقیقه ځنډ وکړه! یوازې یوه دقیقه! ستا عمر دژوزفین دوه چنده دی او په اداري کارونو کې دې تجربه دهغې څو برابره ده. څرنګه له هغې غواړې چې ستا ددې دومره زیات دقضاوت دځواک، نوښت او پوهېدنې کچه دی دهغې هم وي؟ دیل! یوه دقیقه سوچ وکړه، وګوره ته په ۱۹ کلنۍ کې په څه پوهېدې؟ او که دژوزفین پر ځای وای څه دې کول؟ هغه کم عقلانه اشتباه ګانې چې به دې په هاغه عمرکې کولې رایادې کړه. آیا دژوزفین اوسنۍ اشتباه ګانې مهمې دي که ستا دهاغه عمر؟ کله چې مې موضوع دصداقت له مخې ارزیابي او تحلیل کړه دې پایلې ته ورسېدم چې ژوز فین په منځني ډول تر ما هوښیاره او چالاکه وه او د یادولو چټکتیا یې هم تر ما ښه وه بیا مې ورته تل داشتباه په صورت کې ویل:

ژوزفین! تا داسې اشتباه کړې ده چې ستا په منګ زما تر اشتباه ډېره کوچنۍ ده! ته دقضاوت دځواک سره روزل شوی یې

او دتوپیر کولو او تدبیر او هوښیارۍ په زورزېږېدلې یې . دا داسې مسایل دي چې دوخت په تېرېدو دې لاس ته راوړي او ورځ په ورځ به هغه پسې بشپړ کړې کله چې ستا استعداد، ستا په عمر کې له خپل استعداد سره پرتله کوم پوهېږم چې ته ترما ډېره هوښیاره یې او په همدې خاطر ځانته جرأت ورکوم چې انتقاد دربانديې وکړم. ځکه چې ستا په شان با استعداده شخص باید دغسې ونکړي.

کله چې انتقاد کوونکی په عاجزۍ دا تصدیق کړي چې پخپله هم بې عیبه او بې نقصه نه دی، نو انتقادونه یې تاسو ته ډېر گران نه تمامېږي.

یو وخت دالمان امپراطور په انگلستان کې دخپل سفر پر مهال ځینې داسې خبرې وکړې چې دده په کم عقلتوب یې دلالت کاوه هغه لاپې شاپې وکړې او ټول هیوادونه (دانگلستان گډون) یې له ځانه خفه کړل. امپراطور دوهم ویلهلم د فون بولونه چې دالمان یو ماهر سیاستوال و، وغوښتل ددې خبرو مسولیت ومني او وو'یې چې دا مشوره ما امپراطور ته ورکړې وه، دهغه گناه نه ده.

فون بولو ورته وویل:

خو، اعلیحضرته! داناشو نې ده چې یا په المان یا انگلستان یا کوم بل ځای کې څوک دا ومني چې ماډې له تاغوښتي وي داسې خبرې وکړې!

فون بولو په هماغه شیبه کې چې داخبرې یې کولې پوه شو چې لویه سهوه یې وکړه، ځکه قهرېدلی امپراطور پرې را او غړمبېده

«ته ماته د بې عقل په نظر گورې؟ آیا داسې فکر کوې چې زمانه داسې اشتباه گانې کېدای شي او ستا نه نه شي؟

دلته فون بولو پوه شو چې دبل لورې تر ملامتولو مخکې باید دهغه ستاینه او صفت وشي چې هغه انتقاد منلوته تیار شي خو اوس وخت تېرو، فون بولو بله لار ونیوله. په ډېر درناوې یې وویل:

اعلیحضرتا! زه هیڅکله ځانته دداسې تصور جرأت نه ورکوم.

اعلیحضرت په هر څه کې تر ما لوړدی اعلیحضرت نه یوازې په نظامي اوسمندري چارو، بلکې په طبیعي پوهنو کې هم تر ما وړاندې دی زه زیاتره داعلیحضرت خبرو ته په حیرانتیا غوږ نیسم چې دبارو متر، تلګراف بیسیم او ورانګو په باب یې وایي. زه خجالت کوم چې ووایم په طبیعي پوهنو او حتیٰ کیمیا او فزیك نه پوهېږم او نه شم کولای ډېره ساده طبیعي پدیده شرح کړم. زه لږ شان تاریخي معلومات لرم او لږ هم په سیاسي پوهنې او د پلو ماسی پوهېږم.

ویلهلم په دې خبرو خوښ شو، ځکه وېې لیدل چې فون بولو مشهور سیاستوال دهغه ستاینه کوي. فون بولو دهغه په بر تری اعتراف کړي و. ویلهلم تر دغه اعتراف وروسته فون بولو وبابښه او حتی په ډېره ګرمی یې دهغه پر لاس زور وکړ او ویې ویل:

یادېږي دې چې ما درته یوځل ویلي و چې موږ دوه تنه د شهرت په نړۍ کې یو دبل بشپړونکي کېدای شو. موږ باید یو پاته شو و او حتماً به شوو.

ویلهلم پر فون بولو له بر ترۍ نه دومره په شوق راغلی و چې څو ځلې یې دخپل صدر اعظم فون بولو لاس کښېکیښ او په راتولو موټو یې وویل:

هر څوک چې دشهزاده فون بولو پرضد یوه وړه خبره هم وکړي، سوک به یې پر پوزه ورحواله کړم! کله چې فون بولو وکړای شول دستاینې او صفت په څو کلیمو ځان له قهرېدلی امپراطور نه خلاص کړي. او هغه قهرېدلی عصباني، مغرور انسان په یوه نږدې دوست بدل کړي، تصور وکړئ چې عاجزي تمکین او ستاینه زما او ستا په باب په ورځنیو اړیکو کې څومره رول لري؟

که په خپلو اشتباهاتو داعتراف او دنورو دستاینې نه په موقع

کار واخستل شي، رښتیني معجزې به په انساني اړیکو کې پېښې شي. کـه بیـا هم غـوارئ نور بې له دې چې وقـارېږی او په خـپلو کړنو او نظرونو کې بدلون راولي، لاندې لار ښود ته پام وکړئ.

دخپلو انتقادونو تر بیان دمخه لومړی خپلې اشتباه ګانې بیان کړئ او دهغوې په باب وغږېږئ.

ACKU

# پنځه ویشتم څپرکی.

دهیچا نه خوښېږي امر ورته وشي.

په دې وروستیو وختو کې موقع په لاس راغله چې دامریکا دټولو نه لویه ژوند لیك لیکونکې ایدا تارنل ووینم، او دا ویاړ را په برخه شو چې دماښام ډوډۍ ورسره وخورم.
کله مې چې ورته وویل داسې یو کتاب لیکم (دا اوسنی کتاب) ډېره خوشاله شوه او زموږ بحث دانساني اړیکو په باب پیل شو.
مېرمن تارنل راته وویل چې د اودن یانګ دژوند لیك لیکلو لپاره مې د یو داسې سړي سره او ږده مرکه وکړه چې درې کاله دیانګ سره یو ځای اوسېدلي او اوهمکار یې و.
مېرمن تارنل دیانګ دګوذارې د طریقې په باب راته وویل:
«هغه سړي راته وویل، په دغه دومره موده کې چې له یانګ سره یو ځای اوسېدم. کله مې نه دې لیدلې چې یانګ مستقیماً چاته امر وکړي. هغه تل وړاندیز کاوه، مثلا هیڅکله یې نه ویل:
دغه کار وکړه!» ما ترې دغه خبره حتیٰ یو ځل هم وانه ورېده. هغه دامر کولو پر ځای ویل «کېدای شي په دې موضوع کې فکر وکړئ؟» دیو لیك تر دکته کولو وروسته به یې زیاتره ویل:
**«ددې لیك په باب څه فکر کوئ»** که به یې یوه همکار ورته وویل: **«فکر کوم چې که دا جمله دغسې شي ښه به وي»** هغه به بل لورې ته وخت ور کاوه چې دغه غوښتنه عملي کړي. یانګ هیڅکله له خپلو مرستیالانو نه غوښتل هغه کارونه چې ده پورې مربوط و، دوی یې ورته وکړي. هغه عقیده لرله، هر څوک یوه دنده لري او هر ډول چې یې خوښېږي باید دنده سرته ورسوي. او که ددندې په سرته رسولو کې ترې اشتباه وشي کولای شي دعبرت درس ترې واخلي. او دې یانګ په دې عقیده و چې څو کار وران نه شي، سمون مانا نه

پیدا کوي. ورانېدل دسم کار دمانا پیدا کولو سره مرسته کوي. او دسم کار دسرته رسولو لار راته ښيي. له ورانی نه پند اخستل دتجربې او ورتیا سبب کېږي.

زه هم اعتراف کوم چې د اودن یانګ نظر سم دی. دده طریقه ددې سبب کېږي، انسان خپله غلطي وپېژني. او دسمون په کار کې ورشي. په عین حال کې دغرور ساتنې رول یې هم مهم دی چې مور ته ډېر ګران دي. انسان چې کله متوجه شي ده ته وخت ورکړل شوی دی پر خپلو اشتباهاتو بریالی شي او سپك شوی نه دی، دسرکشی پر ځای همکاري کوي.

دغه څه چې وویل شول ددې پر اساس دنورو د بدلولو او سمولو لپاره او دخپلو سمو غوښتنو دعملي کولو لپاره باید لاندې لارښود په عمل کې پلی کړو او باید پاده واوسو چې ددوی قهر مو نه دی پارولی او ددې سبب شوی نه یوو چې ددوی غرور ټپی کړو :

دمستقیم امر دصادرولو پر ځای خپلې غوښتنې د پېشنهاد او پوښتنې په شکل ووائي!.

# شپږويشتم څپرکی

پرېږدئ دبل لوري ابرو وساتل شي:

څو کاله مخکې جنرل الکتريك شرکت ديوې نازکې ستونزې سره مخ شو. دوی بايد خپل يو مدير چې دبريښنا دپوهنو يو وتلي پوه و خو په اداري کارونو کې نابلده و، ليرې کړای وای. ستونزه داسې حل شوه چې دغه ښاغلي ته دخپل تخصص سره سم يوه چوکۍ ورکړل شوه او دده پر ځای په اداري کارونو کې يو وتلي او تکړه سړی وټاکل شو.

که پخواني رئيس ته چې ډېر زر خپه کېدونکی او نازک سړی و، بله چوکۍ نه واي رسېدلې او ابرو يې نه وای ساتل شوی، نو ډېره بده اغېزه به يې پرې کړې وای. خو په دې بدلون هغه هم خوښ و چې کولی يې شو له خپلې پوهې گټه واخلي. شرکت هم خوښ و چې کار په اصولو تر سره کېږي او يو پوه د برېښنا مسلکي کارونه سمبالوي او اداري او حسابي چارې هم ښې سرته رسېږي.

داسې خلك ډېر لږ دي چې بل لوري ته دخپلې ابرو دساتنې وخت ورکوي او احساسات يې په پام کې نيسي. په داسې حال کې چې مونږ دنورو د احساساتو په منځ کې گام اخلو او ځانته لار پيداکوو، تل له نورو انتقاد کوو او که دريځ ولري تهدېدوو يې، دماشوم نه نيولی تر لويانو پورې په ټولو انتقاد کوو او دې ته پام نه کوو چې په دې کار ددوی احساسات ټپي کوو.

حال دا چې په لږ تفکر کولای شوو. انتقادات په داسې ډول بيان کړو چې هم مطلب لاس ته راشي او هم دبل لوري وضع په پام کې وساتل شي. دبل لوري دحالت درک به له موږ سره مرسته وکړي

چې مسایل داسې بیان کړو چې زموږ نبش وهل ډېر دردناک نه وي.

پرېږدئ یو ځل بیا درته دیو مستخدم یا کارمند د اخراج په وخت کې که مخې ته مو راشي، هغه ټکی چې غواړم درته ویې رسوم. دلته دمار شال ګرانګر لیك درته راوړم چې دحسابي چارو یو پوه دی:

«زموږ کار موسمي دی او اړ یوو دموسم په پای کې ځینې کار ګران وباسو. زموږ دکار طریقه په دې باب ښه نه وه او کارګران به خفه کېدل، موږ به دوی رابلل او ورته ویل به مو «ښاغلیه... تاسو بر طرف یاست! خو اوس مو داطریقه پرېښوده او ومو غوښتل چې ددې خلکو سره په پاملرنه او ادب چلند وکړو، اوس چې ددوی کوم یو را وغواړو، ورته وایو: ښاغلیه... تاسو خپل کار ډېر ښه تر سره کړ. موږ چې تا ته کوم کار سپارلی و، ډېر ګران و، خو تاسو په ډېر بریالیتوب هغه تر سره کړ. فابریکه ستاسو په وجود ویاړي. تاسو چې با استعداده انسان یاست باور دی چې هر ځای کې به بریالی او سر لوړي اوسئ، هر څوک تاسو ته اړه لري هر څوک به تاسو نیسي. دې خبرو به پردوی ډېره ښه اغېزه کوله.

لوی خلك دخپلو بریوکیسې نه کوي. کله چې ترکانو یونانیان له خپلې خاورې وشړل. مصطفی کمال دناپلؤن په طریقه خپلو سرتېرو ته وینا وکړه. دې وینا تر کان وهڅول یونانیان مات کړي. کله چې دوه یوناني جنرالان دتسلیمۍ لپاره راغلل تر کانو ورته کنځلې وکړې او مسخره یې کړل، خو د اتاترک چنلد بل شان و. اتاترک ورته خپل بری هیڅ یاد نکړ. ددوی په راننوتو یې دوی ته لاس ورکړ او له ښه روغبړ وروسته یې کیناستلو ته راوبلل بیا یې ورته وویل:

**«ببر به ستړي شوي یاست؟»** ده دوه یوناني جنرالانو سره دجګړې په باب اوږدې خبرې وکړې او بریالی شو هغه ضربه چې دجګړې ماتې پردوی وارده کړې وه دلاندې خوږ و خبرو په اثر خنثیٰ کړي!

- **«دا جګړه هم یو ډول مسابقه ده. کله حتیٰ ببر پیاوړي لوبغاړي هم لویه بایلي.»**

اتاترک چې خبرې په اوج کې کومه خبره کړې وه، تاسو یې هم مه هېروئ:

پربېږدی بل لوری خپل حیثیت او ابرو وساتي. دنورو داحساساتو زیانمنول د لویو انسانانو کار ندی.

# اوه ويشتم څپرکی:

بري ته د رسېدو لار:

ځرنګه کولای شو و نور خپلې لارې ته سم کړو؟

ما د پت کارلو په نوم يو سړی پېژنده چې ډېر وخت يې دسرکس لپاره د سپيو او اسانو په روزنه تېر کړی و.

ددې ځناورو د روزنې لپاره ددې طريقه دومره په زړه پورې وه چې تاسو ته يې ديوی بېلګې په ډول وايم: کله چې به کوم سپي دده لارښوونې سمې ومنلې، ده به زر ورته په سر لاس کښوه او لږه غوښه به يې په خوله کې ورکوله.

زه حيران يم چې موږ انسانان دانساني خويونو په لرلو سره ولې له دغې طريقې کار وانخلو چې انسانان وروزو او دمحکومولو پر ځای دستاينې او تعريف نه کار وانخلو!

راځئ دافرادو د ډېر کوچني پر مختګ نه په سخاوت سره ستاينه وکړو. داکار سبب کېږي چې هغه دکمال او بشپړتيا لورته پراوونه نور هم په چټکی سره ووهي. ويې ازموېئ، نه يوازې زيان به ونه وينئ، بلکې زيان به هم ونه رسوئ.

ښاغلی لاوس د سينګ سينګ دزندان مشر هم پوه شوی و چې په ستاينه د ډېر سخت زړو خلکو زړونه نر مېږي او سم تقدير او ستاينه دزندانيانو په سمون کې تر انتقاد او ملامتولو ډېر دوی همکاری ته راکاږي.

تاسو هر يو به په دې باب شخصي تجربې لرئ. تاريخ هم ددې ډول تجربو نه ډک دی.

نيمه پېړۍ مخکې دناپل په ښار کې يو هلك غوښتل دموسيقی استاد شي. ښوونکي رټلی و چې هغه دغه استعداد نلري. خو دهلك مور چې يوه کليواله ښځه وه خو په تجربه پوهېده چې ستاينه او

هڅونه داستعداد په غوړېدو کې څومره برخه لري. هلك يې هڅولی و چې ددې کار لپاره ډېر زيات استعداد لري:

دهغه ښوونکي په خلاف ډاډه يم چې ته به ښه سندر غاړی شې. په همــدې يوه ورځ تمرين دې په اواز کــې ډېر بدلون راغلی دی. بوډۍ په لوڅو پښو کار کاو او دې ماشوم ته يې دموسيقي دکورس پيسې پيدا کولې. ددغې بوډۍ ستاينې، عزم او قدر دانۍ اخر خپل کار وکړ او دهلك ژوند يې بدل کړ، که دموسيقۍ له تلپاتې نومونو سره اشنا ياست حتماً مو ددې سندر غاړي نوم اورېدلی وی، هغه هماغه (اتريکو کاروزو) دی.

له هغه وختـه ډېر کلونه تېر شول چې په اومه پېړۍ کې په لندن کې يو ماشوم غوښتل ښه ليکوال شي. هغه ډېره هڅه کوله خو هر څه يې پر ضد وو. هغه يوازې څلور کاله ښوونځي لوستی و، دا چې پلار يې بندي و نو دغه ځوان دولږې له درده ښوونځی پرېښود او په يوه سپك کار ځای کې يې کار پيل کړ. دغه کار ځاي ډېر چټل و. شپه و ورځ به موږکان پکې په منډو وو.

هغه له دوه کوڅه ډبو هلکانو سره تر ځمکې لاندې کوټه کې ژوند کاوه، هغه ليکوال کېدو لپاره پخپل استعداد کې شکمن و، نو د شپې يې په غلا ليك پوستې ته ورکړ چې هسې نه دمسخرو شي. نه يوازې هغه داستان بلکې دده ډېر داستانونه رد شول، خو په پای کې هغه ورځ را ورسېده او دده يوه ليکنه چاپ شوه. که څه هم ددې کيسې دچاپ په بدل کې يې يوه ټنګه هم ورنکړه خو د خپرونې دمدير ستاينې دی وهڅاوه په هغه لار کې بريالی شي چې نيولې يې وه.

دا هماغـه مشـهور ليکوال چارلز دېکنز دی چې **«سترې هيلې»** پشان ستر کتابونه يې ليکلي دي بياهم له هغې مودې ډېر وخت تېر شـو چې يو هلك دتکه پلورونکې په دکـان کـې شـاګرد و، دی بايد سهار پنځه بجې له خوبه را پاڅېدلی وای، مغازه يې پاکه کړې وای

او تر شپې یې ۱٤ ساعته کار کړی وای.

په پای کې ده ته دا کار تر زغم پورته شو چې هم ۱٤ ساعته کار وکړي او هم ښوونځي ته لاړ شي. نو د ښوونځي مدیر ته یې په لیك کې ولیکل چې نور ښوونځی نه وایي.د ښوونځي سپین ږیری مدیر چې دتشویق په اهمیت خبرو ده ته یې ډاډ ور کړ چې دی ډېر هوښیار او با استعداده زده کوونکی دی او دمغازې تر شاګردۍ دلوړو کارونو استعداد لري. دی یې په ښوونځي کې دمستخدم په توګه وینو. دمدیر دغه تشویق ددې هلك دژوند لار بدله کړه. وروسته ترې داسې لیکوال جوړ شو چې دانګلستان په ادبیاتو کې یې شهکارونه ولیکل، همدا راز دادب دتاریخ په باب یې مهم کتابونه ولیکل. دا هماغه مشهور لیکوال اچ،ج ولز دی.

په ۱۹۲۲ کال په کالیفورنیا کې یو ځوان ژوند کاوه چې په ډېره سختۍ یې سهار او ماښام ډوډۍ پیدا کوله. ده دکور کرایه نه شوه ورکولای نو ځکه دانګورو په یوه باغ کې دېره و. ماته یې وویل،

وضعه مونومره بده وه چې دورځې مو دانګورو پرته بل خوراك نه و. زړه مې و چې دسندرو ویلو لاس واخلم او دموټر پلورنې دلالې پیل کړم. خو قسمت مې یو دوست مخې ته راوست چې راته ویې ویل: **«ته دسندرو ویلو ډېر لوړ استعداد لرې ته باید نیو یارک ته لاړ شي چې لوړې زده کړې وکړې همدې خبرې ماته جرأت راکړ چې دخپلې زده کړې دبشپړولو لپاره ۲۵۰۰۰ داله قرض کړم او لاړ شم».**

تاسو به یې نوم پېژنې. هغه لورانس تې پت دی.

یوازې خبرې کول ګټه نه رسوي، که غواړئ رښتیا پر نورو اغېز وکړئ، باید دهغو له پټو استعدادونو چې دناکشف شوي خزانو په شان یې په بدن کې پراته دي خبر شئ او په صمیمانه هڅو نه یې اړکړئ چې ګټه ترې واخلي ددې لپاره ښه ده دپوهاند ویلیام جمز وینا وګورو چې د اروایوهنې له ویاړونو څخه دي:

که خپل ځان اوننني حالت ته ځير شوو او ځان هغسې وګڼو چې یوو او ددې پرتلنې په لټه کې شـو چې څنګه یوو او څنګه کېدای شوای، نو پوه به شوو چې په نیمه هوښیارۍ کې ژوند کوو.

زموږ نیم بدن ویښ او نیمې خدای (ج) راکړې قواوې مړویدې او بې ګټې پرتې دي. د بشر استعداد تر هغه ډېر لوړ دی چې کار ترې اخلي. بشر ډېرو زیاتو استعدادونو او ځواکونو لرونکي دی چې متاسفانه دهغو نه دګټې نه اخستو سره عادت شوی دی...»

زه نه پوهېږم چې تاسو چې اوس دا کتاب لولئ، څوک یاست او دڅه مطلب لپاره کتاب لولئ، خو په دې پوهېږم چې تاسو ډېر زیات استعدادونه لرئ او یو هم دادی چې دنورو دتشویق او هڅونې استعداد لرئ چې دوی ځان وپېژني او دخپلو استعدادنو په باب پر ځان تکیه وکړي. ته کولای شې دنورو ویدې قواوې ویښې کړې. دهغوی دحرکت لیدل به ستا پټ ځواکونه هم راویښ کړي. نو که اوس په نورو د اغېز کولو سره داسې مینه لرئ چې دهغوی هیلې زیانمنې نه شي او یا تاسو له مداخلې نه په قهر نه شي. لاندې لارښوونه وکاروئ:

دنورو له ورو پر مختیاوو څخه په نېکمرغه ډول ستاینه وکړه او ددوی داستعدادونو په ستایلو کې صمیمیت وښایه! .

## اته ويشتم څپرکی:

نورو ته داسې ونښايه چې باور پرې لرئ:

**چې هغوی هم هڅه وکړي ځان ستا د باور وړوګرزي.**

مېرمن ارنست جنت زما له دوستانو څخه وه چې په نيويارک کې اوسېږي. څه موده مخکې يې يوه ځوانه خدمتګاره ونيوله. داسې وټاکل شوه چې کار به ددوشنبې له ورځې پيل کړي. په دې موده کې يې يوې داسې مېرمن سره اړيکې ونيول چې پخوا ددې خدمتګارې باداره وه او دهغې دچلند په باب يې ترې پوښتنې وکړې. زړې بادارې دنوې خدمتګارې په باب ځيني خبرې وکړې چې مېرمن جنت يې وار خطا کړه. معلومات ښه نه و خو مېرمن جنت وغوښتل پرنورو باور وازمويي. کله چې خدمتګاره راغله دې ورته وويل:

نلی، پرون مې ستا زړې بادارې ته تلفون وکړ. هغې وويل ته ډېره صادقه او دښو اخلاقو لرونکې يې او په اشپزۍ کې هم پوره پوهه لرې. دماشومانو دپالنې او ساتنې په کار کې هم معلومات لرې خو ويې ويل چې لږه بې نظمه يې او کور ښه نه پاکوې، خو زه فکر کوم دروغ يې ويلي وي ځکه دا پاکې جامې چې دې اغوستې دي ستا دنظم او نزاکت کيسه کوي. زه دا شرط ترم چې ته کورهم دخپلو جامو او سر په شان پاک ساتې. زه ډاډه يم زموږ دواړو اخلاق به سره جوړ راشي.

په زړه پوې ده څه موده وروسته همداسې وشو. کله چې باور وشو، باور وساتل شو.

ښاغلی ساموېل وی کلين وايي:

-که پر خلکو باور وکړئ او ددوی داستعداد او ځواک ستاينه وکړئ، په اسانه به وکولای شئ د هغوی سره جوړ راشئ او خپل

مقصد ته ورسېږئ...»

په بله وینا کـه غواړئ په بل لوری کـې یو صـفت پیـاوړی کـړئ داسې ورته وښایئ چې نوموړی داصفت لري:

شکسـپیر مشـهور شـاعر او لیکوال چې زمانې یې د هنر پر ارزښت شهادت ویلی دی، وایي:

**«که دیو سـتایل شـوي صـفت نه خـالي یاست، نو دهغه په لرلو تظاهر وکړئ.»**

هیڅ عیب نلري کـه دا طریقـه دنورو په باب هـم وکاروئ. کـه نور دیو داســې لوړ خـصلت لرونکی وي. چې تاســو ته ښــه ښکاري، څرګنده یې ورته ووایي. په بله وینا نور د شـهرت له حس نه برخمن کړئ ځکه په داسې حالت کې به دوی هڅه وکړي ځان هغسې کړي چې تاســو یې فکر کـوئ. ژوژه لو بلان پخـپل کـتـاب « زمـا ژوند له میتر لینګ سره» کې دیوې غریبې خدمتګارې په باب لیکي چې ویې شـو کولای د تشـویق په اثر او پر ځـان په باور یې خـپل ژوند بدل کړ. هغه لیکي:

هغې خدمـتګارې چې له ګاونډي هوټل نه یې راته خواړه راوړل مـری نومېده. دا جنی دیوې بلا په شـان وه، وازې سـترګې، کـږې پښې او نوړۍ بدني نیمګړ تیاوې یې لرلې.

یوه ورځ چې ماته دماکروني لوښی راوړ، ورته ومې ویل: مېرمن مری ته نه پوهېږې په بدن کې مو څه قیمتي او نادرې خزانې پټې دي. هغــه چې وېریده لږه غلې شـوه. کله چې یې لوښی پر مــیـز کېښود غلی یې وویل: مېرمنې ستا په خبرو باور نه شم کولی! هغې خو په ښکاره ماته وویل زما په خبرو باور نه شي کولای خو په پټه یې منلې وې او دخپل اندام په نیمګړتیا او دځیرې په بدوالي کې یې

شك كړي و. مري پخلنځي ته لاړه او په آئينه كې يې كتل پيل كړل. تر شونډو لاندې يې زما خبره تكرار كړه. زما همدا لړه يادونه بس وه چې هغې ته ځان ارزښتمن ښكاره شي.

او دا تر ټولو عجيب بدلون و چې په دې ښځه كې راغى. هغې دخپل ځان جدي څارنه او پالنه پيل كړه او چې څه موده تېره شوه د هغې دڅېرې بدوالى په يو ټول دروند والي بدل شو. زه چې دوه مياشتې وروسته راتلم راته ويې ويل چې دهوتل دخاوند دورارة سره واده كوي. زما څخه دمننې په ترڅ كې يې وويل ګورې چې اوس به ځانته پوره ښځه شم!

هانرى كلى ريسز چې يو وخت غوښتل دامريكا دپلي پوځ په منځ كې چې په فرانسه كې وو دښه تصور روحيه پيدا كړي. جنرال هارنورد يو وخت ده ته ويلي و: دامريكا دا دوه ميلونه پلى پوځ چې په امريكا كې اوسېږي هغه بهترين سرتيري دي چې تر اوسه مې ليدلي يا اوريدلى دي.

ريسز دجنرال له دغې اغراقي جملې نه كار واخست او چې كله به يې وخت راته په ډېر آب وتاب به يې دسرتېرو په مخكې ويله. هغه ويل «زما يې دجنرال دوينا له سموالي او ناسموالي سره كار نشته خو يوازې په دې پوهېدم دغه سرتېري چې دجنرال دستايلو ارزښت لري، ځان په همدې خبره ستندرد ته رسوي.

يو مشهور متل دى وايي: كه غواړئ يو څوک مړ كړئ، بدنام يې كړئ! ددې په مقابل كې كه غواړئ چاته خدمت وكړئ. دښه نوم خاوند يې كړئ او وګوره چې نتيجه يې څنګه شوه.

ټول خلك له استثنا پرته كه هغه شتمن وي، كه نيستمن، شريف وي كه رزيل، هوښيار وي كه كم عقل، ځوان وي كه زوړ غواړي

دهغه باور وړ شي چې نورو پرې کړی دی.

دیو ناسم، ځواب او بد سړي سره د چلند پر وخت ښه لار داده چې گویا دیوه پتمن او ښه سړي سره مخ یاست ستاسې ددې چلند نه هغه اغېزمن کېږي.خوښېږي او کېدای شي ځان ستاسو دتصور سره سم کړي.

نو که د پورته پېښو په پام کې نیولو سره غواوئ په نورو اغېز ولرئ، احساسات یې زیانمن نکړئ لاندې لارښوونه په پام کې ولرئ.

مقابل لوری له ښه شهرت نه برخمن کړئ چې ځان دهغه ښه نوم وړ کړي چې تاسو ورکړی دی په دې صورت کې به دواړه مقصد ته رسېدلي یاست.

## نهه ويشتم څپرکی

د کميو کوچنی ګټل او په ارزښتو نو تاکيد کول

کمې واړه دی او سمون آسان:

څه موده مخکې مې يو دوست چې دپوخ عمر خاوند دی او په څلوېښت کلنی کې يې واده وکړ، کيسه راته وکړه چې مېرمن يې ترې غواړي دورځې دمود سره سمه ګډا وکړي هغه داسې مېږه غواړي چې دځوان نسل داړتياونه پوره پوره خبر وي. دوست مې وويل: په دې عمر کې راته دا کار ګران و خو دمېرمنې دنظر دعملي کولو نه غېر مې بله لار نه وه. يوه ښوونکی ته لاړم. هغه مې زړه غور ځاوه، بل ته لاړم، ده راته په لومړی ورځ وويل چې ته اصلاً په طبيعي ډول دې کار ته جوړيې، حرکات دې ډېر موزون دي. ددې ښوونکي هڅونه ددې سبب شوه چې ډېره ښه ګډا زده کړم. دده تشويق زما د برې سبب شو. ده پر ما باور وکړ او ما هم کوښښ وکړ چې هغه نهيلی نکړم او په دې توګه بريالي شوم...».

که يو ماشوم، يو مېړه، يوې ښځې، يو کارګر يا يوه زده کوونکي ته وايئ کودن دی او هيڅ کار نشي کولای، خپل ټول کارونه به ناسم وکړي او هيڅکله ورسره مينه نه ښايي. ځکه تاسو په ناپوه ډول په ده کې د پرمختيا او بشپړ تيا په لور لېوالتيا وژلې ده. خو که ددې پر عکس چلند وکړئ او په هڅونه کې سخاوت وکړئ، پايله به بدلون ومومي. تاسو کولای شئ دکار پر اسانوالي زور واچوئ او دشخص استعداد په همدغه برخه کې وستايئ. هغه په دې پوه کړئ چې دکار په سرته رسولو کې دده پر استعداد باور لرئ. اجازه ورکړئ په دې پوه شي چې تاسو دهغه په پټ ذاتي استعداد

خبر شوي ياست. په دې صورت کې په خپل کار او فعاليت تاسو ته زياد کړي چې اشتباه مونه ده کړې او د برې لمر راختلی دی.

ښاغلی لاول توماس چې دانساني اړيکو په اصولو کې په ټوله معنا يو هنرمند دی، همدغه طريقه کاروي. هغه پخپلو خبرو او تاکيدونو تاسو له سره جوړي او پر ځان باور در پکې پيدا کوي. پر ځان ايمان، شهامت او جرأت در پکې راويښوي.

په دې وروستيو کې مې يوه شپه ده کره تېره کړه، دبخارۍ دتود او بل اور خواته ناست وو کيسې مو کولې ده له ما وغوښتل چې د بريج لوبه ور سره وکړم. زمادا لوبه زده نه وه. خو ده راته وويل:

ديل، څه وشو؟ بريج خو مداری توب نه دی. چالاکی ته پکې اړتيا نشته يوازې لږ دحافظې قوت او د تشخيص ځواک غواړي همدا! دامې په ياد دي چې تاسو يو ځل دحافظې دتقويه کولو په باب ليکنه کړې وه! څوک چې دغسې مقاله ليکي بايد د داسې ساده لوبې له زده کولو ونه وېرېږي!

بريج ډېر اسان دی. په عين حال کې ستا له مسلك سره هم اړيکي لري.

عجب! بی له دې چې پوه شم. د بريج مېز ته ولاړ وم او لوبه مې کوله، هو! هغه راته وويل چې زه يې استعداد لرم، ماهم وښودله چې هغه اشتباه نده کړې، هغه ماته د استعداد لرل تلقين کړل او زما استعداد هم وغوړېد.

الي کول چې دبريج استدا و، په دې باب يې کتابونه ليکلي و بيا په ۱۲ ژبو ژباړل شوي و، ماته هغه هم ويلي و «ما د برېج استعداد نه درلود خو يوې ځوانې ښځې ډاډ راکړ او ځکه د بريج يو پياووی استاد شوم.

دې چې لومړی امریکا ته راغی دفلسفې او ټولنیزو پوهنو درس یې ورکاوه . بیا یې سکاره خرڅول خو په دغو لارو کې دیوې مړی بوډۍ خاوند نه شو. خو کله چې دژوزفین په نوم دیوې ځوانې جنۍ سره یې واده وکړ، هغې دده په وجود کې دغه استعداد کشف کړ، او رښتیا چې په دې لار کې دي لوی استاد شو.

نو پر نورو داغېز کولو، مثبت لوري ته ددوی دبیولو او سمولو لپاره لاندې لارښود وکاروئ په هڅونه سره نورو ته وښایئ چې دکمیو لیرې کول یې اسان دي، داسې کار وکړئ چې ستاسې غوښتنه ورته آسانه ښکاره شي او دځان په وړاندې یې یو ناشونې شی ونه ویني.

# د ورېښم ځېرکی

مور ته د خدمت لپاره په نورو کې د شوق پیدا کول:

څه وکړو چې نور په مینه او شوق زموږ دوراندیز له مخې هغه کار وکړي چې موږ يې غواړو؟

په ۱۹۱۰ کال کې امریکا په وحشت وهلي او وار خطا ډول اروپا ته کتل چې دولتونه یو له بل سره نښتي دی او په منځ کې خلك په عام ډول قتلیږي آیا ددې امکان و چې یو ځل بیا دسولې او ارامی پر ښته ووینو؟ ایا دسولې ټینګښت دچا په کې وس و؟ کومه لار وه چې دقتل او وژنو مخه ونیسي؟

ډېر ګران کار و خو جمهور رئیس ویلسون په دې لټه کې و دا کار وکړي. هغه غوښتل په اروپاکې و دسولي په ټینګښت کې مرسته وکړي، خو څنګه؟

ویلسون په دې لټه کې و چې دسولې دپیغام وړونکي په نوم یو نماینده اروپا ته ولیږي. دا سړی باید د اروپا په جګړه کې له ښکېلو مشرانو سره خبرې وکړي او قناعت ورکړي چې له جګړې لاس واخلي.

برایان دکورنیو چارو وزیر غوښتل دې کار ته وټاکل شي، د زړه له کومې هڅې وکړي او نوم يې په تاریخ کې تل پاتې شي. خو ویلسون ددې کار لپاره خپل دوست هاوس وټاکه او ورته ویې ویل چې برایان درنه خبر نه شي. هاوس پخپلو خاطرو کې په دې باب لیکي:

کله چې برایان وپوهېد زه اروپا ته دسفیر په توګه ځم، ډېر خپه او زړه يې مات شو. هغه نقشي چې يې پخپل فکر کې ددې ماموریت لپاره جوړې کړې وې، ګډې وډې شوې، خپله دا اندېښنه يې ماته هم وویله. ما ورته وویل: جمهور رئیس نه غواړي دا کار په

رسمي ډول تر سره شي که تاسو دې کار ته وټاکل شوئ او اروپا ته لاړ شئ ټول ذهنيتونه به درته ځير شي او دا شور به راولاړ شي چې څه مهمه خبره ده چې برايان اروپا ته تللى دی؟

هاوس کېدای شي دهمدې زيرکی او هوښياری په وجه دجمهور رئيس ډېر باوري سړی و. ده په ظرافت او سنجول شو وټکيو برايان داسې قانع کړ چې نه يوازې خفه نه شو بلکې خپل کار يې لا مهم وګڼه. هاوس ورته وښودله چې برايان ترديې ډېر مهم دی چې دغسې يو ماموريت ته ولېږل شي. دهاوس نظر داسې لنډوو : داسې چلند وکړئ چې نور په مينه او لېوالتيا هغه څه ومني چې تاسو يې غواړئ!

دامريکا ديوې لويې خپرندويې ټولنې مشر پېژنم چې لاندې لارښوونه يې دخپل خپرنيز کار شعار ګرځولې ده:

داسې چلند وکړئ چې نور په مينه او ليوالتيا هغه څه وکړي چې تاسو يې غواړئ!

دا مو سسه په خپل کار کې دومره بريالی ده چې مشهور ليکوال او . هنري يې په باب وايي:

که چې خپرندويه موسسه نه تيارېده زما ليکنې چاپ کړي، دا خبره يې په داسې طريقه رارسوله او داسې په مهربانی او مينه يې درسره چلند کاوه چې دهغوی په وړاندې مې احساس ښه کېده. حتیٰ که له دې نه غير په بله طريقه کومې خپرندويې موسسې زما اثار چاپولی هم، دومره يې نه خوشالولم.

زه يو داسې سړی پېژنم چې دښې وينا په خاطر تل غوندو ته بلل کېږي، خو نه يې منې، حتیٰ د خپلو ځينو دوستانو بلنې هم ردوي، خو په داسې ډول او داسې خوږو الفاظو چې نه يوازې دبل لوري دخفګان سبب کېږی نه، بلکې خوشالي هم ور په برخه کوي.

هغه هيڅکله نه وايي چې د ستړيا بوختيا يا ... له امله نه شي کولای غونډې ته ورشي.

هغه لومړی له دې امله چې دپام وړ گرځول شوی دی، مننه کوي او بيا په ډېر خفگان دخپل نه تلو خبر ور کوي او پخپل ځای يو بل وينا وال لېږي.

هغه بې له دې چې په خپل نه ورتگ هغوی خفه کړي، يو بل بديل ورته وړاندې کوي مثلاً: «ولې زما دوست..... ته چې د.... اخبار مسئول دی بلنه نه ورکوئ»

يا «رښتيا فکر مو کړی دی چې زما دوست.... چې ٤٥ کاله يې په فرانسه کې دورځپاڼې مشري کړې ده، ددې لپاره ډېر وړدی. هغه کولای شي په اروپا کې دخپل ۱۰ کلن کار خبرې ښې تجربې درته ووايي.

ښاغلی ح.ا. وانت دوانت د خپرندويه موسسې مشر دی. ده دخپلې موسسې دچاپ دماشين له کارکونکو سره دچلند يوه ستونزه درلوده چې بايد حل يې کړي. دچاپ دماشين مشر يو تن و او کار پرې ډېر و، خو دشرکت مشر ده ته مرستيال ونه ټاکه يوازې يوه کوټه يې ورکړه. او دده دکار يوه تابلو يې پکې ولگوله. دې کار د چاپ دماشين مشر ډېر خوشاله کړ. گيلې گوزارې ختمې شوې او کار په ښه ډول پر مخ روان شو.

ښايي دا ستاسې په نظر يوه ماشومانه خبره وي، داسې به وي خو رښتيا ده.

کله چې ناپلئون د لژيون نښان راوايست او پخپلو سر تېرو يې وويشه او خپل ۱۸ جنرالان يې مار شالان کړل او خپل پوځ ته يې دستر پوځ نوم ورکړ، ټولو وويل ماشومانه کار يې وکړ او دا ديو نظامي نابغه لکه ناپلئون سره نه ښايي. هغه خپلو ازمايل شويو او پياوړيو سر تېرو ته دلوبو سامان ورکوي. ناپلئون په ځواب کې وويل:

**«له سترو اشخاصو هم د بازيچو په ورکولو بازيچه جوړولای شو!»**

نو چې دالقابو ورکول دناپلئون په شان خلکو ته ګټه رسولای شي، بې له شکه تاسو ته هم ګټور کېدای شئ.

زما يوې دوستې مېرمن جنت چې دنيو يارک اوسېدونکې ده د شيطانو ماشومانو نه چې دچمن واښه به يې خرابول، ګيله لرله او خفه وه خو څه يې نه شو کولای. تر مشورو وروسته دې مېرمن هوډ وکړ دهمدې شيطانو هلکانو نه کار واخلي. هغې يو هلك ته وويل، ته ددې ځای دساتلو مسئول يې که څوک باغچې ته راننوتل ما خبره کړه. هلك دستي کار پيل کړ، اور يې بل کړ، يوه ميله يې توده کړه او هلکانو ته يې وويل « که څوک چمن ته راننوتل په دې ميله يې داغوم!» تر هغه وروسته دمېرمن جنت چمن د دې هلك په هڅه روغ پاتې شو. ځکه مېرمن جنت هلك مهم ګڼلی و او هغه هم دخپل مهموالي د اثبات لپاره په جدي توګه د مېرمن غوښتنه عملي کړې وه نو دهمدې اصولو په رڼا کې که غواړئ نور دخپلو غوښتنو د سرته رسولو په لار کې وهڅوئ او ددوی احساسات هم ټپي نکړئ، قار يې هم راونه پاروئ، لاندې لارښود په پام کې وساتئ:

هغه کارونه چې کول يې نورو ته وړاندې کوئ، په داسې ډول چلند وکړئ چې هغوی ځانونه مهم وګڼي او په خوښۍ ستاسو غوښتنه ومني.

**د ځلورمې برخې لنډيز:**

دنورو د بدلولو او پر دوی داغېز پرې ايستلو ۹ لارې چې دوی نا راحته نشي او احساسات يې په پام کې ونيول شي.

**لومړی لارښود:**

په رښتينې او صادقانه ستاينه او قدر کونه بحث پيل کړئ او په پای کې شخص دې ته اړ کړئ دخپلو ارزښتونو دساتنې لپاره هڅه وکړي.

**دوهم لارښود:**

دنورو خطا په نا مستقيم ډول غوږ ته ورورسوئ. او دې ته ځير

اوسئ چې دویارمنی او لوړ تیا غوښتنې احساس مو په خبرو کې نه وي.

**دریم لارښود:**

دنورو دکارونوتر انتقاد کولو دمخه، لومړی دخپلو کمیو په باب پیل وکړئ او بیان یې کړئ.

**څلورم لارښود:**

پرېږدئ بل لوری خپل حیثیت او ابرو وساتي. دنورو د احساساتو ټپي کول دلویو انسانانو کار نه دی.

**پنځم لارښود:**

دمستقیم امر صادرولو پر ځای خپلې غوښتنې دپوښتنې او وړاندیز په بڼه وړاندې کړئ.

**شپږم لارښود:**

دنورو د وړو پر مختګونو سخاوتمندانه ستاینه وکړئ او ددوی داستعدادونو په ستاینه کې صمیمیت وښایئ.

**اووم لار ښود:**

نور د ښه شهرت نه برخمن کړئ چې ځان دهغه نېك او ښه نوم وړ وګڼي چې تاسو ورکړی دی په دې صورت کې دواړه لوري مقصد ته رسېږئ.

**اتم لار ښود:**

دنورو په هڅونه دا وښایئ چې ددوی دعیبونو لرې کول اسان دی. داسې کار وکړئ چې ستاسو غوښتنه هغه ته آسانه وبرېښي او ځان دیو ناشوني شي سره مخ ونه ویني.

**نهم لارښود:**

دهغو کارونو دسرته رسولو لپاره چې نورو ته یې وړاندیز کوئ داسې چلند وکړئ چې هغوی ځان مهم وګڼي او په خوښی مو غوښتنه ومني.

# پنځمه برخه

## یو د برشم ځپرکی

دنه باورېدونکو پایلو لرونکي لیکونه

**هغه لیکونه چې جادویي اغېزې یې کړې دي.**

کولای شم تاسو چې دا عنوان لوستی دی، دمطلب ددوام مخکې درسره شرط وتړم چې تاسو څه فکر کوئ! پوهېږم چې وبه وایئ، څومره مسخره عنوان! دداسې اعلان په شان چې په یوه ګولی لا علاجه ناروغی رغوي.!

که داسې جملې ووایئ نه مو ملامتوم. ځکه که ماهم پنځلس کاله مخکې داسې عنوان لیدلای وای او هغه څه مې لوستلی چې تاسې یې لولئ. سبتاسو په شان نظر مې څرګندوه.

که ددې موضوع په منلو کې شك لرئ، اجازه راکړئ ووایم چې ما دخپل ژوند لومړی شل کلونه په میسوري کې تېر کړي دي. دهغه ځای خلك په تردید او شك کې نوم لري. دغه خلك هیڅ کلیمه له دلیل پرته نه مني. دا هم سمه ده چې دبشر پر مختګ تر یوه حده په انتقاد اوشك کولو کې دی راځئ چې یو بل سره راست و اوسو او دروغ ونه وایو، آیا پورتنی عنوان حقیقت لري اوسم دی؟

دا چې ژمنه مو وکړه دروغ به نه وایو، نو زه وایم چې دغه عنوان سم نه دی. ځکه دځینو لیکونو اغېز تر سحر زیات دی. دا مّعیار کن دا یك دیو شرکت دتبلیغ د برخې مسئول ته کلی دی.

ښاغلی دایك وایي:

هغه لیکونو ته چې دشل پوښتنو لرونکي وو او دمعلوماتو دراټولولو لپاره مو لېږل، که د ۸–۵ پوښتنو ځواب موتر لاسه کاوه، معمولي نتیجه وه. تر ډېره وضعې همدغه شان دوام وکړ.

که هر لیك ۱۵ پوښتنی ځواب کړي وي، دتصور نه لوړ کار و، خو که شل پوښتنې به ځواب شوې و موږ به ویل معجزه پېښه شوې ده. یوه لیك ته د ٤۲ پوښتنو ځواب راغی، دانو تر معجزې هم موږ ته لوړ ښکارېده. ولې داسې وشو؟

« .... وروسته تر هغه چې دښاغلي کارنګي دښوونو له لارې دمعاشرت دادبو او وینا کولو له لارو خبر شوم، پوه شوم چې زما پخوانی طریقه ښځې ناسمه وه، نو هڅه مې وکړه چې دښاغلي کارنګي دکتاب سره سم کړنه وکړم. ځوابونه د ٪ ۸۰-۵۰ ته ورسېدل. دښاغلي کارنګي دلارښوونو له مخې لیکونه داسې تنظیم شول چې شخص به دلیك دلوستلو پر مهال هیله کوله دلیکونکي په باب مهرباني وکړي. دې احساس به دلیك لوستونکی ښا اهمیته ښوده.

زه به دیو لیك اصلی شکل دتفسیر سره ولیکم:

ښاغلی جان بلانګ

بلانك ویل - اندیانا

ګران ښاغلی بلانك! نه پوهېږم په هغه ستونزه کې چې نښتی یم، مرسته به راسره وکړې که نه؟ خو پوهېږم چې که زما مرستې ته لېوال شې، نو دستونزې دحل وس مې لرې.

اوس دلوستونکي دریځ ته وګورئ، فرض کړئ دا یو عادي پلورونکي دی. کله چې ګوري دیو لوی سړي په لیك کې دده نه مرسته غوښتل شوې ده خپل مهم والی ور مخې ته کېږي.

دلیك پاتې برخه:

سږ کال مې په سختۍ خپل شرکت قانع کړ چې دخرڅلاو دحالت دښه والي لپاره باید د پرچون پلورونکیو ملاتړ وشي او ددوی هغه اضافی خرڅونه په غاړه واخلي چې ددوی دخرڅلا په کار کې نشته.

دا پرچون پلورونکي چې ګوري دده غم خوړل شوي او اضافي

لګښت يې شرکت په غاړه اخستی دی پوهېږي چې څومره خرڅلا ډېره وي، هماغومره ګټه ډېره وي. د ليك دوام:

«په دې وروستيو کې مې يو پوښتنليك ۱٦۰۰۰ تنو دخرڅلا و نماينده ګانو ته ولېږه دوی زموږ له طرحې ګټه اخستې وه. البته خوښ يم چې تاسو خبر کړم په سلګونو ځوابونه مې تر لاسه کړل. ټولو ويلي و، ددې طرحې سره له همکارۍ نه راضي دی. ددوی هر کلی ددې سبب شو چې زه بله طرحه جوړه کړم چې همدا اوس يې تاسو ته درلېږم. ډاډه يم چې تر پخوانۍ طرحې موډېره خوښېږي. نن راسره دشرکت رئيس دتېر کال دطرحې دګزارش په باب خبرې کولې او لکه څنګه چې درئيسانو عادت دی رانه ويې پښتل: دنوې طرحې لپاره درته څو سپارښتونه رسېدلی دي؟ معلومه ده درئيس دځواب لپاره ستاسو مرسته غواړم.!»

پلورونکي بيا خپل اهميت ته متوجه کېږي چې درئيس نه دځواب په خاطر ددوی مرسته ضرور ده!

«هغه څه چې ستاسو درانه څخه يې غواړم دادی چې دمهربانۍ له مخې ددې کارت پر ضميمه وليکئ چې ستاسو دتېر کال سپارښتونه څو فقرې وو او دوهم هڅه وکړئ دټولو شيانو رښتينې بيه هم څرګنده کړئ. چې دا کار دمهربانۍ له مخې راته وکړئ زه به مو ډېره مننه کوم. او تاسو به ددې معلوماتو په بشپړولو کې په خپل منت پوروړی کړئ.

ستاسو ارادتمند کن وايك

وګورئ ليکوال څنګه په پيل کې له **«زه»** او په پای کې له **«تاسو»** نه ښه کار اخستی دی؟

هغه څومره په ستاينه او تقدير او دمهربانۍ په څرګندونه کې سخاوت کړی دی:

**«له تاسو به ډېره ډېره مننه کوم» «زه به مو تل دمنت پوروړی اوسم.»**

دې ليك په خپل ټول ساده والي جادو كړى دى! ولې؟ ځكه ليكونكي دخپل مخاطب نه د مهرباني غوښتنه كړې ده او دا ددې سبب شوې چې بل لورى ځان مهم احساس كړي.

دا ټول چلند د اروا پوهنې له نظره ډېر مهم دى. څه كه تاسو يو غريب دكاندار ياست يا په وروستي ماډل فورډ كې په ارو پا كې چكر وهئ.

يو بل مثال: يو وخت ما او هو مركراى دفرانسې په جادو كې دچكر پر مهال لار وركه كړه. موټر مو ودراوه او له كليوالو خلكو مو پوښتنه وكړه چې څنگه به لار پيدا كړو؟

دې كليوالو چې لرگين بوټونه يې په پښو وو، ټول امريكائيان ورته شتمن خلك ښكارېدل موټرې په دغه سيمه كې ډېرې لږې وې. ددوى په فكر موږ بايد ميلونران يا كم تر كه دهانري فورد دتره زامن او سوو دوى زموږ په باب دهغه څه نه خبر وو چې موږ ترې پخپله خبر نه وو.

موږ سره له دې چې تر دوى زياتې پيسې لرلې خو له دوى موسوال كړي و. غوښتنه مو وه چې لار راوښايې. دې موضوع دوى ته دمهم والى احساس وركاوه. ټولو يو بل سره زر زر خبرې پيل كړي. زر زر يې لار راوښوده.

فرانكلين دخپلو دښمنانو دبدلون لپاره له دې كارنه گټه اخسته، پام وكړئ:

فرانكلين په ځوانى كې خپله ټوله شتمني ديوې ورې چاپخونې په جوړولو ولگوله او په ډېره هڅه وتوانېده دفيلا دلفيا دگنگرس منشي شي. دا كار ددې سبب شو چې دسيمې چاپي كارونه ده ته وسپارل شي. دې كار ده ته ډېره گټه رسوله او دى حاضر نه و هغه پرېږدي. خو يو خطر تهديداوه دگنگرس يو ډېر شتمن او ډېر ځواكمن غړي له فرانكلين نه سخته كركه كوله. دې شخص ددې كركې دښودلو لپاره دټولو په مخكې په فرانكلين بريد وكړ.

فرانکلين هوډوکړ، دا خطر له منځه يوسي، او ددې سړي نه يو دوست جوړ کړي.

فرانکلين تر ډېر فکر وروسته داسې کار وکړ دهغه ځان غوښتنه يې راضي کړه. کيسه پخپله فرانکلين داسې کوي:اورېدلې مې و چې دهغه په کتاب خونه کې يو ارزښتمن او ګرانبيه کتاب دی. ديو يادښت په ترځ کې مې ترې وغوښتل ددغه کتاب دلوستلو وخت راکړي،

هغه ډېر زر کتاب راولېږه. ماهم په يوه اوونۍ کې ولوست او روغ جوړ مې ورته بېرته ولېږه او په يوه بل يادښت کې مې دده له مهربانۍ نه مننه کړې وه.

بل ځل چې مې په کنګرس کې وليد چلند يې له ډېر ادب نه ډک و، په ادب يې راسره خبرې وکړې -داسې چې پخوا يې کله نه وې کړې- تر هغه وروسته يې راته دتل لپاره دخپلې مرستې تيارۍ واوروه. او په دې توګه موږ دوستان شوو!؟

دې دوستۍ دفرانکلين دعمر تر پايه دوام وکړ.

زما يو شاګرد امسل تر فرانکلين ۱۵ کاله وروسته دده دغه اروا پوهنيزه طريقه وکاروله. دی وايي:

«موږ نلونه خرڅول. کله چې به ديو شرکت مشر ته ورغلم، ده به راته دواره وويل: ښاغليه موږ څه نه اخلو» داځل چې ورغلم زر مې ورته وويل: «ښاغليه دا ځل دڅه شي خرڅولو لپاره نه يم راغلی، يوازې غواړم ستاسې يو پنځه دقيقې وخت ونيسم» ده په داسې حال کې چې سګرت يې دخولې نه لرې کړ راته وويل: وبه ګورو چې په سر کې دې څه ګرځي او څه غواړې؟

امسل وايي: «زموږ شرکت غواړي په کونيز کې يوه ځانګه پرانېزي او تاسو تر هر چا ډېر په دغه ځای کې بلد ياست. ددې لپاره راغلی يم چې ددغه ځای په باب مشوره راکړئ. چې دغلته به زموږ کار ښه وي که نه؟ ددې جملې په ويلو وضعه بيخي بدله شوه.

ده چې کلونه په غربېدلو دخپل مهم والي احساس آراموه. اوس یې کتل چې دیو لوی شرکت نماینده دده دنظر داهمیت په خاطر دده مشوره غواړي. ده چوکۍ رامخته کړه او ویې ویل:

کېنه! دده سره زما کتنې یو ساعت وخت ونیو او دهر څه په باب سره وغږېدو. په پای کې حتیٰ ده دخپلو کورنیو ستونزو کیسې هم وکړې. امسل وایي: « په دغه ورځ نه یوازې دیو لوی سپارښت لومړني کارونه وشول بلکې دیوې پیاوړې دوستۍ مزې هم ټړل شول زه پردې شخص چې تل به غربېده، ځکه بریالی شوی وم چې دده دمهم والي دحس په آرامولو مې دی خوښ کړی و.

دي به پام وکړی چې ټول دستاینې او تقدیر تړي دی ټول غواړي مهم وګڼل شي. خو هېڅوک ناصمیمي چلند نه خوښوي. هیڅوک دچاپلوسی او تملق پلوي نه دي. یو ځل بیا یې یادوم:

ددې کتاب اصول او لارښوونې هغه وخت اغېز منې واقع کېږي چې صمیمانه تر سره شي. زه دمداري توب او چالاکی دغه خلطه لوستونکي ته نه ورکوم، یوازې داسې رښتیا چې له پامه یې لرې پاتې شوي وو، ده ته ورښایم چې پدې رښتیا و دیو نوی ژوند دایرې ته ورننوزي.

# شپږمه برخه

د کورنۍ د غړیو د نېکمرغۍ لپاره

اووه بنسټيز اصلونه:

## دوه د ېرشم څپرکی:

د کورني ژوند د ښخولو لپاره د گور کیندنې بېړنۍ لار:

۷۵ کاله مخکې دریم ناپلئون دفرانسې امپراطور دلوی ناپلئون وراره په مارۍ اوژني چې په ملکه تبا مشهوره وه. مین شو. بې له اغراقه دغه مېرمن دنړۍ ډېره زیاته ښکلې وه. دریم ناپلئون دیوې سوزونکې مینې وروسته له دغې مېرمنې سره واده وکړ.

د نزدې والي مخکې ځینو مشاورینو امپراطور ته وویل چې شهزادگۍ داسپانیا دېو کم همته او نوم ورکي کنت لورده خو ناپلئون زر په ځواب کې ورته وویل:

ډېر یې څه اهمیت لري؟

د شهزادگۍ موزون اندام، د څپرۍ ښکلا، زړه وړنې او نازولتوب دفرانسې دپادشاه بدن له اسماني نېکمرغۍ ډک کړي و او هغه چې دشهزاده گۍ دښکلا دجاذبې تر اغېزې لاندې و دپادشاهۍ له تخته یې دخپلو مشاورانو نظر په یوه وینا کې رد کړ او ویې ویل:

ما یوه داسې ښځه چې خوښېږي مې او درناوی ورته لرم تر هغې ښځې چې راته نا اشنا ده او نه شم کولای دوستي ورسره وکړم، غوره کړې ده.

ناپلئون او ځوانې ناوې ښکلا او روغتیا، ځواک، شتمني، ټولنیز دریځ، شهرت او مینه او زړه ورکونه او ټول هغه شیان چې دیوی

بريالى ميني لپاره پکارولي، لرل.

داسې ښکارېده چې هېڅکله ديوی داسې سپېڅلې مينې لمبې نه وې بلې شوې او يو بريالى واده يې څان پسې نه و راوړی، خو افسوس!

ددې تېزې او توپاني مينې لمبې ډېرې زر غلې شوې او ګرمي يې تر هغه دمخه سړه شوه چې فکر يې کېده او دتولو سرکشو او رونو په شان ترې يوازې ايرې پاتې شوې او ايرې هم سړې شوې.

درېم ناپلئـون وکـړای شــو چې ښکلې او ژني د فـــرانســې امپراتريس کړي خو نه ښکلې فرانسې او نه دناپلئون څواک او واک او نه دسلطنت ځـلا يوه هم ونه شــو کـولای دا ښکلې ښـځـه دخبرلوڅی او بدژبې توب نه واړوي.

اوژني چې دکينې او بدګمانی ناروغی ځوروله دخپلې ناروغی اغېزې يې دداسې مور يانو په شـان چې دنېکمـرغه ښـځې مـېړه دنېکمرغی دتخت پايې خوري، دخپل مېړه په ځان ور واچولې.

اوژني دامپراطور په امرونو باک نه کاوه او حتیٰ په يوازې والې کې يې هم دڅرګندېدو اجازه نه ورکوله کله چې ناپلئون به د دندو په سـرته رسـولو بوخت و او ديو پاد شـاه په عنوان يې بايد کـار کولای، اوژ نی يې دکـار دفتر ته ورننوته او حتیٰ مـهم او ضروري خبرې يې ورله ګډوډ ولې.

اوژني ناپلئون يوه شېبه يوازې نه پرېښوده، څکه له دې وېريده چې هغه دکومې بلې ښځې سره دمينې اړيکي پېدا نکړي. زياتره به يې خپلې خـور ته دخپل مـېړه نه شکايت کاوه. د مـېړه دنازوونکو خـبـرو په مـقـابل کـې به ژړېده، تل به يې خـبـرې ورګـرز ولې او تهديدوه به يې.

يوه ورځ ناپلئون کتابتون ته پناه يو وړه چې ددې د شروشورنه خلاص شي خو اوژني په زور کتابتون ته ورننوته او خپل مېړه ته يې بدی ردې پيل کړې. اوژني له دې کاره څه نتيجه واخسته؟

ددې تپوس ځواب به «دناپلئون او اوژني، دیو امپراطور شرمناکه تراژیدي» له کتاب نه چې دراینهار په قلم لیکل شوې دي، درته را واخلو:

داوژني دسخت ګېریو نتیجه داشوه چې زیاتره به ناپلئون دشپې ناوخته دیو ملګري په ملګرتیا دیوې پټې دروازې له لاري ووت. په داسې حال کې چې خولۍ به یې پر مخ را ټیټه کړې وه، پټ به ته او رښتیا به دیوې ښکلې ښځې لیدلو ته چې دده په انتظار به وه ورته، کله به په داسې لارو ورته چې په دغسې ځایونو کې دیو امپراطور شته والي افسانه وی و. همدغه ځای کې به امپراطور ارامه ساه ایسته.

دا هماغه څه و چې شورو شر اوژنې ته په زړي کې راوړه. داسمه ده چې هغې په امپراطور زور چلوه، او نړۍ تر ټولو ښکلی مېرمن وه. خو د ښکلا او قدرت حاصل یې دحسادت په اورکې «وسوځېد ځکه نه ښکلا او نه ځواک یو هم نه شي کولای مینه دشور او شر او حسادت په ذهر جنو لړو کې ژوندی وساتي.

رښتیا، دا اسماني بلا وه چې په اوژني را نازله شوې وه،؟ نه! دې ښکلي ښځې په خپل دایمي حسادت او خبرو ګرځولو هم پر خپل مېړه داسې بلا نازله کړې وه چې کولای یې شو دډوی ښکلی او پرتمین عشق له منځه یوسي.

دټولو دوزخي شیطانانو په منځ کې چې دمیني دله منځه وړلو لپاره پیدا شوی دي، تر شورو شره یو هم خطرناک او اغېزمن نه دي. دا شور او شر نه خلاصېږي او نه کمېږي او د نیش حاصل یې نابودي او مرګ دی.

موږ فکر کوو چې دلئوتو لستوی مېرمن هم په دې موضوع وروسته پوه شوه، ځکه تر خپل مرګ لږ دمخه یې خپلو لوڼو ته وویل:

زه ستاسې دپلار دمړینې سبب شوم.

په دغه شبیه کې لویو مورته ځواب ورنکړ. یوازې دواړو وژړل څو پوهېدلې چې مور یې رښتیا وایي. دوی پوه وې چې مور یې په همېشني شکایت اونه خلاصېدونکي انتقاد اوشور او شر دوی د پلار دمرگ سببونه برابر کړي وو.

دهغې وضعې پر خلاف چې منځ ته راغله او ددې سبب شوه چې لیوتو لستوی په ناکامۍ سره دمرگ لور ته گام واخلي، هغه او مېرمنې یې کولای شوو خوښ او خوشاله ژوند ولري.

دهمدغه نا خوښه ژوند په کلونو کې تولستوی دخپل وخت تر ټولو مشهور رومان لیکونکی و او دهغو شهکارو پخاطر چې «دجنگ او سوله» او «اناکارنینا» په نومونو یې لیکلی و بس و، چې نوم یې دنړۍ دادبیاتو تاریخ ژوندی وساتي.

دتولستوی اثارو پر مینه والو دومره اغېزه درلوده چې په دغو شپو ورځوکې دفداکارو مریدانو په شان دخپل مرشد په خدمت کې وو.

یوځای مې دتولستوی په باب لوستلی دی چې مریدانو یې یو وخت حتیٰ داسې خبرې لکه «لکه چې ددې وخت دی چې خوب ته لاړ شو.» هم داسماني کلام په شان لیکلې، تر هغه وروسته دولت دده ټول اثار دده دمریدانو دیادښتو سره مل دهیواد دادبیاتو د یوې ویاړمنې دورې په توگه چاپ کړل. دده اثار نږدې په ۱۰۰ ټوکه کې چاپ شول. څو څو ځلې بیا هم خپاره شوي دي او بیابه هم خپاره شي، خو «ن» تولستوی دده مېرمنې چې دمېړه پر شهرت سرېره یې شتمنې، او لادونه، او ټولنیز دریځ درلود.

ددوی دبدې ورځې مخکې چاگمان هم نه کاوه دهیڅ واده سهار به ددوی تر هغه ښکلې او روښانه وکړي دوی په لومړي سرکې گمان کاوه، بشپړې او همېشنی نېکمرغۍ ته رسېدلي دي. دواړو به زنگونونه په ځمکه اېښودل او له خدایه به یې دخپلی نېکمرغۍ دوخت شته والي او دوام غوښت.

یوه مـوده تولسـتـوی بېـخي بدل شـو. دلویو کـتـابونو لیکل یې پرېښـودل او وړې رسـالې یې پیل کړې. په هغـه کې به یې هم خلك دې ته رابلل چې جګړې پرېږدي او سولې ته مخه کړي. ده غوښتل جګړه نه یوازې په روسیه بلکې په نوره نړۍ کې له منځـه لاړه شي. همدا راز دهغو بل اړخ دفقر او نیستمنی له منځه وړل و.

لوی تولسـتوی چې اعتـراف یې کړی وی په ځوانی کې دهرې هغې ګناه مرتکب شوی چې فکر یې کېدای شی او حتیٰ له انسان وژنې یې هم مخ نه اړوه، هغه کوله په پوره بول ددین ښوونې ومنې.

په دې حـالاتو کې یې خپلې ځمکې بزګرانو ته وېښلې او فقیرانه ژوند یې پیل کړ. دساده بزګرانو په شان به یې لرګي ټولول او وړل، واښـه به یې ټولول، خپل بوټونه به یې پخپله جوړول، خپله کوټه به یې پخپله پاکوله او په لرګین لوښې کې به یې خواړه خوړل، او هغه یې کوله خپل دښمنان هم ورته ګران وي.

په همـدې وخت کـې دده ژوند په یوه غـمنامـه بدل شـو. داسـې غمنامـه چې ریښـه یې دده په واده کې وه. تولسـتوی ښـځـې دځلا اوسینګار ژوند خوښوه او خپل مېږه یې چې دنیاوي هوسونه یې پرې ایښي وو، سـپکاوه¹. ښـځـې ځـلا او پرقـا او ظـاهري ښکلا غوښته، مېړه ته داشیان نور مـهم نه برېښېدل. ښځې دشتمنی او پیسو مینه لرله او مېړه ته شخصي ملك، او شتمنی جمع کول ګناه ښکارېده اوږ ده ګلونـه ښځې مېړه ته شر شورکاوه، بدې ردې یې ویلې او کنځلې یې کولې. په دې یې ټینګار کاوه چې تولستوی دې خپل کتابونه وړیانه خپروي. کله چې به تولستوی وغوښتل هغې ته قناعت ورکړي هغې به تهدید کاوه چې ځان به مړه کړي یا به ځان کوهي ته وغورځوي. ددې دواړو په ژوند کې یوه عجیبه پېښه شته چې زما په اند اوس هم دنړۍ دعاطفي تاریخ تر ټولو غم جنه پېښه ده.

هماغسې چې یادونه وشوه دوی لومړی نېکمرغه ژوند درلود خو

۴۸ کاله وروسته حالت دې ته ورسېد چې تولستوی دخپلې ښځې مخ نه شو لیدای. خو ددې سره سره به بیا هم کله زړه بوږی راغله دده خواته به په ځمکه کېناسته او له هغه به یې وغوښتل هغه عاشقانه کیسه چې پنځوس کاله مخکې یې لېکلې ورته ووایي. کله چې به تولستوي پخوانې یادونه پخپل زوږ او لړزېدلی اواز لوستل دواړو به ژړل.

ښايي دوی په دې ژړل چې اوس هغه مینه نه وه پاتې او هر څه سرچپه شوی و. تولستوی دښځې سپکې سپورې ونه شوی زغملی یوه نیمه شپه (په «۱۹۱۰» کې) له کوره ووت او نا معلوم لورته روان شو. تولستوی دکور تر پرېښودو ۱۱ ورځې وروسته د اور ګاډي په یو تم ځای کې په نمونیا اخته شو او له نړۍ یې سترګې پټې کړې، دمرګ پر مهال یې غوښتنه داوه چې ښځې ته یې اجازه ورنکړل شي چې دده مړی ته نږدې شي.

دا هغه جزا وه چې کنتس تولستوی دخبرو ګرځولو، شوروشر، جنجال، شکایت او ځان ستایلو نه تر لاسه کړه.

ځینې لوستونکي به فکر وکړي چې حق د مېرمنې پر خوا دی، کېدای شي، خو زه وایم چې جنجال ورته څه فایده وکړه؟ وضع یې نوره هم بده نکړه.

**«زه فکر کوم چې ربښتیا لیونۍ شوې وم».**

دا هغه جمله ده چې مېرمن تولستوی هغه وخت وویله چې دمېړه وضعه یې ډېره خرابه شوې وه.

دابراهام لنکلن دژوند تراژېډی هم دکورني ژوند تراژیدي وه. کله چې په لنکلن غشی ګوزار شو، پوه نه شو چې دچا له خوا و، خو پدې هره ورځ پوهېده چې دنیمې پېړۍ په ژوند کې د ښځې ستغې سپورې واوري. ښځې ددې لپاره چې دمېړه ښکاره وضعه ډېره بې توازنه ده، دهغې په نظر د لینکلن سر او پښې تولې دعیب نه ډکې دی ویل به یې شایې وتلې او پښې یې دسور پوستکو په شان او

چتوي، غوږوه يې نري دي. ګامونه يې يې موزون او چالاک نه دي او حتیٰ ورته ويل به يې: پوزه دې کږه ده او لاندې شونډه دې تر پاس هغې اوږده ده.

دمېرمن لينکلن لوړ غږ چې چيغو ته ورته و په کوڅه کې هم اورېدل کېده. کله چې په قارېده ګاونډيان به يې خبرېدل، ددې دقهرېدلو شمېر چاته معلوم نه دی.

دې ښځې يوه ورځ په يوه ميلمستيا کې دچای ډک ګيلاس دلنکلن پر مخ وشينده.

دی کار لينکلن بدل کړ؟ نه! خو دومره يې بدل کړ چې ددې له غمه به دکار په بهانه درې مياشتې کورته نه ته، حال دا چې نور همکاران به يې کورونو ته تلل. لينکلن تل غوښتل دخپلې مېرمنې له قهره وتښتي. دغه ثمرې مېرمن لينکلن، ملکې اوژنې او مېرمن تولستوی ته يو شان ورسېدې هغه څه چې ورته تر ټولو ګران و، له لاسه يې ورکړل.

د بوستون پوست خپرونې په وينا:

ډېرې ښځې په خپل لاس دخپل کورني ژوند قبر کښې!

نو په دې شرايطو که غواړئ ژوند مو له نېکمرغۍ ډک وي لاندې اصل وکاروئ:

له شور وشره ځان وساتئ.

## دری د ورېښم څپرکی:

یوازې تاسې نه یاست چې باید ژوند وکړئ:

دیسرایلي به یوه ډېره ښه خبره کوله:

**«کېدای شي په ژوند کې ډېر نکم عقلتوب کارونه وکړم خو هېڅکله به دمینې په خاطر واده ونه کړم»**

هغه خپلې خبرې ته وفادار و او تر ۳۵ کلنۍ یې واده ونکړ. په دغه عمر کې یې هم دیوې ۵۰ کلنې شتمنې ښځې سره واده وکړ. آیا دیسرایلي پر دغه ښځه مین و؟ خپله یې ویل: نه! هغه ښځه هم پوهېده.

هغه پوهېده چې دیسرایلي ورسره یوازې دهغې دشتو لپاره واده کړی دی او په همدې خاطر هم کله چې دیسرایلي ددې ښځې نه دواده غوښتنه وکړه هغې ترې یو کال وخت وغوښت چې دده په اخلاقو کې څېړنه وکړي او په پای کې یې ورسره واده وکړ. په ښکاره باید دا ډېر بې خونده او غیر عادي واده وي؟

خو هغوی د ډېرش کاله په خوښۍ یو ځای ژوند وکړ او دیسرایلي به کله په شوخۍ ورته ویل:

ماری آن، پوهېږې چې ماتا سره ستا دشتو په خاطر واده کړی دی.

هغې به ویل: په دې پوهېږم خو اوس چې دی پېژندلې یم که له سره موقع درکړل شي نو دمینې له مخې به دا کار ونکړې؟ دیسرائیلي به ویل:

سمه ده، همداسې ریښتیا ده چې تا وویل:

ماری آن فوق العاده ښځه نه وه خو د ادارې په هنر کې استاده وه. هغې دا هڅه نه کوله ځان تر خپل مېړه هوښیاره وښایي. مازېګر چې دیسرائیلي ستړی کورته راته دماری آن خبرو به

ارامـوه. دده پخپله وینا کـورد ده دپاره داسـې ځـای و چې فکری
سترپا به یې پکې ارامولـه او دمـاري آن دعشق د ورانگو لاندې به
یې دلمر حمام اخست. ماري آن دهغه مشاوره، ملگرې او همکاره وه
او دیسرائیلی به دعوامو دمجلس نه د شپې ځکه وختې پاڅېده چې
خپله مېرمن دورځې له نوو خبرونو خبره کړي. هغې ۳۰ کاله دخپل
مېړه لپاره ژوند وکړ او ویل به یې:

شـتـه په دې خـاطر غـواړم چې دمـېړه دارام وسـایل مـې برابر
کړي. او ځکه ددوی ژوند نېکمرغه و. هنري جمز وایې: لومړي ټکي
چې دنورو سره په چلنډ کې باید په پام کې ونیـول شي، دادی چې
اجازه ورکړو هغوی په هغه لار چې دخپل نېکمرغه کېدو لپاره یې
غوره کړې ده پخپله خوښه مخکې لاړ شي. البته په دی شرط چې
هغوی هم زموږ مزاحم نه شي.

لو لاند فوسردود پخپل کتاب **«دکورنی یو ځای پر مخنگ»** کې
لیکي:

-په واده کـې برى دا نه دی چې مناسب شـخص پیـدا کړو، بلکې
دادی چې پخـپله هـم مناسب شـخص واوسـو!نو کـه غـواړی په
کورنـی ژوند کې نېکمرغه واوسئ دا خبره په یاد لرئ:
هڅه وکړئ خپل ځان دخپل ژوند دملگري په سلیقه اصلاح کړئ.

# څلوردېرشم څپرکی

له وړو نیوکوځان ساتنه:

د دېسرائیلي تر ټولو سخت رقیب ګلا دستون و. عجبه ده هغه هم په کورنی ژوند کې ډېر بریالی و. ده ۵۹ کاله په پوره مینه او محبت له خپلې مېرمنې سره ژوند وکړ. هغه په ټولنیز ژوند کې سر سخت او نه راتیتېدونکی وخو په کورکې یې هیڅکله څوک نه ملامتول او په وړو نېوکو او انتقاد نه و عادت.

سهار چې دکوټې نه دسبا ناری خوړلو لپاره تلو، لیدل یې چې نور لا ویده دي.

وړو وړو یې ګامونه اخستل او نرم اواز یې په شونډو کې زمزمه کاوه او په دې ترتیب یې دکور غړي خبرول چې تر ټولو بوخت انګرېز شخص ورته منتظر دی. دې دپلمات او هوښیار سړی په ډېره سختی دکورنی دغړیو له ملامتولو ځان ساته.

دو روتی دیکس چې دکورني ژوند دناکامیو په باب ژورې څېړنې کړې دي په دې باب وایي:- ٪ ۵۰ ودونه په دې نا کامېږی چې دوی دځوانی د لومړیو وختو دخوبونو رومانتیک فکرونه دواقعیت دتړو دانتقاد سره مخ کېږي. دا انتقادونه زیاتره بې مطلبه خو کور ګډې دي که غواړئ چې کورنی ژوند مو نېکمرغه وي، لاندې اصل ته پام وکړئ.

له وړو نیو کو ځان وساتئ.

# پنځه د برشم څپرکی:

ستاینه او صفت:

کله چې ښځه او مېړه نور خلك ګوري، ښځه دې ته پام کوي چې نورو ښځو څنګه ځان جوړ کړي دي، څنګه سينګار يې کړی دی او پخپل خيال کې ځان له هغو سره پر تله کوي.

دښځو ددې ځانګړنو له مخې سړی بايد هڅه وکړي چې د ښځې په وړاندې بې تفاوته وي هغه دې ته اړ باسي چې په عکس العمل سره د مېړه پام ځان ته راواړوي.

زما نيا چې څو کاله مخکې په ۹۷ کلنۍ کې مړه شوه تر مړينې دمخه دومره کمزورې شوې وه او سترګې يې ببخي داسې شوی وې چې خپل زامن به يې سره نه شوو بيلولی! خو چې همدې بوډۍ نيا ته به مو دهغې دځوانی انځور ورکړ، خپلې بې نورې سترګې به يې انځور ته ځير کړې او ويه يې ويل:

-راته ووايئ چې په دې انځور کې مې کوم رنګ جامې اغوستې دي؟

په زړه پورې ده چې يوه بوډۍ چې دمرګ په درشل کې ده اوس هم ليواله ده چې دخپلې ځوانی دوخت دجامو رنګ وپېژني چې پوه شي په هماغه وخت يې پام ځانته را اړولی دی که نه. ښځې يا مېړه ته پاملرنه دداسې عکس العمل سبب کېږي چې قدر پېژندنه رامنځ ته کوي او ژوند ښکمرغه کوي که غواړئ په کور کې ښکمرغه ژوند ولرئ، دا خبره عملي کړئ:

له تظاهر پرته په صادقانه بول دخپل ژوند ملګرې وستايئ او قدر يې وکړئ او دهغه په وړاندې بې تفاوته مه پاتې کېږئ.

## شپږ: د ورېښم خپرکی:

دښځو لپاره مانا لرونکي کارونه:

له پخوانیو زمانو راهسې گل دمینې دژبې په توگه پېژندل شوی دی.

ولی ددې انتظار کوئ چې دژوند شریك مو دناروغتیا له امله په روغتون کې بسترشي او بیا ورته گل یو سئ. ولې سبا شپه چې کورته راتلئ څو څانگې گلان له ځان سره نه راوړئ چې ورته ور یې کړئ؟

ولې سهار وختي چې کار ته ځئ له مېرمن سره مو توده خدای پاماني نه کوئ؟

موږ ته ډېر تاریخونه یاد دي. مثلا پوهېږو چې څو زره کاله مخکې لوی کوروش پر بابلیانو بریالی شو. ولی دخپل وادہ تاریخ نه یادوئ؟ وړو مسایلو ته پام ستاسې مېرمن ته ډېر اهمیت لري. دژوند لار یوازې یو ځل وهل کېږي. راځئ له همدې ځایه خپل دژوند ملگرې هم په یاد ولرو. راځئ له نیکی او لطیف بیان نه چې زموږ په وسو کې دي کار واخلو اوبل وخت ته یې ونه ځنډوو، ځکه دژوند لار دویم ځل نه وهل کېږي.

نو که غواړئ په کورنی ژوند کې بریالي اوسئ، لاندې لارښوونه په پام کې لرئ:

دکورني ژوند وړو خبروته زیاته توجه وکړئ!

# اوه د ېرشم څپرکی:

## دادب په پام کې لرل:

کاشکې چې په کورني ژوند کې هم دځان به نسبت دومره مؤدب وای، لکه دنورو په وړاندې چې یوو. فکر نه کوم تاسو ځان ته دا اجازه ورکړئ چې له خپلې مېرمنې یا اولاد نه غیر بل چاته ووایئ:
-بیادې هم هماغه زړې ببولالې پیل کړې.
ایا ځانته جرأت ورکوئ دیو چا شخصي لیك چې پر تاسو اړه نلري، بېرته کړئ او وېې لولئ؟
چې درته یو څوک سلام واچوي، ځواب یې په ادب ورکوئ که ورته وایئ چې څه ورک شه!؟
سمه خبره داده چې زموږ نژدې کسان دي چې پخپلو ځورونکو خبرو زموږ دازار سبب کېږي او کېدای شي موږ هم دبدلې اخستو په لټه کې شوو. آیا موږ ځانته اجازه ورکوو چې دنورو په کارونو کې بې ځایه ملکي وکړو؟
که تاسو یو پلورونکی یاست څنګه ځان ته اجازه ورکوئ دیو اخستونکي په وړاندې تندي غونج کړئ او ترټونکي خبرې ورته وکړئ خو چې دشپې کورته راشئ نو ښځې ته مو ځان برګوئ او زیاتره بدې ردې او سپکې سپورې ورته وایئ.
څنګه چې دیو پردي سره دلیدنې وخت نه هیروئ او هڅه کوئ ځان وروړسوئ او غواړئ چې احساسات یې ټپي نه شي په داسې حال کې چې پوهېږو زموږ مېرمنې تل موږ ته منتظرې وي.
اېوان تورګنیف مشهور روسي لیکوال چې نړیوال محبوبیت لري په دې باب وایي:
-حاضریم خپل ټول نبوغ او ټول کتابونه له لاسه ورکړم په دې شرط چې یوه شم یوه ښځه په کور کې زما په خاطر وارخطا ده چې زه ناوخته دماښام بوډی ته ورځم که نه؟!

دوروتي دېکس چې ددې برخې ماهر دی وايي:

يو تجربه لرونکی نارينه په دې پوهېږي چې په ټول ژوند کې خپلې ښځې ته يوازې د پراخ وچولي په ښودلو هر کار چې وغواړي هغه ورته اړ ايستلای شي. داسې سړی پوهېږي چې لږ بايد دښځې ستاينه وشي مثلاً وايئ، په کورنيو چارو کې څومره تکړه يې، ته دکور په کارونو کې ښه همکاره يې. هغه ښځه به په ټوله مينه دنر په خدمت کې وي.

باور وکړئ چې که يو سړی ښځې ته ووايي:

ته رښتيا په دې جامو کې څومره ښکلې ښوې يې!

هغه ښځه به دغه عادي لباس د ورستني اروپائي مو دلباس سره بدل نکړي.

نو ددې خبرو په پوهېدو که غواړئ دکورني ژوند مرحله په خوښۍ وازمويئ لاندې اصل ومنئ.

دخپلې مېرمن په وړاندې مؤدب اوسئ هماغسې چې دپردو په وړاندې ادب په پام کې نيسئ.

## اته دېرشم څپرکی:

دواده په پېل کې دجنسي مسايلو په باب نا خبره مه اوسئ!

داکتر هاميلتون په يوه پراخه څېړنه کې چې درزگونو ځوانو ښځو مېړونو سره يې دمرکو او څېړنو له لارې کړې ده او دخپل ژوند ډېر کلونه يې دې کار ته وقف کړي دي. دجنسي مسايلو په رمزونو د پوهېدو اهميت يې په واده کې دبريالتوب تر ټولو لومړی او تر ټولو مهم گڼلی دي او په علمي لارو يې هم دا مسئله زبات کړې ده. دعلمي څېړنو له مخې په دواده کې ناکامي معمولاً دڅلور علتونو له امله وي.

۱- جنسي نه انطباق.

۲- دوزگار وخت دتېرولو په باب دنظر يې بېلتون.

۳- مالي ستونزې.

٤- دبدني، دماغي او عاطفي ځواکونو له مخې غير طبيعی والي.

دهغو ښو او سالمو کتابونو نه چې دجنسي مسايلو او کورني ژوند په باب پکې معلومات وي ځان خبر کړئ، خو دکتاب په ټاکنه کې دقت وکړئ.

**د شيهمې برخې لنډيز:**

دکورني ژوند دنېکمرغی لپاره اوه لارې:

۱- له شور وشره ځان وساتئ

۲– هڅه وکړئ ځان دخپل ژوند دملګری په سلیقه برابر کړئ.

۳– له وړو نیوکو(انتقادونو) ډډه وکړئ.

٤– له تظاهر پرته په صادقانه ډول دخپل ژوند ملګرې وستایئ او ورسره بې تفاوته مه اوسئ.

٥– دکورني ژوند وړو وړو خبرو ته ډېر ځیر اوسئ.

٦– دخپلې مېرمن په وړاندې مؤدب اوسئ.

۷–له ډاډمنو کتابونو جنسي معلومات پیدا کړئ.

د ژباړې پای.                ۹/٦/۲۰۰۰

4: 25 PM

Download from:aghalibrary